# د الفت نثري كليات

(دوهم ټوك)

د

عبدالرحيم بختاني

Ketabton.com

په زيار

۱۴۲۲ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمیر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | ښاغلو ورونو( میرویس الفت) | ۱ |
| ۲. | یو څو خبري (عبدالرحیم بختاني) | ۵ |
| ۳. | غوره نثرونه | ۱۰ |
| ۴. | وینین زلمیان | ۱۳ |
| ۵. | ستاینه | ۱۵ |
| ۶. | د مرغلرو امیل د ښاغلي الفت په نظر کښي | ۱۷ |
| ۷. | پښتانه د علامه اقبال په نظر کښي | ۲۰ |
| ۸. | د اورلمبي | ۲۱ |
| ۹. | پښتو نثرونه | ۲۲ |
| ۱۰. | منتخب شعرونه | ۲۴ |
| ۱۱. | د زړه بخرې | ۲۶ |
| ۱۲. | کلیمه داره رویږ | ۲۷ |
| ۱۳. | د پښتو ادبیاتو تاریخ (دویم ټوك) | ۲۸ |
| ۱۴. | د افغانستان د خینو ژبو او لهجو قاموس | ۳۰ |
| ۱۵. | پلوشي | ۳۲ |
| ۱۶. | پښتانه شعراء (دریم ټوك) | ۳۵ |
| ۱۷. | پښتانه شعراء (دریم ټوك) | ۳۷ |
| ۱۸. | راز | ۳۸ |
| ۱۹. | نومیالی غازي (چکنور ملا صاحب رحمة الله علیه) | ۳۹ |
| ۲۰. | سید غلام حیدر (رحمة الله علیه) | ۴۲ |
| ۲۱. | اژدهای خودی | ۴۴ |
| ۲۲. | شریعت یا رهبر سعادت | ۴۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۳ د افکارو تعمیم او تکامل ........................................ ۴۹
۲۴ وینی زلمی څوك دی؟ ........................................ ۵۷
۲۵ پښتانه وګوری؟ ........................................ ۶۰
۲۶ د حقایقو اظهار ........................................ ۶۲
۲۷ ازادیء ګفتار ........................................ ۶۵
۲۸ پاك کور ........................................ ۶۷
۲۹ زما دعا ........................................ ۷۰
۳۰ د پښتو او پښتونولۍ دنیا ........................................ ۷۲
۳۱ خپله ژبه ........................................ ۷۵
۳۲ هسې خوشحاله یم ........................................ ۸۰
۳۳ د ژبې خدمت ........................................ ۸۲
۳۴ د خوشحال خان د اشعارو اجتماعي او اخلاقي خوا .......... ۸۵
۳۵ د اولسي جرګې په عمومي غونډه کښې يوه بيانيه .......... ۱۰۱
۳۶ د شورا اوومه او دولسمه دوره ........................................ ۱۰۵
۳۷ د بناغلي میوندوال په عقایدو او اصلاحي........................................ ۱۱۰
۳۸ شخصي ........................................ ۱۱۵
۳۹ سخاوت نه دی قرباني ده ........................................ ۱۱۹
۴۰ کیست؟ ........................................ ۱۲۱
۴۱ شوری ........................................ ۱۲۲
۴۲ د اشنای په یاد ........................................ ۱۲۷
۴۳ جریده نګاري ........................................ ۱۳۰
۴۴ د خط مشي په رڼا کښې ........................................ ۱۳۳
۴۵ ګریز ماهرانه ........................................ ۱۳۷
۴۶ د پښتو انکشاف او تقویه ........................................ ۱۳۹
۴۷ میدانید چه میخواهد؟ ........................................ ۱۴۳
۴۸ د اساسي قانون مطالعه او مقایسه ........................................ ۱۴۴
۴۹ هنر کجدار و مریز ........................................ ۱۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵۰. رشوت څنګه ورکیږي؟ ........................ ۱۷۷
۵۱. پرسش و پاسخ ........................ ۱۷۹
۵۲. کابینه ........................ ۱۸۰
۵۳. شنده دیموکراسي ........................ ۱۸۱
۵۴. قانوني اصل ........................ ۱۸۲
۵۵. الحق للقریب ........................ ۱۸۵
۵۶. تصور او واقعیت ........................ ۱۸۷
۵۷. ښاغلي ډاکټر عبدالظاهر د اولسي جرګې د ... ........................ ۱۹۲
۵۸. پرسش و پاسخ ........................ ۲۰۶
۵۹. د اوسني حکومت ښه او بد ........................ ۲۰۸
۶۰. د اولسي جرګې د څلوېښتو وکیلانو مطالبه ........................ ۲۱۳
۶۱. تجرید ........................ ۲۲۵
۶۲. د فکرونو مخه کومې خوا ته د ګرزیدو... ........................ ۲۲۹
۶۳. تبعیض او امتیاز یعني څه؟ ........................ ۲۴۰
۶۴. بې قانوني ښه ده که قانون شکني؟ ........................ ۲۴۸
۶۵. د قانون د حاکمیت وعده ........................ ۲۵۱
۶۶. د پښتونستان په باب نوی نظر په کار دی ........................ ۲۵۴
۶۷. د سیاست سراب ........................ ۲۵۸
۶۸. ګونګه روژه ........................ ۲۶۳
۶۹. متپتي ........................ ۲۶۷
۷۰. دیني تبلیغ ........................ ۲۶۹
۷۱. حقوقي مساوات ........................ ۲۷۱
۷۲. د سیاست بوالعجبي ........................ ۲۷۶
۷۳. استیضاح او توضیح ........................ ۲۸۱
۷۴. حکومت او اولسي جرګه ........................ ۲۸۹
۷۵. څنګه اعتماد او څنګه خط مشي؟ ........................ ۲۹۵
۷۶. د ژبو فیصله ........................ ۳۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښاغلو ورونو!

پښتو ټولنه، په افغانستان کښې د پښتو ژبې او ادبياتو دڅېړلو اکاډمي ده. د هغې د وظيفې د همدې نوعيت له مخه، د بهرنيو هيوادونو د علمي موسسو او محافلو له خوا هم، د (افغان اکادمي) په نامه پېژندل شوې ده. وروسته بيا د همدې ټولنې (اکادمي) په چوکاټ کښې د ټولنيزو پوهنو د څېړلو څانګه هم جوړه شوه او د يونسکو په فيصله، مرسته او ملاتړ د پښتو څېړنو بين المللي مرکز هم تاسيس شو. په پاى کښې، له پښتو ټولنې او له نورو ورته موسسو څخه، د افغانستان د علومو اکادمۍ د ژبو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبیـاتو پـه مرکـز کـښې، پښتـو ټولنـه د پښتــو ژبــې او ادبیـاتو د انسیتیتوت په نامـه هـم یـاد یږي.

استـاد ګل پـاچـا "الفـت" د هـېواد ویـاړلی ادیـب، منلـی شـاعر، ښاغلـی دانشـمند او غښتلـی ملـي ټولنـیز سیاسـي شـخصیت دی، چـه پـه سـیمه او نـړۍ کـښې د پـوره شـهرت او وجـاهت خـاوند دی. هغــه د خپـل رسـمي مـاموریت پـه پیـل کـښې لـس کالـه د پښتـو ټولنـې علمـي غـړی و او (۱۳۳۵-۱۳۴۲هـ ش کـښې) اوه کالـه د هغــې ټولنـې مشـر (رئیـس) و. د هغـه دریاست پـه دغـه مـوده کـښې د هغـه پـه هلـو ځلـو د پښتـو ټولنـې د مسـلکي غـړو د علمـي مدارجـو لایـه تصویـب او عملـي شـوه، دې ټولنــې پـه کمـي او کیفـي تـوګه پراختیـا وموندلـه او د یـوې علمـي ژبنۍ او ادبي اکـادمۍ پـه بڼه یې حیثیت نـور هـم لوړ او شـهرت یې لا پسې زیات شـو.

د استـاد الفـت علمـي، تحقیقـي او ادبـي آثـار زیـاتره د پښتـو ټولنـې لـه خوا چـاپ او خپـاره شـوي دي او پـه دې صورت لـه (اکـادمۍ) سـره د (الفـت) نـوم او بـالعکس نـژدې ارتبـاط لـري او د همداسـې روابطـو پـه اسـاس، اوس (الفـت اکـادمي) د اسـتاد الفـت د آثـارو د راټولولـو او خپرلـو، د اسـتاد د کـارونو او کارنـامو د معرفـي کولـو او خپرولـو لپـاره هلې ځلې کـوي او د افغـاني ادب پـه کـرښه کـښې د هغـه ویـاړلي استاد پـه پل، پل اخلـي.

الفـت اکـاډمي ویـاړي چـه لـه ۱۹۹۲کـال نـه راپـه دې خـوا، پـه وچـو ډډو، تشـو لاسـونو او سـپېره ډاګ کـښې، بیـا هـم توفیـق موندلـی دی چه د استاد الفت دغه آثار چـاپ او ټولنـې تـه وړانـدې کـړي:

۱_ د الفـت مرغلـرې. شـعري کلیـات، دښاغلـي شـهرت ننګیـال په زیـار، یـو زر ټوکـه.

۲_ د الفـت نـثري کلیـات، د ښاغلـي محمـد اسـماعیل یـون پـه زیـار، یـو زر ټوکـه.

۳_ د ټولنـې پـه جـوړښت کښې د اسـلام نقـش، د اسـتاد وروسـتی تحقیقي اثر، یـو زر ټوکـه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ زما استاد الفت، د محترم سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار ليکنه، يو زر ټوکه.

۵ـ ادبي سوغات، د سرمحقق بختاني خدمتګار په زيار، يو زرټوکه.

ـ ډېر خوشحاله يو چه وتوانېدو د استاد الفت د هديري ګيرچاپېره ديوالونه په پاخه ډول له سره جوړ او ترميم او د نوموړي مزار جوړ کړو. چه د سږ کال د حمل په ۲۷ نېټه د قرآن کريم د ختم نه وروسته، د ننګرهار د اطلاعاتو او کولتور درياست په مرسته او برخې اخيستلو افتتاح او بيا د استاد په کور کښې ادبي غونډې او مشاعرې تر مازيګره پورې دوام وموند او په همدې مناسبت د ښاغلي استاذ عيسى په ابتکار د هغه او د جلال آباد د ښار د نورو خطاطانو هنري نندارتون په هماغه کور کښې پرانيستلى و.

ـ اوس په ډېره خوشحالۍ درنو لوستونکو ته زېرى ورکوو، چه د استاد الفت د نثرونو د کلياتو د بشپړتيا په لاره کښې دغه دى يو بل ګام پورته شو او د الفت نثري کليات، دوهم ټوك هم ترتيب او چاپ شو.

ښاغلي عبدالرحيم "بختانى" د استاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار کشر زوى، په دې بريالى شو چه له ممکنو منابعو څخه، د دې کلياتو مضامين په ډېر زيار او دقت راټول کړي او يوه خوږه مقدمه پرې وليکي.

بې شکه چه استاد الفت د ادبي منظومو او منثورو آثارو يو مبتکر ليکوال دى، مګر لکه څنګه چه ګورو د کلياتو په دې دوهم ټوك کښې د استاد داسې آثار هم زيات شوي دي، چه له ادبي خوند او رنګ سره سياسي، حقوقي او قانوني اړخ يې ډېر قوي دى او د استا. په پوره قانونپوهنۍ او فقاهت پوره دلالت کوي. د کتاب ښاغلي ټولوونکي، چه پخپله د تاريخ او ټولنيزو پوهنو ماستر دى، د تاريخ او ټولنپوهنې له نظره، د استاد دغسې ليکنو ته لوړ ارزښت ورکړى دى او د دې پوهنې د څېړندويانو لپاره يې د څېړنې ښه منبع

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼلې ده. موږ ښاغلي عبدالرحيم بختاني ته کوروداني وايو، د هغه زيار او زحمت ستايو او د علم او فرهنګ په لاره کښې ورته زيات توفيق غواړو.

دا دی الفت اکادمي په ډير ويار د استاد الفت د زېږېدو د دوه نوييمې کاليزې په درناوي او د هغه د وفات د څلېريشتم تلين د نمانځنې په موقع (د الفت نشري کليات- دوهم ټوک) چاپ او ټولنې ته يې وړاندې کوي.

اللهم زد فزد

په درناوي

ميرويس "الفت"

الفت اکادمي، د کب د مياشتې لسمه، ۱۳۸۰ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو څو خبرې

استاد ګل پاچا "الفت" د شعر او ادب په اسمان کښې یو ځلاند ستوری دی. د هغه په ژوندانه کښې، د هغه ډېرې دینې، ادبي، اجتماعي، انتقادي، علمي او څېړنیزې مقالې او کتابونه چاپ شوي دي. د هغه تر مړینې وروسته دهغه یو شمېر ناچاپ آثار هم چاپ شوو او ځینې چاپ شوي کتابونه یې بیا او بیا چاپ شول. په افغاني ټولنه ، په تېره بیا په ادبي محافلو کښې دا ضرورت محسوسېده، چه باید د هغه د نثرونو او نظمونو کلیات هم چاپ شي. (د الفت مرغلرې) د هغه د منظومو شعرونو کلیات دی چه د ښاغلي شهرت ننګیال په زیار راټول او مکرر چاپ شوی دی. دویم چاپ یې (۱۳۷۵ هـ ش) پورې اړه لري. د استاد الفت د نثرونو د کلیاتو د راټولولو لپاره د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا د هغه مرکز غړی ښاغلی عبدالحسیب حکیمي موظف شوی و، هغه ډېر زیار وایست او د یو غټ کتاب په حجم یې د استاد منثور آثار راټول کړل او د نورو د ټولولو په کار بوخت و، مګر د وروستیو تحولاتو په دوران کښې اوس نه پوهېږم چه د حکیمي صاحب خواري اوبه او که د زماني بادونو وړې ده؟ حکیمي صاحب پخپله هم حق ته رسېدلی دی، خدای دې یې وبخښي.

وروسته بیا ځوان محقق ښاغلي محمد اسماعیل یون، دې ارزښتمن کار ته ملا وتړله او د (الفت نثري کلیات) د هغه په زیار راټول او د نوموړي له سریزې سره په مکرر ډول چاپ شوو. بیا هم د لوستونکو تلوسه ورته ډېره ده او له بلې خوا په دغه کلیاتو کښې، د استاد الفت ټول نثرونه نه، بلکه هغه چه د دې وخت په ناوړه بې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسـامانو شـرايطو كښېي د ښاغلـي يـون لاس تـه راغلـي وو، راټول شـوي دي.

زه ډېر خوشـحاله يـم چـه زمـا ګران او مـهربان پـلار، سـرمحقق عبـدالله بختـاني خدمتـګار دا وظيفـه ماتـه وسـپارله، لاربښودنـه يـې راتـه وکړه او يو لـړ ماخذونـه يـې راتـه وسپارل. د ژوندانـه لـه درنـو پيټو او نااوزګاتيـاوو سـره هم زه د الله پـاك نـه شـكر ګذار يـم، چـه پـه تـېرو دوو كلونـو كښېي پـه دې بريـالى شـوم، چـه د استاد الفت يـو لـړ نـوري نـثري ليكنـې لـه هغـو منـابعو نـه چـه زمـا لاس تـه رسـېدلي دي راټولـې كړم.

دا كتـاب د هغـو ليكنـو مجموعـه ده چـه د هـېواد پـه جرايـدو، مجلـو او ادبـي مجموعـو كـښېي چـاپ شـوي دي. پـه دې كتـاب كښېي د اسـتاد الفـت يـو لـړ ادبـي، اجتمـاعي، حقوقـي او سياسـي ليكنـې راغلـې دي. پـه ډېرو ليكنـو كـښېي د وخـت د اساسـي قـانون پـه بـاره كـښېي توضيحـات او پـه حكومتـي او دولتـي موسسـو بـاندې سـالم انتقادونـه دي. كـه څوك د افغانسـتان معـاصر تـاريخ ليكـي، كولـى شي له دغسې ليكنو څخه د يو معتبر ماخذ پـه تـوګه استفاده وكړي. همدارنګه د پښتو ژبـې د انكشـاف پـه برخـه كـښېي هم څو ليكنـې شته. د استاد الفـت هغـه نظريـې، تقريظونـه او سـريزې چـه نومـوړي د نـورو ليكوالـو او شاعرانو پـه كتـابونو بـاندې ليكلي دي هم پـه دې مجموعـه كـښېي راغلـې دي.

ډېره مهمـه موضـوع چـه د اسـتاد الفـت پـه دې ليكنـو كـښېي د توجـه وړ ده دا ده چـه د وخـت د حكومـت د ځينـو كـارمندانو بـې بنـد وبـاري، انارشـي او رشـوت خـوري پكـښېي رسـوا شـوې ده چـه پـه دې بـاره كـښېي پـه ډېرو ادبـي الفـاظو او كلمـاتو بـاندې او كلـه پـه طـنزي پيرايو كـښېي ليكنـې شـوي، د وخـت ظالمـان، رشـوت خـواره او خاينـان افشـا شـوي او دغريبـانو او مظلومـانو د ژونـد دښه كـېدو د پـاره ډېر څه او ډېر ښه ليكلـي شـوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـایـد وویـل شـي چـه دغـه یـوازې انتقـادي لیکنـې نـه دي، بلکـه اصلاحـي بڼه هـم لـري، پـه ځینـو مـواردو کـښې ډېرشـدید انتقادونـه شـوي دي او پـه ځینـو مـواردو کښې پـه نرمـه ژبـه اصلاحـي لارښوونـې شـوي دي او د ځینـو ښو کـارونو پـه برخـه کـښې تـائیدي او تشـویقي لیکنې هم شـته.

د الفت صـاحب نـثر هـم د هغـه نظـم غونـدې ډېر تـاثیر نـاك دی او کلـه چه سړی د کـوم مطلـب پـه لوسـتو شـروع وکـړي، نـو ترآخـره پـورې یې لولـي او د یـوې لیکنـې پـه لوستو د بلـې د لوسـتو شـوق ورتـه پیـدا کېږي او پـه ځینـو خایونـو کـښې یـې همدغـه نـثر د نظـم نـه ډېر خونـدور او اغېزنـاك دی.

پـه دې لیکنـو کـښې د وخـت د اعـلان شـوي دموکراسـۍ او د هغـه پـه اسـاس د تدویـن شـوي اساسـي قـانون نیمگړتیـاوې تحلیـل شـوي او ښودل شـوي او پـه دې کـښې د هغـه اساسـي قـانون او دیموکراسـۍ د نـه تطبیـق پـه بـاره کـښې صریـح شـکایتونه او انتقادونـه لوسـتی شـوو، چـه لـه هغـه څخـه هـم د لیکـوال سـمه دقیقـه څېړنـه او ژور نظـر څرگنـدېږي او هـم د وخت سیاسـي-اجتمـاعي وضـع د سـړي سـترگو تـه درېږي او دا هـم ښکـاره کـېږي چـه پـه هغـو نمایشـونو کـښې دومـره خـو وو چه یـو لیکـوال، د دموکراسـۍ لـه اعـلان څخه دومـره استـفاده کـولای شـوای چـه پـه ډېر ښکـاره او بربنـډ صـورت پـه ډېر وضـاحت او صراحـت سـره دومـره آزاد وغـړېږي او پـه همدغـه انـدازه د قلـم د آزادۍ د حقیقـت معیـار تاریخ تـه وسـپاري.

لکـه چـه گورو د کلیـاتو پـه دې ټوك کـښې هـم مونـږ لا پـه دې بریـالي شـوي نـه یـو چـه د اسـتاد الفـت د نـثرونو ټولـې لیکنـې راټولـې کـړو. کـېدی شـي د دریـم ټوك د پـاره هـم هلـې ځلـې وشـي او د نـورو مدارکـو پـه موندلـو د کلیـاتو د بشـپړتیا پـه لـور نـور گامونـه هـم اوچـت شـي.

د کتـاب د ترتیـب پـه بـاره کـښې بـاید ووایـم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د استاد الفت د هرې ليکنې په پای کښې د هغې مـاخذ ښودل شـوی دی.

ـ د کتـاب پـه سـر کـښې، د نـورو ليکوالـو او شـاعرانو پـر کتـابونو، ادبـي او څېړنـيزو اثرونـو د اسـتاد الفـت هغـه نظريـې او تقريظونـو تـه ځای ورکـړ شوی دی چـه د نومـوړو کتـابونو پـه سـريزو کښې او يـا پـه ځينـو جرايـدو کـښې چـاپ شـوی دی. پـه دې لـړ کـښې مونږ ته دا هم ښه ښکـاره شـوه چـه د ټولـو سريزو پـه سر کـښې د اسـتاد د (غوره نثرونه) سـرليک راواخلـو پـه داسې حـال کـښې چـه مونـږ د نـورو پر کتـابونو د اسـتاد ليکنـې را اخيسـتې دي او د ده پرخپلـو کتـابونو د هغـه لـه سـريزو څخـه تـېر شـوي يـو د دې سـرليك اخيسـتلو لپـاره دوه دليلونـه لـرو:

الف:ـ د غـوره نـثرونو سرليك پخپلـه هـم يـو غـوره ادبـي نـثر دی، چـه پـه هغـه کـښې د ليکـوال د ليکوالـۍ، هلـې ځلـې او کړاوونـه هـم منعکـس شـوي دي او د يـو واقعـي مسـلکي ليکـوال سرشـت او سرنوشـت پکـښې ځلېدلـی دی.

ب:ـ استاد الفـت د ذکـر شـوي کتـاب د مضـامينو پـه بـاره کـښې ليکلـي دي چـه "زه يـې خپـل غـوره نثرونـه بولـم" يعنـې پـه هغـه کتـاب کـښې هغـه نثرونـه راغلـي دي چـه استاد پخپلـه غـوره کـړي دي، او زمونـږ پـه نظر کـښې د اسـتاد ټول يـا اکـثره نثرونـه غـوره نثرونـه دي او د غـوره نـثرونو د کتـاب د سـرليك مضمـون ورسـره توافـق او تناسـب لري.

ـ مونـږ بـه ډېر خـوښ و اوسـو چـه پـه دې کـښې ځينـې داسـې نثرونه هـم شـامل وي چـه کـه هغـه وخـت د اسـتاد ګوتـو لـه ورغلـي وای، هغـه بـه يـې هـم غـوره ګڼلـی وای او پـه غـوره نـثرونو کـښې شـامل کـړی وای، چـه هغـه ليکلـي دي :"زمـا پـه مقـالو کـښې ځينـې نـورې مقـالې هـم شـته چـه دلتـه يـې چاپـول مناسـب و، مـګر اوس لاس تـه رانغلـې او دا انتخاب نيمګړی غوندې شو" مونږ وايـو چـه خدای دې وکـړي چـه دغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړتیـا اوس یــو څه پــوره شــوي واوســي او پــه راتلونکــي کــېنې لا تکمیـل شـي.

ـ دې سرلیك پسـې نـور تقریظونـه او نظریـات چـه زیـاتره د اســتاد الفــت د پښتــو ټولنــې د ریاسـت د دورې دي د هغـو د چـاپ د نـېټې پـه ترتیــب راغلـي او بیــا پــه مختلفـو موضوعــاتو کــېنې د اســتاد نــوري لیکنې دي چه بیا هغـه هـم د چـاپ د نـېټو پـه ترتیـب اوډل شـوي دي. پـه دې بـاره کېنې مونږ پـه دې نظر یـو چـه کـه دیـو ادبـي لیکـوال یـا شـاعر منظوم او منثور آثار د هغـو د نـېټو لـه مخـه ترتیـب شـي نـو دې سره هـم د نومـوړي لیکـوال د ژوندانـه دبـهیر او ورسـره د هغــه د فکـر او لیکنــي د تحــول او تکــامل دپړلــه پســې بــهیر څه نــا څه څرګندونــه کــېږي او د ادب یــو مــوړخ او د ټولنــي یــو مــوړخ او ټولنپــوه تــه د دغــو آثـارو څخــه د تــاریخ او ټولنپوهنـې پــه رڼا کــېنې د اســتفادې کــار اســانېږي او عــام لوستونکو تـه هـم دغسې یـو فکـر ورکولـي شـي.

ـ مـاد اسـتاد الفـت د آثـارو پـه رانقلولـو کـېنې د هغـه فـاضـل ادیـب او دانشـمند اسـتاد د خپـل لیـك دود رعـایت کـړی دی.

ـ د اسـتاد الفت ځینـې لیکنـې د هغـه پـه مسـتعارو نومونـو چـاپ شـوي دي. د هغــو پــه ښودنــه کــېنې زمــا محــترم پــلار ســرمحقق خدمتـګار مرسـته کـړې ده.

پــه هــر صــورت زه سمدســتي ویــاړم او خوشــحاله یــم چــه ګرانــو درنـو لوسـتونکو او د اسـتاد د آثـارو مینـه والـو تـه د هغـه د کلیـاتو دا دوهمـه مجموعـه وړانـدې کـوم. د دې آثـارو د راټولولــو پـه چـارو کـېنې زه د خپـل محـترم دانشــمند پــلار د مرسـتو او لارښودنــو او د هغــه د چـاپ لامـلـه (د الفـت اکـادمې) څخـه مننـه کـوم او دې سـره محـترم او درانـه لوسـتونکي د کتـاب مطـالعې تـه رابولـم.

په مینه او احترام

عبدالرحیم "بختانی"

کابل- خیرخانه مینه

د ۱۳۸۰ د سنبلې ۳۱ مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوره نثرونه

څه د پاڅه شل کاله کيږي چه زه د څه ليکلو او فکر کولو په رنځ اخته يم. همدغه شغل زه له خپلو او پرديو نه بيل کړم او په ګوښه ځای کښې ئې له خلقو نه لرې کښېنولم. ډيرې شپې يې رابانديې په ويښه تيرې کړې او ډيرې ورځې ئې له دوستانو او ملګرو نه بېل وساتلم.

په دغه موده کښې ما له خپلو بچيو او د کاله خلقو سره ډېر لږ وخندل او هر چاته بې ميني غوندې ښکاره شوم. کله له سبا نه تر ماښامه ځای په ځای کښېناستم چه د څه ليکلو په فکر کښې راته لمونځونه هم قضا شوه، مګر هيڅ مې ونشو ليکلی. کله به نيمه شپه لکه سودايي له خوبه راپاڅېدم او د اسمان ستورو ته به مې حيران حيران کتل. يو وخت به مې څو کرښې وليکلې بيا به مې هغه څيرې کړې، بل وخت به مې خپل څيرې کاغذونه راغونډ کړه او يوه کلمه به مې له بلې سره نښلوله.

ډېر ځله راته خپل فکر او خيال ډېر ښه ښکاره شوی او کله کله مې خپلو ليکنو ته په ډېر حقارت کتلي دي او له ځانه مې زړه تور شوی دی.

ډيرې ورځې د کور او کلي له خلقو نه پټ شوی يم او چيرته لرې د غره په لمن کې په کومه هديره کښې ناست يم يا مې د سيند په غاړه يوازې ورځ تېره کړې او يوازيتوب مې ډېر لوی نعمت ګڼلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغسې مختلفو احوالو کښې مې کله شعر او کله نثر ليکلی چه زما روحي او فکري اغېزې پکښې څرګندې دي.

د دې کتاب پاڼې زما د ډېرې مودې د خاطراتو يوه برخه ده چه زما په نظر کښې ادبي قيمت لري او زه يې خپل غوره نثرونه ګڼم.

زما په مقالو کښې ځينې نورې مقالې هم شته چه دلته يې چاپول مناسب و مګر اوس لاس ته رانغلې او دا انتخاب نيمګړی غوندې شو.

دا پاڼې چه تاسې لولئ په ليکلو کښې ئې ډېر زيار ايستل شوی چه لوستونکو ته پوره نه معلومېږي.

لکه چه يو کور څو ځله جوړ او وران شي، دا مضامين هم څو ځله يو راز او بل راز شوي دي چه د ترکيب او تاليف په لحاظ ئې مختلف صورتونه پيدا کړي او کېدی شي چه ځينې به يې له اوسني حاله ښه هم و.

د ليکلو فن ډېرې جګرخونی لري او ډېر ځله داسې کيږي چه يو ليکوال يوه شپه په وېښه سبا کړي او يوه جمله پيدا کړي يا يوه ليکه هم ونشي ليکلی.

د يوه خيال يا فکر پيدا کول او بيا ئې په ښه ډول بيانول هغه ګران کار دی چه نورو ته ئې ګرانوالی او درونديوالی نه معلومېږي.

په همدغه سبب يوه شاعر يا ليکوال ته نه ښائي چه د خپلو آثارو قيمت له چانه وغواړي يا ورته څه قيمت وټاکي.

زه هم پدغه ټکي پوه شوی يم او له هيچا نه پرې هيڅ نه غواړم.

ډېره ښه ده چه زه اوس د پخوا په شان نه يم او خپلو افکارو ته په هغه قيمت نه يم قايل لکه چه پخوا وم.

يو وخت ما په ځان ډېره ښه عقيده درلوده او خپل فکر مې ډېر مبارك ګاڼه. هغه وخت به چه ما هر څه وليکل هغه به راته په يقين سره ډېر ښه ښکارېده او ډېره ښکلا به مې پکښې ليدله، مګر اوس هغه د يقين سرمايه په شك بدله شوه او پخپل فکر او نظر راته بدګماني پيدا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به اوس ډېر خوښ یم که دا پاڼې لکه د تمباکو پاڼې د چا د فکر صحت ته زیان ونه رسوي او څه زهر پکښې ګډ نه وي، هر څه چه وي او هر څنګه چه وي، مګر له ما سره بده اراده نه ده موجوده او په بد نیت دغه کار نه کوم.

دا فکرونه ښه وي او که بد، مګر د بیان او اظهار طرز ئې بد نه دی او د ښه نثر ښېګڼې پکښې شته. که نور څه نه وي نو د عبارت په لحاظ دا کتاب د یوه ادبي متن په حیث یوه ساده انشاء بللی شو چه له نورو لیکوالو او پښتو لوستونکو سره کومک کوي.

په دغه وخت کښې دغسې کتابونو ته ضرورت موجود دی او دغه ضرورت ماته هغه وخت پوره څرګند شو چه زه د حقوقو په پوهنځي او د ادبیاتو په پوهنځي کښې د پښتو استاد شوم او دا دوه کاله د پښتو درس را په غاړه شو.

پدې انشاء کښې که زه یو څه ښکلېتوب وینم هغه سادګي او آساني ده چه په لفظ او معنی کښې ئې ډېر لحاظ ساتل شوی دی او دا اساني په ډېرو مشکلاتو لاس ته راغلې.

پدې انشاء کښې که د فکر او معنی څه ښایست شته هغه په سادګی کښې پټ دی او څه ایغ نیغ حسن پکښې څوك نشي لیدی.

که دا نثر رواج ومومي او ځینې نوي لیکوال دغه سبك غوره کاندي ما به د خپل زیار او زحمت ډېر ښه اجر موندلی وي او خوښ به یم چه د پښتو نثر ته مې یو څه خدمت وکړی شو.[1]

---

[1] د "غوره نثرونه" د کتاب سرلیك، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ويښ زلميان

په دې نامه يو كتاب راورسېد چه ويښو زلميانو يې په ليكلو كښې برخه اخيستې ده او پښتو ټولنې له خوا د نباغلي فاضل او با درده پښتون عبدالروف خان بېنوا په زيار او كوښښ د كابل د مجلې د دوه شمارو په عوض چاپ او نشر شو.

په دې كتاب كښې موږ د مملكت مهم رجال، مهمې مفكورې، عالي شعور او لوړ احساس د وطنخواهۍ او مليت دوستۍ سرشار قوت، اجتماعي انتباه او بيداري وينو او پوهېږو چه زمونږ په هېواد كښې يو څه زلميان او ځوانان پيدا شوي چه د مملكت حقيقي سعادت غواړي او په ټينګه په اجتماعي خير او بهبود پسې ګرځي. د دوى غايه او مرام خودپسندي او خود نمايي، تظاهر او نمايش نه دى، له خودخواهۍ او ټيټو نفسي اغراضو نه پورته دي او د ملي عشق په حرارت د دې وطن د پاره خدمت كول غواړي.

هو! د دوى عزم و همت د ځان او شخصي ګټې د پاره نه، بلكه د لوړو اجتماعي مطالبو او مباركو مقصدونو د پاره صرفېږي. د دوى له نشراتو او ويناګانو ځخه سړى د زړه په ګواهۍ او تصديق پوهېدى شي چه دوي خپل خداى، خپل پادشاه او خپل وطن په خدمت او محبت كښې د ېر صداقت لري او غواړي چه د دين او دنيا د اجتماعي خير او سعادت د پاره كار وكړي او د حقيقي اسلام او صحيح مدنيت په رڼا كې د دنيا او اخرت نيكي وغواړي. لكه چه يو مسلمان ته د دې دعا تلقين شوى دى (الـهم ربنا اتنا فى الدنيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسنة و فی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار) عملاً هم دواړه جهانه په نظر کښې ونیول شي.

هو! دوی لکه له مذهبه نا اشنا ځوانان یوازې دنیا نه غواړي او د آخرت سودا هم ورسره شته، مګر دنیا هم نه هېروي او رهبانیت ښه نه ګڼي. د دوی آرزو مونږ ته ځان داسې راښوولی دی، چې دوی یوه داسې رڼا لټوي، چه د جهل و ناپوهۍ، د بدو رسومو او مزخرفو خیالاتو د ناوړو عقایدو تورتم ورك کړي او حق و حقیقت، صحیح افکار او صحیح اعمال، صحیح اشخاص او رجال وپېژندل شي.

هغه کسان چه آخرت د پاره هېڅ نه کوي، له اخلاقو او انساني فضایلو محروم دي. بې د دنیا له عیش او عشرته بله آرزو او بله غایه نه لري. یا هغه اشخاص چه د خدای اطاعت او عبادت د دنیا د پاره دام ګڼي بې له ریا او تزویر څخه نور څه نه لري او په هغو چارو چه اخرت ګټل کیږي دوی دنیا پرې ګټي.

مونږه باید دغه دواړه طایفې د صحیح پوهې او حقیقي بصیرت په رڼا کښې وپېژنو او د مملکت صحیح خدمتګاران او د دین رښتیاني غمخواره له نورو نه بېل کړو.

د وېښو زلمیانو همدغه کار دی او د دنیا او آخرت ګټه هم په همدغو کارو کښې مضمره ده.

دغه کتاب چه زمونږ لاس ته راغلی دی، دغه شان رهنمایي پکښې شته او د بیا لوستلو دی چه مونږ به په وروسته ګڼو کښې څه مضامین د اختصار او اقتباس په ډول ترې واخلو.[۱]

---

[۱] اتحاد مشرقي، جریده، جلال آباد، د ۱۳۲۷ د حمل نهمه. د ۱۹۴۸ د مارچ ۲۹ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستاینه

ګمان مه کوئ چه زه د کوم شخص صفت کوم چه هغه به له یو ښه خوی سره سل بد خویونه هم لري.

د چا د ښه باغ، ښکلي قصر ستاینه هم له مانه پوره نه ده.

په دې ګرانه او حقه روژه کښې که هر څومره وږی او تږی شم، د چا د دسترخان راز راز نعمتونه او طعامونه، شربتونه او مېوې نه ستایم او نه دغه تېټ شیان د ستایلو وړ بولم.

که څه هم جلال آباد ته روان یم او د زړې کرایې لارۍ انتظار لرم، بیا هم د چا دبیوک او شورلیټ ستاینه د ځان د پاره عار ګڼم.

هو! زما نظر په دغه وخت کښې له دې ټولو شیانو نه اوچت دی او یو عالي حقیقت او حقه وینا ستایم چه هغه له یوه خواږه، خوندور او پرکیف شعر څخه عبارت دی او له دې مادي دنیا نه هغه خوا. په معنوي جهان کښې له دغو ټولو شیانو نه لوړ قیمت لري.

دا شعر د پښتنو او مخصوصاً د افغانستان، په افغانستان کښې بیا د ننګرهار د ډېر مشهور شاعر او فاضل ادیب ښاغلي قیام الدین خادم اثر دی چه د کابل، مجلې په ۲۱۹مه ګڼه کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبیاتو لـه کلیشـي لانـدې چـاپ شـوی او (وا وا مسـلماني) یـې عنـوان دی.

دې شـعر پـه مـا بـاندې ډېر زیـات اثر وکـړ. د ریـا او تزویـر عـالم او هغـه کسـان چـه اسـلام غونـدې یـو لوړ او مقدس شی د خپلـو شـخصي او نفسـي اغراضـو د پـاره وسـیله کـوي، د دغـه شـعر پـه لوسـتلو ماتـه نـور هـم تـور او بـد پـه نظـر راغلـه. زمـا پـه زړه کـښې چـه لـه دوی سـره کوم، دخـدای د پـاره، بغـض پـروت دی، دا شـعر یـې زمـا پـه نظـر کـښې ډېر محبـوب او مقبـول وګرځاوه.

زمـا دا مفکـوره نـوره هـم قـوي شـوه، چـه بـاید مونـږ حضـرت مجـدد الفت ثاني علیـه الرحمه او هغـه کسـان چـه پـه دروغـو مونـږ تـه، لکـه دغـه لـوړ جنـاب ځان ښیـي، بـیل کـړو او د صـبح صـادق او صـبح کـاذب فرق او تمیز وکـړو.

دا شـعر عـلاوه پـه حقیقـي او انتقـادي قیمـت شـعري او ادبـي سرمایه هـم ډېره زیاتـه لـري او ملاحـت و مصلحـت دواړه پکـښې جمـع شـوي دي.

کـوم کسـان. چـه دا شـعر وجدانـا خپـل وصـف الحـال بولـي او پـه زړه کـښې پوهیـږي چـه خدایـږو تـه یـې پیژندلـي یـو، هغـه شـاید دا شعر بـد وګڼي، مـګر د حـق او حقیقـت طرفـداران او د حقیقـي اسـلام مینـان بـه یې ډېر خوښ کـړي.[1]

[1] اتحاد مشرقي. دیرشم کال. ۲۵مه ګڼه
د ۱۳۲۷ د سنبلې ۱۴مه
د ۱۳۶۷ د ذي قعدې دوهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مرغلرو امیل

## د ښاغلي الفت په نظر کښې

*د الفت له نامه سره لر او بر، پښتونخوا نبه اشنا ده او بېرون دنیايي هم پېژني. ده په خپله نوېسندګۍ او شاعرۍ دنیا خبره کړې ده چه له خصوصیاتو څخه یې یو جذابیت او حق ګویي ده. د ښاغلي الفت په قلم د ډېرو دولتمندانو اصحاب جاه بېځایه صفت هم موتږ نه دی لیدلی، نو د یو شاعر خولا څه کوي!!*

*نو دغه نامتو او نقاد لیکوال چه د مرغلرو امیل په کتاب څه لیکلي دي باید په غور وکتل شي. (زېږی)*

## د مرغلرو امیل

د مرغلرو هغه امیلونه چه اوس زمونږ په بازارونو کښې خرڅېږي که د ښکلو او خوبانو په غاړه نه وي نو د ښاغلي مولانا خادم د مرغلرو له امیل سره چه د ده د اشعارو مجموعه ده، هېڅ نسبت نلري. هغه مرغلري چه د جواهرو په تول خرڅېږي او یا د پادشاهانو په خزانو یا کورونو کښې وي د شعر په مقابل کښې ارزان غوندې شی معلومیږي. مونږ ډېرې قصې اورېدلي او په کتابونو کښې مو لیدلي دي چه ډېرو پادشاهانو په یوه بیت یا دوه بیتونو شاعرانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځتې ځتې سره او سپین زر بخښلي او ډېر ځله ئي د دوی خولې له جواهرو نه ډکې کړي دي. دا دی د شعر قیمت چه ډېره موده پخوا ئی په دې ملکونو کښې درلود او غیر له سلاطینو نه بل چا د دغه ګران او قیمتي ځیز قیمت نه شو پوره کولی، ځکه وایم چه د شعر مرغلرې ارزانه نه دي او د معنی د خاوندانو په نظر کښې ډېر قیمت لري. د دې عصر شاعر په دغه خبره پوهیدلی دی، ځکه د خزانو له خاوندانو نه څه نه غواړي او مدحیه قصائد نه جوړوي، که څه غواړي هغه یوازې د قام او ملت له خوا قدرداني ده او بس.

هو! ښاغلی خادم د قام خادم او د قام شاعر دی، د ده حق په ټوله پښتونخوا او درستو پښتنو باندې دی. ده هر وخت د دغه ملت په درد او غم ژړلي دي او ملي آرزوګانې یې په شعر کښې له ورا ځلیږي. پښتانه باید د خادم د اشعارو مجموعه چه "د مرغلرو امیل" یې نوم دی. ډېر قیمتي ځیز وګڼي او په ډېر قدر ورته وګوري. دا اشعار د یوه ډېر حساس او متجسس دماغ د شلو کالو محصول دی چه له ډېرو جګرخونیو سره لاس ته راغلی دی او د یوه دردمند زړه د الهاماتو عرفاني هدیه ده. په دې مجموعه کښې داسې اشعار شته چه د انسان فکر او خیال ډېر هسک ځای ته خیژوي او هغه څه ورښیي چه هر فکر نه ور رسیږي.

د دنیا مالونه، ځمکې، پټي، باغونه، قصرونه، له ډېرو خلقو سره شته چه یو یې له بل نه اخستلی او پیرودلی شي، مګر څه چه د ښاغلي خادم په برخه رسیدلی دی خاص د ده مال دی او له ده سره به وي یعنې پس له مرګه یې هم ترینه څوك نه شي اخیستلی او خادم ته د پښتنو په تاریخ کښې ښه حق ورکوي. د ده شاعري د فکر او معنی شاعري ده. که دلته د علم او ادب زیاته قدرداني موجوده وای، او د خیال او فکر پرواز ته هوا او فضا ښه مساعده وای، دا سړی به دغسې نه و پاتې او د ده استعداد به ډېر بروز کړی وی.

د خادم په اشعارو کښې د پښتونولۍ جذبات، د پښتون مینه، فلسفي افکار، شاعرانه خیالات په ښه قوت لیدل کیږي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعبيرات يې ډير خوندور او خواږه دي. د يوه مطلب تصوير په ډير ښه شان ايستلی شي او د خيال د تسلسل په ساتلو يې لاس بر دی، په غزلو کښې يې ډير نازك ادبي تشبيهات او خوږې استعارې وينو. ده په خپل کلام کښې طمطراق او فوق العاده مستي يا ډير جوش و خروش نه دی غوره کړی، مګر متانت او ادبي قوت يې پکښې ډير ښه ساتلی دی، شعرونه يې ډېر روان دي، مګر پخپله ورو، ورو ځي او خپلوآرزوګانو ته نه دی رسيدلی. د بداعت له جنبې نه يې د فصاحت برخه قوي ده او د علامه اقبال له شعر و شاعري نه يې ډيره ښه استفاده کړې ده. د مرغلرو په اميل کښې د عروج رمز، د تورې بريښ، د شاعر مسلك، دا ځکه چې پښتون يم، بې تهذابه تعمير، واوا مسلماني، سپين غر، قومي ژوند، له سپوږمۍ سره خبرې، اب حيات، د چمن سيل، علامه اقبال، د ترکو پلار، د ازادۍ عصر، د جرار جواب، اه و فرياد زورور نظمونه دي.

زه ښاغلي مولانا خادم ته، چه د پښتنو مشهور او مفکر شاعر دی او هر وخت مو د ده له اشعارو ډير خوند او کيف اخيستی دی، د دغه برجسته او ډير قيمتي اثر تبريك وايم. هغه افتخار چه د شعر او ادب دنيا کښې د ده په برخه رسيدلی دی دومره ګنجايش لري چه مونږ هم پکښې برخه واخلو او فخر پرې وکړو![1]

[1] زيری جريده، دوهمه دوره، دريم کال، ۷ مه ګڼه
د ۱۳۳۳ هـ ش د سنبلې ۲۰ مه نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه

## د علامه اقبال په نظر کښي

خودي، خودشناسي او خودبيني که د فرد د پاره ښه نه وي د جماعت د پاره خو ګټور معلوميږي او ملتونه په همدغسي احساساتو ژوندي دي. ځيني صفات شته چه د يوه شخص د پاره عيب وي، مګر د يوه ملت د پاره حسن وي لکه ملي غرور چه د اجتماعي جنبې په پيدا کولو د ستاينې وړ بلل کيږي. علامه اقبال د يوه ملت د پاره ځان منته او ځان کتنه ډيره ښه ګڼله او د خودۍ درسونه يې ورکول.

مرحوم اقبال د پښتنو په ښته او فطرت کښي څه ليدل او دغه قوم ته ئي ډيره لويه هيله درلوده. ځکه ئي دوی له نورو نه ډير ستايلي دي او دوی ته ئي خپلې زړتې هيلې ښکاره کړيدي. دد د شرق د نهضت او د اسلام د اعتلاء په باب د اميد ستر ګي د پښتنو خوا ته نيولي وې او افغاني ملت ته ئې په ډيرې اعتنا کتل. د همدې لامله د پښتنو مشاهير د ده په اشعارو کښي ډير ياد شوي دي او د دغه قوم ملي شهامت او شجاعت ته په درانه نظر کتل شوي دي. ښاغلي بختاني ډير ښه کار کړی دی چه دغه يادوني ئی د ده له اثارو راغونډې کړيدي او د يوه کتاب په صورت د پښتو ټولنې له خوا د ښاغلو پښتنو حضور ته وړاندې کيږي چه دوی هم د دغه حکيم او فيلسوف شاعر په نظر ځانته وګوري او خپل حيثيت او مقام بيا بيا د هغه په نظر کښي ووينې. پښتو ټولنه د دغه کتاب چاپول د ملي احساس په روزلو او پاللو کښي ډير موثر ګڼي او هيله لري چه ښاغلي پښتانه به ئی په غور او دقت ولولي. د ښاغلي بختاني په کتاب د پښتو ټولنې له خوا يوه برخه له دې عنوان لاندې زياته شوه (اقبال د افغاني شاعرانو په نظر کښي) او دغه زياتوالی مفيد معلوميږي.[1]

---

[1] د ډاکټر شوي کتاب سريزه، پښتو ټولنه. ۱۳۳۵ هش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اور لمبې

د انګلیس او افغان هغه جنګ چه په (۱۸۴۲ع) کې ښې د انګلیسانو په شکست خاتمه ومونده، نتیجه یې څرګندده او باخبره خلک خبر دي چه ډیر پرنګیان، ښځې ووژل شوه او ځینې د پښتنو په لاس بندیان شوه. کپتان جانسن یو تن له دغو بندیانو څخه دی چه په خیبر کښې نیول شوی او ښاغلي خیبري یې تاسو ته قصه کوي

په دې قصه کښې علاوه د پښتنو په توره او ننګ و غیرت د دوی اخلاقي رویه او انساني سلوک هم یو داسې فضیلت دی چه دښمن هم پرې اعتراف کړی او نه دغې ستاینې ته یې ځان نه دی ژغورلی.

پښتو ټولنه د دغسې آثارو نشرول، د پښتو او پښتونولۍ په لحاظ مفید ګڼي او ارزو لري چه د ښاغلو لوستونکو خوښې څه نه څه حاصله کړي، ځکه چه هر څوک د خپل شهامت او شجاعت قصې په مینه اوري او د خپل تاریخ دغه برخه په ډیر شوق لولي.[1]

[1] د ذکر شوي کتاب سریزه، کابل: پښتو ټولنه، د ۱۳۳۵ د غوایي میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو نثرونه

لکه چه له نامه څخه معلوميږي، دا کتاب د پښتو نثرونو مجموعه ده.

د دې نثرونو ټولوونکي او خوښوونکي ښاغلي ژواک دی چه د مضامينو تنوع او د نثر ښېګڼې يې په نظر کښې نيولې دي، مګر نظر يې محدود نه دی او له خيبر نه هغه خوا پښتو نثرونه يې هم لټولي او راغونډ کړي دي.

په دې کتاب کښې د سبك او اسلوب په لحاظ هم تنوع شته او په لفظي او معنوي لحاظ څو ډوله نثرونه پکښې موندلی شوو.

زه دا نه وايم چه د ده انتخاب به له اوله تر اخره د هر چا خوښ شي، ځکه چه ذوقونه او فکرونه راز راز دي او د يوه انتخاب له بل نه ارومرو څه قدر توپير لري، مګر دا ويلی شم چه هر څوك پکښې د خوښولو وړ، يو څه پيدا کولی شي او دغه راز منثور اثار د پښتو لوستونکو او زده کوونکو د پاره په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ دلته د نثرونو او پښتو مقالاتو خینې کتابونه چاپ کړي دي چه د یوه لیکونکي غوره او ښه مضامین پکښې درج دي، مګر دا کتاب د ډیرو لیکوالو د نثر نمونې تاسې ته ښیي او راز راز افکار، چه د یوه ذهن او دماغ محصول نه دي، پکښې موندلی شئ.

له مونږ سره دا فکر شته چه په دغه اوس وخت کښې له نظم نه نثر ته زیاته توجه په کار ده او د پښتو ادب دغه برخه زیاته پالنه غواړي. که اوس د پښتو د پخو لیکوالو نثرونه د نمونو په ډول چاپ شي، د نوو لیکوالو د پاره به یو ښه لارښود نه وي او د ژبې اصلي طرز او رنګ به څه نه څه وساتل شي.

مونږ غواړو چه د ځینو استاذانو د نثر نمونې چه د ژبې د اصلي سبك او اسلوب په لحاظ ادبي قیمت ولري د پښتو متونو په ډول چاپ او خپاره کړو، چه نوي لیکوال په شعوري او غیر شعوري ډول ترینه استفاده وکړي او دغه راز اثار سربیره د لیکلو په طرز او طریقه، د مضمون او معنا په لحاظ هم په اذهانو کښې ښه څه پیدا کړي او فکرونه وروزي.

د همدغه مطلب د پاره فعلا دا کتاب ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کوو او هیله لرو چه مفید او ګټور به ثابت شي. انشاء الله تعالی.[1]

[1] د ذکر شوي کتاب سریزه، کابل، پښتو ټولنه، د ۱۳۳۵ د کب میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منتخب شعرونه

دا اشعار د بیتونو د شمېر په لحاظ کم دي، مګر د کیف په لحاظ ډېر زیات قیمت لري او د پښتو د اوسني ادب ډېره غوره برخه ورته ویلی شوو.

د یوه شاعر لویوالی، په ډېرو یا لږو اشعارو پورې نه دی تړلی. شعر که څه هم د مادي شیانو په څېر تول او تله لري، چه د تورو زیاتوالی او لږوالی پرې سنجول کیږي، مګر بیا هم د پوهې او ادب خاوندان شعر ته د کم په لحاظ نه ګوري، کیف ته یې ګوري.

یعنې ښه شاعر، لوړ شاعر، ستر شاعر هغه چاته وایي چه اشعار یې د معنی او ادبي ښېګنو له خوا لوړ وي او د فن او هنر په لحاظ هسك مقام ولري.

خیام د شعر په تړۍ کښې یو څو رباعۍ لري چه په ډېرو لږو کوچنیو پاڼو کښې یې ځای موندلی، مګر د ده شعر او شاعرۍ د ذوق او هنر د خاوندانو په نظر کښې ډېر لوی قدر او قیمت لري.

د نباغلي ادیب سید شمس الدین مجروح له لوړي قریحې او شعر روزونکي استعداد څخه ځیني داسې اشعار پیدا شوي دي چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د اشعارو ښېړل او پلورل رواج وای او د شعر په ورکړه راکړه د يوه شعر د بل کېدلی. ما به خپل څو شعرونه د ده په يوه شعر ورکړي وو او ډېر به خوښ وم چه د ده ځيني اشعار زما وای.

مګر زه اوس هم، د دې لامله چه خان ده ته ډېر نږدې ګڼم، د ده په اشعارو وياړم او خپل يې ګڼم. همدغه وجه ده چه له يوې خوا ته مې د اشعارو خوند او ښکلا په ستاينه مجبوروي او له بلې خوا راته دغه ستاينه لکه د خان ستاينه ښکاري او مخه مې نيسي. که دغسې نه وای ما به په دغو اشعارو، په ډېرو پاڼو کښې، ډېره لويه مقدمه ليکلې وه او له نيا ته به نمسې غځېدلې وه.

په هر حال دا اشعار پخپله خپل ځان ښيي او زما ستاينو ته څه ضرورت نه لري. زه همدومره وايم، چه پښتو ټولنه، د دې اثر په چاپولو او خپرولو، د ذوق او سليقې خاوندانو ته د پښتو د لوړ ادب يوه ښه او غوره نمونه وړاندې کوي.

کاشکې د ښاغلي مجروح صاحب، نور اشعار هم لاس ته راغلي وای او غوړي لا غوړ وای![1]

---

[1] د ذکر شوي کتاب سرليک. کابل. پښتو ټولنه. د ۱۳۳۷ حمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه بځري

د ښاغلي پرهيز "د زړه بخري" چه د ده د اشعارو مجموعه ده، ما ټول ونشو کتلی، مګر ډېر ښه ښه شعرونه مې پکښې ولوستل چه په رښتيا ئې شعري کيف درلود او شعري محاسن پکښې وو.

د پرهيز په شعر کښې سربېره په سلاست اوروانۍ هغه شی هم موجود دی، چه شعر ورته ډېر ضرورت لري، چه هغه احساسات او عواطف دي. ځنګه چه ښاغلی پرهيز يو سپېڅلی او پاك زړی پښتون دی چه د حق او حقيقت په مقابل کښې نورو شيانو ته څه ډېره اعتنا نه لري او هر کله جرئت او صراحت نه کار اخلي، شعر ئې هم د همدغې جذبې له تاثير لاندې هغه جذابيت پيدا کړی دی چه په زړونو ډېر اثر لري.

د وطن مينه، د مليت احساس، انساني عواطف او د يوه دردمند زړه اغېزې پدې اشعارو کښې ډېر ښه ځای لري او د زړونو خاوندان ورته په ډېر ښه نظر ګوري، زه دا کتاب د چاپولو وړ ګڼم او ډېر ښه ادبي اثر ئې بولم.[1]

[1] د ډاکتر شوي کتاب په سر کې نظريه، د ۱۳۷۶ هـ ش چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلیمه داره روپۍ

دا یوه خوږه ډرامه ده چه ښاغلي عبدالرحمان پژواک د پښتو تولني افتخاري غړي، تقریبا شل کاله پخوا لیکلې ده. په دې ډرامه کښې پښتني احساسات، د وطن مینه، افغاني شجاعت، دیني جذبه ډیر ښه تمثل شوی دی چه د افغان ملت د نرو او ښځو میړانه او ناړینتوب ترې په ښه ډول څرګندیږي.

په کلیمه داره روپۍ کښې مادي او معنوي دواړه قیمتونه موجود دي او د دین او دنیا د وصال ډیره ښه نخښه ده. په پښتو ادب کښې کلیمه داره روپۍ د ښکلو پیغلو له اوربل سره ډیر ارتباط لري او په همدغه وجه د جمال پلوشه او د عشق خاطره هم پکښې پټه ده. په همدغه سبب دا نوم له دې قیصې سره ډیر ښه تړون لري او لیکونکی د خپلې کیسې اساسي ټکی ګڼلی دی...[1]

[1] د ذکر شوي کتاب سریزه. پښتو ټولنه. ۱۳۳۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو ادبیاتو تاریخ

## دوهـم ټوك

دا د پښتـو د ادبیـاتو د تـاریخ دوهـم ټوك دی چـه پـه ۱۳۲۴ هـ ش کـال کـښې پیـاوړي مولـف عبدالحـي "حبیبـي" پـه لومـړي ټوك پسـې لیکلـی او پـه ۱۳۲۹ هـ ش کـښې د کـابل مجلـې پـه ګڼو کـښې پرلـه پسـې خپـور شـوی دی.

د پښتـو ټولنـې د ادبیـاتو د څانـګې ښاغلـی مدیـر محمـد حسـن ساپی له کابل مجلو نه راغونډ کړ او اوس د کتـاب پـه صـورت ښاغلو لوستونکو تـه د استفادې د پـاره وړانـدې کیـږي.

د دې کتـاب لومـړی ټوك پـه ۱۳۲۰ کـښې د ادبیـاتو د پوهنـځي لـه خوا د درسي کتاب په حیث چـاپ او پـه درس کـښې شـامل شـو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښائي چه د دې ټوك په خپرېدو هغه درسي سلسله پراختيا ومومي او د ادب محصلينو ته هم ډېر ګټور ثابت شي.

دا ټوك د اسلام له لومړيو وختونو تر ۱۰۰۰ هـ پورې د پښتو ادب رنګ او ډول ښيي او د مستندو تاريخي واقعاتو په رڼا كښې ليكل شوى دى.

د تاريخي څېړنو او پلټنو په لحاظ دا كتاب ډېر مهم دى او په ډېرو مهمو ټكو رڼا اچوي. د ادبي تحليل برخه ئې هم د اعتنا وړ ده چه مولف پكښې د ښه حق خاوند او حقدار ګڼلى شو، مګر تاريخي څېړنې ئې پر ادبي څېړنو درنې او مهمې دي.

په اوسني وخت كښې چه د ماخذونو او مداركو نيمګړتيا ته ګورو او دغه حال په نظر كښې نيسو، بايد ووايو چه د مولف څېړونكي طبيعت او د ډېرې مودې تاريخي مطالعاتو ده ته د دغو اثارو په ليكلو له نورو نه د وړاندې والي او قدامت حق وركړى او د پښتو په علمي او ادبي پالنه كښې ئې د ډېرې ښې برخې خاوند كړى دى.[1]

[1] پر ذكر شوي كتاب سريزه. پښتو ټولنه، ۱۳۳۸ هـ ش.

# د افغانستان د ځينو ژبو اولهجو قاموس

پښتو ټولنې د خپل تاسيس له وخته تراوسه ډير كتابونه چاپ كړيدي چه د ضرورت او اهميت په لحاظ ځينې ښه او ځينې ډېرښه دي.

دا كتاب له هماغه كتابونو څخه دى، چه د پښتو ټولنې له مرام سره ټينګ او نږدې تعلق لري او د كيفيت په لحاظ ورته ډيرښه ويلى شوو

په دې كتاب كښې د افغانستان د اريائي ژبو (پښتو، فارسي، شغني، سنګليچي، واخي، اشكاشمي، منجي) ډير لغتونه راغونډ شويدي چه لوستونكى د دې هيواد له څو ژبو سره اشنا كوي او سربيره په دې له هغو كسانو سره هم ښه مرسته كوي چه د ژبو نيلې او ريښې پلټي او په ژبنيو څېړنو بوخت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسړ د دې کتاب مرحوم او فاضل مولف شاه عبدالله بدخشي او د هغه ملګرو ته په ډېر ښه او درانه نظر ګورو چه دغه ښه او مهم اثر ئې موږ ته پرېښې دی. د دې کتاب په بشپړتیا او تکمیل کښې د پښتو تولنې د لغاتو دځانګې او ځینو نورو غړو څه موده زیار ویوست چه د پښتو ژبې لغات ئې ورسره زیات کړه او د دغې اضافې په وجه د کتاب قیمت او اهمیت نور هم زیات شو.

څنګه چه مرحوم مولف د کتاب په مقدمه کښې لیکلي دي د پامیري ژبو په لغاتو او کلماتو کښې ځینې داسې توري شته، چه په فارسي کښې نشته او په پښتو کښې شته لکه (ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) په همدغه وجه دغه پښتو توري د دې قاموس په لیکلو کښې په کار شوي دي او د دغو تورو وجود دابښيي چه پښتو ژبه او دغه ژبې په اصل کښې ډېرې نږدې دي او غږونه ئې یو بل ته ورته دي، ډېر ښه وشوه چه د پښتو تولنې له خوا په دغه قاموس کښې پښتو لغات هم زیات کړی شوه او د ژبو د مقایسې او پرتلې د پاره زمینه ښه مساعده شوه.[1]

[1] د ..کر شوي کتاب ... نړه. پښتو تولنه. ۱۳۳۹ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشې

اوس په افغانستان او پښتونستان کښې د پښتو ژبې ځینې ډیر ښه شاعران پیدا شویدي چه د ډیر لوی او ستر حق خاوندان دي. که اوس د پښتو أدب ځینې برخې د دنیا په نورو ژوندیو ژبو ترجمه شي باور لرو چه ځینې ښتانه شاعران به جهاني شهرت پیدا کړي او پردي به هم ورته په درانه نظر وګوري.

په دغسې شاعرانو کښې یو تن عبدالغني خان غني د باچا خان مشر زوی دی چه ښتو ټولنه ئې د دیوان چاپول په ښتو ادب کښې ډیره ښه اضافه بولي او د شعر علاقه مندانو ته ئې ډیر ښه ادبي سوغات ګني.

د فخر افغان خان عبدالغفار خان په لوی کور کښې چه هم غني شته او هم ولي شته د دغسې شاعر پیدا کیدل څه عجیبه خبره نده.

کله کله د غني قصه هم واوره
دا هم ده وروره د لویې ونې خانګه

زه د ښتو په اوسنیو شاعرانو کښې څو تنه د ګوتو په شمار پیژنم چه هر یو د خپل ادبي سبك او د خپلو افکارو او خیالاتو په لحاظ ممتاز صفتونه لري او په بیلو بیلو لحاظونو یو له بل نه او بل له بل نه ښه دی، یعنې یو د غزل استاد دی. بل د ملي او وطني احساس په راویښولو کښې د لویې برخې خاوند دی، د چا اجتماعي افکار او خیالات ډیر عالي دي او د چا رندانه سندرې ډیرې ښکلې او په زړه پورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غني خان پـه اشعـارو کښي چـه څه شـي زمـا ډیر خوښیـږي هغـه د فکـر او خیـال ازادي او د تقلیـد لـه تلقینـاتو څخـه سرکشـي ده.
د ده رندانـه مقـام تـه هـر څوك نشـي رسـيداى او هغـه څه چـه دی ئـي د خپـل ښاغلي لیونتـوب لـه برکتـه ویلـی شـي د نـورو خولـه پـرې سـوزي.
غنـي د شـعر او شـاعرۍ پـه دنیـا کـښي پـه رښتیـا غنـي دی او ډیـر څه ئـې پـه برخـه رسیدلي دي. د ده پـه اشـعـارو کـښي، عشـق او محبـت، پښتـو او پښتونولـي، رنـدي او خیـامي فلسـفه، ټوکـې او مسـخرې هـر څه شـته او لـه کارغـانو او مارغـانو سـره ئـې هـم پـه شـاعرانه ژبـه ډیـرې د خوند خبـرې کـړیـدي.
د ده پـه مسـتانه لیونتـوب کـښي شـاعرانه هوښیـاري او بیـداري پـټه ده او پـه ملنـډو کـښي ئـې ډيـر د مقصـد ټکـی نغښتـي دي ځکـه ورتـه لیونـی فلسـفي هـم وایـي.
ده لـه مـچ او میـږي، لـه چـرګ او مـلاچـرګك،لـه اوښ او لـه نـورو لويـو ورو ځنـاورو سـره ډيـر څه ویلـي او پـه دغسـې پـیرايو کـښي سیاسـي او انتقـادي مطـالب بيـان کـړیـدي.

*څه کـه خلق لیونی غني ته وایي*
*ډیر ښه پیژني خپل یار او د نور یار*

دغــه د مینـې لیونــی، د مینـې پـه حقیقـت ډیـر ښه پوهیدلـي او همدغـه پوهـه د شـاعرۍ ډیـره لویـه پـانګه ده. دی د مینـې او محبـت پـه بـاب خپلـه عقیـده داسـې څرګندوي:

محبـت د خـدای صفـت د زړه طـاقت دی
هـر طـاقت د ده غـلام د غلامـانو
مینـه حقیقـت حسـن سـایه د حقیقـت ده
حسـن لـه زوال شـته مینـه نلـري زوال

غنـي د ډیـرو نـوو خیـالاتو خـاوند دی او زاړه خیالونـه هـم پـه نـوې جامه او نـوي رنـګ کـښي ښیـي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښيي زوړ خيال نوي جامه کښې د غني دی دا صفت
خيــال مــې د سبـــا دی پيدا شــوی پـــروني يمـــه

دغه بې پروا او بې قيده شاعر کـه څه هم ډيـر نـاويلی " مه ګويات"
ويلـی دی او خپـل زړه ئـې ښه يـخ کـړی، مــګر بيــا هـم خپـل ځان مقيـد
ګڼي او د زړه ځينـې خبرې پـه زړه کـښې سـاتي.

غني وايي کـــه د زړه خبرې وکـړم
پښتانه به مې په سر لرګي کړي مات

دغـه د سـر ډار کـه د ده پـه سـر کـښې نـه وای، ښائـي چـه دغـه ازاد
خيالـه شـاعر د فکـري ازادۍ حق نـور هـم ډيـر ښه پـه ځا ی کـړی وای او
د جرئـت او جســارت ډيـرې لـوړې څوکــې تــه ختلـی وای. د ده د اشـعارو
نمونـه چـه لومـړی ځل مـا وليـده او پـه لوسـتو ئـې نـه مړيـدم هغـه د ده دا
بيتونـه دي:

چـــه خـــازې شـــنې مـــې پـــه قـــبر وې ولاړې
کـه غـلام مـې يـم راځئ تـو کـړئ پـرې لاړې
کـــه پخپلـــو وينـــو نـــه يـــم لمبيدلـــی
پـــه مـــا مـــه پليتـــوئ د جومـــات غـــاړې
چـه قطـرې قطـرې مـې فـوځ د انګريـز نکـړي
مـورې مـا پسـې پـه کـوم مـخ بـه تـه ژاړې
يـا بـه دا بــې ننــګه ملــك بــاغ عــدن کـړم
يـا بـه کـړم د پښتنــو کـوڅې ويجــاړې

دا بيتونه څه د پاڅه تـل کالـه پخـوا د پښتـون مجلـې پـه لومـړي مـخ
چاپيدل او پـه هر ځا بـه ئې ډيره اغيزه کولـه.[۱]

[۱] د غني پلوشې بر کتاب مرغلـه. پښتو ټولنه. ۱۳۳۹ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه شعراء

## دریم ټوك

د پښتو ژبې ډیر شاعران او پوهان د تیرې زمانې په تورتم کښې ورك دي چه اوس ئې چاته پته نشته او د اشعارو او اثارو نمونې یې نه مومو. د دغسې کسانو پلټل او د ورکو اثارو پیداکول د پښتو ټولنې وظیفه ده. دا کار پښتو ټولنې ډیر پخوا شروع کړی او څو کاله پخوا ئې په دغه نامه دوه کتابونه لومړی او دوهم ټوك چاپ کړه چه د پښتو ژبې ډیر ښه ښه مشهور او غیر مشهور نوم ورکي شاعران پکښې معرفي شوه.

د دغې سلسلې دریم ټوك دغه دی اوس د یوه مهم اثر په صورت خپریږي چه د پښتو ټولنې د ادبیاتو په څانګه کښې له ډیرې مودې نه دغه لټون شروع و او په دې وروستیو وختو کښې د طبع دپاره اماده کړی شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدي توک کښې (۱۳۱) تنه پښتانه شاعران ښودل شويدي چه په ادبي لحاظ ډير قيمت لري اويو ښه خدمت ورته ويلی شوو. د دې توک په تکميل کښې ښاغلی عبدالشکور "رشاد" د پښتو ټولنې مرستيال د ادبياتو له څانګې سره ډيره ښه مرسته کړيده او (۱۸) تنه شاعران ئې نوي معرفي کړيدي چه ځينې پکښې د ديوان خاوندان دي او په ادبي لحاظ لوړ مقام لري. د دې توک په ليدلو کتلو کښې ښاغلي خادم صاحب هم برخه اخستې ده او د يادولو حق لري.

ښاغلي حسن "ساپي" د ادبياتو څانګې کفيل د کتاب په تدوين، مقابله او د ځينو شاعرانو په پيداکولو او ليکلو کښې ډير زيار کښلی دی.

د دغسې کتابونو په چاپولو او خپرولو کښې دا فايده هم په نظر کښې ده چه ښاغلي لوستونکي به ئې په غور او دقت وګوري او کوم شاعران چه په دغو تذکرو کښې نه وي راغلي او دوی ته معلوم نه وي نو د هغوی په باب به کافي معلومات د کلام له نمونو سره پښتو ټولنې ته د يوې ادبي مرستې په حيث راواستوي او له خپلې ملي ژبې سره به مرسته وکړي.

پښتو ټولنه د دغه زيار او خدمت په مقابل کښې د دغسې کسانو معنا او مادتا قدر کوي او په ښه نظر ورته ګوري.[1]

[1] د ذکر شوي کتاب د لومړي چاپ سريزه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۲ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتــانه شعراء

## دريم ټوك

په ۱۳۳۷ کښې د پښتانـه شـعراء دريـم ټوك د پښتـو ټولنې لـه خـوا چاپ شو، مـگر پخوا تر دې چه دغـه كتـاب لـه دولتـي مطبعـې څخـه راووزي او خپور شـي په مطبعـه کښې اور ولگيـد او دا کتـاب هـم لـه ځينو نورو كتـابو او مجلو سره وسوزيده.

يوازې دري څلور جلـده ترينـه پـه لاس راغلـل او بـس.

کله چه د دې کتاب د بيـا چاپولـو اراده پيـدا شـوه كتـاب د دوهـم نظـر د پـاره ښاغلي او فـاضل ليكـوال عبدالشـكور "رشـاد" تـه وسـپارل شو چه ځينې نيمگړتياوې او اشتباه گانې يـې رفـع کـاندي.

دغـه محترم ملـگري دا کـار پـه ښه شان وکړ او وروسـته تـر دې چـه پـه کتـاب ئـې د تزئيـد، تنقيـص، اصـلاح او تعديـل پـه لحـاظ يـو ښه بدلـون راووست کتـاب بيـا چـاپ شـو چـه لـه پخوا نـه د کم او کيـف پـه لحـاظ ډير ښه شـو او د رشـاد صـاحب د زيـار او کـار يادونـه پکښې د حق مننـه ده.

پـه دې كتـاب کـښې سـربيره پـر دې چـه د ځينـو شـاعرانو پـه پيژندگلـوی کـښې ډيـره ښه اضافـه راغلـې ده او د اشـعارو نـادرې نمونې ئې راغونډې شـويدې ځينې مـهم اشـتباهات رفـع شـويدې.

پـه دې طبـع کـښې د صفحـو نومـره هـم د لومـړي او دوهـم جلـد پـه تعقيب پـه مسلسـل ډول راغلـې ده او شـاعران هـم د تـيرو جلدونـو د شمېر په اعتبار مسلسله نومـره لـري چه پـه دغـه دريـم ټوك د ۳۳۹ تنو شاعرانو پـه پيژندگلوی ختميږي.[۱]

---

[۱] د ذکر شوي کتاب د دوهم چاپ سريزه، پښتو ټولنه ۱۳۴۲ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راز

"راز" چه د بناغلي بختاني د اشعارو دوهمه برخه ده زما خوښه شوه او ځينې اشعار ئې د ډېرې ستاينې وړ دي. د بختاني په شعر کښې ساده ګي، رواني او له ژوندانه سره ښه ارتباط شته ځکه ئې ښه ګڼم او په ښه نظر ورته ګورم.

زه په شعر کښې جرئت او جسارت هم خوښوم او د اجتماع سترګو ته خلي وروړل ستايم. په دغو اشعارو کښې دغه صفت موجود دی او د وطن مينه، د مليت احساس، په خوار غريب باندې زړه سوی پکښې ډېره اغيزه لري. د دې اشعارو يو ښه اړخ دا دی چه اسلامي او پښتني رنګ پرې غالب دی او اصلاحي جنبه ئې زوروره ده. که بختاني د چا په عقيده له ګلونو سره ښکلې دسته د نمود او د نظر د خوشحالي د پاره نه وي جوړه کړې. نو د دردمنو زړونو د علاج د پاره خو ئې ګل قند جوړ کړېدی.

د اشعارو معنوي ښايست په ظاهري ساده توب کښې پټ دی ځکه ئې ډېر ظاهر بين خلق حقيقت ته نه ملتفت کېږي.

د بختاني اشعار ساده دي. مګر د ساده ګانو له فکر او فهم نه لوړ دي. بختاني پخپله هم خپلو اشعارو غوندې دی چه ظاهري لباس او وضع ئې نظر رانښکونکې نه معلومېږي. مګر چا چه د ده په باب سمه مطالعه کړېده د ده اخلاقي او ادبي شخصيت ته په ښه نظر ګوري او قدر ئې کوي[1]

---

[1] برق ... تقريظ، پښتو ټولنه ۳۴۲ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نومیالی غازي

## چکنور ملا صاحب رحمة الله علیه

هغه شخصیتونه چه په خپل وخت کښې د خپلو ذاتي صفاتو او خصایلو په وجه په خلکو کښې نیك شهرت او ښه اعتبار پیدا کوي، د هیرولو نه دي.

مونږ باید د دغسې رجالو په حالاتو ځان خبر کړو او ځانته دا معلومه کړو چه په دې وطن کښې چا د دې وطن د پاره څه کړي دي؟ ملایان خو اوس هم شته او د چکنور د ملا صاحب په وخت کښې هم وو چه ځینو به له ده نه کتابونه هم زیات لوستي وو.

د ده په شیخانو او مریدانو کښې به هم ځینې زاهد او عابد کسان وو چه حتی له ده نه به نې هم زیات نفلونه کول مګر شاوخوا خلك په ده راټولیدل او د ده وعظ و تبلیغ. د ده خبرې او نصیحتونه له نورو نه زیات موثر وو.

زه دا منم چه د روحانیت تاثیر ورځ په ورځ په خلکو باندې کمیږي او هغه اثر چه د هډې اخندزاده صاحب په خپل وخت کښې درلود اوس نې کوم پیر او فقیر نه لري.

اوسني تعلیم او د دې عصر ذهنیت له پخوا نه ډیر فرق کړی دی. مګر له دې خبرې سره دا هم منم چه د هډې صاحب په وخت کښې هم ځینې نوی لوی ملایان وو چه علمي مطالعه به نې له ده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاتـه وه بلکـه زهـد و عبـادت بـه ئـې هـم لـه ده نـه زیـات و، مـگر د ده پیرو ي ئې کولـه او د ده پـه طریقـه کښې داخـل وو.

د دغـه معنـوي نفـوذ او رسـوخ علـت او سـبب تشـخیصول ډیـره مهمـه خبره ده، چـه بـاید د تحقیـق خـاوندان او سـوانح نـگاران ئـې درك کړي او خلکو ته ئـې وښیـي.

پخـوا وختونـه پریـږدئ، دغـه زمونـږ زمـانې تـه نـژدې وختونـو کـښې دلتـه ډیـر علمـي او روحـاني شـخصیتونه پیـدا شـوي او خـاورې شـوي دي چـه د خلکـو پـه افکـارو او عقـایدو ئـې تسـلط درلـود او ډیـر خلـك ئې پـه ځان پسـې روان کـړي وو.

کـه څوك دا فکـر کـوي چـه دغـو کسـانو محـض پـه ظـاهري وضـع یعنـې جـاى نمـاز او تسـبو او پـه نفلونـو دریـدو خلـك پـه ځان راټول کـړي وو دا فکـر ډیـر سـطحي او سرسـري فکـر دی ځکـه چـه ډیـر خلـك ډیره موده پـه محـض ظاهري نمـایش نـه غولیـږي.

کـه چـا دا تصـور کـړی وي چـه یـوازې د خولـې فصـاحت او بلاغـت او پـه وعـظ و تبلیـغ کـښې مـهارت ډیـر موثـر دی دا قضـاوت هـم کـاملا صحیح نـه دی.

همدغـه اوس بـه زه تاسـو تـه یـو بـې عملـه مـلا او مولانـا دروښیـم چـه پـه خولـه بـه ډیرې ښې خـبرې او پـه منـبر بـه ډیـرې ښې مسـئلې کولـی شي مـگر د هغـه بـل شـار وار او بـې الایشـه مـلا د خـبرو تـاثیر بـه د ده پـه خبرو کښې نـه وي.

همدارنـگه خلـك یـوازې پـه تـش زهـد او عبـادت دومـره ډیـر نـه غونډیږي لکه چه د چـا پـه اخلاقـي او عـالي صفـاتو راغونډیـږي.

چکنـور مـلا صـاحب پـه بـاب زه څه خـاص معلومـات نـه لـرم چـه د ده د شـهرت او اعتبـار، د روحـاني نفـوذ او رسـوخ هغـه اصلـي ټکـي تشـخیص کـړم مـگر دا راتـه معلومـه ده چـه دغـه د خیـر او برکـت خـاوند پـه ازادو سـرحدونو کښې، پـه ننګرهـار او کـابل کـښې ډیـر ارادتمنـدان لـرل او ډیـر وران ویجـاړ کارونـه پـه ده سـمیدل، ډیـرې بـدئ او دښمنـئ ده اوارولـې شـوې، ډیـر خلـك ئـې د غـزا لپـاره لـه ځان سـره روانولـی شـول

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ډېرو خلکو لـوټي او خوينـدي ئـې بـې ولـوره پـه ډېـر لـږ مـهر خپلـو ميړونـو تـه ودولـى شـوې، ځکـه چـه هيڅوك ئـې مخـې تـه نـه درېـدل او هر چا ورتـه د عقيـدې لـه مخـې ارادت درلـود.

هغـه کـار چـه ده د ازاد سـرحد پـه مومنـدو او شـينوارو کولـى شـو اوس ئـې يـو رياست قبـايل پـه ډېـرو پيســو نشـي کولـى، هغـه غـزا چـه ده پـه تـش لاس د خلکـو د جذبـاتو پـه راوپـارولـو کولـه، يـوه عصـري فرقـه ئې پـه توپونو او ماشيندارو نـه شـي کولـى.

هغـه لويـې دښمنـۍ، جـګړې او دعـوې بـه چـه ده پـه يـو څـو خـبرو فيصله کولې، يوه ستره قضايي تولنـه ئې هغـسې نـه شـي حـل کولـى.

دا دومره کارونـه چه يـو سړي پـه يـوه سـر کـوي، هغـه سـړي بـې څه نـه وي او د دغـسـې سـړيو پيـدا کـول څه اسـانه کـار نـه دى. مونـږ بـايد دخپلـو عرفـاني او روحـاني رجـالو څېړنـه او پلټنـه يـوازې ددې لپـاره ونـه کـړو چـه دوى بـه د شـپې څو رکعتـه نفـل کـول او څومره اوراد او وظـايف ئـې لـرل، بلکـه د دوى هغـه اجتمـاعي خدمتونـه چـه د خلکـو دتربيـت او پوهولـو پـه لاره کـښې ئـې کـړي دي څرګنـد کـړو او د دوى د فـوق العـادګۍ سـر اوراز ولټوو او دا څانتـه معلومـه کـړو چـه زمونـږ د خلکـو روحيـات څنـګه دي؟ څنـګه خلـك پـه دوى بـاندې تسـلط او نفـوذ پيـدا کولـى شـي او د تبليـغ لـه لارې څنګه خلـك څه راز خدمـت کولـى شـي؟ زه د بـاغلي سيال صـاحب دغـه پلټنـه او د چکنـور پـه مـلا صـاحب بـاندې څه ليکـل د قـدر وړ کـار ګنم او نمانځنـه ئـې کـوم. سـيالان بـايد همدغسـې وکـړي، سـيالي پـه همدغسـې کـارونو کـښې ښـه ده.[1]

د جدي ۲۹مه.۱۳۴۵

---

[1] پر ذکر شوي کتاب تقريظ .د کتاب د ۱۳۷۷ هـ ش دوهم چاپ څخه ،۵/۱ مخونه.

# سید غلام حیدر (رحمة الله)

چا چه مرحوم غلام حیدر بو ځلی لیدلی دا به بیشکه ومني چه د خلقت لورینه پر ده باندې ډیره زیاته وه او بل کور سړی و.

د ده وجود داسې نمود درلود چه هر چا به ئې په لیدو (فتبارك الله احسن الخالقین) ویلې.

هغه وجاهت چه په ډیرو ګڼو خلکو کښې د هر چا نظر ځانته جلبوي د ده ممتازه برخه وه.

زه نادیده سړی نه یم مګر دا په رښتیا وایم چه تراوسه مې د ده ساری نه دی لیدلی.

دی د معیشت په لحاظ ازاد مشربه، قلندر صفته سړی و چه هر څه به لاس ته ورتله په لاس کښې به ئې نه ټینګیده او د سبا ورځې غم به ورسره نه و.

قرار درکف ازادګان نګیرد مال ـ په ده باندې ډیر ښه صدق کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پخلي به اکثر د کور نه د باندې و او د میلې پنه به نې دړلوده، مګر کله کله به سره ساوه او هیڅ به نه و

کور نې د لغمان په چارباغ کښې د سپند په هسکه غاړه و، چه بمونه او دیوالونه نې د ختو وو مګر چته محقر نه معلومیده او د سر معتبر خلک به هم ور روان و

زینة المکان بالمکین. د همدغه ځای وصف الحال و ځکه چه د دې کور اکثر غړي د حسن و جمال استازي وو. دی په اماني دوره کښې د کابل له منورینو سره اشنا او په دونتي چارو کښې شامل و.

کله چې اعلیحضرت امان الله خان د عمومي اغتشاش په وجه له مینځه لاړ او پخواني ننګرهار د لغمان او کونړ په شمول د کورنیو جګړو صحنه شوه، سیدغلام حیدر د اولس ځیني مشران په یوه عهد او پیمان متفق کړه چه د یوې مقاولې په امضاء کولو په ۱۳۰۸هـ ش کښې چه د تجدد او تنور اکثر منسوبین د خان په پتیولو او د خپل پله په ورکولو مجبور و، دغه کار خرق العاده کار و.

که څوك کله د افغنستان سیاسي تاریخ لیکي او د مشروطیت او جمهوریت مستقیمي او غیر مستقیمي مبارزې یادوي باور لرم، چه سید غلام حیدر به هیڅکله هیر نکړي او دغه د کالو سیاسي بندي او له محبس نه مدفن ته تلونکی ملي مجاهد به د لوی حق خاوند وګڼي [۱]

د سنبلې ۱۸ _ ۱۳۵۲

[۱] د استاد الفت د خپل لیك فوتوکاپي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اژدهای خودی

د تورو تيارو په ځمځو او غارونو کښې لاس تپول او تپرېدل، په مجهولاتو پسې هڅه کول. هيڅ نه ليدل او له نا اشنا غير مرئي محيط او ماحول سره تماس او تعلق پيدا کول. هغه کار دی چه معرفت غوښتونکي ئې په ظلمت باندې د غلبې د پاره کوي (يخرجونهم من الظلمات الی النور).

نوي عرفاني کشفيات او له تورتم نه رڼا ته څه راويستل، داسې شغل دی چه د معنا طالبان ورپسې شپې سبا کوي او د ظواهرو له سطحې نه ورپسې د اسرارو او خفاياو تل ته ننکته کېږي چه هلته بينا او رندې سترګې يو حکم لري. بلکه ليدونکې سترګې د تورتم احساس لا ډير کوي.

هغه څه چه له دغسې تماس ځخه، په انساني شعور کښې منعکس کيږي، د دې خلکو الفاظ او کلمات يې نه شي افاده کولی او د تعبير له حدودو څخه لېرې وي، ځکه ئې ترجماني په اشارو او کنايو، په استعارو او رمز وايما کېږي، يعنې شاعرانه ژبه او فلسفي فکر غواړي چه د ابهام تفسير په ايهام ورته ويلی شوو. مجاز او حقيقت په همدغسې ځايونو کښې خپل ځان يو په بل کښې ورکوي او شعر و فلسفه خپل کور يو کوي. د شعور له رڼا نه د تحت الشعور تورتم نه ننوتل ډير مشکل سفر دی او د "سراعظم" کشف د هر چا کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي سيد بهاءالدين دغه ابتکاري غامض اثر "اژدهای خودی" د شعور او تحت الشعور په قلمرو کښې ډېره ښه سفرنامه ده. زه نه شم ويلی چه زه به څنګه او څومره پرې پوه شوی يم. مګر دا په يقين ويلی شم چه په خوند يې پوهېدلی يم.

په دې اثر کښې نفسياتي ښامار له افسانوي ښامار او سياسي ښامار سره تلميحي ارتباط لري چه ضمني مطالب يې له اصلي مطلب څخه لږ ارزښت نه لري.

که څوک غواړي په ځان او جهان کښې د اژدها د مرګ په راز او رمز پوه شي او د سيه پوش قهرمان په ضد د سبزپوش رب النوع پرستش ته مخه کړي دا اثر دې په غور او دقت مطالعه کړي.

ښايي چه په دغه وسيله، لکه د نيمې شپې لاروی "رهګذر نيمه شب" د لاشعورئ د مغارې تل ته پرېوزي او بيا له ځان سره د عشق ډېر مهم پيغام خپل کور و کلي ته راوړي او خلک ورته ليونی ووايي. داسې ليونی چه د سراعظم د ښکارولو جرءت او شهامت ورسره وي او په ډاګه ووايي:

ستاسو قهرمان بادار اژدها دی چه په ټول جهان نه مرېږي او په دريابونو نې تنده نه ماتيږي. که غواړئ دغه ښامار مړ کړئ نو اول په خپل ځان کښې د ښامار وژلو هڅه وکړئ او هغه اشوب طلبه ازادګان چه د تحت الشعور په مغارو کښې په زنځيرونو تړلي پراته دي خوشې کړئ.

په عقل نه شي لوی کارونه په جذباتو کيږي
بدنظامونه د جنون او عشق طوفان ماتوي
د افلاطون په حکمت نه کيږي د حق پالنه
لښکر د ظلم و معصيت ابن عمران ماتوي[1]

---

[1] پر ذکر شوي کتاب تقريظ د هغه په سر کښې، انجمن تاريخ و ادب افغانستان اکادمی، کابل، ۱۳۵۲ هـ ش، ۱۸-۱۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شریعت یا رهبر سعادت

بنی ادم علاوه ازینکه مثل سایر حیوانات. بواسطهء حواس. بعضی چیزها را مرغوب و برخی را منفور دانسته. خوب و بد را امتیاز میدهد. بذریعه یک رهبر دیگر که شریعت نامیده شده این معرفت را خوبتر حاصل کرده. در مقام امتیاز به اریکهء برتری نشسته. زیرا سایر حیوانات تنها اضرار و منافع ظاهر و نمایان را درک نموده اتش را سوزان و اب را دافع تشنگی شناخته از یکی خود داری و بادیگری لب بلب شده صفحهء دل را ابیاری مینماید. و چیزیکه دست حواس از دامن معرفت ان کوتا هست ماهیت انرا هیچ یک از طوایف حیوانات بجز نوع شریف انسان کشف نکرده. بل مضر را مفید دانسته. مانند مگس و مورچه بذایقهء شیر و شربت شیرین خود را در گرداب تهلکه می اندازند. و یا مثل طیور حبوبات را در زمین سرسبز معاینه نموده از دام و قفس غافل و از کار دیکه لب ابدار خود را جهت گردن وی باز کرده جاهل. و از فضای عالی و هوای مامون نزول نموده تسلیم دست صیاد اجل و نشانهء گلولهء اتشین هلاک می شوند. اگر چه این چنین شکارگاه و میدان تهلکه هر روز از دست مشاطهء حرص و هوس بسهر هلاک حضرت انسان چون باغ و بستان تزئین یافته. تاسیس میشود. انسان هم به فحوای "عسی ان تحبو اشیا و هو شرلکم" نزدیک میباشد که به حس ظاهر و جمال کاذب بازی خورده. در اثر شهوات فسده و میل مفرطه بحقوق و نوامیس دیگران تعرض و تقرب نموده خود را مورد قصاص و محل انتقام گرداند. اما درس قناعت و اوضاع استغنا را از جملهء ایهء مبارکه "ولا تمدن عینیک"

(c) ketabton.com: The Digital Library

درفته خواهشات و مشتهیات خود را که منجربه ضرر مادی و معنوی بسد برادر همنوع اوست جلوگیری نموده. بدون اجازه شریعت غرا گاهی میل و اراده اش را پیروی نمیکنند. بل هر وقت مصلحت عمومی و منافع اجتماعی را در نظر داشته سعادت و رفاه خویش را مربوط و متعلق بر فاهیت عامه میداند. پس همین شریعت است که ارتباط بشری و انتظام نوع انسانی را محافظه و نگرانی کرده روح اتفاق و اتحاد را در نفوس عداوت شعاران دمیده. عداوت را به اخوت. نفاق را به وفاق. شقاوت را به سعادت مبدل میسازد. و در مقابل شمشیر خود خواهی و خودپسندی. روابط دوستی و پیوستگی را قطع میکند. سپرداری مینماید.

شریعت است که از یک طرف انسانرا به سعی و عمل مکلف گردانیده. به مودای "و ان لیس للانسان الا ماسعی" تنبلان و بیکاران را از جمیع فضایل معنوی و منافع مادی و لوازم حیاتی محروم نشانداده و از دیگر طرف قرار فرموده: "ان احسنتم احسنتم لانفسکم و ان اساتم فلها" فعل و عمل را به خوب و بد تقسیم نموده از بدی ممانعت و بخوبی اقدامش را بسرعت خواهانست.

پس ارباب بصیرت و اصحاب عقل سلیم. اشد احتیاج خودرا بدین قانون متین اسمانی دیده. طوعا و رغبتا این کافل سعادت بشری و منتظم جمعیت انسانی و رهبر راه ترقی را بحکمرانی و حاکمیت خود قبول نمودند و حسب امر او در امور معاشی و معادی کوشیده قوای خود را کاملا در مواقعیکه شرعا محمود و مستحسن بوده صرف مینمایند. فرس شهوات را در میدان مشروعات و مباحات تا حدی که برای جولان او مقرر شده سرداده بعد از ان که مزرع حقوق دیگر ها پامال میشود لگام اراده اش را گردانیده مراجعت مینمایند. پس استعمال این قوه را که از

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراط و تفریط خارج و بحد اعتدال تقرر گیرد عفت و یکی از محامد شرعی گفته میشود.

هکذا قوهٔ غضبی را در جلب حقوق و دفع اضرار خرج کرده و در مواضعیکه متعدی محسوب میشوند، اب سرد حلم و تحمل را نوشیده نایرهٔ غضب را منطفی و خاموش میسازند. تا صفت مستحسن شجاعت را برناصیه خود مرتسم گردانند.

قوهٔ فکری را نیز نه عاطل گزاشته که جاهل بمانند و نه در چیزی صرف کرده که علم ان بذات اقدس الهی مختص است. تا موجب ضلال و گمراهی گردد، بل در جستجوی اسباب برتری خویش و بهبود جامعه از وی کار گرفته و در علومیکه باعث منافع دینی و دنیوی بوده از وی استفاده مینمایند. تا فضیلت علم و حکمت را در سوانح عمری خود درج نمایند.

شریعت در هر امر کمال تحقیق را نشانداده. از افراط و تفریط ممانعت و طرف اعتدال را ارشاد و هدایت فرموده پس این شریعت حقه که در ترقی و ترفیع نوع انسانی از مثل و نظیر عالی تر و شمار جمیع محاسن او یکایک از وسع قلم ناتوان و فکر خام من بلند تر است. کسیکه قدری بنظر غور و تحقیق سوی او نگریسته سر اطاعت و انقیاد را به استان عالی او نهاده و خواهد گفت:

که بی حکم شرع اب خوردن خطا است
و گر خون به فتوی بریزی رواست[1]

---

[1] الفلاح. جمعیت العلمای افغانستان. وزارت عدلیه. کابل. شمارهٔ هفتم. سال هفتم. دوم رجب ۱۳۵۵، ۲۷ سنبله ۱۳۱۵، ص ۵۵-۵۹. با امتنان از جناب قاری مولوی محمد یاسین از قلعهٔ میران قاسم یکه
این مقاله با انکه از نخستین نگارشات جوانی است که تازه در ادارهٔ جریدهٔ انیس شامل خدمت فرهنگی گردیده نمایانگر تتبع، منطق، استدلال و دقت نظر و پختگی فکر نویسندهٔ ان میباشد (مدون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افکارو تعمیم او تکامل

## لومړی فکـر:

پروسږ کـال د عقرب پنځلســمه شـپه وه چـه پـه روداتـو کـښي مېلمانــه وو ، او ســاز غــږېده. يـو ســاعت وروســته دښاغلـي پــاچـا ګل نيـازي دا غـزل شـروع شـو:

عالم مې مجنون بولـي څوك مې خوا ته نه پرېږدي

د دې خـواږه غـزل دې بيــت:

صياد په بې رحمئ کړه رانه دواړه وزر غوڅ

ظالـم مې هم وهي هم مې ژړا ته نه پرېږدي

پـه مـا زښت ډېـر اثـر وکـړ. ځکـه چـه زه د اتحـاد مشـرقي د عقـرب د پنځمې پـه ۳۱ مـه ګڼه کـښې د "ديـني تبليـغ" پـه شعر کـښي دې بيتونـو:

مـال کـښې د مـيراث د خوينـدو برخـې چـا ليدلــي دي؟

ميـل د خـور و لــور تــه پـه واده کـښې چـا کتلـي دي؟

مونـږ تـه چـا د کونـډو پــه بـاب کلــه څه ويلــي دي؟

دا رنــګ مســئلې مونــږ ډېرې لــږې اوريدلـــې دي

ډېـر چــه پــه وعظونــو کــښې يادېـږي ســخاوت دی

يـا پـه ډېـر اخـلاص د کـوم صاحب مـخ کـښې خدمـت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځو بد احوال او مظلومیت ته ملتفت کړی وم. زه په وه شوم چې د نیازي دا مصرع

ظالم مې هم وهي هم مې ژړا ته نه پرېږدي

د یوې مېرمنې د زخمي زړه ترجمانی کوي چه د وهلو په وخت کښې عاجزه ژړلی هم نه شي.

د نیازي دغه غزل د ننګرهار په حجرو کښې ډېره موده په کراتو مراتو لوستل شوی و. مګر څوك ورته نه ملتفت کېدل او په دغه شپه یې د اخبار یو لیکونکی له حده زیت خپل تاثیر لاندې راوست او د اتحاد مشرقي د ۱۳۲۵ په ۳۵ مه ګڼه کښې نشر شو. دا شماره چه راووتله په ډېرو کسانو یې اثر وکړ او څو ورځې وروسته د مېرمن غوټۍ په نامه یو بل خوږ غزل اداري ته د نشر د پاره راورسېد چه هغه دا دی

بادونه د خزان غوټۍ خندا ته نه پرېږدي
ظالم صیاد بلبله د ګل خوا ته نه پرېږدي
اختیار مې د خان نشته دی د جبر په مذهب یم
دادا مې خپلې خوښې او رضا ته نه پرېږدي
هېڅ نه شمه ویلی چه په کوم کور کښې به سوزم
زما د زړه لالیه! څوك مې تاته نه پرېږدي
پر چا وکړم عرضونه چې ته وکړمه ژړا زه
دا بد رسم و رواج مې حق وینا ته نه پرېږدي
وهل که تکول وي چاته هېڅ نه شم ویلی
"ظالم مې هم وهي هم مې ژړا ته نه پرېږدي"
د جهل په تیاره کښې به اوسېږمه تر کله؟
ما څوك د علم و فن پوهې رڼا ته نه پرېږدي
له مننه تربیت د پوه اولاد غوښتل خطا دی
تعلیم ته مې چه څوك د مکتب خوا ته نه پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا شعر چه د اتحاد مشرقي په ۳۹ مه ګڼه کښې نشر شو، ډېر اشخاص يې متحسس کړه او ډېر ښه استقبال يې وشو. د کابل په ادبي مجله کښې هم د اقتباس په ډول بيا نشر شو او په تعقيب کښې يې د ميرمن ليلى په نامه يو ډېر موثر مکتوب له يوه شعره سره راورسيد چه د اتحادمشرقي په ۴۵ مه ګڼه کښې نشر شو او له ميرمن غوټۍ سره يې پوره همږهنګي ښکاره کړې وه. څو ورځې وروسته بيا ددغه شعر اقتفا د ميرمن بي بي جاني له خوا وشوه (چه د دغې ميرمنې ډېر شعرونه د کابل په مجله کښې د ميرمن حميدې په نامه، چه بي بي جان يې لقب دی، نشر شوه) د ميرمن بي بي جاني له درد و سوزه ډک شعر، هم د اتحادمشرقي په ۵۰ مه ګڼه کښې نشر شو او هم د کابل په مجله کښې څه موده وروسته بيا چاپ شو.

په دغه موده کښې چه دغه د ميرمنو شکوې او ګيلې نشرېدلې، د "پښتون" په مجله کښې هم د ميرمن الف جاني يو پوخ او قوي معنى دار شعر وليدل شو چه د ښځو په احوال يې د احساس او شعور خاوندان ژړول او د نارينه و سلوک يې له دوی سره ډېر ظالمانه او بيرحمانه ښوده. په دې شعر کښې د ښځو ډېرې بدبختۍ تصوير شوې وې او ډېر زيات شکايتونه پکښې وو. دا شعر پروسږ کال د اتحادمشرقي په ۴۱ مه ګڼه کښې پس له څه اختصاره نشر شو او سږ کال د کابل په مجله کښې ټول نشر شو.

په دې کال ۱۳۲۶ کښې د "اصلاح" په مهمه روزنامه کښې د ښاغلي حساس او دردمند پښتون غلام حسن خان صافي له قلمه، د ښځو په باب کښې يوه داسې موثره مقاله نشر شوه چه ډېر ليکونکي يې جلب کړه او څو تنو پوهانو دغه موضوع په مختلفو جرايدو کښې تعقيب کړه چه بايد ښاغلي صافي ته د ده د مقالې په دغومره اثر تبريک وويلى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل په ادبي مجلـه کښې هم سرکال په ډېره اعتناد ښځو موضوع د اقتراح په ډول نشر شوه او د پښتو لـه مـهمو ليکونکو څخه خواهش وشو چه په دې باب کښې څه وليکي. نو د کابل مجلې دغې اقتراح چه ډير اهميت يې درلود او پښتانه ليکوال طبعاً له پښتو تولنې او د کابل مجلې سره مخصوصه علاقه لري د وطن په لېرې او نږدې ځايو، لکه کابل، قندهار او مشرقي کښې ليکوال راجلب کړه او ګټورې مقالې پکښې وليکل شوې.

دا موهنسدع چه ځو تنو په اتفاق تعقيب کړه او د مملکت ليکونکو پکښې تبليغي کوښښ وکړ په محيط کښې يې هم تاثيرات وليدل شوه او په محافلو کښې يې ذکرونه وشوو.

د ښځو د نکاح په باب کښې چه بايد له شرعي اصولو سره په موافق ډول وي او له بدو رواجونو نه پکښې کار وانه خستل شي، د جلال آباد د مرافعې قاضي مولوی محمد شريف خان، چه يو منور او حقاني عالم دی، هم وخت په وخت ښه ښه تبليغونه، په مختلفو ځايونو کښې کړي دي او خپله غاړه يې خلاصه کړې ده. يوه ورځ د لغمان په چهارباغ کښې، دوی په دې باب کښې، ډېر ښه امر معروف وکړ او حاضرين يې دې خوا ته ملتفت کړه. په دغه ورځ ده ته چا د يو ملك د لور د واده قصه کړې وه چه د شريني خوړئ په مجلس کښې يې علاوه په نقلونو دوه درې زره روپۍ هم په خلقو ويشلې وې او يو نوی بد رواج يې هم زيات کړ. دا حکايت يې د منبر په سر بيان کړ او په ديني او شرعي لحاظ يې هغه سری ډير ګرم او ملامت وباله. د هغه نوم که څه هم وانه خستل شو، مګر خلقو ته يې قصه معلومه وه او ورته ملتفت شوه. ځکه هغه له خجالته سرنه شو جګولی او په خپل عمل پښيمان معلوميده.

دغه مجادله چه د ازدواج له بدو رسومو سره د ځو تنو پوهانو له خوا وشوه، د لغمان په عمرزيو کښې دوه درې تنو خپلې لورګانې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرعي ډول بې د رواجونو له مراعاتـه ورکـړي او عملي اثـر يې پـه خپنو خاو کښې وليـدل شو.

سږکال هـم پـه اتحاد مشرقي کښې د جبري نکـاح ګانـو، د ولـور او خوړې پـه نسبت متعـددې مقالې نشر شوې او تراوسه پسې نشريږي چه پـه دې قسمت کښې زمونـږ د محترم او ښاغلي ملـګري قيام الدين خان خادم مرستـه او د ښاغلي محمد طاهر خـان، ګلشـاه خان، ميراجان خان او نورو مقالې د يادولو او تشـکر حق لري.

## دوهم فکر:

پروسږ کال چه د جلال آباد پـه باغ شاهي کښې مطبوعـاتي کنفرانس د (اجتمـاعي حس) لـه عنوان لاندې، د جـدي پـه مياشت کښې ايراد شو او مجلس خاتمـه ومونـده، وروستـه تـر هغـه، څو تنو پوهـانو چـه د اجتمـاعي درد او وطنـي احسـاس خـاوندان وو. د اجتمـاعي شعور او احساس پـه بـاب کښې بحث کـاوه چـه دا حس بـه څنګه پـه خلقو کښې پيدا شي او دا د چا کـار دی؟ پـه دغـه وخت کښې چـه پـه اجتمـاعي حيـات بحث کيـده او خپلې بدبختـۍ مـو شميرلې، يوه بـه ويلې زمونـږ د بدبختيـو اساسـي او اصلـي علـت ناپوهي او بې علمي ده، بـل بـه ويـل پـه مونـږ کښې د ملـي او وطنـي درد خاوندان نشته. چا بـه ويل مونږ لـه انفراديت او شخصي اغراضو نه، نه يو راوتلي او اجتمـاعي شعور او احسـاس مو نـه دی پيدا کـړی. پـه آخره کښې وويـل شوه چـه مونـږ پـه اکثرو مجالسـو کښې ډير خلق وينو چـه دغـه راز اعتراضونـه کوي او خپـل تـاثر ښکـاره کـوي، مـګر د عمـل خـاوندان بيخـي نشتـه او هيـڅوك دا نـه وايـي چـه زه د خپـل مملکت او ملت پـه مقـابل کښې څه مسئوليت لـرم او څه بـايد وکـړم؟

زمونږ مامورين هـر يـو وايي چـه وظيفـه شنـاس او صحيح اشـخاص لـږ دي. پـه مـامورينو کښې دا حس نـه دی پيـدا شـوی چـه د وطـن او مملکـت د پـاره صحيـح کـار وکـړي او لـه خپلـو نفسـي يـا شـخصي اغراضو نـه تير شي. مـګر هيـڅوك دا نـه وايـي چـه زه خـو هـم يـو مـامور

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم، باید اول خپل ځان اصلاح کړم او څه چه وایم هغسې وکړم او کوښښ وکړم چه مسلکي ملګري پیدا کړم او له صحیحو اشخاصو سره ملګری شم. ځوك چه د مملکت د پاره صحیح خدمت کوي هغه سره مینه ولرم او ښه یې ووایم، که ځوك خیانت کوي او ښه نه چلیږي په هغه انتقاد وکړم او له ادبي جرئت نه کار واخلم.

دا خبرې په هغه وخت کښې، د دې لامله چه اجتماعي درد ورسره و، ښې لګېدې او وویل شوه چه دغسې اشخاص به نو ځوك وي؟ او دا امید باید له څنګه اشخاصو وشي؟ ما وویل: دا د ویښو زلمو کار دی او هغه ځوك دا راز کارونه کولی شي چه له نوې دنیا نه باخبره وي او په دې پوهیږي چه دنیا کومې خوا ته روانه ده.؟ او صحیح پیشرفت یا اجتماعي ارتقا په څه ډول کیږي؟ یعنې هغه کسان چه نوي او تازه افکار لري، د نوي عصر او جدید حیات له مقتضیاتو خبر وي او علاوه په دې د قوم او ملت درد او غم د غفلت له خوبه راویښ کړی وی، هغه کولی شي چه د قوم او ملت، د وطن او مملکت په خدمت کښې صادق او فداکار وي او یوازې د خپل شخصي مفاد د پاره کار ونه کړي، بلکه ملي او اجتماعي منظور ولري او د جامعې ګټه په نظر کښې ونیسي.

دا خبرې تمامې شوې او څو ورځې پس د اتحاد مشرقي د ۱۳۲۵ د دلو په ۴۶ مه ګڼه کښې د ویښ زلمیانو له عنوان لاندې، د مشاعرې په سلسله کښې، د ښاغلي محمد طاهر خان صافي یو شعر نشر شو. چه لومړی بیت یې دا دی.

د جامعې د خیر د پاره ویښ زلمیان غواړو مونږ
چه د پتنګ په څیر ځان سوزي عاشقان غواړو مونږ

وروسته تر دې په بله ګڼه (۴۷) کښې بیا له همدغه عنوان لاندې یو شعر نشر شو چه دوه بیته یې دا دي:

ویښ هغه چه د قام غم یې ناقرار کړي
نه چه خوب نه یې د چرګ ناري بیدار کړي

د وطن او ملت درد يې چه راويښ کا
داسې ويښ زلميان به ملك ګل و ګلزار کړي

دا شعرونه نشر شوه او څو ورځې پس ته، په : ۵۰ مه) ګڼه کښې د ښاغلي خادم له قلمه، يوه لنډه معناداره او حذابه مقاله نشر شوه چه (ويښ زلميان) يې عنوان و او د حساسو او باشعوره زلميانو وظيفه يې څه نه څه ښودلې وه.

دا عادت دی چه افکار او خيالات هم سير او انتقال، نشو او ارتقا. تحول او تکامل لري. د علم او ادب په دنيا کښې شايد داسې فکر يا داسې خيال پيدا نه شي چه په ډيرو دماغونو کښې ګرځېدلی نه وي او سل رنګه تغير و تحول يې نه وي ليدلی او دغه شان د حساسو او ويښو زلمو فکر په اتحاد مشرقي کښې، کله په شعر او کله په نثر کښې د يو او بل له خوا څرګند شو او دا خبره ميدان ته راووتله چه بايد با درده او حساس زلميان خپلو وظايفو ته ملتفت شي او کوم انتظار چه دوی ته کيږي په دوی دا لازموي چه د مملکت په خدمت کښې پوره برخه واخلي.

سږکال په دې نږدې وختو کې، د (اصلاح) پر نومورې روزنامه کښې د ښاغلي غلام حسن خان صافي له قلمه د (جوانان ما) له عنوان لاندې يوه مقاله نشر شوه چه ډير ليکونکی يې د دې موضوع اهميت ته ملتفت کړه او ډيرې مقالې يې په ځان پسې نشر کړې او علاوه د اصلاح په روزنامه د (انيس) په خوږه روزنامه او د (کابل) په مجله کښې د ځوانانو په نسبت ډير څه وليکل شوه او متعددو مهمو نويسندګانو دا موضوع له حده زياته وڅيړله او ښاغلی خادم او ښاغلی رښتيا پکښې ډير څه ليکلي دي. له دې دومره ليکلو او عمومي التفات څخه دا رامعلومه شوه چه په دومره اقوالو او وينا ګانويسې اروموږ عمل هم وي او په دغه اندازه تلقين هېڅکله بې اثره نه وي. سړی بايد خوشبين وي چه زمونږ حساس او ويښ زلميان به که حدای کول. خپل وظايف په ډير ښه شان سرته ورسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا مملکت به پاك خدای زمونږ د ګران او محبوب زلمي اعلیحضرت په قیادت او رهنمایی او امامت د حساسو او با دردو زلمیانو په کوششونو او فعالیت د عروج او ترقی لوړ معیار ته ورسوي، ځکه چه دغه راز عمومي فکرونه او هغه آرزوګانې چه دغومره عمومیت پیدا کړي، هېڅکله بې نتیجې نه وي او ارومرو اثر او عمل پرې مرتبېږي او سمدلاسه یې یو قابل امید او قابل اعتنا اثر د معارف د لوړ وزارت دغه د نږدې ورځو مهم اقدام دی چه د زلمیانو د ملي تربیې د کنفرانسو افتتاح ده او همدغه افتتاح یوه ښه نتیجه بللی شوو.

ځنګه چه د اوبو له څاڅکو نه، لوی لوی سیندونه پیدا کېږي، دغسې د افکارو او نظریاتو له اتفاق، تزئید او تعمیم څخه هم مهم کارونه پیدا کېږي او کېدای شي چه له یوه زړي نه غټې ونې او سمسور باغونه جوړ شي.[1]

---

[1] اتحادمشرقي، جریده. ۲۹ م کال، ۳۶مه ګڼه. د ۱۳۲۶ د قوس اتمه. د ۱۹۴۷ د دسمبر اوله او وریسې ګڼه. ۳۷ مه ګڼه. د قوس ۱۵ مه د دسمبر اتم

# ویښ زلمی څوک دی؟

خوبونه یو راز نه دي او بیداري هم څانته اقسام لري.

له یوه خوبه سړی د چرګ په نارو، د ملا په آذان یا د لمر په ختو راویښیږي. مګر ځینې خوبونه اسرافیلي شپېلۍ غواړي. د یر ځله زلزله وشي، زمکه وخوځیږي، کوټې ونړیږي. مګر ځینې کسان هماغسې ویده پاته شي او خبر هم نه وي چه دنیا څو بغرۍ ده.

په دنیا کښې عجیب و غریب خوبونه شته او ډیر رنګونه لري. ځینې کسان په خوب کښې خبرې کوي او څه وایې، ځینې نور لا داسې هم وي چه په خوب کښې له ځایه پاڅیږي او د یوه بل شان شعور په مرسته ځي. او به څکي، بیرته راځي، په خپل ځای پریوزي، مګر ویده وي. نو مطلق کار کول یا محض خبرې کول د شعور علامه نه ده.

دغه خلق چه د ورځې په بازارو کښې ګرځي او یا په ادارو او کورونو کښې کارونه کوي، ټول ویښ نه دي. دوی له پرستنو او بسترو راپاځیدلي وي. مګر ویښ شوي به نه وي.

د غفلت له خوبه پاڅیدل بل شان وي. د شعور او احساس ویښوالی دغه نه دی او د فکر بیداري بل راز ده. انسان یو قسم خوب لري چه د طفولیت له وخته د رشد او بلوغ، یعنې زلمیتوب تر وخته وي او ډیر زلمیان لا په دغه وخت کښې هم نه ویښیږي. یو بل خوب دی چه هغه بې علم او پوهې نه لیرې کیږي او ډیر کسان لا په خوب کښې ملایان شوي وي او ډیره موده وروسته ویوهیږي چه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویده وو. په حسنو کتابو کښې شته چه عالم ټول ویده دی او پس له مرګه ویښیږي.

مونږ باید ویښ ټوله چاته ونه وایو چه څوک یې په لاس کښې ده او له خانه مچان شړي، ځکه چه داسی ویده هم کوي او په خپله پوزه مچان نه پریږدي.

ویده ټول هماغه څوک نه دی چه د خپل بچي ژړا نه اوري او نه یې قلاروي، بلکه هغه اشخاص هم ویده بویه چه د مظلومانو او بیوزلو ژړا او فریادونه نه شي اوریدلی او نه متاثر کیږي. کوم خلق چه سترګې غړوي، مګر غیر له ځانه او بې له خپل مفاده نور څه نه شي لیدلی، غوږونه لري خو بې له خپل شخصي او نفسي اغراضو نورې خبرې نه اوري، په ګوګل کښې یې زړه وي، مګر په زړه کښې یې عالي شعور او عالي احساس نه وي، نو که دوی ته مړه نه شوو ویلی او څوک یې فاتحه نه اخلي، په خوب کښې یې خو هیڅ شك او شبهه نشته.

موږ ویښ هغه ته وایو چه د قام غم او د وطن درد له خوبه پاڅولی وي. د قام غم او د وطن درد ځکه وایو چه د غابښ یا غوږ درد مو مطلب نه دی او دردشکم هم مراد نه دی.

وبښ هغه چه د قام غم یې ناقرار کړي
نه چه خوب نه یې د چرګ ناري بیدار کړي

***

دغسې چه د ویښ له تکي نه مونږ یوه خاصه معنا اخلو. زلمی هم هر ځوان ته نه وایو. دلته خوشبختانه د پښتو ژبې لغوي استعداد هم د ځوان او زلمي فرق کړی دی چه (زلمی) د ذوی العقولو. یعني انسانانو د پاره استعمالیږي او (ځوان) او (جوان) نورو حیوانانو ته هم ویل کیږي لکه. ځوان اس. ځوان غویی.

مونږ علاوه په دغه خصوصیت. د (زلمي) په کلمه کښې اصطلاحا په نورو خصوصیاتو هم قایل یو او هر انسان ته هغه څوك چه په بریتو اس وهي زلمی نه بولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــه واړه يې غــولــوي په هغه دغه
که په بريتو لاس وهي هم صغيران دي

زلمـي دا نـه دی چـه د بلـوغ سـن تـه رسـيدلی وي او شـيطان يـې وغولـوي. بلکـه زلمـي هغـه دی چـه پـه نفـس و شـيطان، دواړو بـاندې غـالب وي او د هلکتـوب لـه خويونـو او خواهشـاتو تـېر شـوی وي.

مونـږ لـه زلمـو نـه د نـوي نـهضت، نـوي تـهذيب او تمـدن اسـتقبال غـواړو او انتظـار لـرو چـه دوی د جديـد عصـر فضـايل، علـم او مدنيـت دلتـه راولـي او پـه ترويـج کښـې يـې کـوښښ وکـړي نـه دا چـه تـش پـه نـوي فيشـن، نـوي مـود پسـې وګرځي او يـوازې څه عصـري اداب يـا کلمـات يـې زده کـړي وي، يـا د جديـد عصـر نـه غلـط تعليـم واخلـي او د حريـت او ازادئ ګومـان پـه بـې قيـدئ او بـې مبـالاتئ وکـړي.

مونـږ د زلميـانو پـه مغـزو کښـې نـوي افکـار، تـازه نظريـات، د نـوو علومـو رڼا، د نـوي عصـر معـاني او د جديـد قـرن عشـق لـټوو. د جديـد قـرن عشـق، يعنـې د وطـن مينـه او ملـي محبـت، مګـر تـش پـه خولـه نـه، بلکـه هغـه مينـه او محبـت چـه پـه کـار او عمـل کـښې ظـاهرېږي. دا عشـق هـم لـه يـو زلمـي نـه فرهـاد جوړولـی شـي او د دنيـا پـر متمدنـو اقوامـو کـښې يـې ډيـر غرونـه سـوري کـړي دي او د ايثـار و قربـانئ فـوق العـاده عقيـدوي قـوت يـې زلميـانو تـه ورکـړي دي.

زلمي بايد صحيح عقيده، صحيح فکر، صحيح عمل او مقدسه غايه ولري.

هـو! هغـه ځوان چـه پـه يـوه لـوړه او صحيـح مبـدا عقيـده نـه لـري، کومـه عـالي غايـه او لـوړه ارزو ورسـره نـه وي، د فکـر او عمـل صـاحب نـه وي، هغـه کـه پـه غـاښو هـر څومـره ځوان وي او لـه هـرې کورنـۍ څخـه وي، مونـږ ورتـه ويښ زلمـی لاڅه چه زلمـي هـم نـه وايـو.

زلمـي هغـه دی چـه غـير لـه مـېز و چوکـۍ، عيـش و عشـرت، زمکـو او پيسـو، اشـخاصو او رتبـو څخـه نـور څه هـم پېژنـي او معنـوي افتخـاراتو، حـق او حقيقـت، وطـن او ملـت، خـير او سـعادت سـره عشـق او مينـه لـري.[1]

---

[1] ويښ زلميان، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۶ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه وګورئ؟

دغه خړ پړ پښتانه چه په زړو او شلیدلو کالیو کښې ګورئ: که تاسې د دوی ژوند د سر په سترګه ووینئ که ستاسې زړونه له تورو کاڼو نه کلك نه وي ورته به وژاړئ او ډیر به خوابدي شئ. دوی اوس په غرونو او تورو ځمڅو کښې اوسي او په داسې ځایو کښې ژوند کوي چه هلته د لیوانو او پړانګانو کورونه هم وي.

دوی له دغو هسکو غرونو څخه نه راښکته کیږي، ځکه چه له مونږ او تاسې نه ډیر ویریږي او د غرو له لیوانو او پړانګاسو دومره ډار نلري.

تاسې باور وکړئ، چه زه رښتیا وایم. هغومره چه دوی په رڼا ورځ او په ښارونو کښې له مونږ او تاسې څخه ډاریږي، په توره تیاره شپه کښې د غرونو په تالو او خوړونو کښې له پیریانو او ښیشکو او له زمریانو نه په ویره کښې نه دي.

مونږ ولې دغسې توریالي او زړه ور پښتانه دومره بې زړه کړه؟ ولې مو له ځانه وترول؟ ولې دوی ځانته نه رانږدې کوو او د دوی د ښې ورځې او ښه والي د پاره زیار نه کاږو.

تاسو ته به څرګنده وي چه دوی په ډیره بده ورځ اخته دي، دوی زمونږ ورونه دي، دوی زمونږ مت او مرونند دي. مونږ باید دوی دغسې پرې نږدو او په دوی زړه وسیزو. دوی په داسې تورو کوټو کښې له خرو او غویو سره شپې تیروي چه هلته سل رازه خزندې ځای لري او د ځارویو غوجل وي. د دوی کوټې کړکۍ او ورونه نه لري او د لوګي له لاسه یکښې یره هم شپه نشي تیرولی. دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغسو کوتو کښې له کوچنيتوب نه تر زړښته اوسي او مړينه او. ژوند ئې په همدغو کورو کښې وي. د دوی رنځوران بې د غرو له بوټو نور څه نه مومي. مړی ئې په خپلو زړو او خيرنو کالو کښې ښخيږي، ژوندی ئې د اوزو ځرمنې اغوندي، ماشومان ئې په سپيرو خاورو کښې رغړي. ښځې ئې درانه پيټي د غرو له ځنګو څوکو رابنکته کوي، د سرو په اوږو ئې هم درانه پنډونه پراته وي.

دوی ستړي ستومانه وږي او بربنډ دي. دوی په پوزکو او د وژغنو په تغرو پريوزي. د اوبنانو خلان په ځان اچوي او خپل مړوند ئې سر ويږدي دي. د دوی په کورونو کښې دزرنو ډيوې بلېږي او رڼا ئې له تورو لوګو نه ډکه وي.

دوی جواري ترخه کوي او بيا ئې خوري، دا د دې د پاره چه لږ وخوړل شي. د دوی نګولي هغه شنه سابه وي چه څاروو ته ئې ورکوي، دوی نرې ورېجې په اخترونو کښې هم نه مومي او د نرئ په خوړو او څوندونو کښې هيڅ برخه نلري. دوی له دغسې ژوند سره د دې هېواد په ساتلو کښې خپلې وينې توېوي او ځانونه وژني او مونږ لکه د کاله ميرمنې له کورو نشو وتلای او د هيواد په ښه نه راځو.

راځئ چه د پښتنو بده ورځ وژاړو او نور هم له ځانه سره وژړوو. که دا ژړا رښتيا وي او له زړه څخه وي مونږ به يو له بله نږدې کړي او ټول پښتانه به سره يو شي. د هلمند زوږ به د اباسيند غوږ ته ورسيږي څه چه د ايلم غره ليدلي دي، هغه به سپين غره او د کوږك او سليمان غره ته پخپلو ورمو کښې را واستوي. په پښتنو کښې به بيا لر او بر نه وي او تور او سپين ګوندونه به لکه د يوې سترګې کسي هرڅه په يو راز ګوري. اوبه په ډانګ نه سره بيليږي.[1]

[1] د پښتو مناظره. په کابل راډيو کښې د پښتو ټولنې له خپرونو څخه. کابل ۱۳۲۸ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حقایقو اظهار

په هر هیواد کښې، په هر ولس کښې، په هر عصر کښې بعضې اشخاص په کار دي، چه د حقایقو اظهار خپل فرض وبولي او خپل مال، خپل سر، خپل مقام ونه ساتي، حقایق وساتي. ولسونه دغسې رجالو ته له حده زیات محتاج دي او د ظلم، د جبر، د ناروا ملا همدغه کسان ماتوي. که دغسې خلق په یوه محیط کښې نه وي، هلته داسې تیاره او تورتم وي چه د حق او باطلو فرق نه شي کیدلای. خدمت او خیانت، روا او ناروا د خلقو په نظر کښې یو شان جلوه کوي.

هغه اشخاص باید له سرو او سپینو سره وتلل شي، چه د زور و قوت یا د مال و دولت په خاوندانو پسې نه وي روان او په حقیقت پسې درومي. ولسونه د همدغسې خلقو په بدرګه منزل مقصود ته رسیدلای شي او ظلم و استبداد همدغه اشخاص محو کوي. که دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي، عدالت نشته. انصاف نشته، حقيقت نشته او انسانيت هم بل راز شي دی.

هر يو بايد په دې پوه شي چه حق ويل لوی عبادت دی او حق نه پالل لويه ګناه ده. دا ګناه په دنيا کښې هم انسانان په سل رنګه عذابونو ګرفتاره کوي او په ژوندونې بنيادمان په دوزخونو کښې اچوي.

که حق او حقيقت ظاهر نه شي او لکه مستوره ميرمن ستر او حجاب کښې وي، حق ژوندی نه شي پاته کيدلی او حقيقت مري. دا مرګ د ملت او ولس مرګ دی او د عدالت جنازه هم سمه ورسره ووزي.

هغه کسان تاسي وپيژنئ چه د حقايقو اظهار ته په نفرت او عناد ګوري او حق ويونکي خلقو ته بد معرفي کوي. دوی وايي چه دغه اشخاص چه د حق او حقيقت سندرې وايي، د خپل شهرت او د خپل غرض د پاره کار کوي او د بدنيت خاوندان دي. د حق پالونکو په حق کښې دا هم وايي چه دوی په خپلو خبرو د خلقو فکرونه او ذهنونه مشوش کوي او خپل مقاصد لاس ته راولي.

له يوه او بل نه دا هم اورو چه د حقايقو په اظهار کښې د وخت او زمان او د محيط اقتضاءات په نظر کښې نيول واجب او لازم بولي او دا هم وايي، هغه حقايق چه ويل يې زيان او ضرر رسوي او نتايج يې بد دي، بايد ونه ويل شي. دوی ته اول دا وايو، راشئ تاسي بيغرضه او بې مطلبه، په يوه پاك نيت، د شهرت د پاره نه، بلکه د حقيقت د پاره حق ووايئ او د جرءت نه کار واخلئ. بيا يې په دې خبره پوهوو چه د حق او حقيقت شان له دې نه پورته دی چه موقع شناسي وپيژني او د اشخاصو د اقتضاءاتو مشروط قيود ومني.

حقيقي امور بايد اعتباري امورو غوندې ونه بولو او په دې باور ولرو چه د حقايقو د پاره حدود معلوم ول او نه قيد و شرط لاندې يې راوستل له حقايقو سره مجادله او مبارزه ده. حق او حقيقت هر کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هر چیرته. د هر چا له خولې د اوریدلو او منلو شي دي. د حقایقو پیروي، په هر کار کښې، په هر حال کښې، د هر چا د پاره په کار ده.

تر هغه وخته پورې چه یو قوم او ولس په حقیقي لاره روان نه شي او حقیقي اساسونه قبول نه کاندي، توره شپه به یې صباح نه شي او پیشرفت به یې په نصیب نه شي. یو مملکت هله سعادت، قوت او شهامت پیدا کولای شي چه حقایقو ته نږدې شي، په حقایقو پوه شي. په حقیقي اساساتو استناد او اتکا ولري.

حقیقت یو داسې شي نه دی چه سحر یو رنګ او مازیګر بل رنګ وي. د شپې یو شي او سبا بل شانته شي، په یو مجلس کښې مناسب او په بل کښې نامناسب وي، چه یو یې ووایي حقیقت وي او چه بل یې ووایي باطل شي.

هو! حقایق د فیشني خلقو جامو غوندې نه وي چه سحر یو شان، غرمه بل شان، مازیګر بل شان او بیګا ته بل شان وي یا د مجالسو او محافلو په راز راز والي بل راز شي.

یوه سمه او مستقیمه لاره په ژمي او په دوبي، په شپه او په سبا کښې د پلي او د سپاره د پاره سیخه ده او هر یو همغه یوې نقطې ته رسوي.

که چېرې دا ومنو. چه د حقایقو تبلیغ، کله مفید او کله مضر دی، یو وخت یې پیروي فایده لري، بل وخت ضرر، نو د اخلاقو او انساني فضایلو لوی اساس ورانوو او حق او باطل مخلوط کوو. خدای دې نه کا.

---

ولس. جریده. لومړی کال. دوهمه ګڼه. د ۱۳۳۰ د سرطان ۴مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ازادیء گفتار

عنوان بالارا نوشتم ولی پیش از انکه به تمهید و مقدمه بپردازم، یا سر راست به مقصد شروع کنم، دوست محترمی وارد گردید و رشتهء افکار و تصوراتــرا برهم زد. أوسوال نمود: چه مینوشتی؟ گفتم: اراده داشتم، بر عنوان ازادیء گفتار چیزی بنویسم و به نشر و اشاعه بفرستم. گفت: ازادیء گفتار بحد افراط رسید و من از ان رنجش خاطر دارم. خواستم چیزی بگویم، اما فرصت نداد و بگفته های خویش ادامه داده رفت او بسا اوقات از من میپرسد، اما موقع جواب گفتن نمیدهد. خوبست سخنهای او دلتنگی و خلق تنگی پیش نمیکنند و در بیانات او غرابتی موجود است.

من همه حرفهای اورا مثل یک تند نویس قید نکرده ام، ولی جملات برجسته او این است:

در کشور عزیز ما، ازادیء گفتار اوج گرفته و هر که هر چه بخواهد، بدون اندیشه و تفکر گفته میتواند. ازادیء بیان در هیچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یک از ممالک مترقی بدین پایه نیست و هیچ مملکت دیموکرات در ازادی و لاقیدی باماهمسری وبرابری کرده نمیتواند.

از فرموده های اوست. بروید و ببینید! در انجا دیموکراسی برخود میبالد، کسی جرءت انرا ندارد که در حضوربزرگان به تملق و چاپلوسی اغاز نماید و خلاف حقیقت بگوید، ولی درینجا این جسارت موجود است و توان چاپلوسی را متملقین ما نباخته اند و زیان هم از ان ندیده اند.

بد گفتن و دشنام دادن، در هر جا اخلاقا ممنوعست. اما بعضی از امرین محترم چه ناگفتنی هااست که نمیگویند؟ دروغ گفتن را هم اشخاص دیموکرات اجازه نمیدهند، مگر پر گویان ما زیاد میگویند و خجالتی هم مانع نیست. به مسلمان کافر گفتن شرعا ناجایز است، ولی در اینجا بارها گفته اند و خواهند گفت.

هر گاه ما نباشیم کیست که جاهل را ارسطو یا افلاطون، تنبل را فعال، نالایق را لایق گفته بتواند؟ تنها ما هستیم که از فرط و غلیان مبالغه و اغراق، سیاه را سفید جلوه میدهیم و بروز روشن به ماه و پروین اشاره میکنیم. در اینجا اشخاصی شرف وجود دارند که بدون فکر و سنجش هر چه را بر زبان اورده و رانده میتوانند و اندیشه ندارند که به سخافت عقل شان پی خواهند برد و طشت بدنامیء شان از بام خواهد افتاد.

دوست محترم برای اثبات ازادیء گفتار شواهد بسیار اورد و فرمود: اگر تنها درحق گویی و بیان حقایق قصوری داشته باشیم و انرا گفته نتوانیم، بدیموکراسیء ما خللی وارد کرده نمیتواند و این همه ازادی های بیان نباید طرف انکار قرار گیرد.[1]

---

[1] ولس. جریده. سال اول. شماره دوم. ۳ سرطان ۱۳۳۰

این نوشته بنام (ظ) نشر گردید که مخفف (ظریف) یک نام مستعار استاد الفت است

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پــاک کور

هغه ډیر پاك او پاکیزه کوردی.

د سود مرداره ګټه هیڅکله هلته نه ده ننوتلې.

حرام مال او د رشوت پیسې پکښې نشته.

میږو او پسونو هلته بچې نه دي کړي.

خرو او غویو هغه کور نه دی مردار کړی او د چرګانو په ګنګیو نه دی ناولی شوی.

هغه په خپل کور کښې پیسې نه ساتي، د لیوه یا ګیدړ وېرد ورسره نشته، غوا او خوسی نه لري چه تبك ئې ونیسي یا ټکو ورته راشي.

چرګان نشته چه توغکی ئې یوسي.

په هغه کور غدی نه لویږي.

چیرته چه د دنیا خیري او لړپه نه وي مردار خواره نه ورځي.

خـن او ملك هلته نه میلمه کیږي او تکلیفي میلمانه پسته نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته مزدور دبادار په مخکښني نه دي ولاړ او خدمتگاره د میرمني په لاس اوبه نه اچوي.

ته به وایي دي جومات یادوي، مګر زه د خدای کور له ستایلو بي نیازه ګڼم.

زما په نظر کښي یو بل کور دی، هغه کور چه پاك خدای هم ورته په مینه او محبت ګوري.

له هغه کور سره که هر څوك احسان او نیکي وکړي د خدای رضا او خوشحالي حاصلولی شي.

دا کور د خان کور نه دی، د ارباب کور نه دی، د حاکم کور نه دی، د خوار او غریب کور نه دی چه هیڅ نلري او د خپل کار او زیار پاکي او حلالي ګټي ته منتظر دی.

هغه چه لاړي او سرکونه جوړوي او په شا باندي درانه پندونه وړي.

هغه چه په لو اولور خپل اولاد ته نفقه او جامه پیدا کوي.

هغه چه له غره نه غني راوړي او تیرې چلوي.

هغه چه هر چاته خوار او حقیر معلومیږي مګر خدای ورته په رحم او مهربانۍ ګوري.

هغه چه پخپله په جونګړو او کنډرو کښني اوسي مګر نورو ته قصرونه او ماڼۍ جوړوي.

د خانانو کلاګاني، د سرکار چوڼۍ، د حاکمانو کوټۍ، د بزرګانو زیارتونه، د خدای جوماتونه، د سیټانو بنګلي دوی سرته رسولي دي.

هغه چه ناسته او ملاسته ئي په پاکو خاورو باندي ده او لکه ګلونه یا لعلونه په خاورو او ایرو کښني اوسي.

هغه چه کتیونو، توشکونو، بالښتونو، تغرونو او قالینو د مادر وطن له اصلي غیري نه، نه دي لري کړي او د وطن له خاوروسره نژدي تماس او مستقیم تعلق لري.

همدغه خلق دي چه د عیش او عشرت خاوندانو ته ئي دا جهان گل و گلزار کړ، مګر هغوی د دوی د پاره په دنیا کښي دوزخونه جوړ کړل.

د دوی له لاسه ډیرو خلقو ډیر ډیر کارونه واخستل مګر دوی ته ئي ډیر لږ څه ورکړه.

صبر او قناعت د دوی په کور کښي خدای کښېنوده او حرص ئي بډایانو ته ورکړ.

د دوی جامې ډیرې زړې او ډیرې شکیدلي دي مګر خپله پرده ئي ساتلې ده هغه نور چه هره ورځ نوې جامې اغوندي نږدې دي چه بې پردې شي.

دوی وږي دي مګر چاته طمع او امید نلري، نور ماړه دي او له دوی استفاده کوي.

د دوی کورونو ته غله نه راځي، لېوان نه راځي، ګیدړان نه راځي مګر ماسلان راځي او د حاکمانو امید ورته کیږي.

دوی یوازې د کار لاسونه لري او بس، کار داران دغه لاسونه کلک وتړي او څه ترینه غواړي.

په دغه حال کښي د دوی له لاسه هیڅ نه کیږي او هیڅ نه شي کولی مګر اه و فریاد کولی شي. دا فریادونه که هیڅوک وانه وري پاک خدای ئي اوري او په رحم او مهربانۍ ورته ګوري.[1]

---

[1] زیری جریده، دوهمه دوره، دریم کال، ۸ مه ګڼه، د ۱۳۳۳ د سنبلې ۲۷ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما دعا

د ټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هرڅه کولی شې د هر چا امید تاته کیږي او هر څوك هر څه له تا غواړي، ستا خزانې او کارخانې ډکې دي. ستا باغونو کښې د شودو، شرابو او عسلو ویالې بهیږي.

ستا بخششونه او انعامونه بې پایانه دي. ستا د رحمت نور په ځمکو او اسمانو کښې نه ځائیږي.

فقیران او مسکینان درنه د ډوډۍ سوال کوي.

ماړه او بډایان درنه د اشتها او هضمولو قوت غواړي.

څوك درنه په زاریو او دعاګانو اولادونه غواړي. ځینې وایي چه مال او دولت راکړه

یو وایي جنت مې په کار دی، بل وایي له دوزخه امان او پناه غواړم.

څوك د حورو شوقمند دی او د چا غلمانو ته زړه نښته.

مرتبې اولوړې درجې له تا سره دي. کامیابي او موفقیت ستا په توفیق حاصلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین او دنیا ستا په لاس کښې ده، راحت او زحمت، عزت او ذلت ستا له خوا انسان ته رسي.

بهار او خزان ته راولې. مرګ او ژوند ستا په اختيار کښې دی.

هر څه ته کوې او هر څه له تا غوښتل کيږي.

د دې جهان او د هغه جهان اجرونه، خيرونه، خوندونه او خوشحالي خلقو ته ته ورکوې.

زه پوهيږم چه تاسره هر څه شته.

مګر هر څه نه غواړم.

زما دعا او د زاهدانو دعا.

زما ارزو او د پادشاهانو ارزو يو راز نه ده.

زما سوال او د بډايانو او مسکينانو سوال ډير فرق لري.

نه غواړم چه عزت مې ډير او رتبه مې لوړه شي.

موټرونه او اسونه مې نه دي په کار.

قصرونه اوعمارتونه نورو ته ورکړه.

پټي او باغونه هغه چاته وبخښه چه په خاورو نه مړيږي.

په بانکونو کښې د سوداګرو پيسې زياتې کړه.

د بزرګۍ اعتبار مه راکوه ځکه چه ستا په اطاعت او عبادت له خلقو نه اجر او عزت غوښتل راته ښه نه ښکاره کيږي.

زه له دې ټولو نه تير يم او نور څه نه غواړم.

زه هغه څه غواړم چه ستا رضا ورباندې حاصليږي.

او ستا له رضا نه خلاف څه نه غواړم.

زه وايم په جهان کښې پوهه او علم ډير کړه. حق او عدالت ته قوت ورکړه. په زړونو کښې رحم او د خير مينه واچوه، ظالمانو ته هدايت ورکړه چه ظلم بس کړي، په دماغونو کښې د حق نور او د حقيقت رڼا پيدا کړه.[1]

---

[1] زيري جريده، دوهمه دوره، دريم کال، د ۱۳۳۳ د دلوی ۱۷ مه نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو او پښتونولۍ دنیا

که د سر په سترګو وګورو نو قندهار هم له ننګرهاره ډېر لرې دی. که د زړه سترګې وغړوو نو پېښور او قندهار هم نژدې معلومېږي.

رحمان بابا او احمد شاه بابا دلته هم د پښتنو بابا دی او هلته هم، ځکه وایم چه قندهار او پېښور لرې نه دي، نژدې دي او عزیزولۍ ډېر نژدې کړي دي. د پښتو او پښتونولۍ دنیا بیله ده او د سیاست دنیا بیله ده

په سیاسي لحاظ نن د ټازیسانو او دوربابا شینواري د لواړګي او خیبر له شینوارو نه دومره لرې دي چه لندن او کراچی هم دومره لرې نه دي، مګر په پښتني لحاظ دغه شینواري او هغه شینواري یو ټبر او یو کهول دی چه وینه، رګونه او هډونه یې سره شریك دي او ډېره ټینګه عزیزولي لري.

په حقیقي لحاظ هم د دوی هم فاصله ډېره لږه ده او یو بل ته ډېر ژر رسیږي. همدغه شان د ننګرهار مومند، د غره مومند او د پېښور مومند هیڅ فرق نلري او لکه سکني ورونه ډېر نژدې دي.

زه سیاسي سړی نه یم. زما خبرې په سیاست اړه نلري، زما جهان بیل دی، ما یو ملي سړی وګڼئ، زه یوازې پښتو او پښتنواله پېژنم او په همدغه اساس خبرې کوم. زه د هرات او میمنې پښتون د اباسین او اټك پښتون ته ډېر نژدې ګڼم او پنجاب راته د میانوالي له پښتنو نه ډېر لرې معلومېږي. د دې خبرې سند همدغه دی چه د رحمان بابا په ژبه د پنجاب خلق نه پوهیږي او هغوی ورته بابا نه وائي مګر پښتانه چه هر چیرته وي د ده په باباتوب فخر کوي او د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اشعارو نه ډیر خوند اخلي د پښتنو په کلي کور کښې د خوشحال خان د شعر سکه تر قیامته چلیږي، مګر په سند او پنجاب کښې ئې څوك د کتاب پاڼه نه اړوي. پښتون که د دنیا په یو سر او بل سر کښې وي دغه راز لري توب د دوی اصلي او حقیقي قرابت ته څه زیان نه رسوي، ځکه چه دوی پاك خدای د ازل په ورځ نژدې کړیدي او فطرت د دوی رابطه ټینګه ساتي.

ورور له وروره او پلار له ځویه په دغسې لریوالي نه لرې کېږي او د قرابت په مخکښې غرونه، سیندونه او سیاسي حدود مانع کېدی نشي.

ځکه چه هیڅ قوت او طاقت عزیزان له عزیزانو نه شي پردی کولی دغه راز پردي له پردو سره عزیزان کول هم د فطرت له تقاضا نه وتلې خبره ده پردی که هرڅومره نژدې شي او د سړي کاله ته راشي بیا هم لرې دي او د خپلو ځای نشي نیولی.

د دیورنډ خط د شینوارو او مومندو په سینه تیر شو او پښتانه ئې د پښتنو له کوره ایسار کړه، مګر ورورې او عزیزګلوې قطع نشوه.

د خیبر هغه خوا پښتانه له پنجاب سره یوځای د برطانوي هند له حکومت لاندې راغله. مګر پښتانه او پنجابیان یو نشوه

ملي او قومي تعلقات پیدا کول د فطرت کار دی او د فطرت اړول د انسان کار نه دی پردی حکومت او د نورو سیاست دغه شان اقدامات کوي. مګر له خدای سره د چا زور برابر نه دی او د فطرت قانون څوك نشي اړولی. وګورئ! د هوا کوترې او چنچنې یوځای نه الوزي، د غرونو په حیواناتو کښې هم د جنس او نوع تمیز شته یعنې یو جنس له بل سره ګډ نه ګرزي.

دهقانان غنم او اوربشې یوځای نه کري. د دنیا قومونه او ملتونه د ترك او ایران د عرب او افغان په نامه او نورو نومونو بیل بیل حکومتونه لري

دین او مذهب ته رجوع وکړئ، چه د محرم او نامحرم ترمنځ څومره فرق دی؟ د اسلام په قانون کښې هم د ورور میراث وروړ ته رسیږي او پردی ترینه محروم دی وروسته له دغو ټولو خبرو پدې خبره باندې غور وکړئ، چه پښتانه له پښتنو نه شکول او له پردو سره ئې ګډول څنګه کار دی؟.

ایا داسې قوت په دنیا کښې شته چه ملي احساس او ملي شعور محوه کړي یا د خپل پردي تمیز له قومونو او ملتونو نه واخلي یعنې پردي خپل کړي او خپل پردي کاندي. یو حکومت دا کولی شي چه زمریان د وسپنې په پنجره کښې ایسار کړي، انسانان په جیلونو کښې واچوي او د هوا مرغان په قفسونو کښې وساتي، مګر فطرت نشي بدلولی او د فطرت په تقاضا هر څه خپل اصل ته رجوع کوي.

زه د پېښور د راډیو یو غیر طبیعي اواز ته نه ګورم ځکه چه ما د هغه ځای د شاعرانو د زړه اوازونه د ډیرو کلونو راهیسې اوریدلي او په رمز و اشاره باندې پوه یم. زه پوهیږم چه د یو حساس او رښتیاني پښتون زړه څه غوارئ او ملي ارزو څه تقاضا لري، ماته دا هم معلومه ده چه ضرورت او مجبوریت په ځینو کسانو باندې څه کوي او څه وائي؟ زه د پښتنو یووالي او نژدیوالي یو حقیقت ګڼم چه فطرت او قومي عادت ئې شاته ولاړ دی او مرسته ئې کوي. په دغه حقیقت باندې زه ټینګه عقیده او پوره باور لرم.

زه د چا خبرو ته نه ګورم د تکامل سیر ته ګورم او د فطرت غړ ته غوږ یږدمه. که انساني تمدن له کور او کورنۍ نه شروع وي او مملکت ترینه جوړ شوی وي، که د اجتماع له یوه زړي نه ونې او باغونه پیدا شوي وي د پښتنو له قبایلو نه هم ارومرو د پښتونستان په نامه یو دولت جوړیدونکی دی او دلسوی خدای په مرسته جوړیږي. که زه او ته ئې نشو جوړولی قدرت ئې جوړوي او ملي جاذبه ئې د جوړولو اراده لري. انشاء الله تعالی.[1]

[1] زیري جریده. دوهمه دوره. دریم کال. ۳۹ مه ګڼه. د ۱۳۳۴ د ثور ۱۰ مه نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپله ژبه

دا مقاله د حق په رڼا کښې په قوي ادبيت او د اجتماعي حرارت له تاثير لاندې ليکلې شويده.

"خادم"

د انګلستان مشهور ليکونکی کارلايل وايي: "که مونږ مجبور شوو چه يا هندوستان نورو ته پريږدو او شکسپير زمونږ وي يا شکسپير د بل چا شي او هندوستان زمونږ وي، مونږ شکسپير له هندوستان څخه غوره او مهم ګڼو."

دا خبره يو انګليس په هغه وخت کوي چه هند او پاکستان دواړه يو مملکت و. سړی چه اوس يوازې هند په نظر کښې ونيسي او له نورو ملکونو سره ئې مقايسه کوي نو دغه مملکت په هر لحاظ يو لوی مملکت دی او ډير لوی قيمت لري.

کارلايل چه دا خبره کوله د هندوستان ثروت او وسعت ورته ډير ښه معلوم و اوپه دې پوهيده چه په هندوستان کښې لکه ټاګور او اقبال ښه ښه شاعران هم شته او د هندوستان پخوانيو شاعران هم په شعر او ادب کښې کم شهرت نلري.

سره له دغې خبرې او سره له دې چه انګليس يو خونسرد ملت دی او د شعر و ادب په مقابل کښې فرانسويانو غوندې نه دی بيا هم دغه ثروت پسند خلق هندوستان له شکسپير نه ښکته ګڼي او خپل هغه سړی چه خپلې ژبې ته ئې ادبي او عرفاني خدمت کړيدی له يوه ډير لوی مملکت سره نه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چه د ژبې يو اديب او ليکونکی د يوه انګليس په نظر کښې دغومره ارزښت لري ته وواېه چه انګليسي ژبه به د کارلايل په نظر څومره اهميت لري.؟

فرانسويان چه خپلې ژبې او خپل شعر و ادب ته زيات متوجه دي د هغوی په نزد به ئې قدر او قيمت څومره زيات وي؟

هغوی پريږدئ او ايران ته راشئ چه فردوسي، سعدي او حافظ هلته څه قيمت لري او په څه نظر ورته ګوري؟ همدارنګه عربو ته وګورئ چه خپله ژبه څنګه ګڼي او نورو ته ولې "عجم" وايي؟.

که هر ځای ته لاړ شئ او هر چاته لاړ شئ د هر چا په نظر کښې خپله ژبه او خپل شعر و ادب ډير ستر قيمت لري. که يو انګليس خپل شکسپير په ټول هندوستان نه ورکوي ايران هم هيڅکله خپل سعدي او خپل فردوسي په شکسپير نه بدلوي.

هر ملت خپل شاعران او ليکونکي ځکه ښه ګڼي چه د دوی په خپلې ژبې پورې ارتباط او تعلق لري. ژبه د هر ملت د پاره لکه لمر د نور او فيض منبع ده. که د چا په ژبه کښې علم او معرفت ځای ونيسي او هنر پکښې پيدا شي نو د هغوی په ذهن او دماغ، په اخلاقو او افکارو، په عواطفو او احساساتو باندې عميق اثر کوي او اثر ئې حقيقي او دايمي وي. د هر ملت د انسانيت او مدنيت معيار ژبه ده. که په ژبه کښې هر څومره معنی پرته وه، په ملت کښې هم هغومره معنی شته. که ژبه وحشي وه او علم او ادب پکښې نه و هلته د وحشت او جهالت سرمايه ډيره زياته ده

ژبه له زړه او دماغ، له روح او احساس سره تعلق لري او د ژبې ترقي د ټولو ترقياتو اساس دی. که په ژبه کښې وسعت موجود و، د هغه ملت نظر هم وسيع وي.

د منطق پوهانو د انسان تعريف په نطق او بيان باندې په غلطه نه دئ کړی، هغوی د ژبې په اهميت او قيمت باندې ډير ښه پوه شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر ملت پوهان او عالمان مري او علم لکه د دنیا مال وارثانو ته نه پاتې کېږي، که یوه ژبه علمي او ادبي ژبه وي او پوهه د ژبې په زړه کښې ځای ونیسي نو ژبه نه مري او علم و معنی هم له مرګه نجات مومي. ژبه زمونږ په شان فاني نه ده او د ابدیت له پرتوه ئې استفاده کړیده. که په ژبه کښې د عرفان رڼا موجوده وه، نو هغه ژبه د خلقو د پاره د خضر مثال لري او بل رهبر ته حاجت نشته.

ملت په حقیقت کښې ژبه ده بل شی نه دی، هغه پښتانه چه دوه سوه یا درې سوه کاله پخوا ژوندي وو اوس یو هم نه دی پاته، که مونږ ملت د یوې محدودې خاورې افرادو ته وایو، چه له یوه نظام لاندې ژوند کوي او خیر و شر ئې شریك وي، نو هغه ټول افراد په یوه قرن یا دوه قرنو کښې له منځه ځي او نور ئې په ځای دریږي. هغه نظام هم بدلیږي او هغه حدود هم په هغه حال نه پاتې کېږي. په دغه صورت کښې باید سړی ووائي چه ملت قرن په قرن بدلیږي او د ملت عمر له یوه قرن څخه زیات نه دی، مګر مونږ وینو او ګورو چه هر ملت خپل تاریخ زرګونو کالو ته رسوي.

نظام او حکومت بدلیږي. نسلونه نوي کېږي، سیاسي حدود تغیر کوي، مملکتونه یو له بل سره ګډیږي یا تجزیه کیږي. مګر ملتونه باقي وي ځکه چه ملت د یوې معنی نوم دی چه په زرګونو کالو کښې ډیر لږ تغیر قبلوي او د دوام او بقا زړمه پرې ډیره زیاته لګیدلې ده.

هو! ژبه ملت دی او د ژبې خدمت د ملت اساسي خدمت دی چه فیض او برکت ئې ټول ملت ته رسیږي او قرنونه ئې نشي محوه کولی.

دغه قصرونه او ماڼۍ، دا فابریکې او کارخانې، دغه لارې او سړکونه، دغه بندونه او نهرونه چه نن جوړیږي بې ارزښته نه دي او د وطن په خدمت کښې حسابیږي. مګر د ژبې احیاء او ترقي ډیر ستر او مهم خدمت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مولفین او مترجمین چه په یوه ژبه کښې علم او معنی وړدي او ادب ژوندی کوي، د شکسپیر پیروان دی او ډیر لوی کار سرته رسوي.

پښتانه پوهان باید دې خبرې ته ښه ملتفت شي چه پښتو په اوسني وخت کښې هیڅ نلري او د خپلو پوهانو فکري او قلمي مرستې ته ډیر زیات احتیاج لري. د پښتنو معنوي مرګ او ژوند په پښتو پورې ارتباط لري او د پښتو ژوند د پښتنو ژوند دی.

نور خلق په دې فکر کښې دي چه افراد د علم او سواد خاوندان کړي او په سلو کښې یو تن هم بیسواده نه وي، مګر مونږ لاژبه د پوره سواد خاونده کړې نه ده او ډیر ابتدائي حال کښې ده. که یو پښتون د پښتنو له مستقبل سره څه لږه ډیره علاقه لري او د ژبې اهمیت پیژني، که څوك غواړي چه له پښتو او پښتون سره بې مینې نه وي او د خپل اجتماعي شعور ثبوت ورکړي. د پښتو له خدمت نه باید ځان محروم پرې نږدي او د خپلې پوهې په اندازه پښتو ته علمي او ادبي خدمت وکړي.

که یو پښتون سره له یو څه پوهې یوازې د خپل عیش او راحت د پاره کار کوي او د ژبې د پاره هیڅ نه کوي سبا به ښه نه معلومیږي او نن به ئې هم په څیره باندې بل شان ګرد پروت وي.

پښتو ژبه د ټولو پښتنو مشترك ناموس دی او د پښتنو علمي او ادبي حیات ور پورې تړلی دی. که دپوهې او سواد خاوندان پښتنو ته دخیر رسولو فکر لري، پښتو ژبه دې نه هیروي او د پښتو علمي او ادبي خدمت دې په ځان فرض وګني.

هغه پښتانه چه نن څه قدر علم او پوهه لري که په هر کار کښې وي او په هر ځای کښې وي مونږ نه وایو چه خپله ګټه، خپل مقام او منصب دې پریږدي او خاص د پښتو خدمت ته دې ځان وقف کړي، ځکه چه دغه راز تکلیف یو نیم سړی په خان باندې اینبودلی شي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل چا باندې، مګر د پښتو د پاره د علم او ادب اعانه غوښتل او په کال کښې کوم اثر لیکل کوم ډیر لوی تکلیف نه دی.

مونږ وینو او ګورو چه ځینې پښتانه چه پښتو ئې مورنۍ ژبه ده له لوړو مدارسو نه راوتلي دي یا د مطالعې له لارې د علمي معلوماتو خاوندان دي او په یوه خارجي ژبه هم پوهیږي، مګر د دوی د علم او پوهې هیڅ اثر په پښتو کښې څوك نه ویني او پښتو ته د خپل فضیلت له ګنجه څخه څه نه ورکوي، ځکه چه دوی ته نور رسمي وظایف ور په غاړه دي او په مهمو (؟) کارونو مشغول دي. مونږ جرئت نشو کولی چه داسې خلقو ته ووایو چه تاسې خپلې چارې پریږدئ او شپه ورځ د پښتو خدمت وکړئ مګر که دا امید وکړو چه کله کله دې د پښتو په لمن کښې څه اچوي او د خپلې پوهې زکات دې پښتو ته ورکوي ډیر جسارت به نه وي.

له خپل حکومت نه هم ارزو لرو چه د پښتو د پیشرفت او ترقۍ وسایل په زیاته اعتنا ولټوي او دا ژبه علمي او ادبي ژبه وګرزوي ځکه چه خپل حکومتونه خپله ژبه روزي او پردي حکومتونه ئې محوه کوي یعنې د خپل او پردي حکومت اصلي او اساسي فرق همدغه دی.[1]

---

[1] د زیري جریده، دوهمه دوره، دریم کال، ۴ مه ګڼه. د ۱۳۳۴ د ثور ۱۷ مه نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هسې خوشحاله یم

یوه ملګري راته وویل: " زه چې نا وینم هسې خوشحاله یم!" ما په خواب کښې وویل: که دلته سړی هسې خوشحاله نه شي نو د خوشحالۍ د پاره څو عقلي او منطقي دلیل نه شي پیدا کیدی.

هغه چه مونږ یې د خوشحالۍ اسباب ګڼو، په حقیقت کښې د غم او تشویش اسباب وي او خلق پرې هسې خوشحاله وي.

هغه ماشومان چه په لارو او کوڅو کښې په ماتو کودړو او خاورو ګټو باندې لوبې کوي، څومره خوشحاله دي.؟ آیا دا خوشحالي بې سببه نه ده؟ که د دغې خوشحالۍ اسباب همدغه وي چه له دغو ماشومانو سره یې ګورو، آیا هیڅ ورته ویلی نه شوو؟ د عقل په نظر کښې خو دنیا هم هیڅ ده او یو فیلسوف ژوندون او دنیا هرڅه هیڅ ګڼي. که زه او نه یا یو بل څوك کله په څه شي خوشحالیږي په حقیقت کښې هسې خوشحاله دي او نیك بخت هماغه دی چه هسې خوشحاله وي.

که سړی سوداګر مزاجه وي او یې د دنیا له ګټې نه، په بل شي نه شي خوشحالیدلی، که دروازې یې د سرو او سپینو هم وي، په کور یې د غم ګانې پریوزي او په خوب کښې هم خوشحالي نه ویني.

که یو سړی هر څومره لوی شي او په لوی کور کښې کښېني هغومره له خوشحالۍ نه لیرې کیږي او له اندیښنو سره یې تعلقات زیاتیږي.

پخوا زه په بل فکر کښې وم، مګر له یوه وخته راپه دې خوا، په دې عقیده یم چه خوشحالي د ماشومانو مال دی او د بلوغ اصلي علامه له غم سره آشنا کیدل دي. د عقل او هوښیارۍ علامه هم بې غمي نه ده غم دی، پوهان او هوښیاران هر چیرته بروس ناست وي او غمونه تلي.

زه چه دلته له هر چا سره غم او اندیښنه زیاته وینم او خوشحالي نه وینم، نو خوشحاله شم چه ښه ده دا خلق د صغارت له مرحلې نه تیر شوي دي. ځکه دنیا وربانديې داسې تنګه ده چه افلاطون یا دیوجانس هم په خپل غم کښې دغومره په تنګ نه و.

چیرته چه د خوشحالۍ قحط وي، که یو سړی هسې بې زیار و زحمته خوشحاله وي باید نیکبخت یې وګڼو او تبریك ورته ووایو

وروسته له دغو څو خبرو، زه خپل آشنا ته وایم، زه هم تا غوندې یم چه آشنا ووینم هسې خوشحاله شم او زماد خوشحالۍ سرمایه هم تش لیدل او کتل دي. دا سرمایه د مالیاتو د قانون لاندې نه راځي او حساب و کتاب ته یې ضرورت نشته، ځکه چه خلق یې هیڅ او هسې ګڼي. زه همدغه خوشحالي چه په هیڅ او هسې بنا وي، په هیڅ شي نه ورکوم، دا متاع زما په نظر کښې ډیرقدر لري. ته ورته هیڅ یا هسې مه وایه. که ته زما په لیدو خوشحاله یې زه هم ستا په لیدو خوشحاله یم، ځکه وایم چه ته هسې نه یې خوشحاله. ښایي ما ډیر زیار ایستلی وي چه ته زما په لیدو خوشحالیږې او د یوه بل په لیدو نه شي خوشحالیدلی. که نور هیڅ نه وي، هغه مینه چه زه یې له تا سره لرم تا خوشحالوي او په تا باندې اثر لري.

دا ټولې خبرې ما هغه وخت ونه کړې، زما جواب یوه جمله وه او بس.

نه پوهیږم ښاغلي بختاني زما په خبرو کښې څه ولیدل چه په دغه باب کښې یې مضمون رانه وغوښت. ماته د فرمایشي مضمون لیکل ډیر ګران وي او یوازې د زړه په فرمایش څه لیکلی شم، مګر ځینې اشنایان په زړه کښې ځای لري، ځکه یې خبره په ډاګ غورزول آسان کار نه وي.[1]

---

[1] زیری، جریده، دوهمه دوره، دریم کال. ۴۱ مه ګڼه. د ۱۳۳۴ د ثور ۲۴ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبې خدمت

د خان خدمت یا د خان خدمت هر څوك كولی شي، مگر د ژبې علمي او ادبي خدمت د پوهانو او لایقو خلقو كار دی.

كوتك او ټوپك هر څوك په لاس كښې نیولی شي، مگر قلم په لاس كښې نیول د هر چا كار نه دی.

هغه چه له زړه او دماغ نه كار اخلي او هغه چه د لاس او پښو وظیفه اجرا كوي یو شانته نه دی.

په یوه ژبه كښې علم او معنی پیدا كول د خیال او احساس تصویر ایستل، ذوق او شعور تربیه كول، هغه عالي هنر دی، چه د ادیب او لیكونكي په برخه رسیدلی دی.

دا هغه كار نه دی، چه مزدوران او نوكران ئې كوي یا په مامور پیشه خلقو پورې اختصاص ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کار د پاره هغه اشخاص په کار دي، چه ډېره عالي غايه او عالي نظر لري يعنې له دنيا نه معنی ته ډېر مايل وي او د علم و ادب پالنه خپله مسلکي وظيفه گڼي. هغه څوك چه د ژبې علمي او ادبي خدمت سره عشق او علاقه لري هغه بيا د تعطيل او رخصتۍ ورځې نه پيژني او د ورځې نه د شپې ډير کار کوي.

هغه که په محبس کښې هم وي خپله وظيفه نه هيروي او له خپل کاره لاس نه اخلي د "دشتې" "ايام محبس" د زندان محصول دي، مگر له نورو آثارو نه ئې ډير غوره معلوميږي يا "حسين کوثر" چه د حبس په موده کښې ئې د پښتو ژبپوهنې په باره کښې نوې نظريې ورکړې. پښتو پالنه او د پښتو علمي او ادبي خدمت له پښتنو ليکوالو او پوهانو نه همدغه راز عشق او علاقه غواړي چه په هيڅ حال او په هيڅ ځاى کښې ترك نشي او څوك ئې د محض پيسو د پاره ونکړي او نه دچا امر او فرمايش ته منتظر وي.

هو! دغه راز ملي او اجتماعي نهضتونه ملي اومسلکي اشخاص غواړي اود عشق او عقيدې خاوندانو ته ضرورت لري.

زه نه وايم چه په پښتنو کښې داسې خلق بيخي نشته خکه چه يو نيم سړى پيژنم چه د پښتو خدمت محض د معاش او شخصي گټې د پاره نه کوي او له ژبې سره ئې علاقه رسمي نه ده قلبي او حقيقي ده.

له دينه هم انکار نه کوم چه يو نيم سړى به پښتو پالنه د خپل معيشت وسيله گڼي مگر ټول ليکوال که هغسې نه دي دغسې هم نه دي. په دوى کښې ځينې داسې اشخاص هم شته چه پښتو سره علاقه لرل يو ملي او اجتماعي هدف گڼي او په همدغه تله خلق تلي. يعنې حب او عدم حب ئې په همدغه اساس بنا دى. که څوك يو څه علمي او ادبي اقتدار لري او د پښتو په خدمت کښې برخه نلري هغه له پښتو سره بې علاقې گڼي او خپله علاقه ورسره ټينگه نه ساتي.

د دوى په نزد هماغه سړى ډير ښاغلى او منلى دى چه د پښتو پالنې فکر او اراده ورسره شته او پښتو د پاره يو څه خدمت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مسلکي شعور که څه هم نن ډیر ضعیف او نحیف غوندې معلومیږي بیا هم د امید وړ دی او هیله لرو چه نه دې زړي نه به سمسور باغونه پیدا شي.

پوهان او ادیبان دې خبرې ته بنه ملتفت دي چه پسه دغه وخت کښې د ژبې خدمت د اولیت حق لري اوپه نورو اجتماعي خدمتونو مقدم دی ځکه چه مونږ علم او ادب ته ډیر محتاج یو او د پښتنو لیکوالو ضروري او لازمي وظیفه همدغه ده.

مونږ باید یو پاك، صاف او خالص علمي او ادبي نهضت وغواړو او نور هر څه نورو ته پریږدو.

سیاسي نهضت او اداري تحول د سیاستونو او د حکومت کار دی پوهان او ادیبان باید ادبي او عرفاني نهضت وغواړي او بس.[1]

---

[1] زیری جریده، دوهمه دوره، دریم کال، ۴۷ گڼه. د ۱۳۳۴ د سرطان ۳ مه نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوشحال خان
## د اشعارو اجتماعي او اخلاقي خوا

شاعران او د اکثریت په لحاظ په عملي دنیا کښې ډیر بې برخې دي او له خلکو سره ئې ناسته ولاړه او د ژوندانه تعلقات ډیر کم دي.

په همدغه وجه ډیر شاعران په عشقي یا تصوفي خیالاتو کښې دومره ډوب تللي چه د ژوند واقعي او عملي اړخونو ته ئې توجه ډیره لږه ده ځکه ئې په اشعارو کښې اجتماعي افکار او نظریات ډیر لږ موندلی شو.

که دتیرو وختو شعر و شاعرۍ ته وګورو دا حقیقت ډیر ښه څرګندیږي چه پخوا به په شعر کښې یا داسې شاعرانه خیالاتو ځای درلود چه په واقعي دنیا کښې به ئې مصداق نشو پیدا کولی یا به د عشق داسې رمزونه او رازونه پکښې و چه نور خلک به پرې ښه نه پوهیدل او یوازې شاعرانه شعور به ئې درک کولی شو.

هغه وخت شعر د عامو خلکو د پوهولو د پاره نه و د تفنن او کمال ښودنې د پاره و. د عوامو د احساساتو او جذباتو د راپارولو د پاره یوازې رزمي او حماسي شعرونه ویل کیده چه خلک به ئې غزا یا ملي جهاد ته تحریکول.

اخلاقي نصایح که څه هم له ډیر پخوا وختو په شعر کښې موندلی شو خو هغه به هم غالباً داسې خبرې وې چه نظراً به ډیرې ښکلې معلومیدې مګر له انساني فطرت سره به ئې ډیر اړخ نه لګاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې آخره زمانه کښې چه شعر او شاعر د زمکې له خلکو سره خپل تعلق له پخوا نه زيات کړ نو له اجتماعي ژوند او مدني خوا سره ئې رابطه ډيره ټينګه شوه

زما په عقيده دغه کار په پښتو شاعرۍ کښې خوشحال خان ختټك آغاز او تکميل کړ او دغه لوی تحول يوازې ده ته منسوب دی.

خوشحال خان هغه شاعر نه و چه د ژوند له جنجالونو او کړاوونو او د اجتماع له شور و شره ګوښې پاتې وي او له تشو شاعرانه خيالاتو سره مشغول وي.

دی د شاعرانه ذوق او قريحې له لرلو سره د خپل ولس مشر هم و او د پښتون د جوړيدو، يو کيدو او لوړيدو لوی لوی فکرونه ورسره ملګري و.

دی د پښتنو حال او مال ته ښه متوجه و او د ملت مستقبل ئې په نظر کښې و.

ده د يوه معلم او مربي په حيث خلکو ته لارښوونه کوله او خپل اجتماعي افکار ئې په شعر کښې وړاندې کول. د ده د شعر اجتماعي خوا تر ډيره حده د مليت او افغانيت په بنياد اتکاء لري او دشعر ډير ستر امتياز ئې په همدغه برخه کښې موندلی شو چه زه د مضامينو د تقسيم په وجه په دغه مورد کښې د څه ويلو حق نلرم ځکه چه دا برخه د ده د شعر له اجتماعي خوا څخه بيله شوې ده او د مستقل مضمون په حيث يوه محترم شخص ته د څيړنې د پاره سپارل شوې ده. زه دا استثنی په نظر کښې نيسم او ځان مقيد ګڼم چه د ده په اشعارو کښې سوا له دينه نور اجتماعي او اخلاقي مضامين ولټوم.

خوشحال خان د يوه مفکر او صاحب نظر شاعر په حيث د انفرادي او اجتماعي ژوند په مختلفو خواو او په ډيرو اجتماعي مسايلو کښې خپل افکار او نظريات څرګند کړي دي چه په ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې له خپل عصر نه ډېر وړاندې دی او په ډېرو خبرو کښې د خپل محيط او ماحول او د پښتنې ذهن او عقايدو ډېر ښه ترجمان دی.

که څوك دا سوال طرح کړي چه تاسو څنګه سړي ته په شخصيت او رجليت قايليږئ يا په بل عبارت د خپل ايديالي شخص د تشخيص د پاره څه صفتونه او څه راز خويونه لازم او ضروري ګنئ؟

ښائي چه دغه سوال ته هر څوك د خپل فکر او نظر مطابق بيل بيل جواب ووائي او مختلف نظريات راپيدا شي. دی په دغه مورد کښې د پښتنې شعور او احساس په بنا هغه چاته په سرپټوب او حيثيت قايل دی چه مردي او مردانګي ولري او د ننګ او غيرت خاوند وي. دی له دينه چه سړی له نامرد سره مکنې ته ورسيږي دا بهتره ګڼي چه له مرد سره په بيديا او بيابان کښې ورك شي او پس له مرګه هم د مرد ترنوم لاندې ښخيدل غواړي نه د نامرد له څنګه.

د همدې لامله وايي:

د نامرد سره مکې ته رسيدلی\
ښه د مرد سره په بيدې بيديا ورك\
پس له مرګه ښخ د مرد تر قدم ښه دی\
ګور مې مشه د نامرد له ګوره سم

اوس به ګورو چه د خوشحال خان په نظر کښې مرد څوك دی او د مردئ صفات د ده په نظر کښې کوم کوم دي؟ دا صفتونه د ده په دغو بيتو کښې وګورئ:

مرد به نه نشي په ګفتار — څو پيدا نه کړي کردار\
چه دې وکنځي مرد نه تې — که له تانه وي په ډار\
چه څه دی خو انتقام دی — د مردانو کاروبار\
چه عزت ورڅخه نه وي — هغه مرد نه دی په کار\
هم مهره لري هم زهر — ښه مردان دي لکه مار\
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو مردانو خار\
مرد به غم د خپل هنر کا — نه درز نه د دينار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرد به غم کا د خپل شرم　　　　د عزت د اعتبـ
نامرد فخر په نسب کا　　　　مرد نه مور لري نه پلا

✲ ✲ ✲

مرد هغه چه همت ناك برکتناك وي
د عالمه سره خوږ په زيست و ژواك وي
مخ ئې مخ قول ئې قول عهد ئې عهد
نه دروغ نه ئې فريب نه تش تپاك وي
لږ ويل ډير ئې کول په خاموشئ کښې
د غنچې غوندې خوله ډکه سينه چاك وي
چه خبره د پستئ د بلندئ شي
په لويې لکه اسمان په پستئ خاك وي
په تمکين کښې لکه سبر په پستئ کښې
په هر لور ځانګې زنګوري لکه تاك وي
لکه ګل شګفته روی تازه په باغ کښې
هميشه د ښو بلبلو پري بلغاك وي

✲ ✲ ✲

په نورو متفرقو شعرونو کښې وايي:

مرد به غيور وي مرد به صبور وي
هم به په عفوه په کرم مشهور وي
نامرد هغه دی په حقيقت کښې
چه دا خو توکه ئې له دله دور وي

✲ ✲ ✲

که د مردانو په دين آئين ئې
نه بند په سره ئې نه بند په سپين ئې
که نه دې تخت شته نه دې افسر شته
قيصر د روم ئې ففغور د چين ئې

✲ ✲ ✲

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــردان هغـــه دي چـــه همـــت نـــاك وي
پـه هـــره چـــار کـــښې چـــت و چـــالاك وي
کـه غـم پـرې راشـي پـروا د غـم نـه کـا
خـواږه لـه هـر چـاپـه زيسـت و ژواك وي
❁ ❁ ❁
څو وانخلـــي لـــه غليمـــه انتقـــام
مرد نـه خـوب کـا نـه خـوراك کـا نـه آرام
چـه د ننـګ او د نـاموس انـد وه ئـې نـه وي
د هغـــه ســـري بـــه نـــه وي احـــترام
چـــه د بـــل ترلاســـه ورغـــي د بـــل شـــو
مـرد بـه خپـــل لــري د خپـل فکـر زمـام
❁ ❁ ❁
په جهان کښې کـه مـردان دي هـم هغـه دي
چــه و ســختې و تـــه ونيســـي ځانونـــه
❁ ❁ ❁
واړه زړونــه فراغـــت دي پـــه ښادي کــښې
چـه پـه غـم کـښې مردانـه شـي زړه هغـه
❁ ❁ ❁
کـه پـه تـوره ئـې جـواب ورکـړې مـردې ده
کـه وجـود دې څوك ازار کـاندي پـه چـوب
❁ ❁ ❁

له دې بيتـو ښخـه معلوميـږي چـه دی هغـه چاتـه پـه درانـه نظـر ګوري چه له ګفتـار سره کردار هـم ولـري او د عمـل جنبـه ئـې ډيـره درنـه وي.

هغه څوك چـه د چا سترګه ترينه نـه سوزي او خپـل انتقـام پـه لـوړه پيمانـه نشـي اخيســتلی بـا ئـې د خپـل فکـر زمـام پـه خپـل لاس کښې نـه وي او پـه پت او عـزت بـاندې د سـر او مـال ښندلـو تـه نـه وي تيـار د ده پـه نزد د احـترام وړ نـه دی.

دی مرد لـه مـار سره تشبيه کـوي چه بـايد هـم زهـر ولـري او هـم د مـهر مـوره، هـم لکـه د آسـمان وريـځ د رحمـت بارانونـه ورسـره وي او هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماني تندر چه د لرگي خواب په توره ورکړي او په سختو حالاتو کښې د صبر ثبات خاوند وي.

د آسمان په څير لويي او بلندي او د زمکې په شان فروتنې دواړه ديو لوى شخصيت د پاره ضروره گڼي.

په عهد و قول ټينګار، له چل ول او ټګۍ برګي نه خان ساتل د مردئ شعار بولي. که څوك د مردانو په دبس او آيين ټينګ وي هغه ته دروم قيصر او د چين ففغور وايي. د خوشحال خان ايديالى شخص بايد د تمکين او وقار خاوند وي. ډير ويل او ډير خندل ده ته د شخصيت سپکاوى معلوميږي او سره له دې چه په اجتماعي ژوند او معاشرت کښې شگفته رويي او خلاصه تنده ستائي بيا هم وايي.

همیشه اوسه خوله پټه لکه ناوي
چه ضرور شي بيا هاله کړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوك وي؟
چه هميش په خندا سپين لري غاښونه
که خبره که خندا کړي جگي جگي
هره چار تر حساب مه کوه بيرونه
درته وايم چه په کوم توکي به درونه شي
چه د هر چاسره نکړي خوابونه

خوشحال خان د ښو او بدو معيار د جامعې د خدمت او منفعت په اساس تعينوي، هر شي چه په مدني دنيا کښې د خلکو د پاره نافع او مفيد وي هغه ښه گڼي او که مضر وي په بده سترگه ورته گوري.

په شرقي ممالکو کښې سپي او خر له نورو حيواناتو نه په سپك نامه ياديږي او زمري ته په احترام کتل کيږي. د همدې لامله په شعر و ادب کښې د زمري ستاينه وينو او دا شان تشبيه له زمري سره لوى صفت دی مگر خوشحال خان بالعکس وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی به ښه کړم تر مزري نه
سپی د کور مزری د غره دی
خر که بد دی بیا وری وړی
بد سړی بستر تر خره دی

خوشحال خان د خلکو عمومي قضاوت او عام نظر ته په ډیر اهمیت قایل دی او د جامعي شعور له هر دلیل او حجت نه قوي سند بولي. لکه چه وائي:

هیڅ حجت له هیچا مه کوه خوشحاله
هر چه تا و ته څوك وایي ته هغه

* * *

د ده له یوه بیت څخه معلومیږي چه دی کمیت ته په کم نظر نه گوري او اکثریت ډیر محترم او معظم گڼي، څکه یو تر سلو او سل تر زرو قربانوي لکه چه وایي:

بندوبست د کاینات دی په خبرو
یو تر سلو صدقه شه سل تر زرو

سره له دې چه د کایناتو بندوبست په خبرو پوري موقوف گڼي او د ده نبوغ هم په خبرو کښي دی بیا هم تشو خبرو ته په څه ارزښت نه دی قایل او کار و عمل ته په ډیره درنه سترگه گوري څکه وائي:

په چارم اسمان به ناست لکه عیسی وم
که اسمان ته الواته شوای په خبرو

* * *

په خالي کیسه به نه رسي تر کامه
څه حاصل که بوعلي شي په کیسو

* * *

و گفتارو ته ئې مه غوره سترگې
په کرده په عمل گوره کس ناکس

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشحال خان په اجتماعي نظرياتو کښې دا نکته هم ډير جلب نظر کوي چه دی د انسان فطري او طبيعي استعداد ته په ډير اهميت قايل دی او بې له ذاتي استعداده د تعليم او تربيت اغيزې ته دومره نه دی قايل لکه چه په دې لاندې اشعارو کښې وائي:

چه بنياد ئې پيدا شوی په نفاق
د هغه نه طمعه مکړه اتفاق
چه اودلې وي په ذات توره شړئ
سپينول ئې و هر چا و ته دی شاق
د عسل سره ئې خوره خوږه به نشي
مرغونې چه ترخه ده په مذاق
که اخلاق ناصري په ياد ووائي
په اخلاق کښې به ښه نشي بداخلاق

* * *

صالحان له ظالمانو به پيدا شي
له زاهده نه پيدا شي غل سارق
د بدخوی د خوئ علاج ملك الموت دی
نه په دې علاج خبر حکيم حاذق
که کارګه غوندې ئې فهم وي خوشحاله
هيڅ استاد به شين طوطا نکړي ناطق

* * *

تعليم د زاغ و زغن که ډير وکړي
ښکار به پرې کله د باز په څير وکړي
د ترخې او سپينې توره که کړي سازه
غزا به کله په هغه شمشير وکړي
دا دود هش لري دين و دانش لري
نه ئې رښتياوي نه يې تميزه

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار د عفوې د کرم ښېښتن ښه دی
د جنګ ترکاره په آشتی مین ښه دی
ډیر هنرونه د سردارۍ دي
چه واړه تیر شي تیغ مسبرهن ښه دی

❊ ❊ ❊

سرداري لره بويه دا درې توکه
يو همت دويمه توره بل اخلاق

❊ ❊ ❊

سره له دې چه خوشحال خان د سردارۍ د پاره لوړ اخلاق عالي صفتونه او ډیر هنرونه لازم او ضروري بولي بیا هم وائي:

د مار که نه وي په تن زهر
سردار که نلري خنجر و قهر
دا دواړه توکه زما پښته پوهه
نه یاد په کلي وي نه یاد په ښهر

خوشحال خان که د یوې خوا دسردارۍ په کم و کیف ښه پسوه شوی او ټول هنرونه ئې ورمعلوم دي له بلې خوا د ملګرتیا او رفاقت په مفهوم او معنی هم ډیر پوهیدلی دی. که څوك د سردارۍ په فکر کښې نه وي او ځانته د لارې مل او ملګری لټوي نو خان د ملګرتیا اصل و اساس مساوات او ورورولي ګڼي او په دې عقیده دی چه بادار او نوکر هیڅکله ملګری کیدی نشي څکه وائي:

چه تر تانه وړاندې وروستو ځي مله نه دی
چې په لاره درسره سم ځي مله هغه

د سردارۍ او ملګرۍ په باب خو مو د ده فکر او نظر ولید که غواړئ چه د انسان په باب د ده نظریه ځانته معلومه کړئ چه دی انسان او انساني مقام ته په څه نظر ګوري او څنګه ئې ګڼي، نو دا بیتونه ئې واورئ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهـــــانونه څه لږ نه دي | تـــه ئـې نـه وینـې نـــادانه
ګوره څو دي هــسې زمکې | ګوره څو هـــــې آسمـــانـــه
واړه ځای ستا په زړه کښې | ای تـر عـرش لویـه انســانه
آئینه د زړه صیقل کـــــړه | چـــه ئـې ووینــې ای جانــه
کـــــه دې دا ننداره وشي | جــــدا نـه ئـې لـه سبحانـه

***

ځای او مســکن دې د کــارګه ګلشـــن نشــي
کمـذات سـړی دې د جـــاه ځبنتـــن نشـــي
حســـن هغـــه دی چــه اصـــل ذات لـــري
د ســپاندې ګل بـــه کلـــه ســمن نشـــي

***

سره له دې چـه دی بـې لـه ذاتـي او فطـري اسـتعداده تعليم او تربيت ته په څه اثر نـه دی قـایل بیـا هـم بـې ادبـه بـې علمـه بـې هـنره او بـې اخلاقـو کسانو ته پـه داسـې نظـر ګوري:

چــه نـــه ادب لــري نــه عقــل رای لـــري
دوپـای لیـده شـي خـوی د چـار پـای لــري
چـــه بــــې ادبـــه وي آدم ئـــې مـــه ګڼه
څه شـــو کـــه شـــکل آدم نمـــای لـــري

***

اصیـــل تــــوب پـــه نـــور څه نـــه دی
اصیـــــل تـــــوب دی پـــــه خویونــــو
پـــه مریونـــو کـــښې اصیــــل شـــته
پـــه اصیلـــو کـــښې مریــــو نـــــه

***

خوشــحال خـــان د ســرداری، زمـــامداری او مملکتـــداری د پـــاره ځینـــــې صفتونـــــه او خصلتونــــه لازم او ضـــــرور بولــــي چه باید د ولس مشر او واکمـن ئـې ولـري او عمـل پـرې وکـړي. لکـه چـه وائـي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـا سـردار لـــره خپل عقل ‌ ‌ یـــا وزیـر صـاحب تدبـیر
کـه هـــر څو ئې عقل ډیر وي ‌ ‌ بیـــا هـــم بـــویه ښه وزیـــر
کـه دا نـــه وي نـــه هغه وي ‌ ‌ پـــه ژونـــدون ئـــې بویـه ویـر
ښه سـردار لـــره دوه کـــاره ‌ ‌ دایـــم بویـــه پـــــه ضمـیر
یو دې هسې رنګ بخشش کا ‌ ‌ چـــه پکـښې نـه وي تبذیـر
باز د چرګ، چرګ د دانو دی ‌ ‌ ښه دې پـوه شـي پـه دا خیـر
بـل چـــه ننګ تـه تیاری کا ‌ ‌ پـــه دښمـن دې شـي خبـیر
کـه په صلح کښې روزګارشي ‌ ‌ څه حـــاجت د تیـغ و تــیر
پـــه دنیـــا د ســـر ښندل شي ‌ ‌ یـــا چـه حـــکم وي د پـیر
یـا چه کار د ناموس پیښ شي ‌ ‌ هـوډ تـــه هـم نشي تقصـیر
کـه نه څوك نیسي څان تیغ ته ‌ ‌ نـــه شلـــغم دی نـه پنـیر

* * *

سردار ته بویه دا یو څو څیزه ‌ ‌ چـه مرئـي وي زمـا عزیـزه
په بل ځای کښې وائـي:
مـــاهیت یې مونده نشي ‌ ‌ چـه څه څیـز دی دابشـــر
کـــله تـــوره کلـه سپر ‌ ‌ کـــله اور کـــله اوبه شي
کـــله څورب شي له باده ‌ ‌ کلـه بیـا پـــه هیـڅ ډنـګر
لکه دی دی په جهان کښې ‌ ‌ بـل بـه نـه وي دیـده ور

* * *

د عقل او پوهې په باب هم خان یو خاص نظر لري چه کاغذونو و کتابونو پورې ئې نه منحصروي او ناقصه یا عادي پوهه چه کوم نوی خطر ورسره ملګری نه وي بې اهمیته بولي.

دی هغه دانایي ستائي چه په انسان باندې په نفسیاتي لحاظ ښه اغیزه وکړي. هغه میرزائي دانش چه سړی پرې د بل مال شماري او حساب و کتاب ئې برابروي سپك ګڼي او خواره حقیره پوهه ئې نه ده خوښه.

د ده په اشعارو کښې د عقل او پوهې یادونه په دې ډول شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقــــل د مزکـــې یـــا د اســـــمان دی
چــه دومـــره نـــه لـــري هغــه حیـــوان دی
عقــــل د مزکـــې د مـــور لـــه نـــه دی
چـــــه د اســـــمان دی د دبســــتان دی
چـه عالمـان ئـې پـه تـور پـه سـپین وینـې
چسه درویشـــان ئـــې پـــه علیییـــن وینـــې
د عارفـــــانو علـــــم څه نـــــوردی
تـــر عرشـــه فرشـــه پخپـــل یقیـــن وینـــې

* * *

پـــه کـــاغذو کـــښې خوانـــا یـــې ولولـــې
چـــه کښلـــی نـــه وي هغـــه څوك څه لولـــې
هســـې مـــردان شـــته پسه دا دنیـــا کـــښې
تختـــې د وچولـــې تختـــې د زړه لولـــې

* * *

دانـــا ئـــې مـــه ګڼه چـــه صـــبر نلـــري
چـــه صـــبر نلـــري حکمـــت بـــه څه لـــري
ســـړی د صـــبر پـــه کـــار کـــښې وازمیـــه
چـــه صـــبر نـــاك وي هـــر څه بـــه ښه وي

* * *

د نـــاقصې پوهـــې بـــدل پـــه کـــار نـــه دی
د دانـــا فکـــر خطـــر لـــري خطـــیر

* * *

د لوئیـدو اولوړیـدو پـه بـاب خوشـحال خـان د ښه غـور و دقـت خاوند دی او پـه محـض لوړتیـا او پورتـه ختلـو هیڅکله نـه غولیـږي. پـه دې بـاب کـښې تاسو د ده هغـه شـعر واورئ چـه د چنـار او کـدو دبـوټي سـوال و جـواب پکـښې پـه دې ډول درج دی:

چـــه کـــدو مـــې د چنـــار پسه ونـــه وخـــوت
و چنـــار تـــه ئـــې اغـــاز کـــړ دا مقـــال

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــه تـــه ئــې د څو کـــالونو ای چنـــاره
راتـــه ووايـــه خپــل عمــر خپــل احــوال
چنـــار ووې د دوه ســـوو کـــالو زه يـــم
په حساب کښې ګونـدې کـم وي يـو نيـم کـال
کـدو ووې هـاى خـو تـه پـه مـدت لـوى شـوې
دايـــم زه درســـره ســـم شـــوم دم در حـــال
چنـار ووې چـه وخـت سـخت د څلـى راشـــي
زه او تـــه بـــه ســـره زده کـــړو هالـــه حـــال

هغـه شان و شـوکت چـه پـه خپلـه د انســان پـه وجـود کـښې نـه وي موجـود او محـض د نـورو د اطـاعت او فرمـان بـردارئ پـه وجـه چاتـه حـاصل وي خوشـحال خـان يـې هيڅ بولـي او پـه دې ډول ورنـه ګوري:

چه دې څوك د وړاندې وروستو ځې دا څه شى
پـه تنـها وجـود چـه شـان دى شـان هغـه

خان د آزادۍ په باب وائي:

آزادي تـــر پادشـــاهيه لاتـــيرى کــــا
چـه دبـل تـر حکـم لانـدې شـي زنـدان شـي

مـګر يـوازې همدغـه سياسـي آزادي کـافي نـه ګڼي او تـش پـه همـدې نه دى قـانع چه سړى د چا لـه حکـم لانـدې نـه وي او لـه شـخصي غلامـۍ نـه خـلاص وي، بلکـه پـه اقتصـادي او اخلاقـي لحـاظ هـم د آزادۍ غوښتونکـى دى او د طمـع بنـده يـا د احتيـاج او مجبوريـت بنـده لـه آزادۍ نـه محـروم ګڼي. څکـه وائـي:

آزاده بـــه لـــه چـــا طمـــع اميـــد نـــه کـــا
چـه بـه طمـع لـه چـا کـا کلـه عتيـق شـه

✲ ✲ ✲

پـه جـهان بـه هيـڅوك نـه وي چـه آزاد وي
ځينـي عشـق، نـدوه بنـده کـړه ځينـي لـوږه

✲ ✲ ✲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د چا نوکري هم بندګي ګڼي او له ملازمت نه ئې آزاده پیشه ډیره خوښه ده څکه وائي:

نوکر ژوندی نه وي کار ئې د مړه وي
خپل زړه ئې نه وي د صاحب په زړه وي
چه ورته حکم د خپل صاحب وي
که څو ګران وي هم ئې په وړه وي

خوشحال خان د صبر و تحمل ډیر زیات طرف دار دی او دغه توصیه په مکرر ډول په مختلفو پیرایو کښې کوي. دی وایي سړی باید خپل غمونه او خپلې پریشانی چاته ښکاره نکړي او په هر حال خان خوښ او خوشحاله وښئي خصوصاً خپلو غلیمانو او بدخواهانو ته دا مطلب تاسي د ده په دې څلوریزه کښې ډیر ښه لیدلی شئ:

غم و غلیم ته له دله دور کړه
خانده هوس کړه ښادي سرور کړه
که مخ دې زیړ وي په دلګیرئ کښې
ته ئې په داړو څپېړو سور کړه

✽ ✽ ✽

دی په سعیه او عمل ټینګه عقیده لري او هر څه چه په دنیا کښې له هر ځایه لاس ته راځي له آسمانونو نه وي که دریابونونه هغه د انسان د جدوجهد محصول بولي لکه چه وائي:

لعل له کهسانه په بدخشان کښې
لؤ لؤ له بحره په لسوی عمان کښې
په ځیګر خون خیژي دا داړه توکه
که فکر وکا سړی په ځان کښې

✽ ✽ ✽

لکه په کښې شته نشته په چا کښې
نه په کانونو نه په دریا کښې
دریغه خوشحاله ځکه دریغه
چه تل به نه وي په دا دنیا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د خانی په تقاضا د جود او کرم ډیر طرفدار دی او د پیسو غونډول ډیر بد ګڼي. سره له دې چه د مال او شروت ضرورت او اهمیت ته ډیر ښه ملتفت دی او د دنیا ټولې چارې ورپورې مربوطې ګڼي بیا هم زر ساتل د خان د پاره عیب او عاربولي او په دې فخر کوي چه زړه ئې په مال او دولت پورې نه دی تړلی او سره و سپین ئې په لاس کښې نه ټینګیږي.

په دغه باب کښې د ده فلسفه او طرز تفکر په دې بیت کښې وګورئ:

د دنیا په پریشانی کښې جمعیت دی
د دنیا په جمعیت کښې پریشاني ده

لکه چه خان پخپله د کار او عمل خاوند و نورو ته ئې هم د کار او زیار توصیه کوله او بیکاره ناکاره سړي ئې نه خوښیده. ده نه غوښتل چه څوك د چا د منت او احسان خواړه وړیا وخوري یا دچا په پاتې شونو ژوند وکړي او جوټه خور ورته وویل شي. په ظلم او ناروا باندې ډوډۍ پیدا کول هم ده ته د زهرو خوړل معلومیده، ځکه ئې ویل:

څوك چې ډوډیه د دهقانۍ خوري
خواړه د حورو د میهمانۍ خوري
چه ئې په ظلم خوري واړه دې زهر شي
که سالنونه د سلطانۍ خوري

* * *

طباخ چه ووزي تریو څو لاسه
ورخنې وخوري د پاسه پاسه
پاتې خوراك یې خوراك د سپیو دی
په دا خبرشه سخن شناسه

* * *

که پند زما منې نمك حرام مشه
تر نورو پاتې جوټه طعام مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جـوته طعـام مـي خـوراك د سـپيو دی
غصـه پـه زړه کـښې پـه دا کـلام مشـه

✽ ✽ ✽

د نباتو حلوا مه خوره چه منت ورسره مل وي
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره

✽ ✽ ✽

چه پـه هـره کـوڅه ګرځي هـرزه کـار شـي
تـر دا هـسـې ګشـت ځنځيـر ښه دی پـه پښو
د هغـو برخـه خـواري ده تـل تـر تلـه
چـه زکـات خـوري د کتـاب پـه مسـئلو

✽ ✽ ✽

هـر سـاعت چـه پـه چـا ځي هسـې بيکـار
تـر هغـه نـه زه لا ښه ګڼم بيـګار
رنـځوران کـه کاروبـار نـه کـا معـذور دي
روغ سـړی بـه ولـې نـه کـا خپـل روزګار

✽ ✽ ✽

خان کـه څه هـم شعرونه زيـات ويلي مـګر پـه خبرو کـښې يـې د لـږ ويلو ډيره زياتـه توصيـه کـړې ده څکـه زه هـم پـه دغـه توصيـه عمـل کـوم او خپله وينا د دغـه ستر او لـوی شـاعر پـه دې بيـت ختمـوم:

د خوشحال قدر که اوس په هيچا نيشته
پس لـه مـرګه به ئې ياد کاډير عالم

✽ ✽ ✽

دا دی زمونږ د مړو او ژوندو حـال[1]

---

[1] تنکيالی پښتون، پښتو ټولنه. د خوشحال خټك د بين المللي سيمينار د مقالو مجموعه. د ۱۳۴۵ هـ ش کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اولسي جرګې په عمومي غونډه کښې يوه بيانيه

د ښاغلي رئيس صاحب په اجازه، الفت د جلال اباد وکيل خپله نظريه داسې څرګندوي:

د پارلمان د غړي په حيث زمونږ د هر يوه مهمه او لومړئ وظيفه دا ده چه د مملکت د قوانينو او مخصوصا د اساسي قانون تطبيق او تعميل په ټينګه وغواړو او پخپله يې هم له نورو نه زياته پيروي وکړو.

هر عمل چه له قانون نه مخالف وي هغه جرم يا قباحت بلل کيږي او د هر جرم مخنيوی که په قانوني طريقه ونه شي هغه هم جرم دی.

له قانون نه مخالفت که هر څوك کوي مسئول دی، فرد وي که جمعيت، شورا وي که حکومت، مونږ هيڅکله نه غواړو چه د قوانينو په تطبيق کښې له اهمال او مسامحې نه کار واخيستل شي، يا د يو غير قانوني عمل جلوګيری په غير قانوني عمل وشي.

که فرضا يو سړی د جرم مرتکب شي، هغه بايد قانوني جزا ووينې، مګر دغه جزا بايد هغه څوك ورکړي چه قانون دغه صلاحيت ورکړی دی. که يو ښکاره قاتل بې له دينه چه يوې محکمې ته وړاندې شي، د چا له خوا، ې د محکمې له حکمه ووژل شي، هغه هم قاتل ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه قانوني مملکت کښې، باید هر څه د قانون مطابق، په قانوني طریقه، د هغه چا له خوا اجرا شي چه قانون دغه صلاحیت او حق ورکړی دی.
مونږ د اساسي قانون مطابق، دري قوې لرو (شورا، حکومت، قضائیه قوه). د دې دري قوتونو حقوق او وظایف مشخص او معین دي. لکه چه حکومت او قضائیه قوه، هیڅکله د شورا په وظایفو کښې د مداخلې حق نه لري، دغه راز شورا هم د حکومت یا د قضائیه قوې په وظایفو کښې قانونا مداخله نه شي کولی.
په دیموکراسي نظام کښې، د قواوو تفکیک یو مهم اصل دی. شورا باید همیشه د دغه اصل پیروي وکړي. که شورا کله د حکومت په وظایفو، یا قضایي چارو کښې مداخله کوي دغه عمل یې غیر قانوني بلل کیږي او حکومت هم که کله د اولسي جرگې فیصله په خپلو وظایفو کښې مداخله وگڼي، نو ځان د اولسي جرگې د حکم په تعمیل مکلف نه گڼي چه یو مثال یې د اولسي جرگې هغه فیصله ده چه په دې نږدې ورځو کښې یې د انفرادي سرویسونو په باب وکړه او حکومت ورته هیڅ اهمیت ورنکړ، بلکه په رسمي مکتوب ئې د رد ځواب ورکړ.
اوس به راشوو د خلق د جریدې موضوع ته. که دا جریده د خپلو نشراتو په لحاظ، له اساسي قانون یا نورو قوانینو نه مخالفه راوتلې وي او قانوني مسولیت ورته متوجه وي، نو د مطبوعاتو په قانون کښې دا د حکومت کار گڼل شوی چه د اطلاعاتو او کولتور وزارت یې، د څارنوال په ذریعه، یوې صلاحیت لرونکې محکمې ته وړاندې کړي او د محکمې په حکم قانوني جزا ورکړي. که چیرې مونږ دا ومنو چه حکومت په دغه باب کښې د قانون په تطبیق او تعمیل کښې له اهمال او مسامحې نه کار اخیستی، نو بیا دغه راز حکومت د اولسي جرگې د اعتماد وړ نه معلومیږي او یو لوی مسئولیت پخپله حکومت ته متوجه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه فرضـا د خلـق جریـده، قانونـا څه مسـئولیت ونـه لـري او حکومت هم پـه همدغـه وجـه تراوسـه پـوري څه اقدام نـه وي کـړی نـو پـه شورا کښي دغـه موضـوع طرح کـول. داسـې معلومیـږي چـه حکومـت د دیموکراسـئ او د فکـر وبیـان د ازادئ پـه بـاب وسـیع نظـر او پراخـه حوصلـه لـري، مـګر شـورا یـې مجبـوروي چـه لـه دیموکراسـئ نـه خـلاف اقدامـات وکـړي او د ازادو جرایـدو مخـه ونیسـي.

بنایـي ځینـي کسـان داسـې هـم ووایـي چـه حکومـت غـواړي شـورا د لاس پـاکي پـه حیث استعمال کـړي او ځانتـه یـوه داسـې بهانـه پیـدا کـړي چـه هغـه د دوی پـه ګټه وي. زه د یـوه وکیـل پـه حیـث، دغـه راز انعکاسـات، د شـورا د حیثیـت او شـان د پـاره نامناسـب ګڼم او وظیفتـا ځان مکلف ګڼم چه دغه ټکـي مجلس تـه عـرض کـړم.

زه د حکومت د شان او حیثیـت سـاتلو د پـاره هـم دا لازمـه ګڼم چـه پـه ډیـر شجاعت او شـهامت خپـل وظـایف پخپلـه بـې لـه هیـڅ اندېښنـي او تشـویش څخـه، پـه زغـرده اجرا کـړي او چاتـه د دغسـې خبـرو موقـع ورنـه کـړي.

کـه چیـرې حکومـت لـه خپـل قـانوني صلاحیـت نـه کـار واخلـي او پـه جنتیل مینانـه صـورت لـه قـانون سره سم اجـراات وکـړي شـورا ئـې پـه تمـام قـوت شـاته ولاړه ده او مرسـته یـې کـوي. مـګر پـه داسـې ډول نـه، چه خلق دا ګمـان وکـړي چـه شـورا دحکومـت پـه اشـاره د یـوې الـې پـه ډول اسـتعمالیږي.

زه پـه ډیـر صراحـت وایـم چـه زه د اساسي قـانون پـه ټولـو ارزښـونو، کـامل اعتقـاد لـرم او هـر هغـه حرکـت تـه پـه کرکـه ګورم چـه لـه اساسـي قـانون سـره حقیقتـا تصـادم کـوي. حکومـت بـاید پـه دغسـې مـواردو کښي خپلـه وظیفـه پـه ایمـانداري اجـرا کـړي او دیتـه ونـه ګوري چـه د دوی وظیفـې بـل څوك اجـرا کـړي. یعنـي څنګه چـه پـه ځینـو نـورو مسـایلو کښي حکومت شورا تـه دا حق نـه ورکـوي چـه د حکومـت پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارو کښې مداخله وکړي، په دې موضوع کښې هم باید همدغه رویه تعقیب کړي او له بوسو لاندې اوبه تېرې نه کړي.

زه د خلق د جریدې، یا د هغې د کارکوونکو د حمایت او طرفدارئ د پاره دا خبره نه کوم او نه له هغوی سره په دغه کار کښې کومه رابطه او علاقه لرم. بلکه د یوه اصل او پرنسیپ له لحاظه وایم چه په دغې جریدې باندې د خلاف قانون حکم کول یا یې محکمې ته د وړاندې کولو سفارش د اولسي جرګې کار نه دی. مونږ باید هغه کار ونکړو چه قانوناً په حکومت او قانوني محکمې پورې تعلق لري.

زه یوازې په دغه مورد کښې دا نه وایم چه مونږ باید د حکومت په وظایفو کښې له مداخلې نه ځان وساتو، بلکه هر کله چه په اولسي جرګه کښې کومه داسې موضوع له بحث لاندې راغلې چه د حکومت په وظایفو کښې مداخله معلومیده، ما خپل مخالفت ځرګند کړی او د قواوو تفکیک او استقلال ته مې هر وخت په احترام کتلي دي، زه د خپلې دغې ادعا په صدق مطمئن یم او د چا له هیڅ راز تا ویل او تعبیر څخه اندیښنه نه لرم. زه په ځان دا باور لرم چه د اساسي قانون په مقتضیاتو د اولسي جرګې حیثیت او شان د ساتلو د پاره خپله دغه نظریه وړاندې کوم، نه د کوم شخص یا د کومې جریدې د طرفدارئ د پاره.

په اخره کښې بیا وایم: دا زمونږ کار نه دی. مونږ باید د حکومت وکیلان نه شوو او د محکمې په وظیفه کښې مداخله ونه کړو.[1]

په احترام

[1] افغان ملت. جریده، کابل، سه شنبه، د ۱۳۴۵ د غبرګولي لسمه، د ۱۹۶۶ د مۍ ۳۱ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شورا اوومه او دولسمه دوره

دا دوه پارلماني دورې د فکر د ازادئ او د ديموکراسئ د ځينو مظاهرو په لحاظ يو له بله شباهت لري چه بايد مشترك او متمايز اړخونه يې لږ څه وڅيړو:

د هغې دورې له شروع کيدوسره هم يو څو ازادې جريدې چه چا به ملي او چا به شخصي بللې راووتلې، لکه : انګار، نداى خلق، وطن، اولس... او په دې دوره کښې هم ځينې جريدې، لکه: پيام امروز، افغان ملت، خلق... يو په بل پسې خپرې شوې. په هغو جريدو کښې هم د ځينو عمر لنډو چه ډير دوام يې ونه کړی شو، مګر د دې جريدو عمر له هغو نه هم لږ و چه ځينې د خلقو د ډير تاوده هرکلي په اثر او ځينې د ډيرې سرې وضع په وجه ډير ژر له منځه لاړې، او يوازې افغان ملت وکولى شو چه تراوسه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(خدای دې لـه بـدو سـترګو وسـاتي) خان وساتي. بنايـي چـه دغـه د عمـر لـړوالي او ډيروالـي، د دې حکومـت او د هغـه حکومـت د تحمـل او حوصلې پـه اندازه وي. يـا دا چـه وايـي پخـوا د خلکـو عمرونـه، لکـه د نـوح (ع) ډيـر زيـات وو او پـس لـه هغـه وار پـه وار د هـر چـا او د هـر څـه عمـر مـخ پـه کميـدو شـو. کـه څه هـم طبـابت ورځ پـه ورځ ترقـي وکـړه. دا بحـث پـه همـدې ځای پريـږدم، ځکـه چـه پـه دې مقالـه کـښې اصلـي مقصـد د دې وخت او د هغـه وخـت پـه غيرسـرکاري جرايـدو بـاندې بحـث نـه دی، بلکـه د شـورا پـه دغـه دوره او هغـه دوره او پـه دغـه حکومت او هغـه حکومـت يـوه لنـډه تبصـره ده.

پـه اوومـه دوره کـښې والاحضـرت سـردار شـاه محمـود خـان غـازي (خدای دې وبخښي) د صـدارت پـه مسـند ناسـت و او پـه دولسـمه دوره کـښې ښاغلـی محـترم محمـد هاشـم خـان ميوندوال د هغـه پـه ځای کښيناسـت. څنـګه چـه ميونـدوال صـاحب د نـرم طبيعـت او متواضـع وضـع خـاوند دی، مرحـوم والاحضـرت هـم سـره لـه لـوړ نظـامي او فاتحانـه حيثيتـه، چـه د وطـن د نجـات او اسـتقلال پـه معرکـو کـښې ئـې سـتر خدمتونـه سرته رسـولي وو بيـا هـم متواضـع او مهربانـه شـخصيت و چـه لـه خلکـو سره ئـې ډير ښه سـلوك درلـود.

پـه هغـه وخـت کـښې ديموکراسـي يـوازې د دغـه مرحـوم پـه شـخصي سـلوك او اراده اسـتناد درلـود او پـه دې دوره کـښې، لکـه اساسـي قـانون يوه لويـه ملي وثيقه هم پـه لاس کښې لـري چـه دا پخپلـه ډيـر لـوی فـرق دی، مګر لـه دغـه ښکاره تـوپير سره دا فـرق هـم موجـود دی چـه پـه هغـه وخـت کـښې د ديموکراسـۍ پالنـه او روزنـه حکومـت خپـل ابتکـار او خپلـه کارنامـه ګڼلـه او اوس دغـه حکومـت لـه ديموکراسـۍ سـره دغـه راز علاقـه او رابطـه نـه لـري، بلکـه لـه يـو مشـکل او انجـام شـوي کـار سره مواجـه کيـدل يـې ګڼي.

د دولسـمې دورې اولسـي جـرګه کـه د اوومـې دورې لـه ملـي شـورا نـه د اخلاقـي جرءت او د فکـر و نظـر د ازادانـه اظـهار پـه لحـاظ زياتـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي کمه خو هيڅکله نه ده. په دې دوره کښې هم ډېر زړه ور بې پروا وکيلان شته چه په حکومت باندې واضح او صريح انتقادونه کولی شي او د چا له هيڅ راز تاثير لاندې نه راځي، لکه چه په هغه دوره کښې هم ايمانداره او باشخصيته کسان موجود وو چه د حق ويلو جرءت او شهامت يې درلود. دا بېله خبره ده چه دا وخت او هغه وخت ډېر فرق لري. لکه چه په دې دوره کښې ښې لاس او کيڼ لاس خلك شته. په هغه دوره کښې هم دوه متباين جمعيتونه موجود وو او همدغسې مجادله روانه وه. د دې مجادلې او د هغې فرق دا دی چه هغه وخت د استدلال او منطق برخه زياته وه او اوس د متو زور او شر و شور ډېر کار کوي.

په دې دوره کښې د سوال او استيضاح غونډو، چه د اساسي قانون په اساس انعقاد مومي، دې دورې ته خاص امتياز ورکړی او د اوريدونکو ګڼه ګونه يې ډېره زياته کړې ده. همدارنګه د اعتماد د رايې اخيستلو چه د حکومت د تشکيل د پاره د اساسي قانون له مخې يو اساسي شرط ګڼل شوی دغې دورې ته يې لوی اهميت وربخښلی دی.

په اوومه دوره کښې ملي شورا حکومت ته څو مهمې مطالبې وړاندې کړې چه د ملت په عمومي اوضاعو او احوالو يې ډېر لوی تاثير درلود، لکه د غلې د اجباري خريدارۍ منع کول، يا د بيګارونو مخنيوی او داسې نور چه هم ئې د حکومت د پاره قبلول ډېر مشکل کار معلوميده او هم ئې د ملت د پاره تحمل زښت ډېر ګران و. په هغه وخت کښې د غلې خريداري په عمومي ډول په ولاياتو باندې په ډېر نازل قيمت تحمليده چه د حقيقي قيمت او رسمي قيمت تفاوت کله کله په ځينو ځايو کښې په منه کښې شل يا پنځه ويشت افغانۍ وې. راز راز بيګارونه هم د خلکو په اوږو يو مستقيم درونډ بار و چه ټول يې له حده زيات ستړي کړي وو. هر کله چه ملي شورا د دغسې درنو پېټو د لېرې کولو کوښښ کاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له حکومت سره په مجادله اخته وه، نو خلکو ته ئې حیاتي ارزښت درلود، مګر تراوسه پورې دغې دورې په دغسې مهمو ټکو ګوته نه ده اېښې چه عمومي افکار په ډېر قوت ځان ته راجلب کړي.

په دې دوره کښې نسبتا یوه درنه او مهمه خبره چه اولسي جرګې وخوځوله، هغه د دولتي ادارو او موسسو د موټرو کمول دي چه تراوسه یې عملي تاثیر نه دی څرګند شوی او پخوا له عملي کېدلو نه یې د دولت اراکین او لوی مامورین د ځان مخالف کړل. بلکه د بودجې مهمه مسئله ده چه هغه لا بېخي په اغاز کښې پاته ده او کال په تېرېدو دی.

کوم مهم کار چه د اولسي جرګې په کوښښ عملا انجام شو، هغه د مواشي د محصول معافېدل دي چه حکومت په داسې ډول دا کار عملي کړ چه له اولسي جرګې نه یې حکومت ته زیات نسبت وشو او څوك ونه پوهېدل چه دا کار یوازې اولسي جرګې کړی دی.

کوم یوه شي چه د دولسمې دورې د اولسي جرګې وقار او اعتبار له اوومې دورې نه ډېر ښکته کړ هغه دا دی چه کله هغه وخت به کومه ازاده جریده حکومت مصادره کوله، نو ملي شورا به پکښې هیڅ برخه نه لرله او تش همدومره اعتراض به پرې وارد یده چه پارلمان د جرایدو ازادي نه شي ساتلی او حمایت یې نه کوي مګر په دې دوره کښې چه ځینې جراید له مینځه لاړل، نو حکومت ظاهرا د خیر په غونډۍ ناست و او اولسي جرګې د مشرانو د جرګې په پیروۍ د قضائیه قوې او اجرائیه قوي وظیفه اجرا کړه.

په اوومه دوره کښې، لکه چه ملي شورا د دیموکراسۍ او فکري ازادۍ مرسته کوله نو څه موده یې په ځنګ کښې د محصلینو اتحادیه هم موجوده وه چه څوك ئې له تاثیره انکار نه شي کولی، مګر په دې دوره کښې تراوسه لا هغسې کومه اتحادیه منځ ته رانغله. په هغه دوره کښې رسمي جراید هم نسبتا په ازادانه توګه نشرېدل او د غیر رسمي جریدو مقابلې ته دومره چمتو نه وو. څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغـه وخـت د مطبوعـاتو د مسـتقل رئيـس پـه بـاب پـه يـوه شـعر کـښې ويـل شوي و. (... چونـش جلوبگيـرد؟)

پـه دې دوره کـښې پـه وکيلانـو پسـې د راز راز اسـتفادو خـبرې هـم ډيرې کيږي او وايي چه پـه يـو نيـم وزارت کـښې ډيـر رټل کيـږي هـم چـه پـه هغـه دوره کښې دغسې نـه کيـده.

پـه اخره کښې انصافـا وايـم چـه دا حکومـت لـه هغـه حکومـت نـه، پـه سياسي فنونو کـښې ډيـر مـاهر دی.

پوهيـږئ چـه سياسـي فنـون څـه تـه وايـي او دسياسـت تعريـف څنـګه شـوی دی؟:

برتراند راسـل د انګلسـتان لـوی فيلسـوف وايـي:

حاکمـه طبقـه پـه سياسـي فنونـو، يعنـي د خلکـو د احمـق کولـو پـه علم کښې ډير مهارت لـري او سياست د حاکمـه هئيـت پـه نـزد د خلکـو د احمقولـو علـم دی.[1]

[1] افغان ملت، جريده، د ۱۳۴۵ د وږي ۱۵ مه د ۱۹۶۶ د سپتامبر ۶مه، ۲۲ مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښاغلي ميوندوال

## په عقايدو او اصلاحي پروګرام يو نظر

ځينې نوي ټکي چه په دغه پروګرام کښې ډېر جلب نظر کوي هغه (سوسياليستي، ارضي اصلاحات، د ملکيت تحديد او له ملوك الطوايفۍ سره مجادله ده). ښايي چه دغه ټکي په اساسي قانون، يا د ښاغلي ميوندوال په خط مشي کښې په داسې ډول موجود وي، لکه چه يو ابشار کښې بالقوه بريښنا موجوده ده، مګر څوك يې په سترګو نه ويني.

د دغو ټکو تعميل او تطبيق يقينا په مملکت کښې ډېر لوی تحول راولي او د حکومت په طرز عمل، روش او سلوك او حتی په هغو دوستانه علايقو کښې چه له افرادو او شخاصو سره يې لري ډېر تغير او تفاوت ايجابوي.

حکومت خپل دغه کار يو ملي جهاد بولي او وايي:

مونږ تصميم نيولی چه د اسلاميت، مشروطه شاهۍ، ديموکراسۍ او سوسياليستۍ په اساس، خپل دغه ملي جهاد اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو او د ملي ژوند په اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، مدني، اخلاقي او معنوي جهاتو کښې اصلاحات راولو له هر ډول تبعیض، خودپرستۍ، قبیله پرستۍ، منطقه پرستۍ، استبداد، ارتجاع او استفاده جوئۍ سره مجادله وکړو او اجتماعي بې عدالتي، بېسوادي، ناداري، ناروغي او ملوك الطوایفي له منځه یوسو.

د حکومت دغه تصمیم چه وایي مونږ یو وسیع او عمیق تحول په اذهانو کښې راولو چه د جبر او فشار د حاکمیت ځای د قانون تسلط ته خالي شي او هر ډول نفوذ او قدرت، چه د ازادۍ او مساوات په لاره کښې خنډیږي، له منځه یوړل شي، په رښتیا چه ډیر لوی جهاد دی

هغه اجتماعي، اقتصادي او خانداني قدرتونه چه دلته په خلکو باندې مسلط دي، بلکه یوازې په خلکو نه چه په حکومتونو باندې مستقیم او غیر مستقیم نفوذ لري، مقابله ورسره څه اسانه کار نه دی.

همدارنګه د ارضي اصلاحاتو خبره دومره درنه ده چه ډیر زړه ور او فداکار حکومت، دغه راز اواز اوچتولی شي، مګر بې د عامو خلکو او د منورې طبقې له صادقانه او صمیمانه مرستې یې سرته نه شي رسولی.

که چیرې حکومت د دغه پروګرام په عملي کولو شروع وکړي، ګمان کوم چه ترقي غوښتونکي عناصر به یې تر هغه وخته ډیر ښه استقبال وکړي ترڅو چه د حکومت په رویه او اجراءاتو کښې تناقضات نه وي لیدل شوي او مایوسه شوي نه وي.

د دغسې پروګرامونو موفقیت او کامیابۍ د پاره، یوازې د پروګرام ښه والی او د خلکو له ارزوګانو سره مطابقت کافي نه دی، باید هغه اشخاص چه د دغه پروګرام تمثیل او نمایندګي کوي د خلکو د اعتماد وړ وي او عمومي خوشبیني ورته موجوده وي. مثلا د یوه داسې جمعیت غړي که ملاکان او د ملوك الطوایفۍ بقایا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي چه مرام او هدف يې سوسياليستي وي، نو خلك پرې ژور باور نه شي کولی. همدارنګه که د يوه جمعيت په پروګرام کښې دا عقيده موجوده وي چه د افغاني جامعې د پيشرفت لازم شرط دا دی چه خلك مقدسو ديني شعايرو ته سوق شي، نو که بيا په دغه ډله کښې داسې کسان شامل وي چه په دغه عقيده نه وي نو هر چاته يو تضاد او تناقض په نظر ورځي او انتقاد پرې کوي.

په همدغه لحاظ په حزبي پروګرامونو کښې دا خبره ډيره ضروري ده چه د مرام او پروګرام ټول اساسي ټکي يو سمت او جهت ولري او هغه اشخاص پرې راغونډ شي چه له ټولو نقاطو سره يې عقيدتاً موافق وي.

که فرضاً يو حزب داسې يو عام او شامل پروګرام جوړ کړي چه هر څه پکښې وي او د هر چا د ذوق يو څه پکښې پيدا شي نو شاملين به يې داسې کسان وي چه په ځينو احکامو به يې عقيده لري او په ځينو نه. دغه راز پروګرام ته د ځينو کسانو په اصطلاح چره ئيز پروګرام ويل کيږي چه يوه يوه پښا چه هرځای او هرچا ته رسيږي او يو مشخص هدف نه تعقيبوي.

د بناغلي ميوندوال صاحب اصلاحي پروګرام په درې برخو ويشل شوی دی:

*۱ ـ سياسي، اداري او مدني چارې.*

*۲ ـ اقتصادي او مالي چارې.*

*۳ ـ اجتماعي او فرهنګي چارې.*

په لومړۍ برخه کښې، دا څو جملې د پښتونستان د مسئلې په لحاظ د غور او دقت وړ معلوميږي:" د ټولو ملتونو سره د دوستانه مناسباتو د ساتلو او پراخولو د پاره، په تيره بيا د ګاونډيو او د دې منطقې د هيوادو سره دښه ګاونډيتوب د مناسباتو او همکارئ ساتلو د پاره بايد زيار وايستل شي. د دنيا د ملتونو په مناسباتو کښې دې د حقوقو د تساوي، د متقابل احترام، د شخړو د حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره نه قوي نه د کار د نه اخیستلو او په داخلي چارو کښې دمداخلې نه کولو اصل باید رعایت شي.

زمونږ د پښتونستاني ورونو د سرنوشت د حق د تامین د پاره د افغانستان مسالمت امیزه زیارونو ته باید په ټینګه دوام ورکړ شي او زیار دې وایستل شي چه یو داسې د تفاهم او اعتماد او واقع بینئ فضا پیدا کړه شي چه د دې مسئلې، چه د استعمار له بقایاوو څخه ده، د حل لارو ته د رسیدو زمینه مساعده شي.

په دغو جملو کښې اول دا ویلې شوي چه باید له ګاونډیو ملکونو او له هغو هیوادو سره چه په دغه منطعه کښې واقع دي د همسایه توب او همکارئ ښه مناسبات قایم شي، چه پاکستان هم په همسایه او په منطقوي ملکونو کښې شامل دی.

د منطقوي همکارئ کلمات، چه په دغه بیانیه کښې شته، ډیر خله له ایراني جرایدو څخه هم په یوه غرض اوریدل شوي دي او هغوی ته بیا د تفسیر او تعبیر مجال ورکوي.

دوهم وایي چه د دنیا د ملتونو په مناسباتو کښې دې د شخړو دحل د پاره له قوې نه کار نه اخیستل کیږي، چه طبعا د پښتونستان مسئله هم پکښې شامله ده.

دریم دا چه وایي د پښتونستان د سرنوشت د حل د تامین د پاره دې مسالمت امیزه زیار ته ادامه ورکړه شي او زیار دې وایستل شي چه اول د تفاهم او اعتماد فضا موجوده شي او بیا د دې مسئلې د حل لارې ته د رسیدو زمینه مساعده شي.

نو هر کله چه د دغې وینا له مخې پاکستان ته دا اعتماد حاصل شي چه په مطلق ډول د هیڅ راز قوې استعمال د پښتونستان په مسئله کښې، د افغانستان منظور او مطلوب نه دی او د اعتماد د فضا پیدا کولو د پاره طولاني وخت په کار دی، چه د پښتونستان مسئله تر هغه وخته طبعا معطله پاتې ده، نو څنګه کیدی شي چه هغوی په دغه باب کښې یو څه مجبوریت احساس کړي او زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقف جدي وګڼي. زما په عقیده په دغه برخه تجدید نظر په کار دی، چه که دا پروګرام اولسي جرګې ته وړاندې کیږي، نو په دې برخه کښې باید یو څه تعدیل راوستل شي چه د قناعت وړ وي.

په دې پروګرام کښې دوه ځله د اداري او عادي مصارفو لږولو او سپما ته اشاره شوې ده او دا ښیي چه حکومت په اداري مصارفو او عادي مصارفو کښې څه کمول غواړي، ځکه ایي:

"مونږ په ټولو برخو کښې د هیواد د اداري نظام بهبود، د مقرراتو په ساده کولو، د چارو په ژر اجرا کولو. دا اداري مصارفو په لږولو او د دولت د دوایرو ترمنځ د همکارۍ په ټینګولو او د انسجام په پیدا کولو کښې بولو. د دولت مصارف باید په عادي مصارفو کښې د سپما د خیال ساتلو سره سره په داسې قطاعو کښې وشي چه نتیجه یې د اقتصادي پرمخ تګ متضمنه وي."

وروسته له ځینو تذکراتو او اظهار نظر څخه وایم:

په دې پروګرام کښې ځینې داسې مهم ټکي شته چه زه قلبا د حکومت موفقیت پکښې غواړم او هیله لرم چه عملي نتایج یې د قناعت وړ وي.

زه به د یوه فرد په حیث خپله فردي مرسته د هغو ټکو په عملي کولو کښې ونه سپموم چه زه ورسره عقیدتا موافق یم.[1]

---

[1] افغان ملت. جریده. کابل. د ۱۳۴۵ د وږي ۲۲ مه. د ۱۹۶۶ د سپتامبر ۱۳ مه. ۲۳ مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شخصي

دا کلمه چه له هرې کلمې سره يو ځای کړو د هغې رنګ داسې بدګانډي چه بيا ځوك ورته په ښه نظر نه ګوري.

وګورئ! "سړی" ځومره لوړ او عالي مفهوم لري چه د اشرف المخلوقات په نامه يادېږي، مګر کله چه "شخصي" کلمه ورسره تعلق پيدا کړي، نو شخصي سړی تري جوړ شي.

همدارنګه د "کار" کلمه ده، که سړي چاته د کار سړی ووايي نو له دې نه لوی صفت بل نشته، مګر کوم کار ته که شخصي کار ووايو نو وزن يې ډير ښکته کيږي.

خير او مصلحت يا خدمت ځومره ښه کلمات دي، خو چه شخصي تکی ورسره ملګری شي، نو بيا خپل تقدس بايلي او شخصي مصلحت، شخصي خير او شخصي خدمت ډير ټيټ مقام پيدا کوي.

د يوې جريدې يا ورځپاڼې معنوي قيمت ځومره لوړ دی، مګر که دغه شی حقيقتاً شخصي شو، نو بيا خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

دغه شان د حکومت کلمه درواخله چه د شخصي کلمې په يوځای کيدو هر چاته بده ښکاري او نن سبا ټول خلك شخصي حکومت ته په سپکه ګوري.

شخصي حکومت يعنې څه؟

د شخصي حکومت په مقابل کښې ملي حکومت يا قانوني حکومت يادېږي. چه د دې دوه ډوله حکومتونو ترمنځ که د ځمکې او آسمان فرق نه وي نو د جنت او دوزخ فرق خو ارومرو شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شخصي او ملي حکومت په تعریف کښې وایي:

شخصي حکومت د یوه شخص یا څو تنو حکومت وي چه د هغوی په خوښه حکومتي کارونه په شخصي اوامرو او احکامو اجرا کیږي.

ملي حکومت هغه دی چه د ملت د نمایندګانو (پارلمان) اعتماد حاصل کړي او پارلماني مسئولیت ته غاړه کښیږدي.

دغه راز تعریفونه که صحیح هم وي. نو کافي خو نه دي او ډیره نیمګړتیا پکښې موجوده ده.

کیدی شي چه یو حکومت ملي پارلمان ولري او دشورا په اعتماد منځ ته راشي، مګر اجراءات یې شخصي وي، یعنې: شخصي حب و بغض، شخصي آشنایي او شخصي انتقام، شخصي روابط او شخصي اغراض د خلکو په سرنوشت او سیاسي یا مدني حقوقو کښې ډیر دخل ولري.

پارلمانونه چه هر چیرته وي، د حکومتونو له ټولو اجراءاتو، نه خبریږي او د مداخلې حق هم پکښې نه لري. قوانین هم هیڅکله داسې نه جوړیږي چه د حکومت ټول اختیارات له خپلو صریحو احکامو لاندې راولي او ټول کلي او جزءي اجراءات په خپل لاس کښې ونیسي.

په کومو هیوادو کښې چه اصول او قوانین په ډیر ابتدایي او نیمګړي حالت کښې دي، هلته خو د کاردارانو او زمامدارانو لاس ډیر آزاد دی او هر څه کولی شي. مګر چیرته چه پارلماني او قانوني حکومت ډیره اوږده سابقه لري او د تکامل مراحل یې طی کړي وي، هلته هم که اجرائیه قوه د تعلیم او تربیت په لحاظ او د اجتماعي تقوا له حیثه له صالحو اشخاصو نه متشکله نه وي، نو د قانون له خلاګانو او له قانوني تاویل او اهمال څخه ډیرې شخصي استفادې کیدی شي. که نور هیڅ نه وي. هغه قدرت چه د دولتي شاغلو او مقاماتو او د اقتصادي تشکیلاتو له ناحیې د اجر او مزد، د معاش او انعام، د عزت او اعتبار او د اختیاراتو د ورکړې له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکومت په لاس کښې شته. هغه خو ارومرو د حکومتي اشخاصو د خوښې او رضا تابع وي او په شخصي علايقو اتکا لري. د مثال په ډول سړی ويلی شي چه د ماموريت او استخدام قانون، حکومت ته دا حق ورکړی چه يوه مامور ته د کفالت په ډول د يوه لوړ مقام چوکۍ ورکړي او د ټيټې رتبې خاوند نه لوی سړی جوړ کړي. نو که څيرې په قانون کښې د دغه کار د پاره د تعليم په لحاظ د تخصص کومه علمي درجه هم شرط وي کيدی شي چه څو تنه دغه درجه او استحقاق ولري، خو ځينې له ځينو نه د ذاتي استعداد او اخلاقي فضايلو په وجه استحقاق ولري، مګر حکومت ترينه هغه څوك انتخاب کړي چه شخصي منظور پکښې تامينيږي، که څه هم له نورو نه ټيټ او ښکته وي. بلکه کيدی شي او شوي دي چه هغه قانوني شرط هم له پښو لاندې شي او بې استحقاقه يو سړی په شخصي وسايلو او روابطو د مستحقينو ځای ونيسي، دغه راز شواهد سړی په هر وخت او هر ځای کښې ښودلی شي، مګر د دې لامله چه مقاله او مضمون شخصي رنګ پيدا نه کړي او شخصي تعرض ونه ګڼل شي، له يادونې نه يې صرف نظر په کار دی.

بله دا چه په هر وزارت کښې د رتبې په لحاظ مساوي چوکۍ او مقامونه شته چه د کار د نوعيت او اهميت په لحاظ ډير تفاوتونه لري او واکداران کولی شي چه يوه سړي ته په هماغه يوه رتبه د شخصي ارتباط په وجه، ډير ښه کار په ښه ځای کښې وسپاري او هغه بل ته په يوه مشکل ځای کښې مشکله وظيفه تعين کړي.

په شخصي حکومت او شخصي نظام کښې چه د ماموريت مهم مقامونه او واره دار منصبونه په شخصي روابطو او علايقو ورکول کيږي، هلته بيا په لياقت او فعاليت باندې اتکا له منځه ځي او هر څوك ځان مجبور ګڼي چه په هره وسيله د چا رضا ځان ته حاصله کړي. په دې صورت کښې استعدادونه عاطل پاته کيږي او دشخصيتونو د جوړيدو، لوييدو او ښکاره کيدو لاره بنديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حريت او آزادئ، يا د انساني كرامت ساتنه په دغسې نظام كښې له امكانه وتلې خبره ده، ځكه چه په دغسې حال كښې د باداريځ روحيه حاكمه وي او حكومت د اجبار په حكم خلك خپلې غلامۍ او بندګۍ ته رابولي او ماموريت د شخصي نوكرئ رنګ اخلي.

په كوم هيواد كښې چه ماموريتونه د يوه شخص په بدلون ګدوډ شي، څوك بې له څه جرم او جنايته له لوړو څوكيو ښكته راولويږي او څوك بې له كوم ښكاره خدمته آسمان ته وخيژي، كه د چا قواره د چا خوښه نه شوه هغه ته لزوماً تقاعد وركړي او كه له پامه يې ښه راغى نو د تقاعد مړى بيرته ژوندى كړي يعنې (يحيي و يميت. تعز من تشاء و تذل من تشاء) خپل كار او صلاحيت ګڼي، هلته به څوك څنګه له شخصي نوكرئ نه ځان خلاص كړي او دقانون په حاكميت باور وكړي. په دغه راز شخصي نظام كښې صداقت، فعاليت، لياقت او كار دانې له موده لويږي، چاپلوسي، سرټيټول، ذلت قبلول، د چا په دروازه كښې دريدل او د چا دپاره پروپاګندونه كول د ترقۍ او پيشرفت وسيله ګڼل كيږي.

په كوم هېواد كښې چه د حكومت له دستګاه نه، شخصي اغراض، شخصي تمايلات او د خپښۍ او خپلوئ نفوذ او تسلط طرد شوى دى او يوازې لياقت، د خدمت سابقه، قانوني حقوق د ماموريت اصل و اساس وي نو بيا به رښتيا خلك دا ويلى شي چه مونږ د شخصي حكومت محكوم نه يو، بلكه د ملي او قانوني حكومت خاوندان يو.[1]

لوى دښمن د شخصيت شخصي نظام دى
پــه نطفه كښې يې لاوژني كه د چا وي

---

[1] افغان ملت، جريده، كابل، د ۱۳۴۵ د ... ۲۹مه، ۱۹۶۶ د ستمبر ۲۰مه، ۲۴ مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سخاوت نه دی قرباني ده

وایي چه په صدر اسلام کښې اسلامي ورورولي ډیره ټینګه وه او مسلمانانو درحم او عاطفې ډیر ښه مثالونه قایم کړي دي چه یو مثال ئې د څو تنو اصحابو هغه قصه ده چه د غزا په میدان کښې د تندي له لاسه د مرګ په انتظار کښې وو او یوه صحابي په ډیر مشکل دوی ته لږې اوبه راورسولې چه ټولو ته نه بسیدې. دا اوبه چه په دغسې تنده کښې یوه ته ورانديې شوې هغه د پېرزوینې او لورینې له مخې اشاره وکړه چه هغه بل ته یې ورکړه، هغه هم په همدغسې عاطفه له خپل ځانه هغه بل مستحق وګاڼه او دغه کار تسلسل پیدا کړ، کله چه اوبه وروستي سړي ته ورسېدې دغه څو تنه جل وهلي په حق رسیدلي وو او اوبه همدغسې پاتې وې.

دې پیرزوینې څو تنه یو له بله قرباني کړه، مګر د قربانۍ او لورینې ډیر ښه یادګار ئې نورو ته د عملي درس په صورت پرېښوده او دوی ته ئې هم ابدي حیات وباخښه.

پوهیږئ! دا قصه څنګه رایاده شوه؟

سږکال په افغانستان کښې اوبه بیخي لږې وې او د تندي ډیر لوی خطر موجود دی چه د کربلا یاد تازه کوي.

له دې تندې سره لوږه هم ملګرې ده. زمونږ ښاروي د وچکالۍ په وجه وابنه نه مومي او په ځینو ځایو کښې د څکلو اوبه هم نشي پیدا کولی. په همدغه وجه حکومت او شوری د اجبار له مخې دا قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس کړ چه خپلې رمې د نورو ملکونو قصابانو ته وسپارې، په همدغه حال کښې چه وابنه (علوفه) زمونږ حیاتي مسئله ده او حکومت پخپله خط مشي کښې ډیره مهمه ښودلې ده بیا هم حکومت (د اوریدو له مخې) زمونږ ایراني ورونو ته اجازه ورکړې چه زرهاو غواګانې او غوائي د څر د پاره د افغانستان ورشو ته راولي او زمونږ له وښو او علوفې څخه جایزه استفاده وکړي.

په دغسې حال کښې له ایراني ورونو سره دغه راز مرسته مونږ ته دصدراسلام د ترږو او جل وکطو قصه رایادوي چه له ځانه ئې په بل باندې پیرزوینه ډیره وه.

په داسې وخت کښې چه سړی د مجبوریت په حکم بل ته د ګدائی کچکول نیسي له نورو سره دغسې مرسته ډیره لویه قرباني ده.

په رښتیا چه مونږ د خودخواهۍ له مقام نه تیر شوی او د غیر خواهۍ درجې ته رسیدلي یو.

خپل څاروي له لاسه ورکول او د یوه ګاونډي هیواد څاروی وقایه کول سخاوت نه دی ایثار او فداکاري ده چه مونږ ئې کوو. مګر افغاني همت او خاصیت اجازه نه راکوي چه خپل احسان اعلان کړو که څه هم خپل استرحام اعلانوو یعنې خیر غوښتل نه پتوو او خیر رسول پتوو.

خدای دې وکړي چه په دغسې نیک کار څوك انتقاد ونکړي او له ملي مصلحت نه ئې لرې یا مخالف ونه ګڼي.[1]

---

[1] افغان. جریده، لومړی کال، لومړۍ ګڼه
۱۳۵ د وږي لومړۍ
۱۹۷۱ د اګست ۲۳ مه
دا لیکنه د (ناظر) په مستعار نوم خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کیست؟

آنکه: نه سبک است و نه گران، نه بدکار است و نه نیکوکار، نه سرد است نه گرم، نه مترقی است و نه مرتجع.

آنکه: ساقی هست و باده نوش نیست. بینا هست و بدبین نیست، خاین نیست اما خایف هست، صاحب نیست و صاحب سلوک هست.

آنکه: هم لعل بدست آرد و هم دل یار، هم به میخ زند و هم به نعل، هم تیکه دار است و هم بر آوردی، هم ادیب است و هم مؤدب.

آنکه: دزد نیست و با دزد دهن جوال گیرد، ملی نیست وبین المللی است.

آنکه: صاحب نظر است و بنظر دیگران بیند و در مقام آمر فروتنی مامور را نگهدارد.

آنکه: بحق چشم پوشد و بر لاجورد نیز، قاچاق را بد گوید و قاچاق بر را محترم شمارد، از مسئولیت نسهر اسد و از افتخار بترسد.

آنکه: حد خود و حق دیگری را بشناسد و از موقع شناسی بهره کافی و وافی داشته باشد.

جواب:ـ معتبر و باب دندان روز.[1]

---

[1] افغان. جریده. لومړی کال. دوهمه گڼه.
د ۱۳۵۰ دوېږي ۸مه
د ۱۳۷۱ د اگست ۳۰مه
این نشریه به نام مستعار (نوآور) نشر شده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شـــوری

اوس مونـږ دواړه مجلســونه (ولســي جـرګه او مشـرانو جـرګه) شـوری بولـو پخـوا يـوازې ولســي جـرګه د ملــي شــورئ په نامـه يـاديده او مشرانو جرګې ته مـو "اعيـان" ويلې. د اعيـانو پـه مجلس کـښې د ملت انتخاب څه برخـه نـه درلـوده او ټول اعضـاء ئـې انتصـابي و. د اساسـي قـانون نـوم هـم اصـول اساسـي و چـه تطبيقــي جنبـه ئــې ډيـره خـواره وه. هغـه حقونــه او صلاحيتونـــه چـــه اوس اساســـي قـــانون، شـــوری او مخصوصـــاً ولســي جـــرګې تـــه ورکـــړي دي اصـــول اساســي شـــوری او اعيان ته نه و ورکـړي.

هغـه وخـت د ملـي شـوری او د اعيـانو رئيسـان د وزيرانـو پـه مجلـس کـښې پـه ښکـاره شـامل و او د کـابينې د غړيتـوب افتخـار ئـې درلـود.

حکومـت هغـه وخـت د يـوه رسـم پـه حيـث هـم د ملـت د نمـايندګانو اعتمـاد تـه څه حـاجت نـه درلـود بلکـه وکيلانـو بـه شـوری تـه د حکومـت لـه خـوا اعتمـاد نامـه يـا اعتبـار نامـه راوړلـه او د شـوری غـړو بـه د اصـــول اساســـي پـــه موجـــب د حکومـــت پـــه نســـبت د صداقـــت او وفـاداري لـوړه کولـه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چه حکومت د دغسې شوری خاوند و او په همدې معنی ورته پارلماني حکومت ویل کیده چه پارلمان ئې په لاس کښې و، بلکه یو جز ئې و.

د دغسې پارلمان لرلو افتخار مونږ ته له ۱۳۱۰ هـ ش څخه حاصل دی چه اوس ئې عمر له څلویښتو کالو نه اوړي.

وایي چه وړې ته سړې هم غوښنه وي، ځکه مونږ په دغسې شوری هم شکرونه ایستل او لویه عطیه مو ګڼله.

کله چه نوی اساسي قانون منځ ته راغی نو په ۱۳۴۴ هـ ش کښې د نوو ایجاباتو له مخې نوې شوری منځ ته راغله چه له پخوانۍ شوری نه ئې د کم و کیف په لحاظ ډیر فرق وموند حتی چه هویت او ماهیت ئې تغیر وخوړ او جنس ئې بدل شو.

که سړی محض نامه ته ونه ګوري نو دا شوری او هغه شوری په یوه چوب خط کښې نشي راتلی او د دې پرځای چه دغه دوه روستۍ تقنیني دورې دولسمه او دیارلسمه وبولو باید لومړی او دوهمه دوره ورته ووایو او نوې شروع ئې وګڼو. اوسنۍ شوری چه یوه دوره ئې تیره شوه او بله ئې نیمائي ته ورسیده بلاتشبیه لکه مې عیب او هنر دواړه لري.

کوم وظایف او صلاحیتونه چه اساسي قانون شوری ته ورکړي دي تراوسه ترینه شوری صحیح او کامله استفاده نه ده کړې او حکومتونو ئې هم ښه هرکلی نه دی کړی.

اوسنی حکومت چه له تیرو حکومتو څخه په اساسي قانون زیات معتقد معلومیږي او د قانون شکنی الزام لاپرې نه دی لګول شوی بیا هم د حکومت په ترکیب باندې د اساسي قانون له مخې قانوني اعتراض وارد دی.

هغه وخت چه دغه حکومت د تشکل په حال کښې و او د دې نوی شعر لومړنی مطلع معلومه شوه د نظر خاوندانو ته دا پته ولګیده چه د اساسي قانون حقوقي ارزښت څومره دی؟ همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د ځينو علاقمندانو علاقه کمه شوه او د اميد سترګي ليچنې شوې. اساسي قانون که په عمل کښې هرڅنګه وي په نظر کښې خو محترم دی او که په نظر هم نه وي په وينا کښې خو مقدسه ملي وثيقه ده او د اصلاحاتو غوښتونکي ورسره قلبي او روحي علاقه لري.

شوری په سياسي لحاظ مونږ ته ډير ارزښت لري. همدغه ملي دستګاه ده چه حکومت ته ملي او قانوني صبغه ورکوي او خلکو ته دا ښيئ چه حکومتونه د ملت د نمايندګانو په اعتماد منځ ته راځي او په سلب اعتماد ئې له منځه ځي. د مملکت بودجه دشوری په تصويب اړه لري، قوانين شوری تصويبوي، مقاولات او معاهدات د پارلمان په خوښه صورت نيسي او خارجي سياست هم د ملي فکر او نظر تابع دی.

کله چه حکومت ولسي جرګې ته خط مشي وړاندې کوي، د وکيلانو راډيو ئې ازاد نطقونه په داخل او خارج کښې د سياسي ديموکراسيئ او دبيان د ازادئ ډيره ښه مظاهره او مسابقه ده چه نظير به ئې په نوره دنيا کښې نه وي، مګر په اقتصادي لحاظ زمونږ شوری دومره ډيره د ستائينې وړ نه ده.

د شوری ډيره مهمه وظيفه د قوانينو تدوين او تصويب دی بلکه اصلي او اساسي کار ئې همدغه دی مګر په ديارلسمه دوره کښې چه دوه کاله ئې تير شوه د قانون يوه مسوده هم د اولسي جرګې عمومي مجلس ته نه ده وړاندې شوې او په دې برخه کښې ئې فعاليت د صفر په درجه کښې دی.

په دوولسمه دوره کښې چه لس قانونه د اولسي جرګې په عمومي مجلس کښې تصويب شوه يوازې د اولسي جرګې اصول وظايف داخلي، د رسمي جريدې قانون، د بين المللي موافقت نامو او د اعتبارنامو قانون نافذ شوه او نور قوانين: (د احزابو قانون، د ولايت جرګو قانون، د ښاروالو قانون، د انتخاباتو قانون، د ازدواج

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون، د زمکو د سروې قانون، د مدافع وکیلانو قانون) تراوسه نافذ نه شوه او شوي کارونه بې ثمره پاتې شوه. که سړی داسې فکر وکړي چه شوری یوازې د نمایش د پاره نه ده، بلکې یوه فعاله تولیدي دستگاه ده چه باید هر کال یو څه قوانین صادر کړي نو بیا یقیناً دغسې شوری ته غیر اقتصادي ویلی شوو.

هغه څو سوه ملیونه افغانۍ چه وکیلان ئې په استهلاکي ډول په انتخاباتو کښې مصرفوي او هغه د کال تقریباً څلویښت ملیونه افغانۍ چه د شوری په بودجه کښې په ملت تحمیلیږي نوره گټه نلري یوازې د بودجې تصویب او د خارجي قرضونو د منظورولو دپاره دا دومره پیسې مصرفوو او بس.

دغه راز پارلمان داسې مثال لري لکه چه سړی د اوبو ډنډونو دپاره ډیر لوی بند په ډیر زیات لگښت جوړ کړي مگر د آبیارۍ کار ترینه ناخلي بلکه د یوې شاعرانه منظرې په حیث ئې ننداره کوي او په تش لیدو ئې خوشحاله وي.

په اجتماعي لحاظ هم دغسې شوری ډیره مفیده نه معلومیږي، په کوم هیواد کښې چه سیاسي فعالیتونه او سیاسي احزاب موجود نه وي او خلك د خانانو، ملکانو، صاحبانو او سرمایه دارانو په بند کښې وي او حکومتونه هم په همدغه اشرافي طبقه اتکاء لري شوری ته هم اکثر همدغه اشخاص یا د دوی مخلصان راځي چه د مترقي قوانینو او اساسي اصلاحاتو امید له دغسې شوری نه هیڅکله نشي کیدی بلکه د ممتازي طبقې طبقاتي امتیاز نور هم تقویه کیږي او غوړې لاغوړ شي.

اوس سړی په شوری کښې داسې اشخاص ویني چه پخوا به ئې د خان یا بډای په حیث یوازې د ولسوال یا والي په ښه نظر افتخار کاوه، مگر اوس ئې د شوری له برکته په وزیر یا صدراعظم سترگې نه ډکیږي او غرور ئې یو په لسه زیات شویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دي دشوری حال چه په ډېر اجمال او اختصار د يوې لنډې مقالې په چوکاټ کښې وښودل شو او محض اشاره ورته وشوه مګر د دې معنی دا نه ده چه د داسې شوری له وجود نه عدم يې ښه دی، بلکه صحيح معنی ئې دا ده چه دغه ملي دستګاه بايد فعاله او مجهزه شي او د ديموکراسۍ ايجاباتو او غوښتنو ته صادقانه لبيک وويل شي. يعنې سياسي بهره برداري ترينه ونشي بلکه د ملي سياست او ملي قدرت د منبع په حيث وګڼل شي. که اوسني حکومت لکه چه ګومان کيږي د ديموکراسۍ او اساسي قانون د تطبيق رښتيانۍ اراده لري او خپل تاريخي مسئوليت ته متوجه وي نو د شوری د رشد او تکامل د پاره د سياسي احزابو قانون، د ښاروالو قانون، د ولايت د جرګو قانون تر هرڅه دمخه جدي او فوري توجه غواړي چه د مياشتو او ورځو په ځای دقيقې او ثانيې پکښې حسابي ارزښت لري.

د سياسي احزابو او د ولايت جرګو قوانين د اساسي قانون په نظر کښې دومره مهم او عاجل و چه ۱۳۴۳ کښې ئې انتقالي حکومت مکلف او موظف کړ چه دغه دوه قانوني مسودې په ۱۳۴۴ کښې د انتقال د دورې له ختميدو سره سم شوری ته د شوری په آغاز کښې وړاندې کړي او د ځنډېدو مجال ورنکړي. نو هغه کسان چه د حکومتونو د نوعيت او ماهيت پېژندلو د پاره معيارونه ټاکي د سياسي احزابو مسئله د يوه شاخص په حيث ګڼي او په هغه دغه نه قانع کيږي.[1]

---

[1] افغان جريده . لومړی کال . دوهمه ګڼه

د ۱۳۵۰ د وږي ۸ مه.

د ۱۹۷۱ د اګست ۳۰ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د آشنای په یاد

د اشنای اصلي نوم غلام علي و، خو بیا به خلکو جناب عالي بالی.

دی اول د خان سړی و بیا د ځان سړی شو، مګر خلکو ته ئې ځان ملي سړی ښووی. هر څه چه و سړی د کار سړی و او د ترقۍ تومنه ئې په وجود کښې زیاته وه ځکه ئې له ځانه د ځان په پیشرفت کښې هر راز کار واخیستی او پخپل وجاهت ئې د یوه او بل حسن نظر جلب کی.

د ده لوی مهارت دا و چه له مختلفو عناصرو او متضادو مزاجونو سره یې سازش کولی شو یعنې له خان سره خان و او له جان سره جان، له ملك او خوجه یین دواړو سره ئې سر ښوراوی او بیا ئې د سرکار کور ته لاره پیدا کړه او د سر سړو سره اشنا شو.

د بډایانو پېژندګلوي خو کیمیا ده او ډیر ژر سړی له خاورو نه پورته کوي ځکه ئې دی هم ورځ په ورځ د قارون ګنج ته ورنږدې کی.

دی بډای شو مګر بډای او بډایی ته ئې بد ویل.

دی په دې راز ښه پوه شوی و چه سرمایه پیدا کول او سرمایه دار ته بد ویل ډیر عاقلانه کار دی.

سړی باید دا کار د دې زمانې له ځینو پیرانو او بزرګانو نه زده کی چه په ملیونو شته به لري او شتمنو ته به بد وایي.

دی ډیر ژر په دې خبره پوهیدی چه راشه: له سرمایه دارۍ سره سره د اولس په خوارۍ او غریبۍ ځان خپه خپه کوه او د قومي خدمت او ملي درد په چیغو او نارو ځان لیډرۍ ته جوړ که.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کار کښې هم سړی بریالی وختی او د دې لامله چه وریجې او غوښې ئې په کاله کښې ډیرې وې نو د ځوانانو ټولنه به اکثره د ده پرځای کیده.

په ظاهره خو به دی په کوم منور او فاضل سړي پسې په لاره تی، مگر خلکو ته به ئې داسې ښوولـه چه دا راز خلك ده دمخه کړي دي او هرې خوا ته ئې چه بیایي بیولای ئې شي. دی یو جامع سړی و او له مختلفو طبقاتو سره ئې تار درلودی.

د ورځې ملگري به ئې بیل و او د شپې یاران به ئې نور وو.

له وگړو سره ئې همدردي او عشق و علاقه ډیره ښکاره وه مگر د بزم مجلسونه ئې له نورو سره وو.

د ورځې د قام خدمتگار و او د شپې د حسن غلام.

د ده په شخصي ژوند او اجتماعي نظریاتو کښې ډیر فرق لیدل کیدی.

دی د اجتماعي عدالت ډیر طرفدار و مگر په کاله کښې ئې د خپلو ماینو ترمنځ د عدالت نوم هم نشو اوریدلای.

ده به کله کله د ظرافت په ډول ویل: جماعي عدالت څه کوئ په اجتماعي عدالت پسې وگرزئ.

سړی باید اجتماعي وي او علاقه ئې یوازې د کاله میرمنې پورې منحصره نه وي. ده پخپل حیات کښې د فیضه ډك مختلف ماموریتونه وکړه او بې له دینه چه رشوت واخلي یا خیانت وکي د ډیرو شتو او جایدادونو خاوند شو.

ده به چه هر ماموریت کاوی غرض او مطلب به ئې د کام خدمت و مگر سړی طالعمن سړی و او په هر کار کښې به چه و په کاله به ئې د پیسو لښتې راسم و او دنیا به ورپسې د سپې غوندې منډې وهلې.

دی ډیر فعال او نه ستړی کیدونکی سړی و چه علاوه په رسمي او اصلي وظایفو ئې په نورو پټو خ[illegible] کارونو کښې هم ډیره لویه برخه درلوده.

د ده مصروفیت ډیر زیات و، چه کله کله به ئې د چ[illegible] ملاقات دپاره وخت نه درلودی. یوه ورځ چا ویل ډیره ارزو لرم چه له ده سره وګورم او د قومي خدمتونو په باب ورسره وږغیږم، خو دا یوه هفته وریسې سرګردانه ګرزم او نه ئې شم لیدلای.

نن هم دی مازیګر د امریکې د سفارت له یوه غړي سره ګوري او بیګا ته له کوم روسي سره وعده دار دی، د ده په خارق العاده صفاتو کښې یو صفت دا و چه په ځینو لویو مقتدرو کسانو به ئې په مجلسونو کښې په ډیر جرئت انتقاد کاوی او د سر سړو ته به ئې بد ویل مګر سره له دې به هغوی ورته پخپلو خاصو مجالسو کښې ځای ورکاوی او سړی به ورځ په ورځ نور هم معتبریدی.

سړی چه په حقه وي هېڅوك څه زیان او ضرر نشي وررسولای او خدای پرې دښمن هم مهربانه کوي.

اشنای په خوارانو او غریبانو باندې ډیر زهیر و مګر خوار و غریب ته ئې هیڅ نه ورکول چه تربیه ئې خرابه نشي او په مفت خوارۍ عادت نشي.

دا و د مرحوم اشنای صفات او ممیزات چه د ده د شخصیت د معرفۍ په غرض بیان شوه خدای دې پر ورحمیږي.[1]

[1] افغان، جریده، لومړی کال، دوهمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د وږي ۸ مه
د ۱۹۷۱ د اګست ۳۰ مه
دا لیکنه د (چیستان نویس) په مستعار نوم خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جریده نګاري

دا هم مهمه ده چه سړی د چا کار او عمل ته وګوري چه څه کوي او څنګه ئې کوي؟ مګر تر دې دا لا ډېره مهمه ده چه په دې کښې فکر وکړي چه د څه د پاره ئې کوي او څه غایه لري؟ د کار په ښه والي او بدوالي کښې غرض او غایه ډېر دخل لري بلکه د کار ماهیت بدلوي.

وګورئ! د پاك خدای اطاعت او عبادت څومره ښه کار دی مګر که دغه کار څوك د ریا او د خلکو د غولولو د پاره کوي نو بیا له دینه لوی مصیبت بل نشته. یو عارف شاعر وایي:

د ریـــا تـــر نـــاقبوله عبـــادتـــــه
د ساقي په میو مست او خراب خوښ یم

جنګ او جګړه څومره بد او ناوړه کار دی مګر که د حق او عدالت د قیام دپاره او د وطن د دفاع په منظور وي نو بیا د مقدس جهاد مفهوم پیدا کوي او ماهیت ئې بدلیږي.

همدارنګه حکومت د حکومت دپاره بې له بادارئ او حکمرانئ بل مفهوم نلري او که حکومت د خلکو د خدمت د پاره وي نو بیا د وطن د خدمتګارئ ښه پیدا کوي او زمامداران پرې افتخار کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جریده نګاري او لیکوالي که د یوه عالي منظور د پاره په یوه مقدسه ملي او اجتماعي غایه او پایه بنا وي او د خوف او طمع له اغیزو لاندې رانشي نو ډیر مبارك کار دی چه جهاني او دایمي ارزښت لري، مګر که د تجارت وسیله او یا د شخصي سیاست او قدرت د لاس اله وي نو بیا له دې نه خبیث شغل بل نشته.

په دغه صورت کښې لیکوالي او نګارندګي حقایق نه منعکس کوي مسخه کوي ئې او د افکارو د تنویرپه ځای د بصیرت سترګې ړندوي.

دغه راز جریده نګار د اجیر په حیث استخدامیږي او د شخصي اغراضو بار ورونکی یابو تري جوړیږي، یو لیکوال او جریده نګار باید تر هر څه دمخه پخپل حیثیت او شخصیت ایمان ولري چه ځان په هیڅ او هیڅ شي خرڅ نکړي او د فکر او عقیدې آزادئ ته په ډیر لوړ قیمت قایل وي. د پوهې له خپرولو او د نورو له پوهولو سره باید عشق ولري. خپلو عقایدو او نظریاتو د پاره هر راز قرباني ته تیار وي او هغې ته په ډیر اهمیت وګوري.

جریده نګار باید هیڅکله خپلو شخصي عقدو او تمایلاتو ته اجازه ورنکړي چه د مسلکي انحراف موجب شي او وظیفه ئې متاثره کړي.

په دې کار کښې یوازې فني او هنري مهارت هم کافي نه دی که د لیکلو او افادې طرز هرڅومره ښه وي او معنوي ارزښت ولري بیا هم د لیکوال شخصیت ډیر موثر دی.

لکه چه یو وزیر او صدراعظم د پارلمان اعتماد ته ضرورت لري یو ملي لیکوال او جریده نګار د خلکو اعتماد او حسن نظر ته لاډیر محتاج دی.

دا اعتماد په اسانه څوك نشي ګټلی او په ډیرو فداکاریو لاس ته راځي چه ساتنه ئې له لاس ته راوستلو نه هم ګران کار دی.

همدغه د خلکو اعتماد دی چه د وطن مطبوعاتو ته د څلورمي قوې په حیث په حکومت باندې د نظارت او حکمیت حق ورکوي.

دا اعتماد متملقین او اپرچونستان نشي حاصلولی او اجیران ترینه محروم دي. د خلکو په اذهانو باندې هغه لیکوالان او جریده نگاران حکومت کوي چه خلکو ته دحق پرستئ او وطن دوستئ امتحان ورکړي او د آزادئ علمبرداران وي.

جریده نگاري ډیره مقدسه وظیفه ده چه باید په ډیر اهتمام ئې تقدس وساتل شي او دا مبارك شغل ملوث نشي.

د قلم خاوندان او جریده نگاران باید کوښښ وکړي چه دغه څلورمه قوه وجود پیدا کړي. دا کار سرکاري جراید د سرکار له سیورې لاندې نشي کولی. د دې کار لپاره په آزادئ مین نه ویریدونکي خلك په کار دي چه ملي او مسلکي شخصیت ولري یا ددغسې شخصیت د پیدا کولو اراده ورسره وي.

هو! څوك چه دا کار کوي هغه باید د شخصیت خاوند وي یا د شخصیت خاوند شي.

خو:

لوی دښمن د شخصیت شخصي نظام دی
په نطفه کښې یې لاوژني که د چا وي
چوکسئ نه ده شخصیت دی د ساتلو
دې خبرې ته دې هر وخت پام د تا وي[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال، دریمه گڼه.
د ۱۳۵۰ د وږي ۱۰ مه.
د ۱۹۷۱ د سپتمبر ۶ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خط مشي په رڼا کښې

کله چه یو حکومت د تشکل په حال کښې وي او خپله خط مشي ترتيبوي نو د هېواد، اقتصادي او اجتماعي اوضاع مطالعه کوي او هغه څه چه د موجوده حال د ښه کولو د پاره کولی شي خلکو ته ئې د کولو وعده ورکوي. په دغه ډول د حکومت او ملت ترمنځ يو اجتماعي قرار داد انعقاد مومي او حکومت د ملت اعتماد حاصلوي.

ددې له امله چه د خط مشي په هره برخه او هر ټکي باندي ولسي جرګه هر راز بحثونه، اعتراضونه او تبصرې کوي حکومت د مسئوليت له احساس سره د خطمشي په ترتيبولو کښې له ډير غور او دقت څخه کار اخلي او د واقعيتونو په اظهار کښې ډير محتاط وي.

حکومتونه عادتاً کوښښ کوي چه د خلکو اميد په ياس بدل نه شي او د تيرو حکومتونو اعتبار ته نه څه وساتل شي ځکه چه ددوی اعتبار ورپورې تړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقادي او د حقايقو افشاء كول د حكومتونو كار نه دي بلكه لمر په گوته پټول سياسي مصلحت دی.

هغه وخت چه واقعيتونه د عصري ميرمنو په شان بيخي بې پردې شي نو دوی ورته مخ لوڅي وايي او د نهضت نوم پرې ږدي.

غرض دا چه حكومتونه ترڅو چه ډير مجبور نشي رښتيا نه وايي.

رښتيا نه ويل دا معنی نلري چه حكومتونه دروغ وايي، بلكه پټه خوله پاتې كېدل او نه ويل ئې معنی ده.

په دغه اساس هغه څه چه بايد په خط مشي كښې د اداري نارسايي او بې نظمي كډل شوي وي په حقيقت كښې انارشي وي.

د اوسني حكومت خط مشي په نسبي ډول د رښتيا ويلو پانگه لږ څه زياته لري. د دې حكومت واقعبيني او اخلاقي سجيه او د دې وخت د مجبوريتونو تقاضا غوښتنه كوله چه خلك د وطن له حال او مآل نه نسبتاً زيات خبرشي او د مشكلاتو تحمل او مقابلې ته آماده شي.

په دې خط مشي كښې د حكومت دغه اعترافات د ملاحظې وړ دي.

"د ژوندانه په مهمو اړخونو كښې د قوانينو نشتوالي، له ډيرې بې نظمئ څخه انارشي ته نږديوالی، اقتصادي ركود او دملي عوايدو په سلو كښې له درې څخه كموالی، د باقياتو د تحصيل قدرت نلرل، د صادراتو او وارداتو او همدارنگه د دولتي عايداتو او مصارفو ترمنځ عدم توازن، د خارجي قرضونو او سودونو دروندوالی، د اداري سيستم نارسايي، دقاچاق، اختلاس، رشوت او احتكار ورځ په ورځ زياتوالی او بالاخره سر په سر وچكالي چه لوږه او تنده ئې لازمي نتيجه ده..." دا دی د مملكت حال چه د حكومت په رسمي ژبه رسما خلكو ته اعلاميږي او هرڅوك د وطن حال او مال ته په جدي ډول متوجه كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه رښتیـا ویـل پـه عیـن حـال کـښې دا هـم ښیـې چـه حکومـت د خپلـو اسـلافو نـه د مملکـت اداره پـه څنګـه حـال کـښې لـه څومـره نیمګړتیـاو سره پـه لاس کـښې اخلـې؟ کلـه چـه دا حکومـت د افغانسـتان اداره بل تـه تسـلیموي ښایـي چـه هـیڅ بـاقیداري بـه ونـه لـري، بلکـه څه قدر بـه لا فـاضل شـي.

پـه دغسـې وخـت کـښې چـه یـو حکومـت د دغـو ټولـو مشـکلاتو لـه فـهم سره پـه دغسـې شـرایطو کـښې د راتـګ جرئـت کـوي او قربـانۍ تـه حـاضرېږي دا نـه ده معلومـه چـه د سـمون او بـهبود پـه لاره کـښې څه کولـی شـي.؟ د وچکـالۍ رفـع کـول او د رحمـت بارانونـه ورول خـو د خـدای کـار دی او لـه حکومـت نـه ئـې توقـع نشـي کـېدی، د قرضونـو درونـد بـار خـو هـم څوک نشـي سـپکولی، بلکـه د مجبوریـت پـه تقاضـا دا پېټـې بایـد نـور هـم درونـد شـي.

قـانوني خلاګـانې ډکـول هـم څه اسـانه کـار نـه دی. هغـه شـوری چـه پـه شپږ کـالو کـښې د احزابـو ډېر مـهم او ډېـر عـاجل قـانون پـه کرسـۍ نشـي کښېنولـی او حکومتونـه یـې لـه نامـه څخـه ویریـږي لـه دغسـې شـنډې دسـتګاه نـه د قوانینـو د تولیـد امیـد نشـي کېـدی. د اقتصـادي حـالت د ښه کولـو د پـاره دمعدنـو اسـتخراج هـم لـه تصـور نـه وتلـی کـار دی، څوک چـه خپـل مالیـات او محصـولات د ځینـو مقتـدرو اشـخاصو لـه جیـب نـه نشـي راویسـتلی هغـه بـه څنګـه پـه تـش لاس د حـاجي ګك اوسپنه د غرونو لـه تـل څخـه راوباسـي.؟

څه شـی چـه نسـبتا ممکـن معلومیـږي هغـه د نارسـا اداري سیسـتم سـمون او فعـال کـول دي. دا کـار کـه هـر څومـره مشـکل دی مـګر غـیر ممکـن نـه دی. کـه حکومـت پـه ټینـګ عـزم او هغـه جرئـت چـه پـه حکومـت قبلولـو کـښې ئـې وښوده عمـلا دا کـار شـروع کـړي ښائـي چـه د یـوه لـوی مـادي او معنـوي بدلـون اسـاس کـښېښودل شـي او پـه مملکـت کـښې نـوې سـا وچلیـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دا اداره په عمل کښې ښکاره شي چه حکومت په رښتیا د اداري قدرت خاوند دی او د خلکو ژوند ښه کولو ته ئې په ایمانداریٔ ملا تړلې د مملکت سیاسي حیثیت به له دې نه ډیر لوړ شي او جهاني اهمیت به ئې ډیر زیات شي. ځکه چه یو ژوندی حکومت به منځ ته راشي او ملي قدرت به ورسره وي، په دغه صورت کښې به خارجي امدادونه بې له استرحامه په دواطلبانه ډول افغانستان ته متوجه شي او هرڅوك به ورته په اعتنا وګوري.

د قاچاق، اختلاس، رشوت او احتکار معیار به ډیر راټیټ شي او د باقیاتو د تحصیل خنډونه به له منځه لاړ شي چه اقتصادي بهبود ورسره تړلی دی.

دا کار د خولې په خبرو نه کیږي او داسې اقداماتو ته ضرورت لري چه په مفسدانو زلزله راولي او ټکانونه ئې ځینو لویو کورو ته صدمه رسوي.

دغه راز کارونه محتاط او محافظه کار حکومتونه نشي کولی او یوه مقدس عشق ته ضرورت لري.[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال، خلورمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د وږي ۲۲ مه
د ۹۷۱ د سپتمبر ۱۳ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# گریز ماهرانه

هستند کسانیکه به مهارت کلام از دروغ گفتن گریز ماهرانه نمایند. یعنی نه دروغ گویند و نه راست، به این مطلب وقتی پی بردم که دوست دانشمندم به من حکایت میکرد.
روزی در یکی از جراید مقاله ای بنام مستعار نشر گردید، که نظر این و ان را جلب نمود ویکی از دوستان از من پرسید ایا میدانید فلان مضمون مال کیست.؟
نزدیک بود در جواب بگویم هیچ نمیدانم ولی بزودی دریافتم که این جواب دروغ محض است زیرا میدانم کدام شخص انرا نوشته است.
چون جایز ندانستم از نگارنده نام برم چنین جواب دادم:
گفته نمی توانم که مال کیست؟ این گفته چنان تلقی گردید مثلیکه گفته باشم نمیدانم، یا خبر ندارم. اما مطلب من این بود که نمی خواهم این راز را افشاء کنم، در این جا مهارت کلام باعث گردید که انشخص از دروغ گویی فرار نماید و در پیشگاه ضمیر و وجدان منفعل نگردد.
حالا فهمیدید که اشنایی با طرز گفتار چه ارزشی دارد؟
غرض از این مختصر انست که دقت در گفتار نشانه خردمندیست. سیاستمداران، دانشمندان و نویسندگان با فهم طرز افاده میتوانند از گفتن انچه نمی خواهند بگویند گریز ماهرانه نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاستمداران بیشتر از دیگران با این هنر اشنا هستند. در این فن دقیق انتخاب کلمات و ترتیب ان اهمت اساسي دارد و نوع افاده خیلی مهم است.

هنگامیکه یک صدراعظم خط مشی خود را به ولسی جرگه تقدیم میکند اگر از مهارت کلام سیاسی و رموز ان بهرور باشد خوبتر میتواند که از صنعت بازی با الفاظ کار بگیرد و بجای دست دادن استین خالی بدست دهد. اینچنین اشخاص به عوض انکه وعده ها بدهند ارزوها و تمنیات را رنگ دروغی میدهند و ابراز احساسات مینمایند.

هر گاه لازم افتد از عمل و کار چیزی بگویند و کدام تعهدی بنمایند در انجا انقدر از قید و شرط کار میگیرند که ماهیت وعده از بین میرود و جنبهء مثبت ان در حقیقت منفی میشود.

برای خنثی ساختن تعهدات و وعده ها وضع قیود و شرایط بی حساب بکار است که سخن سازان در ان مهارت بسزا دارند.

از همین جاست که اساس اجراات دولتی و حکومتی بر کاغذ پرانی های دفتری بنا یافته و هر یک از مسئولین امور وقت خود را به اگر و مگر میگذرانند و تا وقتیکه پای اغراض و منافع در میان نباشد احکام و اوامر قاطع را هیچ مقام به کسی نمیدهد.

در امور دفتر داری گریز از مسئولیت، گریز از اجرای کار بهمین شیوهء نگارش بنا یافته که باعث سرگردانی مردم، باعث اتلاف وقت، باعث استفاده های گوناگونی گردیده است، کسانیکه گریز ماهرانه را خوب اموخته اند هیچگاه گیر نمی ایند و به اصطلاح دم بدست نمیدهند.[1]

---

[1] افغان جریده، سال اول شماره‌ء چهارم.

۲۲ سنبله ۱۳۵۰

۱۳ ستمبر ۱۹۷۱.

این اثر به نام مستعار "نو اور" نشر شده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو انکشاف او تقويه

د پښتو ژبې د احياء، تعميم او انکشاف په باب چه کوم فرمانونه وخت په وخت صادر شوي دي هغه به پريږدو. خبره به له اساسي قانون نه شروع کړو چه د پښتو په باب ئي څه مکلفيت په حکومت بلکه د دولت په ذمه کيښود او حکومتونه د پښتو سره څه وکړه.؟

اساسي قانون په پنځه ويشتمه ماده کښې د پښتو په باب دولت ته دا وظيفه ورکړه.

(دولت موظف است پروگرام موثری برای انکشاف و تقويه زبان ملی پشتو وضع و تطبيق کند) د دغه حکم د انفاذ اوه کاله وشوه او په دغومره وخت کښې تراوسه لا د دغه موثر پروگرام درك نه دى معلوم.

د حکومتونو دکار او فعاليت د سرعت اندازه له همدينه معلومولى شوو.

د چا به هير نه وي چه د ښاغلي داکتر محمد يوسف په انتقالي حکومت کښې دغه کار داساسي قانون له انفاذ سره سم شروع شو او يو لوى انجمن وټاکل شو چه د پښتو ټولنې اعضاء، د پوهنتون غړي، د مطبوعاتو او د پوهنې وزارتونو اراکين د وزيرانو په شمول، د عدليې وزير او د قبايلو رئيس پکښې ګډون درلود.

دا لوى انجمن په ورو کميټو د وظايفو د تقسيم په اساس وويشل شو او د پښتو ژبې په مختلفو اړخونو مطالعات شروع شوه چه په نتيجه کښې دغه پروګرام د وزيرانو عالي مجلس نه د وړاندې کيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره اماده شو. مگر انتقالي حکومت خپل عمر اصلي حکومت ته
وباخښه او دا کار نورو ته په میراث پاتي شو.

وروسته تر دې هر حکومت چه راتـه قانونا مکلف و چه د خـط مشي په نامه د خپل کار او فعالیت پلان او پروګرام ولسي جرګي ته وړاندي کړي او ملت تـه یو څه وعدي ورکړي چه دوی څه کوي او اساسي قانون ترڅه حده تطبیقوي؟

د دې لامله چه د پښتو موضوع په اساسي قانون کښي داخله او شامله وه او د ملت له خوا هم دغه غوښتنه موجوده وه، هر حکومت پخپله خط مشي کښي دا مسئله ذکر کړه او د پښتو د انکشاف او تقویې وعده ئې خلکو ته ورکړه چه د څلورو حکومتونو په خط مشي کښي پښتو پالنه شامله ده، یعني هغه مشترك ټکی چه د دغو حکومتونو په ټـک لاړو کښي متفق علیه ګڼل شوي دي یو له هغه څخه د پښتو ژبې انکشاف او تقویه ده چه په ولسي جرګه کښي ئې ټولو وکیلانو لکه د پښتونستان مسئله بالاتفاق تائید و تاکید کړیدی.

د اعتماد د رایې له جریاناتو نه داسې معلومیږي چه کـه یو حکومت پخپله خط مشي کښي د پښتو پالنه شامله نکړي له رد او سقوط سره به مواجه شي مگر سره له دغه اهمیته چه پښتو ژبه ئې د اساسي قانون په حکم لري په عمل کښي دغه حکم تراوسه نـدی عملي شوی.

له انتقالي حکومت نه وروسته حکومت دومره وکړه چه د کمیټو کارونه یعني د پښتو دوسیه بیا روی کار کړه او دوهم ځل غور او مطالعه له سره شروع شوه چه څه موده ئې خبرونه هم په رادیو کښي خپاره شوه.

د ښاغلي اعتمادي صاحب په دوو حکومتو کښي کـه څه هم د افغانستان د اکاډمی په نامه یوه نوې موسسه بې پرسونله منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلـه مـگر د اساسـي قـانون مطـابق کـوم پـروګرام د پښتـو د انکشـاف او تقويې د پـاره وضـع او تطبيـق نشـو.

اوسـنی حکومـت هـم تراوسـه د دغـه موثـر پـروګرام د وضـع کولـو څه اقدام نـه دی کړی. کـه څه هـم د فلمونـو پـه جوړولـو کـښي ئـې پښتـو تـه برخـه منلـې او دا کـار د قـدر وړ دی.

حکومـت بـايد د اساسـي قـانون پنـځه ديرشـمي مـادې تـه د عمـل جامـه واغونـدي او دغـه پـروګرام د خلکـو د اطـلاع او اقنـاع د پـاره بـې ځنډه تصويـب او نشـر کـړي او هغـه علمـي او تربيـوي اهميـت چـه دغـه موضـوع ئـې پـه ملـي لحـاظ د افغانسـتان پـه حـال او مسـتقبل کـښې لـري ښه درك کـاندي.

هغسـې پښتـو پالنـه چـه تعصبـي او عنـادي رنـګ ولـري هيـڅوك هيڅکلـه نـه خـوښوي، پښتـانـه پوهـان د پښتـو تقويـه د افغانسـتان د معنـوي تعمير د پاره د اساسـي قـانون لـه منظـور سره سم يـو عرفـاني ضـرورت ګڼي او د حکومتونـو مهمـه وظيفـه ئـې بولـي.

لکـه څنګه چـه پښتـو غولـول او هـيرول ګنـاه ده دغسـې پښتـو پـه سياسي غـرض اسـتعمالول او د تفرقـې پـه بنـاء ئـې پـه تعصبـي رنـګ کـښې وړاندې کول هـم جـرم دی.

پښتـو غوښتنـه بـايد پـه علمـي اساسـي او ملـي غايـه تقويـه شـي او فاشيسـتي صبغـه ورنکـړه شـي، پښتانـه د پښتـو ژونـد غـواړي نـه د افغانسـتان د نـورو ژبـو وژل. هغـه څوك چـه ځانتـه پـه دې حـق قـايل وي چـه پخپلـه مورنـۍ او پلارنـۍ ژبـه ليـك او لوسـت وکـړي چـه د دوی د زړه او دمـاغ صادقـه او کاملـه ترجمـاني کولـی شـي هغـه بـه ولـې د افغانسـتان د دري ژبـې پـه حـق سترګې پټوي؟

د دې مدعـا ډيـر ښه شـاهدان هغـه پښتـو ويونکـي وکيـلان دي چـه پـه ولسـي جـرګه کـښې ئـې د ازبکـي او ترکمنـي ژبـې تدريسـي او نشـراتي حق تـائيداوه او دا ئـې يـو ضـرورت ګاڼه، د پښتـو ژبـې ناکـامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنايي چه له لومړئ ورځې پــه همدغه اساس شروع شوې وي چه دا ژبه د نورو افغاني ژبو دښمنه او مخالفه وګڼل شوه.

پښتانه نه يوازې وچه کلکه پښتو نه غواړي بلکه په اوله درجه د ملي اتحاد او افغاني ورورولئ ساتنه د ملي او اجتماعي عدالت په اساس غواړي او خپله بقاء د افغانستان په بقا کښې ګڼي.

د پښتو ژبې ملي کول، رسمي کول او ادبي ذخيره پکښې زياتول دا معنی لري چه دا ژبه د تعليمي وسيلې او کلتوري ضرورت په حيث د علم او پوهې د تعميم او د ادب او هنر د انکشاف د پاره حياتي اهميت لري.

د افغانستان پښتانه (د پښتو ويونکو په معنی) بې د دغې ژبې له انکشاف او تقويې څخه له معارف او مطبوعاتو نه اساسي او عمومي استفاده نشي کولی او بې له دغې وسيلې له جهل او بېسوادئ سره موثره مجادله امکان نه پيدا کوي.[1]

---

[1] افغان جريده، لومړی کال، پنځمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د وږي ۲۹ مه
د ۱۹۷۱ د سپتمبر ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میدانید چه میخواهد؟

بلی:

دیموکراسیء بی حزب.
پارلمان بی قانون.
مطبوعات بی مزه.
قانون بی اجراء.
وزیر دوسیه دار.
وکیل سرمایه دار.
والی بیسواد.
تیکه دار جواد.
قاضی بی علم.
ملای بی عمل.
جنس لطیف.
بازیء کثیف.
اطاعت کور کورانه.
لیاقت چاکرانه.
چوکیء ارام.
سکرتر خوشخط و خال.
عرضهء بی تقاضا.
تماس مخفی.
دنائت علنی.
خانه سامان رازدار.
تحویلدار بی حساب.
شخص بی شخصیت.
افرین... بر هوشیاری ات![1]

---

[1] افغان جریده، سال اول شماره پنجم ۲۹ سنبله ۱۳۸۰ ، ۲۰ سنتمبر ۱۹۷۱
این اثر به نام مستعار (نواوز) نشر شده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اساسي قانون مطالعه او مقايسه

د افغانستان اساسي قانون په يوولسو فصلونو کښې، يو سلو او اته ويشت مادې لري چه اول فصل ئې په اوله ماده شروع کيږي.

له لومړي فصل څخه دمخه يوه ديپاچه لري او تر ديپاچې دمخه يوه صفحه د اعليحضرت معظم همايوني په توشيح محتوي ده.

په پخواني اصول اساسي کښې ديباچه نه وه او د افغانستان د معظم پادشاه اعليحضرت شهيد محمد نادر شاه صحه هم د اصول اساسي په پای کښې جلب نظر کوي.

په نوي اساسي قانون کښې د اصول اساسي د الغاء څه تذکر نشته مګر د اعليحضرت د توشيح په متن کښې ليکلي دي: "سرله نن ورځې د أفغانستان هغه اساسي قانون (يعنې اصول اساسي) چه د ۱۳۰۹ هـ ش کال د لويې جرګې له خوا تصويب شوی او ترننه پورې په هيواد کښې نافذ و هغه د ټولو ضمايمو سره لغوه شوی اعلاموو" دلته د اصول اساسي د تصويب نيسته په ۱۳۰۹ هـ ش کښې بنودل شوی او د اصول اساسي په مطبوع نسخه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملوکانه منظورئ نیته د ۱۳۱۰ هـ ش کال د عقرب اتمه ده چه طباعتي سهوه به وي.

د اساسي قانون دیباچه د اساسي قانون له یوولسو فصلونو نه علاوه د کتاب د خطبي په حیث جلب نظر کوي د پنځتو متن په فهرست کښې ورته مقدمه ویل شویده.

دلته بنایي دا سوال پیدا شي چه دیباچه یا مقدمه په اساسي قانون کښې داخله ده او که نه؟ یا په بل عبارت زمونږ اساسي قانون هماغه ۱۲۸ مادې دي او که دیباچه هم قانوني ماهیت لري.

دیباچه د لغاتو په کتابونو یو ډول وریښمینه جامه ده چه په جواهرو جړاو شوې وي او د شاهي لباس له لوازمو څخه دي.

د کتاب خطبه هم د ارایش په مناسبت دیباچه ویلل شوه.

ځینو دیباچه د مخ او څیرې په معنی ګڼلي او په دې وجه چه د کتاب خطبه هم د کتاب د مخ او څیرې حیثیت لري نو دیباچه ورته وایي.

مقدمه هم په لغت کښې د لښکر هغه ټولي ته وایي چه له لښکر نه دمخه وي.

د کتاب مقدمه د کتاب لومړی فصل ته ویل کیږي او د وچولي معنی هم لري.

د معنی او مفهوم په اقتضاد اساسي قانون دیباچه باید د اساسي قانون د منظر په حیث ګڼل شوی، حکومت مکلف کوي چه یوازې په سیاسي دیموکراسۍ اکتفاء ونکړي او هغه سوسیالستي چه اقتصادي او اجتماعي دیموکراسي ورته ویلی شو په وطن کښې عملي کړي.

دا د هر حکومت وظیفه ده چه پخپله خط مشي کښې دغه دیموکراسي داخله کړي او دا وښیئ چه اساسي قانون په اول قدم کښې ناکامه نه دی او د تطبیق په لحاظ تبعیض پکښې نه دی راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه چیرې څوك دا ووايـي چـه دیبـاچـه د اساسـي قـانون جـز نـه دی او اساسي قـانون ابتـداءاً لـه لومړۍ مـادې څخـه شروع کیـږي نـو بیـا لـه دې مشـکل سره مخـامخ کیـږو چـه د لویـې جـرګې د تصویـب متـن همدغـه دیبـاچـه ده چـه بـاید د ملـت د نمـایندګانو امضـاء پـرې اخیسـتل شـوی وی ځکـه چـه د دیبـاچې متـن پـه دې عبـارت شـروع کیـږي او ختمیـږي:

(*بمنظـور حیـات ملـی افغانسـتان... بمنظـور تـامین عدالـت و مسـاوات، بمنظـور دیموکراسـی سیاسـی، اقتصـادی و اجتمـاعی... ما مـردم افغانستان بـا درک تحـولات تـاریخی کـه در زنـدګانی ملـی ما بحیث یک ملـت ویـک جـزء جامعـه بشـری میدانیـم بقیـادت اعلیحضـرت محمـد ظـاهر شـاه پادشـاه و پیشـوای زنـدګانی ملـی افغانسـتان ایـن قـانون اساسی را بـرای خـود و نسـلهای آینـده وضـع کردیم*.)

نو کـه چیرې دیباچـه قـانوني اعتبـار ونلري اصـل تصویـب لـه منـځه ځي او اساسي قانون تـه څه نـه پـاتې کیـږي.

د اساسي قـانون د لومـړۍ مـادې لومـړۍ جملـه* دا ده:

*افغانســتان دولـت پادشـاهی مشــروطه، مســتقل، واحــد و غیرقـابل تجزیـه است*" پـه دې جملـه کښې د دولـت نوعیـت ښودل شـوی چـه مشـروطه شـاهي ده.

دا کلمـه چـه د اساسي قـانون د تنـدي خـال ورتـه ویلـی شـوو پـه اغـاز کښې د یـوه لـوی بدلـون ښکـارندوی دی او هـرڅوك پـه دې پوهـوي چـه د افغانسـتان پـه تـاریخ کښې نـوی بـاب افتتـاح کیـږي چـه ورپسـې دوهمـه جملـه ئـې داسـې تفسـیروي: "*حـاکمیت ملـی در افغانسـتان بـه ملـت تعلق دارد*" همدغـه مـهم او جـالب مطلـب دی چـه زوړ ذهنیـت پـه نـوي بدلـوي او د ملـت د پـاره د ځوی زیـری دی.

یـو وخـت چـه پـه افغانسـتان کښې مشـروطه خواهـان پـه سـولۍ خیژول کیـده او چـا ئـې نـوم پـه خولـه نشـو اخیسـتلی او اوس د ملـي وثیقـې ډیـر ښه اغـاز دی.

پـه دغـه اغـاز کښې د افغانسـتان اسـتقلال او وحـدت هـم پـه موکـد ډول ذکرشـویدی، یعنـې وروسـته تـر دې چـه "واحـد" ویـل شـوی دا هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاوه شوی چه (غیر قابل تجزیه است) دلته د تجزیې کلمه په هغه معنی نه ده چه افغانستان په اجزاو نه ویشل کیږي او ولایتونه او ولسوالی نلري بلکه مطلب دا دی چه انفکاك نه قبلوي او بیلیږي نه.

په دوهمه ماده کې وایي:

(*دین افغانستان دین مقدس اسلام است. شعایر دینی از طرف دولت مطابق به احکام مذهب حنفی اجراء میگردد آن افراد ملت که پیرو دین اسلام نیستند در اجرای مراسم مذهبی خود در داخل حدودیکه قوانین مربوط به ادب و اسایش عامه تعیین میکند آزاد میباشند.*) په دې ماده کښې د افغانستان دین اسلام دی او دیني شعایر د دولت له خوا له حنفي مذهب سره سم اجراء کیږي مگر هغه افغانان چه د اسلام د دین پیرو نه وي کولی شي چه د مربوطنو قوانینو په حدودو کښې خپل مذهبي مراسم اجراء کړي.

په دې ماده کښې که څه هم د اسلام د پیروانو په برخه کښې یوازې همدومره ویل شوي چه د حنفي مذهب د احکامو مطابق دیني شعایر د دولت له خوا اجراء کیږي او ظاهراً افرادو ته دغه حق نه دی ورکړ شوی مگر عقلاً دا ترینه فهمیږي چه افراد هم دغه کار کولی شي.

همدارنگه دلته د ملت هغو افرادو ته د مذهبي مراسمو د اجراء اجازه ورکړ شویده چه د اسلام پیرو نه وي مگر د اسلام په پیروانو کښې غیر حنفي مذهبو ته د مذهبي مراسمو د اجازې په باب څه نشته یعني داسې نه دي ویل شوي: (*آن افراد ملت که پیرو دین اسلام نیستند و یا پیرو مذهب حنفی نیستند در اجرای مراسم مذهبی خود .... آزاد میباشند*) مگر دلته هم عقل او قیاس دا حکم کوي چه غیر مسلم افغان چه خپل مذهبي مراسم اجراء کوي نو غیر حنفي مسلم به ولې خپل مذهبي مراسم نه اجراء کوي.

د اساسي قانون په نهمه ماده کښې د پادشاه حقوق او وظایف لکه د اردو اعلی قیادت، د حرب او متارکې اعلان، د شوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

افتتــاح او انحــلال، د قوانينــو توشــيح، د تقنينــي فرامينــو اصــدار، د صدراعظـم او وزيرانـو تعيـن او اسـتعفى قبلـول، د مشـرانو جـرگې د رئيـس او غـير انتخـابي اعضـاو تعييـن، د قـاضي القضـات او د سـترې محکمـې د اعضـاو تعييـن، د اضطـراري حـالت اعلامـول او ختمـول د مجازاتو تخفيفـول او عفـوه کـول او داسـې نـور ښودل شـوي.

دا حقـوق او وظـايف د پوهـانو او ليکوالـو پـه نظـر کـښې دوه ډولـه تعبير شـوه.

چـا وويـل اساسـي قـانون دغـه حقـوق او صلاحيتونـه پـه تشـريفاتي او سـمبوليك ډول پادشـاه تـه ورکـړي دي چـه د حکومـت پـه خـوښه تـرې کـار واخيسـتل شـي چـه دغـه مطلـب پـه دې عبـارت افـاده شـويدی: (*وظـايفی را کـه قـانون اساسـی بـه دوش پادشـاه گذاشـته اسـت يـک قسـمت آن تشـريفاتی و يـک قسـمت غـير تشـريفاتی ميباشـد ولـی همـه آن جنبـه سـمبوليک دارد.*

*در حقيقـت ايـن وظـايف را نـيز پادشـاه بمشـوره يـا پيشـنهاد حکومـت وقـت اجـراء مينمـايد ... پادشـاه فرامينـی را کـه امضـاء ميکنـد نطـق هـائيرا کـه بعمـل ميـاورد پاليسـی هائيراکـه اعـلان ميکنـد مذاکرات يـا تعينـاتی را کـه بعمـل ميـاورد و يـا فيصلـه هـای محـاکم را کـه امضـاء مينمـايد مسـول هيچکـدام آن نمـی باشـد و مسـئول همـه آن در نـزد پارلمـان حکومـت وقـت ميباشـد*) بـل چـا وويـل دا ټول حقـوق او وظـايف پـه مطلـق ډول د پادشـاه پـه اختيـار کـښې دي او حکومتونـه پکښې د مداخلـې حـق نلـري.

لومـړی نظريـه پـه ملـي مصلحـت او معقوليـت بنـاء ده او د ديموکراسۍ او مشـروطيت اصلـي او صحيـح غوښتنـه همدغـه ده.

اساسـي قـانون چـه پـه آغـاز کـښې مشـروطه شـاهي اعـلام کـړه او ملـي حـاکميت ئـې د ملـت حـق وگاڼه او بيـا ئـې مسـئوليتونه هـم د حکومـت پـه غـاړه واچـول بې لـه دې بلـه معنـی نلـري چـه پادشـاه بـه خپـل صلاحيتونـه پـه مطلـق ډول د ځان نـه گڼي، بلکـه د حکوسـت مسئوليت او خپـل عـدم مسـئوليت بـه پـه نظر کـښې نيسـي. کـه داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـه وي او هغـه ټول کارونـه پادشـاه پخپلـه خـوښه او د خپـل نظـر مطـابق اجـراء کـړي چـه د اساسـي قـانون پـه دوهـم فصـل کـښې د پادشـاه لـه عنـوان لاندې ذکـر دي نـو بيـا د ديموکراسۍ او مشروطه شـاهي مفـهوم لـه منـځه ځي او ملـي حـاکميت څه معنـی نلـري. د دوهمـې نظريـې د ترديد او د لومړۍ نظريـې د تـائيد د پـاره دا دليـل هم شـته چـه پخپلـه اساسي قـانون د دغـو حقوقـو او وظـايفو لـه جملې څخه ځينـې وظـايف د دواړو جـرگو د رئيسـانو پـه مشـورې او د يـو شـمير اعضـاو پـه غوښتنـې پـورې مربـوط کـړي دي او پـه ځينـو مـواردو کـښې ئـې د سترې محکمـې موافقـه شرط کړيده.

وگورئ! د اردو اعلـی قيـادت اساسـي قـانون پادشـاه تـه ورکـړی دی، مـگر پـه (۶۴) مـاده کـښې چـه د شـوری صلاحيتونـه ښيـي، نـو خـارج تـه د افغانستان اردو اسـتول د شوری صلاحيـت گڼل شـويدی.

همدارنـگه پـه دوهـم فصـل کـښې پادشـاه د وطـن د اسـتقلال او تمـاميت سـاتونکی گڼل شـوی، مـگر پـه (۹۴) مـاده کـښې د اسـتقلال سـاتنه او د سـاحې د تمـاميت دفـاع د حکومـت وظيفـه ده نـو کـه چـيرې د اردو د اعلـی قيـادت معنـی دا وي چـه حکومـت پـه اردو کـښې د مداخلـې حـق او څه تسـلط نلـري نـو د مملکـت اسـتقلال او تمـاميت بـه څنگه وسـاتي؟.

همدارنـگه پـه دغـه مـاده کـښې د نظـم او امـن عامـه سـاتنه د حکومـت وظيفـه ده او پـه نهمـه مـاده کـښې د مجـازاتو تخفيـف او عفـوه کـول دپادشـاه حـق دی. کـه چيرې پادشـاه خپـل دغـه حـق بـې د حکومـت لـه مشـورې او موافقـې پـه مطلـق ډول اسـتعمالوي او مجرمين بخښې حکومت بـه څنگه نظم او امـن عامـه وسـاتي؟. دلتـه بـايد دا هـم ووايـو چـه پـه اساسـي قـانون کـښې "تخفيـف او عفـو مجـازات" پـه مطلق ډول پادشـاه تـه مفـوض دي او پخـوا تـردې د اصـول اساسي پـه (۷) مـاده کـښې ليکلي و: "عفـو و تخفيـف مجـازات تعزيـری مطـابق شـرع شـريف از حقـوق جليلـه پادشـاهی شـمرده ميشـود." يعنـی هلتـه (تعزيـری) قيـد وضـع شـوی و او مجـازات پـه مطلـق ډول ذکـر نـه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یو بل قید هم وضع شوی یعني "مطابق شرع شریف" د پادشاه حقوق او وظایف چه اکثراً د حکومت په خوښه اجراء کیږي او په هغو مواردو کښې چه په شوری یا قضائیه قوې پورې ارتباط لري د دغو قوو په صوابدید عملي کیږي مسئولیت ئې هم د حکومت او نورو په غاړه لویږي چه په دغه اساس د شوری د څو تصویب شوو قوانینو (لکه د احزابو، ښاروالیو او ولایت جرګو قوانین) دنه توشیح کیدو او د دغومره ځنډیدو مسئولیت حکومتونو ته راجع دي او اجرائیه قوه د تقنینیه قوې په شمول د اساسي قانون په نه تطبیقولو او اهمالولو محکوموي، که کوم حکومت ووایي چه د قوانینو توشیح او انفاذ اعلامول د پادشاه وظیفه ده یا د پادشاه حق دی او د دې معنی دا ده چه د قوانینو ردول یا ځنډول حکومت ته څه مسئولیت نه متوجه کوي ځکه چه توشیح او انفاذ حتمي نه دی، اختیاري دی، دا استدلال صحیح نه دی او حکومت ته برائت نه ورکوي.

د قاضي القضات او د سترې محکمې د اعضاو تعیین همدارنګه د صدراعظم او د وزیرانو تعیین د مشرانو جرګې د رئیس او د غیر انتخابي اعضاو تعیین د پادشاه وظیفه یا حق دی، مګر قانوناً دانشي کیدی چه بیخي تعیین نشي یا ئې تعیین ډیر وځنډیږي او بې اجراء پاتې شي.

د اساسي قانون په "۱۸" ماده کښې د سلطنت د انتقال مسئله داسې تنظیم شویده چه که پادشاه استعفی وکړي یا وفات شي پادشاهي ئې په اتومات ډول مشر ځوی ته انتقال کوي او که هغه د پادشاهي د شرایطو فاقد وي نو دوهم ته ئم فثم انتقال کوي. که پادشاه دغه راز ځوی ونلري نو بیا ئې مشر ورور ته سلطنت انتقال کوي او چه مشر ورور د شرایطو واجد نه وي دوهم ورور ته په هماغه ترتیب نقلیږي او د زامنو او ورونو د نشتوالي په صورت کښې د اعلیحضرت شهید محمد نادر خان له پسری بازماندګانو څخه یو تن د هغه مجلس له خوا انتخابیږي چه لویه جرګه او د حکومت او سترې محکمې اعضاء پکښې راغونډ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا موضوع پـه اصـول اساسي کـښې د پنځمې مـادې پـه آخـر کـښې پـه دې ډول ده:

"... *ملـت نجيـب افغانسـتان متعـهد ميشـوند کـه سـلطنت افغانسـتان بخـاندان ايـن پادشـاه ترقيخـواه مملکـت بانتخـاب اعليحضـرت پادشـاهي و اهـالي ملت افغانسـتان انتقـال ميکنـد*" دلتـه د سـلطنت انتقـال د اعليحضـرت شـهيد پـه خـاندان کـښې بې لـه څه تعيـن او خـاص ترتيـب څخـه پـه مطلق ډول د پادشـاه او د ملـت انتخـاب تـه محـول شـوی و چـه د ملـت د انتخـاب شـکل او صـورت نـه دی توضـح شـوی.

پـه اصـول اساسـي کـښې د پادشـاه خـاندان هـم داسـې ښودل شـوی: *خـاندان عبـارت اسـت از اولاد ذکـور کبـير و بـرادر*" مـګر پـه اساسـي قـانون کـښې پـه ۲۴ مـاده کـښې دغـه کسـان پـه خـاندان کـښې شـامل دي:

(*پسـر و دخـتر و بـرادر خواهـر پادشـاه و ازواج و زوجـات و ابـناء و بنـات شـان عـم و ابنـای عـم پادشـاه خـانواده پادشـاهي را تشـکيل ميدهنـد*) پـه دغـه مـاده کـښې کـه څه هـم تـر اوښې او خوريـې پـورې د خاندان سـاحه اوږده شـويده مـګر د پادشـاه پـلار او مـور پـه دغـه جملـه کښې نـه دي يـاد شـوي خـو عقـل او قيـاس حکـم کـوي چـه والديـن بـايد لومړنـی حـق ولـري او هيـڅ دليـل نشـته چـه دوی د خـاندان پـه سـر کـښې رانشـي.

يـو بـل ټکـی چـه پـه دغـه مـاده کـښې جلب نظـر کـوي هغـه دا دی چـه وراره او وريـره، خوريـې او خـورزه، نمسـې او نمسـی ازواج او زوجـات "مذکر او مونث" يـو شـان پـه خـاندان کـښې شـامل شـويدي مـګر يـوازې د ترونو پـه برخـه کـښې د تـره څوی او د تـره لـور يـو شـان نـدي ګڼل شـوي يعنـې ابنـای عـم پـه دغـه جملـه کـښې راغلـی دی او بنـات عـم هـير شـويدی. د دغـې مـادې پـه اخـر کـښې ليکلـي دي. (*اعضـای خـانواده پادشـاهي حيثيـت خـود را بصفـت عضـو خـانواده پادشـاهي مـادام الحيـات حفظ ميکنـد*) د دې عبـارت معنـی دا ده چـه دغـه حيثيـت لکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماموريت له چانه نه سلبيږي او سلب و عزل نه قبلوي يعني د ژوند تر آخره ملګرى دى چه څوك ترينه مستعفي کيدى نشي او نه جزاءاً له چانه اخيستل کيدى شي مګر يو سوال پيدا کيږي او هغه دا دى چه د يوه پادشاه د تره څوى په هغه صورت کښي چه دپادشاه د تره څوى وي د عمر تر آخره د پادشاهي خانواده د غړي حيثيت لري مګر که يو پادشاه فرضاً مستعفي شي او څوى ئې پادشاه شي نو بيا خو دغه شخص د پادشاه د تره څوى نه دى او د سلطنت د انتقال په ورجه ښايي چه يو بل شخص د نوي پادشاه د تره څوى په صفت د پادشاهي خاندان د غړي حيثيت پيدا کړي او هغه لومړى شخص په دې وجه چه اوس د پادشاه د تره څوى نه دى دغه حيثيت له لاسه ورکړي.

دا سوال د غور وړ دى چه د حقوقپوهانو اظهار نظر غواړي او لکه د اساسي قانون ځينې نور مسايل د اختلاف نظر مجال لري.

*دريم فصل: د خلکو اساسي حقونه او وظيفي:*

په دې فصل کښي د افغانستان د خلکو حقوق او وظايف تنظيم شوي دي او په لومړي سر يعني ۲۵ ماده کښي وايي: (*تمام مردم افغانستان بدون تبعيض و امتياز در برابر قانون حقوق و وظايف مساوى دارند*) دا ماده که څه هم په مطلق او قاطع ډول د افغانستان ټولو خلکو ته په مساويانه ډول بې له تبعيض او امتياز څخه اساسي حقونه او وظيفې ورکوي چه نه پکښې کومه استثنى شته او نه تعليق يا قيد و شرط مګر وروسته تر دې مادې چه ځينې نورې مادې په نورو فصلونو کښې يا په همدغه فصل کښې ګورو معلوميږي چه دغه ورکړه بې قيد او شرطه نه ده او بايد چه نه وي.

مثلاً د همدغه فصل په ۳۲ ماده کښې د جمعيتونو تاسيس او د احزابو تشکيل د خلکو اساسي حق ګڼل شوى مګر يو څه شرايط ورته وضع شوي دي چه ځينې اشخاص بلکه تر دې وخته ئې ټول خلك محروم کړيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه دغـه مـاده کـښې وايـي د افغانســتان اتبـاع حـق لـري د قـانون د احکامو مطابق سياسي حزبونـه تشـکيل کـړي پـه دې شرط چـه حزبـي مفکوري او فعاليتونـه د اساسـي قـانون د ارزښتونـو منـاقض نـه وي او د حزب تشـکيلات او مـالي منـابع علنـي وي.

دا حق پـه دې وجـه چـه د احزابـو قـانون نـه دی نـافذ شـوی د اساسـي قـانون لـه نـافذ کيـدو نـه تراوسـه چـه اوه کالـه کيـږي هيچـا تـه نـه دی ورکړ شوی او چه د احزابو قـانون نـافذ شي نو بيـا بـه هـم هغـه کسـان لـه دغـه حق څخه محـروم وي چه افکـار او عقـايد ئـې لـه اساسـي قـانون سره مطـابقت نلري، عـلاوه پـه دې هغـه کسـان چـه عمـر ئـې لـه پنـڅه ويشتو کالو نـه کم وي هغه بـه هم لـه دغـه حقـه محـروم وي يعنـي نتيجـه بـه ئـې دا وي چـه د افغانسـتان ټول خلـك پـه دغـه اساسـي حـق کـښې مساوي نـه دي او دا بـه معقولـه هـم نـه وي چـه مسـاوي وي خـو بـايد چـه د اساسي قانون پـه **۲۵** مـاده کـښې دغسـې استثنـی يـا تعليـق تـه يـو څه اشـاره شـوي وای.

دلتـه بلـه د ملاحظـې وړ خـبره دا ده چـه حکومتونـو د افغانسـتان د خلکـو دغـه اساسـي حـق پـه دې دليـل ځو کالـه وځنـداوه چـه تـرڅو د احزابـو قـانون خپلـه نـهايي مرحلـه طـی نکـړي د احزابـو تشـکيل قـانوني جواز نلري، مـگر د اساسـي قـانون ځينـې نـور احکـام چـه پـه همدغـه فصـل کـښې درج دي او د خلکـو پـه اساسـي حقوقـو پـوري ارتبـاط او تعلـق لـري لکـه د اشـخاصو د مسـکن مصئونيـت، د ملکيـت مصئونيـت، د مخـابراتو مصئونيـت نـو هلتـه هـم لکـه د احزابـو موضـوع پـه فرعـي قوانينـو حوالـه ورکـړ شـويده چـه پـه دغـو مـواردو کـښې هـم لا قوانيـن نـدي وضـع شـوي مـگر حکومتونـه دلتـه هغـه دليـل تـه اعتنـا نـه کوي چه د احزابو په مورد کـښې ئـې معتـبر گڼي.

سـره لـه دې چـه د کورونـو تفتيـش او د ملکيـت استـملاك اساسـي قـانون فرعـي قوانينـو تـه محـول کړيـدي چـه بـايد لـه اساسـي قـانون وروسـته دغـه قوانيـن د اساسـي قـانون لـه ايجابـاتو او مقتضيـاتو سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم راوتلي وای مګر حکومتونه بې د دغو قوانينو له وجود څخه کورونه لټوي او ملکيتونه استملاك کوي.

د اساسي قانون په ۲۸ ماده کښې وايي: (*مسکن شخص از تعرض مصئون است هيچکس بشمول دولت نميتواند بدون اجازه ساکن يا حکم محکمه با صلاحيت و بغير از حالات و طرزيکه در قانون تصريح شده بمسکن کس داخل شود يا آنرا تفتيش نمايد. در موارد جرم مشهود مامور مسئول ميتواند بمسکن شخصي بدون اجازه او يا اجازه قبلي محکمه بمسئوليت خود داخل شود يا آنرا تفتيش کند. مامور مذکور مکلف است بعد از دخول يا اجراى تفتيش در خلال مدتيکه قانون تعين ميکند فيصله محکمه را حاصل نمايد*) د دې مادې په حکم بايد د کورونو تفتيش يو قانون ولري چه د کور د تفتيش حالات او طرز تصريح کړي او د مشهود جرم په صورت کښې هغه موده هم معينه کړي چه که يو مامور پخپل مسئوليت د چا کور لټوي نو بيا په معين وخت کښې د محکمې فيصله حاصلوي.

ترڅو چه دغه قانون نه وي راوتلی هيڅوك حق نلري چه د چا کور ولټوي لکه چه بې د احزابو له قانونه څوك حق نلري چه حزب جوړ کړي.

همدارنګه د اساسي قانون په ۲۹ ماده کښې ليکلي دي:

(*ملکيت از تعرض مصئون است ملکيت هيچ شخص بدون حکم قانون و فيصله محکمه با صلاحيت مصادره نميشود. استملاک ملکيت شخصي تنها بمقصد تامين منافع عامه در بدل تعويض قبلي و عادلانه بموجب احکام قانون مجاز ميباشد. هيچکس از کسب ملکيت و تصرف در آن منع نميشود مگر در حدود قانون. طرز استعمال ملکيت به منظور تامين منافع عامه توسط قانون تنظيم و رهنموني ميشود ...*) دلته هم اساسي قانون يو فرعي قانون ضرور او لازم ګڼي چه بې له هغه نه " د اشخاصو ملکيت و تصرف در آن منع نميشود" به منظور تامين منافع عامه" هماغسې چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حزبونه بې له خپل قانون څخه نشي جوړیدی دولت دچا ملکیت هم بې له دغسي قانونه چه اساسي قانون ئې په دغه مورد کښې ایجابوي اخیستی نه شي او نه ئې تصرف محدودولی شي مګر حکومت دا کار کړی او کوي ئې.

په ۳۰ ماده کښې هم د اشخاصو د مخابراتو تفتیش د صلاحیت لرونکې محکمې او د قانون په احکامو پورې مربوط او موقوف ګڼل شوی چه د قانون وضع ته ضرورت لري او بې له دغه قانونه دا کار قانوني نه دی.

## څلورم فصل (۵۱) ماده:

*«هیچ عضو شوری به علت رای یا نظریه ایکه هنگام اجرای وظیفه در داخل شوری یا خارج از آن ابراز میدارد مورد تعقیب عدلی قرار نمیگیرد.*

*هرگاه یک عضو شوری به جرمی متهم شود مامور مسئول از موضوع به جرگه ای که متهم عضو آن است[1] مذکور به اکثریت دو ثلث اعضاء اجازه بدهد متهم تحت تعقیب عدلی قرار میگیرد ... هرگاه تعقیب عدلی قانوناً توقیف را ایجاب کند مامور مسئول مکلف است موضوع را بلا فاصله باطلاع جرگه مربوط برسواقلو.صورتیکه جرگه مذکور اجازه بدهد متهم توقیف شده میتواند در صورتیکه اتهام در هنگام تعطیل جرگه صورت بگیرد اجازه توقیف از هئیت اداری جرگه حاصل میگردد. فیصله هئیت به نخستین جلسه آینده جرگه جهت اخذ تصمیم ارایه میشود)* په دغه ماده کښې دا عبارت( هنګام اجرای وظیفه در داخل شوری یا خارج از ان) د تامل وړ معلومیږي که مطلب دا وي چه د شوری غړي په هغه نظریه چه په جلسه کښې ئې د بحث په وخت کښې ښکاره کوي

---

[1] *دا عبارت د ماخذ په متن کښې همدومره دی. ښایي دلته یو څه عبارات د چاپ په رخت کښې سهوا غورزیدلي وي چه باید په دې مفهوم وي:(اطلاع بدهد و در صورتیکه جرگه») که د کوم څېړندوی سودا نه ووزي نو کیدی شي چه د نوموړي اساسي قانون متن ته مراجعه وکړي.(تولوونکی)*

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه عدلـي تعقيـب لاندې نـه راځي او د وظيفـې اجـراء همدغـه وخـت تـه ويـل کيږي نو بيا لـه شورئ نـه خارج د وظيفـې اجـراء څه معنـی لـري؟

کـه د شورئ غـړی د کـوم جـرم پـه اتـهام پـه شـورئ کـښې دننـه او دباندې يـو راز مصئونيـت لـري او د وظيفـې د اجـراء څه قيـد او شـرط پکـښې نـه وي نـو پـه اظـهار نظـر کـښې دغـه قيـد د څه د پـاره دی؟ يـو بـل ټکـی چـه پـه دې مـاده کـښې دقـت جلبـوي هغـه دا دی چـه د شـورئ غړی کـه پـه جرم متـهم شي مسئول مـامور بـه مربوطـې جـرګې تـه اطـلاع ورکـوي کـه جـرګه د دوه ثلثـو پـه اکثريت د عدلـي تعقيـب اجـازه ورکـړي عدلـي تعقيـب صـورت نيسـي او چـه عدلـي تعقيـب قانونـاً توقيـف ايجـاب کـړي مسـئول مـامور بـه بيـا جـرګې تـه اطـلاع ورکـوي او چـه جرګه اجازه ورکـړي متـهم توقيـف کيـږي.

د توقيـف پـه اجـازه کـښې اساسـي قـانون دوه ثلثـه نـه دي يـاد کـړي مګر د تعقيب په اجـازه کـښې ئـې دوه ثلثـه تعيـن کـړ دي.

دلته دا سوال پيدا کيږي چه ايا د توقيف اهميت له تعقيب نه کم دی؟.

يـا دا چـه پـه تعقيـب کـښې دوه ثلثـه ټاکـل د توقيـف پـه بـاب هـم معتبر ګڼل شوی او تکـرار تـه ئـې ضـرورت نـه دی محسـوس کـړی.

بلـه دا چـه د شـورئ د تعطيـل پـه وخـت کـښې ئـې د توقيـف اجـازه د جرګې په اداري هئيـت پـورې مربـوط ګڼلې، مګر د عدلـي تعقيـب پـه بـاب هيـڅ نـه دي ويـل شـوي يعنـې کـه د شـورئ يـو غـړی د تعطيـل پـه وخـت کـښې پـه جـرم متـهم شـي او عدلـي تعقيـب تـه ضـرورت وي نـو اساسـي قـانون پـه دغـه مـورد کـښې سـاکت دی مګر د توقيـف اجـازه ئـې د اداري هئيـت حـق ګڼلـی البتـه قياسـاً سـړی دا ويلـی شـي چـه توقيـف خـو لـه تعقيـب نـه وروسـته وي نـو چـه د توقيف اجـازه پـه اداري هئيـت اړه لـري د تعقيـب اجـازه هـم د همدغـه هئيـت کـار دی.

۶۰ مـاده:

پـه دې مـاده کـښې د دواړو جـرګو د اداري هئيـت د انتخـاب او تعيـن موضـوع تنظيـم شـوې چـه يـوه فقـره ئـې دا ده: (هئيـت اداری

(c) ketabton.com: The Digital Library

*ولسي جرگه در آغاز دوره، تقنينيه انتخاب ميشود* ) دا جمله د تعبير او توجيه په لحاظ د اولسي جرگې په دوه دورو کښې د اختلاف باعث شوه، ځينو ويل شوری د ميزان په ۲۲ مه افتتاح کيږي او د تقنينيه دورې آغاز همدغه دی چه بايد د اداري هئيت انتخاب وروسته له افتتاح او آغاز څخه وي ځکه چه که دمخه تر دې انتخاب شي نو په آغاز کښې به نه وي تر آغاز به دمخه وي.

ځينو نورو ويل د اداري هئيت انتخاب بايد له افتتاح څخه دمخه وي او کله چه شوری افتتاح کيږي بايد دواړه مجلسونه د اداري هيئتونو لرونکی او د کار د پاره آماده وي که دغسې نه وي او اداري هئيت وروسته له افتتاح او آغاز څخه انتخاب شي نو بيا دغه انتخاب په آغاز کښې نه بلکه وروسته له آغازه صورت نيسي.

د دې لامله چه دئته قبل از آغاز يا بعد از آغاز نه دي ويل شوي او در آغاز ويل شوي نو په دولسمه دوره کښې د اولسي جرگې رئيس د ميزان د ۲۲ څخه دمخه په مقدماتي غونډو کښې انتخاب شو او په ديارلسمه دوره کښې وروسته له دغې نېټې دا کار وشو.

چې د دې دوو نظريو په تائيد او ترديد کښې ډير دلايل وويل شوه او ډير بحثونه پرې وشوه.

## ۶۶ ماده:

*(اعضای ولسي جرگه ميتواند از حکومت استيضاح نمايند مباحثه در مورد توضيحی که از طرف حکومت داده ميشود به تصميم جرگه منوط ميباشد* ) دا ماده سره له دې چه ظاهراً ډير وضاحت لري او څوك به گمان نه کوي چه د اختلاف نظر مجال به پکښې وي، مگر بيا هم په ديارلسمه دوره کښې د شاغلي اعتمادي د حکومت او د اولسي جرگې ترمنځ همدغه مسئله دومره اختلافي شوه چه د سلب اعتماد خبره ئې را اوچته کړه اصل اختلاف په دې باندې و چه ولسي جرگې غوښتل چه هر وکيل به پخپل نوبت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت نـه استیضاح کـوي او حکومت بـه هغـه تـه سمدلاسـه توضیعـات ورکـړي.

حکومت ویـل هـر وکیـل دي خپلـه استضاحیه وینـا کـوي او کلـه چـه د ټولـو وکیلانـو وینـاوې خاتمـه وموميـ حکومت بـه خپـل توضیحـات ټولـو تـه یـو ځل ورکـوي او کـه دغسـې نـه وي یعنـې حکومت هـر وکیـل تـه منفـرداً توضیـح ورکـوي، نـو د استیضاح جلسـه د سـوال پـه جلسـه بدلیږي او مـاهیت ئـې تغیر خـوري.

حکومت د همدغـې مـادې پـه استناد د اولسـي جـرګې غوښتنـه لـه اساسي قـانون نـه مخالـف ګڼلـه او اولسي جـرګې خپلـه مطالبـه د همدې مـادې پـه حکـم قـانوني بللـه او حکومت ئـې د قـانون پـه مخـالفت محکوم کـاوه.

حکومت پـه دغـه مـورد کـښې داسـې استدلال کـاوه چـه پـه دې مـاده کـښې استیضیاح کـول د وکیلانـو کـار دی او توضیحـات ورکـول د حکومت وظیفـه ده نـو حکومت کولـی شـي چـه خپلـه وظیفـه څنګه چـه وغـواړي هغسـې تنظیـم او اجـراء کـړي.

دا و د حکومت استنباط چـه لـه دغـې مـادې نـه ئـې کـاوه او ولسـي جرګې صحیـح نـه ګاڼه.

۷۰ مـاده:

(*پیشـنهاد وضـع قـانون از طـرف حکومـت یـا اعضـای شـوری و در سـاحه تنظیـم امـور قضـایی از طـرف سـتره محکمـه صـورت گرفتـه میتوانـد، پیشـنهاد وضـع قـانون در مـورد بودجـه و امـور مـالی تنـها از طـرف حکومـت صـورت میگیـرد*) پـه دې مـاده کـښې چـه د قـانون د وضـع پیشـنهاد پـه مطلـق ډول حکومت او د شـوری اعضـاو تـه ورکـړ شـوی یـوازې د قضـایی چـارو د تنظیـم پـه سـاحه کـښې د قـانون وضـع د سـترې محکمـې پـه صلاحیـت کـښې هـم ګڼل شـویده مـګر د بودجـې او مـالي چـارو پـه بـاب د قـانون دوضـع پیشـنهاد یـوازې پـه حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې تخصیص موندلی دی چه شوری هم د دغسې قانون د وضع پیشنهاد نشي کولی.

د دغه مفهوم په نظر کښې نیولو سره اوس (۷۲) مادې ته راځو چه له (۷۰) مادې سره څنگه ارتباط او مطابقت پیدا کوي؟.

**۷۲ ماده:**

*(هر گاه پیشنهاد وضع قانون از طرف اعضای یکی از دو جرگه صورت بگیرد بعد از تائید ده نفر از اعضای جرگه ایکه به آن ارائه شده در فهرست کار داخل میگردد. هر گاه پیشنهاد وضع قانون حاوي تکلیف جدید یا تنقیص در عایدات دولت باشد بشرطی در فهرست کار داخل میشود که در متن پیشنهاد مدرک جبران پیش بینی شده باشد این حکم بر پیشنهاد وضع قانون از طرف ستره محکمه تطبیق نمی شود)* په دې ماده کښې قانوني مشکل دا دی چه دلته اصلاً د هغه قانون د وضع کېدو ترتیب ښودل کیږي چه د جرگې د اعضاؤ له خوا ئې پیشنهاد شوی وي چه باید د جرگې لس تنه تائید کړي او بیا د کار په فهرست کښې ونیول شي. په دې پسې دا وایې که د قانون د وضع پیشنهاد د دولت په عایداتو کښې تنقیص راولي یا په نوي تکلیف حاوي وي نو د کار په فهرست کښې په دې شرط نیول کیږي چه د پیشنهاد په متن کښې د جبران د مدرک پیشبیني شوی وي.

له دینه معلومیږي چه دا راز پیشنهاد د یوې جرگې غړی هم کولی شي چه هم ئې باید لس تنه تائید کړي او هم په پیشنهاد کښې د جبران مدرک وښودل شي.

په آخر کښې بیا وایي چه دغه حکم یعني په پیشنهاد کښې د جبران مدرك ښودل په هغه صورت کښې بیمورده دی چه د دغه قانون د وضع پیشنهاد د ستري محکمې له خوا وي.

یعني دغه راز پیشنهاد ستره محکمه هم کولی شي او په دغه صورت کښې د جبران مدرك ضرور نه دی حال دا چه په (۷۰) ماده کښې د بودجې او مالي چارو په باب د قانون د وضع پیشنهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـوازې د حکومـت مختـص حـق دی او دوه نـوري قـوي دغـه راز پيشنهاد نشـي کولی.

۷۸ مـاده:

(*لويـه جرگه مرکب است از اعضای شوری و روسای جرگه های ولايات...*) د لويې جرگې ترکيب دلتـه داسې ښودل شوی چه د ولاياتو د جرگو رئيسان پکښې اساسي اهميت لري ځکه چه په دغه ترکيب کښې د ولاياتو د جرگو رئيسان لـه دوه برخو يا دوو جزو څخه يوه برخه يا يو جزء گڼل شوی يعنې د شوری اعضاء په مجموعي ډول يو جزء گڼل شوی نو کـه دغنه جزء اصلا وجود ونلري د ترکيب مفهوم له مينځه ځي او د مرکب اطلاق پرې نشي کيدی.

د اساسي قانون د ايجاباتو او مقتضياتو لـه مخې پـه اوسنيو حالاتو او شرايطو کښې د متر قبو او غير مترقبو اوضاعو په لحاظ د لويې جرگې انعقاد يو داسې مهم ضرورت دی چه بايد په هر وخت کښې ئې د تشکيليدو امکان موجود وي. مگر د حکومتونو بلکه د دولت د عدم اعتناء په وجه کـه اوس پـه افغانستان کښې د لويې جرگې انعقاد تـه فوري ضرورت پيدا شي نو د دې لامله چه د ولاياتو جرگې وجود نلري بلکه د موجوديدو د پاره ئې قانوني زمينه نه ده مساعده شوې مونږ نشو کولی د اساسي قانون مطابق لويه جرگه جوړه کړو.

۸۴ مـاده:

(*لويـه جرگه دارای صلاحيت هایی ميباشد که درين قانون اساسی تعيين گرديده است*) د دې مادې په اساس د افغانستان هره لويه جرگه چه له اساسي قانون نـه وروسته جوړيږي همـاغومره صلاحيت لري چـه اساسي قـانون ورکړی يا پـه بل عبارت هغې لويې جرگې ورکړی چـه دغـه اساسي قـانون ئې تصويب کړيدی. دلتـه طبعا دا سوال پيدا کيږي چه د اساسي قانون لويه جرگه بايد له راتلونکو لويو جرگو نه د قانوني ماهيت او صلاحيت پـه لحاظ برتري ولري.

که داسې نه وي نو څنګه يوه لويه جرګه د نورو لويو جرګو صلاحيت محدودوي.

که مونږ له اساسي قانون نه دمخه لويه جرګه د ترکيب په لحاظ له دې لويو جرګو نه معتبره او قوي وګڼو او هغه په کوم بل نامه يا بل حيثيت لکه د موسسانو مجلس فوق العاده وبولو او دغه لويې جرګې چه اساسي قانون ئې قانوني ګڼي عادي لويې جرګې وشميرو نو بيا دا سوال مينځ ته راځي چه که کوم وخت بيا په هماغه پخواني ترتيب هماغسې لويه جرګه جوړه شي هغه به هم همدغه محدود صلاحيت لري او که د عام و تام صلاحيت خاونده به وي؟ ايا دهغسې جرګې بيا جوړيده کيدي. دلته طبعا داسوال پيدا قانوني للی شو او که نه؟(1) که چيرې د هغسې لويې جرګې جوړيده قانونا جايز نه وي او د قانوني لويو جرګو صلاحيت هم په هغه اندازه نه وي نه پوهيږم چه دا کار به څنګه تعبير شي او د عقل و منطق په لحاظ به څنګه وي.؟

که داسې فکر وکړو چه د اوسني قانون مطابق لويه جرګه عينا هماغه صلاحيت لري چه د اساسي قانون لويې جرګې درلود نو بيا څنګه کيدی شي چه هغه لويه جرګه دې د دې لويې جرګې صلاحيت محدود کړي او په ځينو مواردو کښې ئې صلاحيتونه سلب کاندي.

## ۸۶ ماده:

(*هر شخصيکه بر طبق احکام اين قانون اساسي اهليت انتخاب شدن را بعضويت ولسي جرګه دارا باشد ميتواند بحيث رئيس يا عضو حکومت تعيين شود. رئيس حکومت بايد افغان تولد شده باشد* ...) په دې ماده کښې هغه اهليت چه د وکيل کيدو د پاره په کار دی د وزير کيدو دپاره هم کافي دي يعنې هر څوک چه وکيل شي هغه وزير کيدی هم شي او څوک چه د وکيل کيدو حق نلري.

---

(1) *د (هغسې جرګې) له عبارت نه ترديږ خايه عبارات مختل دي او سمه معنا نه ښندي. ښايي چه زما په ماخذ کښې طباعتي سهوه وي.(ټولوونکی)*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وزارت حق هم نلري. د اساسي قانون په (۴۶) ماده کښې د وکالت اهليت دا دی:

۱ ـ د انتخاباتو له وخت نه دمخه ئې بايد د افغاني تابعيت لس کاله پوره شوي وي.

۲ـ د اساسي قانون له نافذ کيدو وروسته بايد د محکمي له خوا د سياسي حقوقو په محروميت محکوم نه وي( که پخوا تر دي محکوم شوی وي پروا نشته).

۳ـ لوستل او ليکل دي وکړی شي (يعني بيسواده دي نه وي).

۴ـ د انتخاب په وخت کښي دي له ۲۵ کالو نه کم نه وي.

دا دی هغه اهليت چه د وکيل کيدو او وزير کيدو د پاره په کار دی.

سربيره په دي د اساسي قانون په (۴۷) ماده کښي وايي: ( رئيس و اعضای حکومت، قضات، صاحبمنصبان و افراد اردو، مامورين و ديگر کارکنان اداری نميتوانند در هنگام تصدی وظيفه بعضويت شوری تعيين يا انتخاب شوند). د دي مادي په حکم يو قاضي، يو مامور، يو عسکر او صاحب منصب چه له خپلي وظيفي نه مستعفی نشي وکيل کيدی نشي او څوك چه په يوه حالت کښي وکيل کيدی نشي په هغه حالت کښي وزير کيدی هم نشي.

د دي حکم په موجب يو عسکري او نظامي شخص په کابينه کښي هغه وخت شامليدی شي چه د استعفی په صورت کښي خپل نظامي حيثيت ته خاتمه ورکړي او غير محارب شي يعني د کابينې ټول اعضا، بايد ملکي خلك وي چه په جزيي ډول هم نظامي رنګ ونلري

**۸۹ ماده:**

*(حکومت توسط شخصيکه از طرف پادشاه به حيث صدراعظم موظف شده تشکيل ميگردد. اعضاء و خط مشی حکومت توسط صدراعظم به ولسی جرگه معرفی می شود و جرگه پس از مباحثه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*راجع به اعتماد بر حکومت تصمیم میگیرد. در صورت صدور رای اعتماد فرمان پادشاهی راجع به تعین رئیس و اعضای حکومت صادر میگردد سپس صدراعظم خط مشی حکومت را به مشرانو جرگه معرفی مینماید)* په دې ماده کښې د حکومت د جوړېدو دپاره درې مرحلې تاکل شويدي.

لومړئ مرحله هغه ده چه يو شخص د پادشاه له خوا د کابينې په تشکيل موظف شي. دوهمه مرحله هغه چه موظف شخص د حکومت اعضاء او خط مشي ولسي جرګې ته د اعتماد د حاصلولو د پاره معرفي کړي.

دريمه مرحله ئې دا ده چه له ولسي جرګې نه د اعتماد رايه واخلي او پادشاهي فرمان صادر شي.

په لومړي او دوهمه مرحله کښې موظف شخص ته صدراعظم ويل قانوني اعتبار نلري او د موظف صدراعظم کلمه ډيره مناسبه او په ځای ده.

کوم ټکی چه په دغه ماده کښې د حکومت او د ولسي جرګې ترمنځ په دولسمه تقنينيه دوره کښې د شديد اختلاف باعث شو هغه د (اعتماد بر حکومت) ټکی و.

د حکومت نظر دا و چه اعتماد اصلا په حکومت باندې دی او حکومت صدراعظم ته منسوب دی نو په دغه اساس اعتماد په حقيقت کښې په شخص صدراعظم او خط مشي باندې وي نه په وزير يا هر وزير باندې او د دې لازمي نتيجه دا ده چه يو ځل حکومت د اعتماد رايه واخلي نو پس له هغه که څينې نوي وزيران د تغير او تبديل يا د کابينې د ترميم په صورت مينځ ته راځي بل اعتماد ته ضرورت نشته.

د ولسي جرګې نظر دا و چه اعتماد په حکومت دا معنی نلري چه اعتماد اصلا په شخص صدراعظم باندې وي او وزيران طفيلي حيثيت لري ځکه چه د حکومت تعريف پخپله اساسي قانون په (۸۵) ماده کښې په دې ډول کړيدی. *"حکومت افغانستان متشکل*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*اسـت از صدراعظـم و وزراء صدراعظـم رئیـس و وزراء اعضـای حکومـت میباشـد* " نـو هـر کلـه چـه د حکومـت اطـلاق پـوازې پـه صدراعظـم نشـي کیـدی بلکـه د وزیرانـو او صدراعظـم مجموعـي هئیت تـه حکومت ویـل کیـږي نـو کابینـه بـاید پـه کلـي او مجموعي صورت د ټولـو وزیرانـو پـه شـمول د اعتمـاد وړ وګڼل شـي.

کـه چیرې موتـړ دا ومنـو چـه د اولسـي جـرګې هغـه اعتمـاد چـه د حکومـت د تشـکیل پـه وخـت ښکـاره ګـرځـي تـر اخـره کـافي دی کیـدی شـي چـه څه مـوده وروسـته د حکومـت ټول غـړي پـه نـورو بـدل شـي او یـوازې صدراعظـم پخپـل حـال بـاقي وي نـو پـه دغـه صـورت کښې بـه اعتمـاد یـوازې پـه صدراعظـم پـورې تعلـق پیـدا کـړي او معنـا بـه یې دا وي چـه وزیران بـې اعتمـاده مقرریـدلـی شـي.

د اولسـي جـرګې پـه دلایلـو کښې یـو دلیـل دا هـم و چـه د اساسـي قـانون پـه (۹۶) مـاده کښې وایـي:

"*صدراعظـم و وزراء از سیاسـت عمومـي حکومـت مشـترکا و از وظـایف مشـخصه خـود منفـردا نـزد ولسـي جـرګه مسـئولیت دارنـد...*"

هـر کلـه چـه پـه مشـترك او انفـرادي مسـئولیت کښې د وزیـر او صدراعظم ترمنځ څه فـرق او تفـاوت نشـته پـه اعتمـاد کښې هـم وزیـران بې برخـې نشـو ګڼلـی. کـه چیرې اعتمـاد یـوازې پـه صدراعظـم بـاندې وای، د حکومـت هـر مسـئولیت بـه هـم شـخصا صدراعظـم تـه متوجـه و، نه هر وزیر تـه.

د حکومـت او ولسـي جـرګې دغـه اختـلاف کـه څه هـم پـه دولسـمه دوره کښې پـه عملـي لحـاظ بـې نتیجـې و، مـګر پـه دیارلسـمه دوره لـه یـوه وزیـر څخـه سـلب اعتمـاد پـه عمومـي مجلـس کښې مطـرح شـو او رایګیـری پـرې وشـوه یعنـې د شـورایي تعـامل پـه حیـث پـه یـوه وزیـر بـاندې د سـلب اعتمـاد مطـرح کیـدل ومنـل شـوه او پـه همدغـه وجـه یـو وزیر لـه کابینې نـه وایسـتل شـو.

پـه اساسـي قـانون کښې اعتمـاد او سـلب اعتمـاد دواړه پـه حکومـت پـورې تعلـق لـري (اعتمـاد بـر حکومـت سـلب اعتمـاد از حکومـت) چـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبارت په لحاظ څه فرق او تفاوت نلري نو که چيرې له يوه وزير څخه سلب اعتماد مطرح کيدی شي په يوه وزير باندې د اعتماد رايه هم مطرح کيدی شي.

**۱۰۱ ماده:**

(*تمام فيصله های قطعی محاکم واجب التعميل است مگر در حالت حکم به مرگ شخصی که تعميل حکم محکمه مشروط بتوشيح پادشاه ميباشد*) دلته د مرگ حق په مطلق ډول قصاصاً وي که سياستاً بې د پادشاه له توشيح څخه اجراء کيدی نشي.

په اساسي قانون کښې که څه هم د مجازاتو تخفيف او عفو د پادشاه حق گڼل شوی او په دغه اساس که په (۱۰۱) ماده کښې د توشيح قيد نه وای ايښودل شوی، هم پادشاه کولی شو چه د مرگ جزاء په حبس يا بله جزاء بدله کړي يا ئې عفو کړي.

**۱۰۵ ماده:**

(*ستره محکمه مرکب است از نه عضو که از طرف پادشاه تعيين ميشود ...*) په دې ماده کښې د سترې محکمې اعضاء نهه تنه ښودل شوي دي چه نه پوهيږو قانونگذار به په دغه عدد کښې څه ملحوظ درلوده، مگر دومره معلوميږي چه د دغه عدد تعيين اصلي او اساسي هدف دی. اساسي قانون د وزيرانو شمير يعني د کابينې اعضاء نه دي معين کړي بلکه يو قانون ته حواله کړي دي. همدارنگه د دواړو مجلسو د غړو شمير ئې نه دی ښودلی او د تشکيلاتو په تغير د زياتوالي او کموالي امکان پکښې موجود دی، مگر د سترې محکمې غړي مشخص او معين دي چه نهه تنه دي او يو هم پرې نشي زياتيدی.

څنگه چه له نهو تنو نه يو هم نه زياتيږئ دغه شان بايد له نهو تنو نه يو هم کم نه وي. په دې ماده کښې د معنی فشار د "مرکب" په کلمه باندې دی يعني اساسي قانون دا نه وايي چه ستره محکمه نهه غړي لري بلکه وايي له نهو غړو نه مرتبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که چیرې دغه محکمه نهه غړي ولري هغه ترکیب چه اساسي قانون ئې په نظر کښې لري له مینځه ځي او د عدد تعین بې اهمیته کیږي. که یوه جمله له څو کلمو نه مرکبه وي نو یوه کلمه چه ترینه لرې شي په ترکیب کښې ئې خلل یا نقصان راځي او هغه ترکیب پخپل حال نه پاتې کیږي.

پخوا رواج و چه ځینو کلاګانو به نهه برجونه لرل او (نه برجه) به ئې ورته ویلې او دا اطلاق به هاغه وخت صحیح و چه برجونه به ئې نهو څخه نه زیات و او نه کم. که فرضا یوه دوا کوم مریض ته تجویز شوې وي چه پنجه اجزاء ولري نو که په دغه دوا کښې یو یا دوه جزء موجود نه وي طبي خاصیت به ئې هغسې نه وي. که د یو شاعر له رباعي څخه یوه مصرع لرې شي نو بیا به څوك ورته رباعي نه وایي. په حقوقي لحاظ ستره محکمه د افغانستان نهایي قضایي مرجع ده چه ځینې وظایف ئې پخپله اساسي قانون معین کړي دي.

مثلا په ۳۲ ماده کښې وایي: "*حزبیکه مطابق با حکام قانون تشکیل می یابد بدون موجبات قانونی و حکم ستره محکمه منحل نمی شود*" نو که په یوه حزب باندې د انحلال حکم د سترې محکمې له خوا کیږي چه اعضا یې پوره نه وي بنایي چه دغه حکم په قانوني او حقوقي لحاظ د چا د قناعت وړ نه وي.

په همدغه ماده کښې وایي: "*پادشاه میتواند بر تعیین قاضی القضات و اعضای ستره محکمه بعد از مرور هر ده سال تجدید نظر نماید. با رعایت این حکم و حکم ماده یکصدوششم قاضی القضات و اعضای ستره محکمه بهیچوسیله دیگر از وظیفه شان برطرف نمیشوند...*" د سترې محکمې قاضیان چه یو ځل تعین شي نو بیا تر لسو کالو له وظیفې څخه نه منفك کیږي او پادشاه هم وروسته له لسو کالو دغه کار کولې شي. دا ځکه د سترې محکمې غړو ته همدغه راز اطمینان په کار دی چه په خپل حکم کښې له هیڅ راز تاثیر لاندې رانشي او د عزل خطر ئې تهدید نه کاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاوه په دغه مصنونیت اساسي قانون د ستري محکمې د اعضاوو ټول ژوند په دې ډول تامین کړی دی چه وروسته له لسو کالو نه هم که پخپل کور کښې ناست وي او هیڅ نه کوي نو تر څو ژوندی وي خپل معاش به پوره واخلي او د عضویت د وخت ټول امتیازات به ئې تر اخره محفوظ وي چه دغه راز امتیازات اساسي قانون بل چاته نه دي ورکړي.

دا تامینات او تضمینات د دې د پاره دي چه دغه قاضیان د نورو ناجایزو استفادو په فکر کښې نه وي او احتیاج او ضرورت ئې سوء استفادې ته مجبور نکړي.

د دغو قانوني او حقوقي امتیازاتو په مقابل کښې دوی له ځینو اساسي او سیاسي حقوقو څخه محروم کړی شوي هم دي.

مثلا دوی نشي کولی د وظیفې په وخت کښې یا وروسته تر وظیفې په سیاسي احزابو کښې شامل شي. همدارنګه وروسته د قضاء له لس کلنې دورې څخه هم د ستري محکمې غړي مامور کیدلی، وزیر کیدلی او د شوری غړی کیدلی نشي.

دا د دې د پاره چه که دستري محکمې غړو ته دا لاره وروسته تر وظیفې خلاصې وي کیدی شي چه په وظیفه کښې د کوم حزب او جمعیت یا د کوم شخص په ګټه منحرف شي او د اینده وعدو په اثر عدالت له پښو لاندې کړي.

دلته بنایي څوك ووایي چه اساسي قانون خو په (۲۶) ماده کښې چه د شوری د غړیتوب شرایط بیانوي د ستري محکمې عضویت وروسته تر وظیفې د شوری د غړیتوب مانع نه ګڼي بلکه وایي"... *بعد از انفاذ این قانون اساسی از طرف محکمه بحرمان از حقوق سیاسی محکوم نشده باشند*" او اوس چه په (۱۰۵) ماده کښې د ستري محکمې غړي وروسته تر وظیفې له دغه حق څخه محرومول دغه حرمان خو د محکمې له خوا څخه نه دی او له هغې مادې سره تصادم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه چـیرې د اساسـي قـانون منظـور دا و چـه د سـترې محکمـې اعضـاء وروسته تـر وظیفـې هـم د شـورئ غړیتـوب نشـي کولـی نـو لکـه چـه پـه (۴۷) مـاده ویلـي دي چـه قاضیـان، مـاموران، وزیـران او عسکري صـاحب منصبـان د وظیفـې د تصدئ پـه وخت کـښې د شـورئ پـه عضویت نـه ټاکـل کیـږي دا بـه ئـې هـم ویلـي و چـه د سـترې محکمـې غړي د تصدئ پـه وخـت کـښې او پـس لـه هغـه هـم وکیـل کیـدی یـا سناتور کیـدی نشـي.

بنایـي د دې خـبرې ځواب دا وي چـه اساسـي قـانون کـه څه هـم د ځینـو اساسـي یـا سیاسـي حقوقـو حرمـان د محکمـې پـه حکـم پـورې مربوط کړیدي مګر پـه ځینـو مـواردو کـښې ئـې پخپلـه هـم دا کـار کـړی او قـانون کولـی شـي چـه ځینـې حقـوق لـه چانـه سـلب کـړي مـګر دا چـه د شـورئ د غړیتـوب اهلیـت او اوصـاف بیانیـږي او د دغـه حـق د محدودولـو شـرایط او قیـود ښودل کیـږي د سـترې محکمـې اعضـاو تـه څه اشـاره نـه ده شـوې لکـه چـه نـورو قاضیـانو تـه شـویده دا بـه د اصـول الفقـه او د ادبـي او کلامـي احکـامو پـه لحاظ د تـامل وړ خـبره وي.

هغـه ځوك چـه د سـترې محکمـې غړیتـوب قبلـوي هغـه پـه دې پوهیـږي چـه اساسـي قـانون ده تـه څه امتیـازات ورکـړي او څه ئـې ترینـه سـلب کړیدي نـو پخپلـه د دغـې وظیفـې قبـول د یـوه قـرارداد پـه حیـث یوه قـانوني معاملـه ده چـه د معـاوضې او مبـادلې مفـهوم پیـدا کـوي.

د سـترې محکمـې د اعضـاو پـه مـورد کـښې چـه کومـه مسـئله د اختـلاف بـاعث شـوه هغـه د استعفی موضـوع ده چـه د اولسـي جـرګې د تقنیـن پـه انجمـن کـښې د قضـایي تشـکیلاتو او صلاحیتونـو د قـانون پـه مطالعه کـښې مینـځ تـه راغلـه او ډیر جنجالونـه پـرې پیـښ شـو.

ځینـو وویـل: اساسـي قـانون د سـترې محکمـې د اعضـاو د اسـتعفی پـه بـاب هیـڅ نـه دي ویلـي او دغـه لاره ئـې د دوی پـه مـخ نـه ده تړلـې نـو کـه چـیرې یـو قـاضي د داسـې مریضئ پـه وجـه لـه وظیفـې نـه اسـتعفی کـوي چـه د وظیفـې د اجراء امیـد ورتـه نـه وي پـاتې یـا پـه کـوم بـل علـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه غواړي چه لس کاله په ستره محکمه کښې پاتې شي هغه باید لکه محبوس ونه ساتل شي او د استعفی حق ترینه سلب نشي.

ځینو نور وویل: اساسي قانون د ستري محکمې د اعضاو د کناره کیدو ټولې لارې ترلي دي او په دغه مورد کښې ئې دوه لارې خلاصې پریښي دي. یو دا چه پاچا لس کاله وروسته په دوی تجدید نظر کولی شي او کیدی شي چه په عوض ئې نور اشخاص تعین شي یعني د لسو کالو په موده کښې ئې پادشاه هم نشي برطرف کولي.

بل دا چه د اولسي جرګې له خواپه وظیفوي جرم متهم شي او دوه ثلثه اعضاء ئې د محاکمه کیدو تقاضا تائید کړي.

غیر له دغو دوو صورتو اساسي قانون په صراحت وایي "*قاضی القضات و اعضای ستره محکمه بهیچوجه دیگر از وظیفه شان برطرف نمی شوند*" اوس به وګورو چه غیر له دغو دوو صورتونو څخه د برطرف کیدو بله کومه وسیله متصوره ده چه اساسي قانون ئې نفي کړي. طبیعي او غیر اختیاري حوادث خو مستثنی دي یعني مړینه په دغه جمله کښې نه راځي او بې له استعفی نه د برطرف کیدو او کناره کیدو د پاره بله کومه وسیله نشته چه د اساسي قانون دغه حکم ورته متوجه شي او که فرضا بله وسیله هم وي نو اساسي قانون خو وایي (*بهیچوجه دیگر از وظیفه شان برطرف نمی شوند*) چه استعفی هم د برطرف کیدو د وسیلې په حیث له دغه حکم لاندې راځي.

ځیني ګمان کوي چه برطرف کیدل په لغوي یا اصطلاحي لحاظ باید حتما د بل چا له خوا وي یعني پخپله څوك ځان نه برطرف کوي او په دغه اساس استعفی د برطرف کیدو وسیله نشو بللی.

هغه بل جانب د دوی په جواب کښې وایي اول خو برطرف کیدل داسې یوه کلمه ده لکه کناره کیدل چه یو موظف شخص کولی شي. د استعفی په وړاندې کولو له وظیفې نه کناره شي او ځان پخپله برطرف کاندي، یعنې د برطرف کلمې سره که کول یوځای شي برطرفي د بل چا له خوا وي او که کیدل ورسره یوځای شي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برطرفـي د خان لـه خـوا وي چـه پـه دري ژبـه كـېنبې برطـرف كـردن او برطرف شدن همدغـه معنـى لـري.

كـه فرضـا (برطـرف نميشـوند) قـانوني مفـهوم همدغـه وي لكـه چـه دوى گمـان كوي او استعفى پـه دغـه مفـهوم كـېنبې نـه وي شـامله نـو بيـا دا مشـكل مينـځ تـه راځي چـه غـير لـه عـزل، محـاكمې او استـعفى نـه بلـه كومـه وسيله د برطـرف كيـدو د پـاره شـته چـه اساسـي قـانون ئـې نفي كـوي.

عــلاوه پــه دې كــه بــالفرض اساســي قــانون د ســترې محكمــې د اعضـاو د اسـتعفى پـه بـاب سـاكت وي او پـه دغـه مـورد كـېنبې صراحـت نـه وي موجـود نـو بيـا د اساسـي قـانون منظـور او روحيـه پـه نظر كـېنبې نيـول پـه كـار دي.

سـړى بـايد فكـر وكـړي چـه اساسـي قـانون د څه د پـاره د سـترې محكمـې اعضـاو تـه ځينـې امتيـازات وركـړي او ځينـې اساسـي او سياسي حقوق ئـې ترينه سـلب كـړه؟

ولـې د سترې محكمـې غـړي وروسـته تـر دې چـه لـس كلنـه دوره ئـې تيره شي او د سـترې محكمـې عضويـت هـم لـه لاسـه وركـړي پـه سياسـي احزابـو كـېنبې شـامليدى نشـي، صدراعظـم يـا وزيـر كيـدى نشـي او د شورى غړيتـوب نشـي حـاصلولى.

ځكـه چـه كـه دغـه لارې ده تـه خلاصـې وي كيـدى شـي چـه پـه دغـه اميـد د كـوم جزب د كومـې كـابينې يـا د كـوم شـخص پـه گټه پـه وظيفـه كـېنبې د انحـراف مرتكـب شـي او د دغسـې مقـاصدو دپـاره د قضـا مقدسـه وظيفـه متضـرره شي نـو كـه چـيرې دغـه قـاضي تـه تـر هغـه وختـه چـه لـس كالـه ئـې پـوره نـه وي د استعفى لاره خلاصـه وي او وروسـته لـه استـعفى نـه د صـدارت، وزارت، وكـالت، مـاموريت او حزبـې فعـاليت امكـان موجـود وي د سـترې محكمـې قـاضي كولـى شـي چـه څو كالـه د قضـا وظيفـه د ځينـو سياسـي او اداري اغراضـو او ملاحظـاتو لـه تـاثير لانـدې د چـا پـه اشـاره اجـراء كـړي او بيـا پـه اتـم، نـهم يالسـم كـال

(c) ketabton.com: The Digital Library

أستعفى وکړي او کومه بله لوړه څوکۍ ونيسي يعنې قضايي وظيفه اصلي ونه ګڼي بلکه د نورو چارو وسيله ئې وبولي.

په دغه صورت کښې د اساسي قانون غرض او غايه له مينځه ځي او معنا د قضائيه قوي استقلال له سقوط سره مواجه کيږي.

د دې دپاره چه د اساسي قانون اصلي منظور او روحيه وساتله شي بايد د استعفى لاره تړلې وي يا اقلا وروسته له استعفى نه هم دغه راز کارونه ونکړی شي يعنې استعفى بايد د بل رسمي کار او د دغو مقاصدو د پاره نه وي بلکه رسمياتو سره رښتياني وداع او کنارګي وي چه بې له صحت ساتنې او ذهني او روحي فراغت څخه بل منظور ونلري.

۱۰۷ ماده:

(*ستره محکمه مرجع نهايى قضايى افغانستان است*...) د دې حکم په اساس ستره محکمه چه قانونا له نهه تنو نه کمه او زياته نه وي يعنې يو قاضي القضات او اته غړي پکښې حتمي دي يوه محکمه ده چه له دې نه پورته بله محکمه نشته او نهايي محکمه همدغه ده.

د دې محکمې ټول غړي د قاضي القضات په شمول د يوې نهايي محکمې حيثيت لري چه دغه مجموعي حيثيت قانونا تجزيه او انفکاك نه قبلوي.

که چيرې د سترې محکمې غړي په خو قضايي ديوانونو وويشل شي چه هر يو په يوه ديوان کښې د رئيس په حيث څو نور غړي ولري چه هغه د سترې محکمې غړي نه وي نو دغه هره يوه قضايي څانګه د سترې محکمې صلاحيت او حيثيت نلري او حکم ئې هم نهايي نه ګڼل کيږي ځکه چه دغه تقسيم او تجزيه د اساسي قانون له نص او روح سره توافق نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستره محکمه د محاکمو په تشکیل او د قاضیانو په تعیین کښې د صلاحیت خاونده ده او حق لري چه محکمې زیاتې او کمې کړي یا یکښې تنوع راولي په دې شرط چه د سترې محکمې هویت او ماهیت د اساسي قانون مطابق او مجموعي ډول د یوې نهایي محکمې په حیث په ځینو قضایاو کښې خپلې فیصلې صادرې کړي.

۱۲۰ ماده:

(*اصل پیروی از اساسات اسلام، اساس پادشاهی مشروطه مطابق به احکام این قانون اساسی و ارزشهای مندرج ماده هشتم تعدیل نمی شود. تعدیل دیگر محتویات قانون اساسی به پیشنهاد مجلس وزراء، یک ثلث از اعضای ولسي جرگه یا مشرانو جرگه مطابق به احکام این فصل صورت میگردد.*) په دې ماده کښې درې اصله یعنې د اسلام د اساساتو پیروي، د مشروطه پادشاهۍ اساس او دا چه پاچا باید د افغانستان تبعه، مسلمان او حنفي مذهب وي غیر قابل تعدیل ګڼل شوي او د اساسي قانون نور ټول محتویات تعدیل قبلوونکي ښودل شوي.

په حقوقي او قانوني لحاظ که یوه لویه جرګه دا حق ولري چه ځینې اساسات او اصول لایتغیر وګڼي او نورو لویو جرګو ته ئې د تعدیل حق ورنکړي نو باید له دغو درې اصلو سره د افغانستان وحدت، تمامیت او استقلال هم غیر قابل تعدیل ښودل شوی وای.

د اساسي قانون هغه محتویات چه قابل تعدیل ګڼل شویدي په عملي صورت نې تعدیل ډیر مشکل شوی او په حقیقت کښې ټول اساسي قانون له تعدیل څخه دایمي مصونیت پیدا کړی چه دغه اشکال او مخنیوی په (۱۲۱-۱۲۲) موادو کښې په دې ډول تامین شویدي.

د تعدیل پیشنهاد به لویه جرګه مطالعه کوي او چه د مجلس اکثریت د تعدیل ضرورت تصویب کړي او خپلو اعضاو څخه به یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هئیت د تعدیل د طرح تهیه کولو ته تعینوي. دا هئیت به د وزیرانو د مجلس او د ستري محکمې په مشوره دغه طرحه تهیه کوي او لویې جرګې ته به نې وړاندې کوي که لویه جرګه د تعدیل طرح په اکثریت تصویب کړي طرح پادشاه ته وړاندې کیږي. پادشاه شورى منحل کوي او د تعدیل طرح د عامه اطلاع د پاره خپروي او د نورو انتخاباتو نیټه اعلاموي چه په څلورو میاشتو کښې نوی شورى مینځ ته راشي او نوی حکومت جوړ شي. پادشاه به لویه جرګه بیا دایروي او دغه دوهمه لویه جرګه به د دوه ثلثو په اکثریت یا د تعدیل طرح قبلوي یا به ئې ردوي.

وګوری! د تعدیل مسئله څومره غوټې لري او څومره بندیزونه ئې په مخکښې دي یوه شورى او یو حکومت باید له مینځه لاړ شي او دوه لویې جرګې باید درې تصویبه د یوې مادې د تعدیل د پاره وکړي.

که بالفرض لومړۍ لویه جرګه د تعدیل ضرورت او د تعدیل طرح تصویب کړي او دوهمه لویه جرګه ئې رد کړي یا ئې په دوه ثلثه نه بلکې په نسبتي اکثریت تصویب کاندي. د اساسي قانون په فحوا تعدیل نشي راتلی او اصل په خپل حال پاتې کیږي. دلته دا سوال مینځ ته راځي چه وروستۍ لویه جرګه په لومړۍ جرګه څه تفرق لري چه د دوی درد په صورت کښې د لومړۍ لویې جرګې دوه تصویبه له مینځه ځي او هیڅ اهمیت نه ورکول کیږي.

ښایي دلته وویل شي چه د تعدیل طرح چه د عامه د اطلاع د پاره نشر شي خلك د همدغه کار د پاره خپل نمایندګان انتخابوي چه په دغه باب کښې د انتخابوونکو فکر او نظر انتخابیدونکو ته ښه معلومیدی شي او د ملت اراده ښه تمثیلیږي.

که منظور همدغه وي دا خو په دې صورت هم تامینیدلی شي چه د تعدیل طرح پخوا له دینه چه لویه جرګه ئې تصویب کړي د خلکو داطلاع د پاره خپره شي او د ملت نمایندګان ئې انعکاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

خانته معلوم کړي او بیا د لویې جرګې په یوه تصویب د اساسي قانون عادي تعدیلات امکان پیدا کړي.

که سړی په دې عقیده وي چه د اساسي قانون نور محتویات او هغه حقوق چه خلکو ته د دیموکراسۍ او ملي حاکمیت په اساس ورکړ شویدي تر ډیرو وختونو کافي او کاملاً د قناعت وړ دي نو بیا به د تعدیل دغه راز مخنیوی د اعتراض وړ نه وي.

که داسې نه وي او زمونږ جامعه د فکري تحول او اجتماعي پیشرفت په حال کښې وي نو باید د خلکو د غوښتنو او د انکشافاتو مطابق په اساسي قانون کښې د تعدیلاتو مجال موجود وای.

د اساسي قانون دوام او بقاء لکه چه ثبات او مقاومت ته ضرورت لري د تکامل د پاره ئې هم باید لازه خلاصه وي چه د جمود په حال کښې پاتې نشي او د عصر مقتضیاتو سره وخت په وخت توافق وکړی شي.

*افغان جریده، لومړی کال اوومه ګڼه.*
*د ۱۳۵۰ د تلې ۱۲ مه*
*د ۱۹۷۱ د اکتوبر ۴ مه*
*نهمه ګڼه*
*د ۱۳۵۰ د تلې ۲۶ مه*
*د ۱۹۷۱ د اکتوبر ۱۸ مه*
*اولسمه ګڼه*
*د ۱۳۵۰ د لړم ۳ مه*
*د ۱۹۷۱ د اکتوبر ۲۵ مه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هنر کجدار و مریز

شاغلی باریک بین مرد هوشیاری بود که از هوشیاری زیاد به احتیاط زیاد گرائید و از برکت همین احتیاط به معتبری فوق العاده رسید.

دانش و بینشی که در آغوش احتیاط پرورش یابد شهامت را از خود بدور می افگند و به آستان بوسی سیاست و اقتدار به زانو در می آید.

اینچنین دانش را ارباب قدرت برای استخدام می پذیرند و به درگاه راه می دهند. آقای باریک بین از خیرات سر دانش فرمانبر خویش و جاهتی کسب نمود و مقبول همه گردید.

مردم بسخن او گوش میدادند و اندرز او را می پذیرفتند. هنر کجدار و مریز و مهارت دو تر بوز بیک دست گرفتن کار و شعار او بود و مردم فن محافظه کاری را از این استاد زبردست می آموختند.

تطبیق دیموکراسی که شغل نوین ماست اقلاً مهارت دو تربوز بیک دست گرفتن را تقاضا دارد و مداریگری کجدار و مریز می خواهد.

کسیکه دو تربوز را بیک دست گرفته نتواند چگونه خواهد توانست که دیموکراسی و دکتاتوری را بیک کرسی بنشاند و محافظه کاری را رنگ ابتکاری دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیـائید! بـرای حـل ایـن مشـکل چـون اقـای بـاریک بیـن شـخصی دانشـمندی را دریـابیم کـه دیموکراسـی را بفرزنـدی دکتـاتوری در اورد.

تطبیـق دیموکراسـی و عدالـت اجتمـاعی تقاضـا دارد جـهاد ملـی را اعـلان نمـائیم و ایـن جـهاد بـاید طـوری باشـد کـه صـدای فـیر هـا گوش ها را کرنسـازد واحـدی جریحـه دار نشـود.

فیرهائیکه بی خطر و بـی صـدا باشـد.

جهاد ملی ایکه هیچکس در ان شـهید نشـود و همـه غـازی شوند.

هـر گاه توانسـتیم اینچنیـن جـهاد را اغـاز نمـائیم معنـی انتقـاد سـالم را بـه راسـتی و درسـتی درک نمـوده ایـم و بمفـهوم دیموکراسـی سالم پی برده ایم.

مـا باید جهاد ملی را بافضای سـالم یکجـا بوجـود اوریـم.

فضائیکـه در ان تضـاد هـای اشـتی نـاپذیـر بـه زیسـت بـاهمی و احـترام متقـابل گراینـد و خیـانت و صداقـت، جنـگ و صلـح، ظلـم و عدل حقوق مسـاوی داشـته باشـند.

تقاضـای احتیـاط و محافظـه کـاری همیـن اسـت و صلـح و سـلام گیتـی بـه همیـن اسـاس اسـتوار اسـت.

ایجابـات محیـط و مقتضیـات عصـر حکـم میکنـد کـه قـانون شـکنی را بقـانون سـازی جبـیره و تلافـی نمـائیم و فاصلـه ئیکـه بیـن قانون و بی قـانونی موجـود اسـت از بیـن برداریـم.

اینست دانـش و هوشداری‌ء مـا کـه بـا موقـع شناسـی و مقـام پرسـتی تعلـق اساسـی دارد و عجـوزهء سیاسـت را عـروس هـزار دامـاد میسـازد.[1]

---

[1] افغان جریده، سال اول، شماره‌ء هشتم
۱۹ میزان ۱۳۵۰
۱۱ اکتوبر ۱۹۷۱

این اثر بنام مستعار (نواو) نشر شده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رشوت څنګه ورکیږي؟

ورکول د (نابود ساختن) او (ګم کردن) په معنی او (ورکول) د ورکړې او عطاء په معنی خطي تجنیس لري. یعنې دواړه مصدره یو شان لیکل کیږي مګر په تلفظ کښې یو راز نه دي.

هغه چه رشوت ورکوي او هغه چه چاته رشوت ورکوي ډیر فرق لري. ورکول د لومړي حرف په سکون دوه معنی لري یو محوه کول او له مینځه وړل بل د مفقودۍ په وجه یو شی له لاسه ورکول.

که یو ووایي زما د سترګو دید ورك شو او بل ووایي زما دسترګو عینکې ورکې شوې دا ورکیدل یوه معنی لري او هغه ورکیدل بله معنی لري.

یوه شي ته بل رنګ ورکول او یو شی چاته په نورو شیانو کښې پټول هم ورکول ګڼلی شو لکه پل ورکول.

رشوت ورکول یا قاچاق ورکول چه هر حکومت ئې پخپله خط مشي کښې خلکو ته وعده ورکوي ډیر اقسام لري چه ځینې ئې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو تاجر یو مقتدر شخص ته ډیر زیات مال په ډیرو لږو پیسو راوړي یا تاجران په تجارتي معاملو کښې حاکمه طبقه له ځان سره شریکه کړي او رشوت ته د تجارت رنګ ورکړي دا هم رشوت ورکول اورشوت ورکول دي یعنې دلته دواړه مصدرونه یو کیږئ او یوه معنی پیدا کوي، ځکه چه هم رشوت په تجارت کښې ورك شو او هم د تجارت په نامه ورکړ شو.

وایي چه یوه لوی سړي له خپلې عملي او فعلي سره په یوه هوټل کښې ډیر څه وخواړه چه حساب ئې خدای ته معلوم دی مګر په بل کښې ډیر لږ څه لیکلي وُ چه دغه راز ارزاني چا په خوب کښې هم نه وه لیدلې.

وګورئ! دلته رشوت په ارزان فروشي کښې ورك شو او هیچا رشوت ونه ګاڼه، که څوك په یوه شپه له ځانه پورته سړي ته لس لکه افغانۍ په قمار کښې قصدا بایلي دا هم رشوت ورکول دي ځکه چه رشوت په قمار کښې ورك شو.

هغه څوك چه د قاچاقي لاجوردو صندوقونه ونیسي او سبا ته پکښې د لاجوردو په ځای د بیابان عادي تیږي پرتې وي دا هم قاچاق ورکول یا ورکیدل ګڼلی شوو.

که چیرې د ډیرو خاینانو دوسیې له دفتر او دیوان څخه ورکې شي یا ئې په دارالامان کښې په اوروسیزي دلته هم خیانت ورکیږي او خاین هم.

اوس نو تاسې انصافا ووایاست چه په دې هیواد کښې رشوت، قاچاق او خیانت څومره ورك شویدی او حکومتونه په دې باب څومره موفق دي؟[1]

---

[1] افغان جریده. لومړی کال. یولسمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د لړم ۱۰ مه
د ۱۹۷۱ د نومبر لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرسش و پاسخ

س ـ کدام کار است که در اجرای آن کور از بینا موفق است؟
ج ـ اطاعت کور کورانه.
س ـ چیست که هیچگاه سالم نیست؟
ج ـ انتقاد.
س ـ چیست که باید آنرا هیچگاه نه بینیم و از نظر اندازیم؟
ج ـ خیانت.
س ـ ناشکن چیست؟
ج ـ قوانین پلاستیکی.
س ـ ازدواج خوب کدامست؟
ج ـ که لیاقت جوان با دوشیزه، واسطه یکجا شود.
س ـ فرق بین کار قانونی و غیر قانونی چیست؟
ج ـ فرقیکه بین نکاح و زنا موجود است.
س ـ عدالت و انصاف چیست؟
ج ـ حصه بقدر جثه.
س ـ شهرت چگونه بدست می آید؟
ج ـ از آن وکیل محترم بپرس که در هفته سه شب نام نامی او را از کابل رادیو میشنویم.[1]

---

[1] افغان جریده، سال اول، شماره، ۱۴
۸ قوس ۱۳۵۰
۲۹ نومبر ۱۹۷۱
این اثر به نام مستعار (نونویس) نشر شده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کابینه

لکه چه یو شخص سر، لاس، پښې او نور اعضاء لري هم دغه راز سراو صورت لري.

د کابینې په راس کښې چه څوك واقع وي هغه د سر په شان وي او وزیران د اعضاوو مثال لري. ځکه چه د یوه شخص د وجود په ساختمان کښې د اعضاوو تناسب ډیر مهم دی، په کابینه کښې هم عضوي تناسب ډیر اهمیت لري.

هماغسې چه د یوه وجود غټ سر او کوچنۍ اندامونه یا بالعکس کوچنی سر او غټ اندامونه غیر طبیعي معلومیږي، د یوې کابینې په رئیس او غړو کښې هم باید غیر طبیعي غټوالی او کوچنیتوب موجود نه وي.

که صدراعظم ډیر غټ او مقتدر شخص وي او اعضاء ئې ډیر ضعیف او کوچنی وي له هغه بلستي سړي سره شباهت لري، چه سر ئې د غټ سړي او اندامونه ئې د کوچني هلك وي. که بالعکس صدراعظم ضعیف او وړوکی وي مګر اعضاء ئې تر ده مقتدر او قوي اشخاص وي، نو هغه لوی سړي ته به ورته وي چه سر ئې کوچنی او نور وجود ئې ډیر غټ وي. لکه چه کله کله ئې د ترجمان جریده د "خمیر خان" په نامه تمثیلوي.

خدای دې وکړي چه زموږ کابینه د رئیس او اعضاوو په لحاظ متناسب ساختمان ولري او د شخصي اقتدار یا د اریستوکراتۍ په وجه ځیني ډیر غټ او ځیني ډیر واړه نه وي یا پکښې سکه او ناسکه نه وي پیدا شوی.[1]

---

[1] افغان جریده. لومړی کال. پنځلسمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د لیندۍ ۱۵ مه
د ۱۹۷۱ د دسمبر ۶مه
دا لیکنه د (محرر) په مستعار نوم خپره شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شنډه ديموکراسي

يو ځلمی ډېر خوشحالېږي چه يوه ښکلې پېغله په نکاح کړي يعنې د تجريد له حالته واوزي، اهل و عيال پيدا کړي، د کور خاوند شي او کورنۍ تشکيل کاندي، مګر کله چه ناوې کور ته راولې او يو دوه کاله تېر شي نه د ځوی پلار شي او نه د لور نو يوه لويه مايوسي ورته پيدا شي. له ښځې نه ئې زړه تور شي او ځان ورته بې بنياده ښکاره شي.

په دې هم نه پوهېږي چه دی شنډ دی که ښځه، ځکه د بل واده په فکر کېښې شي او په بلې ښځې پسې ګرځي.

زمونږ ځوانان او ځلميان هم ديموکراسۍ ته ډېر خوشحاليدل، دوی ګمان کاوه چه له دينه به حزبونه او سياسي فعاليتونه وزيري او ملي حاکميت به د حزبي اکثريت له لارې تامين شي، مګر ديموکراسي شنډه وختله او د هيڅ مور نشوه.

دا نه ده معلومه چه اصلي نقص په چا کېښې دی او چيرته دی؟ کابينه شنډه ده که شوری؟ چه ديموکراسي څه نه زيږوي.[1]

---

[1] افغان جريده. لومړی کال، شپاړسمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د ليندۍ ۲۲ مه
د ۱۹۷۱ د دسمبر ۱۳ مه
دا اثر د (محرر) په مستعار نوم خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانوني اصل

د دې لامله چه اتفاق نظر یوازې په دکتاتوري او استبدادي حکومتونو کښې خپله کاذبانه څېره ښيئ او په دیموکراتیك نظام کښې د فکر توافق ډېر نادر او نایابه وي. نو قوانینو د ضرورت په وجه د شورایي فیصلو او تصویبونو د پاره اکثریت معتبر وګاڼه او د یوه قانوني اصل په حیث د اکثریت نظر حکماً د ټولو نظر وګڼل شو.

زمونږ اساسي قانون د شورا او د لویې جرګې فیصلې عموماً په ساده اکثریت (یعنې له نیم نه زیاد) قانوني وبللې او په ځینو مهمو مسایلو کښې ئې دوه ثلثه د قاطع اکثریت په حیث معتبر وګاڼه.

د اولسي جرګې د مجلس نصاب هم په اصول وظایف داخلي کښې دوه ثلثه دي، د دې جرګې ټول اعضاء د اوسني تشکیل په اساس (۲۱۶) تنه دي چه دوه ثلثه ئې (۱۴۴) تنه کیږي که دغه دوه ثلثه اعضاء په مجلس کښې حاضر وي، مجلس قانوناً افتتاح کیږي او دغه مجلس عیناً هماغه حکم لري لکه چه ټول وکیلان حاضر او ناظر وي.

د مشرانو جرګې چه د اساسي قانون له مخې ئې یو ثلث په انتصابي ډول د پادشاه له خوا تعیینیږي، یو ثلث ئې د ولایاتو د جرګو له خوا انتخابیږي او یو ثلث ئې د د ولایاتو اوسیدونکي د آزاد، عموم سرېي او مستقیم انتخاب له لارې انتخابوي. له درې مساوي اجزاو څخه مرکبه ده چه که هر جزء ئې کم شي دغه مثلث شکل له مینځه ځي.

زمونږ شورې په دغو دوو تقیننیي دورو کښې یعنې په دولسمه او دیارلسمه دوره کښې دا توفیق ونه موند چه کامله مشرانو جرګه پخپل اصل شکل د اولسي جرګې په څنګ کښې ولري، بلکه یوازې په دې ئې اکتفاء وکړه چه دوه ثلثه ئې کلاً یا قسماً موجود وي او په یوه ثلث سترګې پټې کړي یعنې جمع په تثنیه بدله شي. بنایي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه مورد کښېږ داسې فکـر شـوی وي. چـه دوه ثلثـه قانونـاً د کـل جکـم لـري او دريم ثلث تـه څه ضـرورت نشـته.

همدارنـګه سـتره محکمـه د اساسـي قـانون پـه صراحـت لـه نـهو غـړو څخـه مرکبـه ده مـګر دا څو کالـه چـه ګورو لـه شـپږو تنـو څخـه متشـکله ده او لـه يـو څه مـودې راهيسـې څـو د يـوه مرحـوم او مفغـور غـړي د وفات په وجه پنځه غړي لـري او بـس.

شـپږ تنـه هـم د نـهو تنـو دوه ثلثـه کيـږي او بنايـي چـه دلتـه هـم دوه ثلثـه قانونـاً کـافي ګڼل شـوی وي.

پـه دغـه اساس بنايي قياساً داسې فکـر وشي يـا شـوی وي چـه د اساسـي قـانون پـه (۱۲۸) مـادو کښېږ کـه (۸۵) مـادې ومنـو او عملـي ئـې کـړو نـو پـه حقيقـت کښېږ بـه مـو ټول اساسـي قـانون منلـی او عملـي کـړی وي ځکـه چـه دوه ثلثـه د کـل ځای نيسـي.

همدارنـګه هغـه حقـوق او وظـايف چـه اساسـي قـانون خلکـو تـه ورکـړي دي کـه پـه دغـه اسـاس دوه حقـه ورکـوي او يـو ترينـه سـلبوي قانونـاً ئـې دري حقـه ورکړيـدي.

مثـلاً لـه وطـن څخـه دفـاع او عسـکري مقـدس خدمـت د هـر افغـان حـق او وظيفـه ده.

همدغـه شان هر افغان بايد دولت تـه ماليـه ورکـړي.

دا دوه حکمـه د اساسـي قـانون پـه دريـم فصـل کـښې د خلکـو د اساسـي حقوقـو اَو وظـايفو پـه جملـه کښېږ راغلـي دي نـو کـه دا دوه حقـه خلکـو تـه ورکـړ شـوي وي او يـو بـل حق چـه اساسـي قـانون وايـي: (اتبـاع افغانسـتان حق دارنـد مطابق بـا احکـام قـانون احـزاب سياسـي تشـکيل دهنـد) لـه خلکـو نـه سـلب شـوی وي. قانونـاً محروميـت نـه ګڼل کيـږي ځکـه چـه دوه ثلثـه کـه موجـود وي، د يـوه ثلـث فقـدان څه تـاثير نلري لکه د مشـرانو پـه جرګه چه د يوه ثلـث نشـتوالی بې اثره دی.

د دې قـانوني اصـل پـه بنـاء کيـدی شـي چـه پـه درې ګونـو قوتونـو کښېږ د دوو قوتونـو وجـود مونږ د يـوه قـوت لـه وجـود څخـه بـې نيـازه کـړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې کـه اجرائيـه قـوه او قضائيـه قـوه وجـود ولـري او مقننـه قـوه نـه وي موجـوده قانونـاً دوه ثلثـه يعنـې دوه قـوې کفـايت کـوي او دا ضـرور نه ده چه د دولـت دريـواړه رکنـه حتمـاً موجـود وي.

کـه دا منطـق صحيـح نـه وي او پـه دغـه اسـتدلال کـښې غلطـي موجـوده وي يعنـې د دولـت د پـاره د دريـواړو قـواو وجـود حتمـي او لازمـي وي نـو بيـا بـايد د مشـرانو د جـرګې دوه ثلثـه اعضـاء او د سـترې محکمې دوه ثلثـه غـړي کـافي ونـه ګڼل شـي. ځـکه چـه دولـت لـه درې قوتونـو نـه متشـکل دی. مشـرانو جـرګه هـم لـه درې جـزو څخـه متشـکله ده او ستره محکمه هم له نـهو تنـو مرکبـه ده.

کـه د اولسـې جـرګې د دوه ثلثـه اعضـاو حضـور د مجلـس د انعقـاد د پـاره قانونـاً کـافي وي دا د دې دليـل نـه دی چـه مونـږ وجـود او عـدم پـه حضـور او غيـاب قيـاس کـړو او پـه دغسـې غلـط قيـاس اسـتناد وکـړو. د مشـرانو د جـرګې دريـواړه برخـې بـايد قـانوني وجـود پيـدا کـړي او بيـا د دوه ثلثـو حضـور د مجلـس د نصـاب د پـاره کـافي او شـافي وګڼل شـي.

همدارنـګه د سـترې محکمـې ټول غـړي بـايد تکميـل وي او وجـود ولـري نـو کـه بيـا د دوه ثلثـه يعنـې د شـپږو تنـو حضـور معتـبر وګڼو قـانوني اصل بـه مراعـات شـوی وي.

دا و هغـه واقعيتونـه چـه زمونـږ د قوانينـو او مخصوصـاً د اساسـي قـانون د تطبيق او تعميل کـم و کيـف ښيـي او ډيره جـدي توجـه غـواړي.

کـه د دولـت دوه قـوې (مقننـه- قضائيـه) نيمـګړې وي او اجرائيـه قـوه دومره مکمله وي چه کله کله لـه اصـل تشـکيل نـه هم زيـات پرسـونل او مشـاورين ولـري د قـواو تـوازن لـه مينـځه ځي او موازنـه خرابيـږي. و اقيموالـوزن بالقسـط.[1]

[1] افغان جريده. لومړی کال، دياړلسمه ګڼه
د ۱۳۵۰ د لړم ۲۴ مه
د ۱۹۷۱ د نومبر ۱۵ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الحق للقریب

تغیر رنگ را نباید تغیر جنس دانست. برنج از لغمان باشد یا از بغلان پلو باشد یا چلو رنگ و ذایقه ان کمی تفاوت خواهد داشت مگر دربرنج بودن ان شکی نیست.

حکومت ها هم علی الظاهر در چهره و گفتار مختلف و متفاوتند اما نوعیت ان یکی است و در افرینش ز یک جوهر اند.

خط مشی حکومت ها از لحاظ الفاظ و سبک و اسلوب مغایر یکدیگر است اما در عمل مرغ همه یک لنگ دارد.

اگر به بازیء الفاظ فریب نخوریم و از قال بحال متوجه شویم در عمل سرمشق همه حکومتها یکی است که در دو کلمه خلاصه شده

(c) ketabton.com: The Digital Library

میتواند یعنی "الحق للقریب" این اصل مهم حقوقی هیچگاه در هیچ حکومت تغیری نکرده و نخواهد کرد.

بعضی ها البته بر این اصل اساسی یک چیز افزوده اند که مدارابا دشمن است، اسایش دو گیتی تفسیر این دو حرف است با دوستان مروت با دشمنان مدارا. من یک عضو خاص کابینه را میشناسم (اگر چه او مرا نمی شناسد) که دوستان و خویشاوندان را به پوستهای بلند رسانیده و همه را زیر بال هما صفت خود گرفت.

نامبرده "خدایار جانش" لست تا بعین و تبع تابعین را ترتیب داده وبه اساس الاقرب فالاقرب حق را به حقدار سپرد.

او میگوید: کلمه "ذوی القربی" و کلمه "والاقربین" چندین جا در قران کریم ذکر شده که مارا بحق اقارب و دوستان متوجه میسازد و تقاضای صله رحم همین است که به ذوی الارحام رحم کنیم. از فرموده های اوست که همه وقت میگوید: " چه خان ئی په یاران ئی" "خورده همان به که به یاران خوری" الحق که کلام الوزیر وزیر الکلام.[1]

---

[1] افغان جریده. لومړی کال، دیارلسمه گنه

د۱۳۵۰ د لړم ۲۴ مه

د ۱۹۷۱ د نومبر ۱۰ مه.

این اثر به نام مستعار (نو نویس) نشر شده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصور او واقعیت

زمونږ خوښۍ او زمونږ غمونه، تشویشونه او قناعتونه یوازې د ژوندانه په واقعیتونو اتکاء نلري له ذهني تصوراتو، خیالاتو او رویاو سره هم نژدې ارتباط لري.

انسان په حقیقت کښې دوه کوره یا دوه جهانه لري، چه یو ذهني او بل واقعي یا خارجي بللی شو.

د واقعي جهان واقعیتونه یو راز او د ذهني جهان تصورات بل راز وي.

کله چه انسان د واقعیت په نړۍ کښې غمجن او خوابدی شي نو بیا ذهني جهان ته رجوع کوي او هلته خپل غم غلطوي.

په همدغه لحاظ انسان ته ذومعیشتین یا ذو حیاتین ویلی شو او د رحلة الشتاء والصیف یوه معنی به همدغه وي.

که چیرې انسان ځینې ښه ښه خوبونه په ویښه نه لیدلی او پخپل تصور کښې ئې ځانته خیالي جنت نه جوړولی د واقعي ژوند تحمل به ډیر ګران و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیال او تصور دنیا د انسان د پاره د ساعت تیرۍ ډیر ښه ځای دی.

د واقعي جهان د دوهي ملنګ هم په ذهني جهان او د تصور په عالم کښې پادشاهي او شهنشاهي کولی شي.

*په تصور مې ځان پاچا کړ*
*چه سر مې جګ کړ نو ملنګ د دوهي ومه*

صوفیان، شاعران او فیلسوفان له دغه ذهني عالم سره ډیر سر و کار لري. ځکه رحمان بابا وایي: "یم د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم" دغه صوفي شاعر په یوه شعر کښې خپل معنوي او ظاهري حال داسې بیانوي:

*د کاملې عقیده له برکته*
*د دوهي په غاړه ناست شاه جهان یم*

زه نه غواړم تاسې د تصوف او شعر قلمرو ته بوزم او د خپلې استوګنې له محیط نه بهر شم. په دغه محیط کښې چه مونږ او تاسې استوګنه لرو همدغه مونږ غوندې خلك هم د خیال او تصور له دنیا سره بې تعلقه نه دي. که مونږ ښه ځیر شو د ذهني تصوراتو ډیرې اغیزې په واقعي جهان کښې نفوذ لري او کله کله خپل هغه خوبونه چه په ویښه ئې وینو د مشاهداتو او واقعیتونو په نامه یادوو.

د مثال په ډول مونږ اوس د حقوقو د مساوات خوبونه وینو او زمونږ غوږ ته دا خبره رسیدلې ده چه د قانون په نظر کښې سرکار او خرکار مساوي دي.

خان او دهقان، جرنیل او سپایي بډای او فقیر په حقوقو کښې څه فرق نلري.

تبعیض او امتیاز په مینځ کښې نشته او اساسي قانون د اجتماعي عدالت ضامن دی. مګر کله چه د واقعیت په رڼا کښې سترګې غړوو پوهیږو چه دغه ذهني تصورات او ښه ښه خوبونه مونږ

تـه د ژوندانه واقعیتونـه ښکاره شوي څکـه ئـې مونږ خوشـحاله کـړي او په نه څه قانع کړي یو

همدارنـــګه پـــه قـــانون کـــښې د دفـــترونو کـــارکوونکي د دولـــت دمـامورینو پـه حیـث د ثـابت حـق خـاوندان دي او حکومتونـه نشـي کولـی چـه د دوی پـه قـانوني حقوقـو لوبـې وکـړي یـا د امرانـو شـخصي حب و بغض دغه حقه حقـوق متـاثر کـړي مـګر واقعیـت تـه چـه ګـورو نـو امـران خـو لاڅه کـوي چـه د هغـوی خـاص شـخصي خدمتـګاران هـم د مـامورینو پـه سرنوشـت او مقدراتـو مسـلط دي یعنـې قـانوني احکـام هماغه ذهني تصـورات دي چـه واقعـي او خـارجي وجـود نلـري.

لـه ټولـو نـه مهمـه موضـوع د ملـي حـاکمیت مسـئله ده چـه د اساسـي قـانون ډیـره لویـه عطیـه ورتـه ویلـی شـوو او د دیموکراسـئ اسـاس او بنیـاد ګڼل کیـږي.

د ملـي حـاکمیت معنـی دا ده چـه حکومـت د ملـت لـه خـوا د اولسـي جـرګې پـه غوښتنـه او منلـه مینـځ تـه راځي او پـه سـلب اعتمـاد ئـې لـه مینـځه ځي.

لـــه اساســـي قـــانون نـــه دمخـــه حکومتونـــه یـــوازې د اعلیحضـــرت معظم همـایوني پـه فرمـان راتلـه او د افغانسـتان ملـت د پخوانـي اصـول اساسـي پـه تصویبولـو دا حـق یـوازې پادشـاه تـه ورکـړی و او چـه شـوری پکـښې د رد او قبـول حـق نـه درلـود یعنـې قانونـا د پادشـاه اعتمـاد د ملـت اعتمـاد ګڼل کیـده مـګر اوس پـه قـانوني لحـاظ د پادشـاه تعییـن کـافي نـه دی او د ملـت د وکیلانـو اعتمـاد د حکومـت پـه تشـکیل کـښې اصلـي عـامل دی.

پـه ذهنـي لحـاظ خـو د اساسـي قـانون فـهم همدغـه دی چـه لـوی تحـول ورتـه ویلـی شـو مـګر د واقعیـت پـه صحنـه کـښې چـه ګورو وکیـلان پـه ډیـر صراحت لـه حکومتونـو نـه خپـل تنفـر او انزجـار ښکـاره کـوي او وائـي پـه تاسـو قلبـا اعتمـاد نشـو کولـی، مـګر د خپـل ګران او محبـوب پادشـاه د تعییـن او اعتمـاد پـه احـترام اطاعتـا د اعتمـاد رایـه ورکـوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه مـونږ واقعیت نـه انکـار ونکـړو نـو اوس هـم د پادشـاه انتخـاب او اعتمـاد د حکومتونـو اصلـي عـامل دی چـه د وکیلانـو اعتمـاد د شـاهانه اعتمـاد دسـیوری پـه حیـث پـه حکومـت پریـوزي او اوسـني حکومتونـه لـه پخوانیـو نـه یـوازې پـه ذهنـي او تصـوري لحـاظ فـرق لري، نه د مأهیت او واقعیـت پـه لحـاظ.

مونږ کله کله دومره لـه ذهني او تخیلي اغـیزو لاندې راځو چـه پـه واقعیتونو نه قانع کیږو او قـانوني اعتبـار تـه ډیر اهمیـت ورکـوو.

مثـلا د احزابـو مسـئله چـه تراوسـه ئـې قـانوني وجـود نـه دی پیـدا کړی مګر د واقعیـت پـه لحـاظ سیاسي جمیعتونـه چـه حزبـي مـاهیت او هویت لـري علنـا موجـود دي چـه هـر څوك ئـې پیـژني او مرامنـامې ئـې هـم خپـرې شـویدي، اخبارونـه او بیرغونـه ئـې هـم معلـوم دي او عـاطل هم ندی فعـال دی او څوك ئـې مخـه نـه نیسـي یـا ئـې نشـي نیولـی مګر مونـږ د احزابـو پـه دغـه واقعـي وجـود نـه یـو قـانع او در ګرده نـارې وهـو ولـې د احزابـو قـانون نـه نـافذ کیـږي؟ ولـې پـه شـوری کـښې حـزب اکثریت نلري؟ ولې احـزاب پـه رسمیت نـه منـل کیـږي؟ او داسـې نـور... مـګر دیتـه نـه ګورو چـه حزبونـه خـو بـالفعل موجـود دي چـه پـه مرکـز او ولایـاتو کـښې مظـاهرې، مجـادلې، نطقونـه او سیاسـي فعالیتونـه کـوي حتی چه په شوری کـښې هـم د حکومت لـه خـط مشـي سره خپلـې خـط مشـي اعلانـوي. نـو کـه هغـه قـانون نـه نـافذ کیـږي چـه لـه ۲۵ کـالو نـه ښکتـه د پوهنتـون محصـلان لـه حزبـي غړیتـوب څخـه محرومـوي یـا د ځینـو ایډیـالوژیـو مخـه نیسـي ایـا دا د اوسنیو احزابـو پـه ګټه ده کـه پـه ضـرر؟ ښایـي چـه وروسـته د قـانون لـه انفـاذ نـه پـه واقعـي صحنـه کـښې هغـه محدودیتونـه. قیدونـه او سـدونه مشـاهده کـړو چـه دغـه قانون وضع کړیـدي او پـه دې پـوه شـوو چـه اوسنۍ بـې قـانوني ډیـره ښه ده.

سره له دغو ټولو خبرو بیا هم قوانین د ذهني قناعت او تسکین دپاره بې تاثیره نه دي که څه هم د واقعیت په لحاظ هیڅ تاثیر ونلري او وجود و عدم ئې مساوي وي.

وګورئ! په اساسي قانون کښې د اولسي جرګې د کار موده په کال کښې ۷ میاشتې او د تعطیل د پاره پنځه میاشتې ټاکل شویدي، مونږ په همدې باندې ذهنا خوشحاله یو چه د کار وخت له بیکارئ نه زیات دی که څه هم په واقع کښې د جلسو په حساب ددغې جرګې د کار ټولې ورځې درې میاشتې هم نه کیږي او په دغو درې میاشتو کښې هم چه د کار میاشتې ئې بولو بیا هم څه کار نه کیږي او واقعي تعطیل ورته ویلی شوو که څه هم قانوني تعطیل ورته نشو ویلی.[1]

[1] افغان جریده، لومړی کال، اوولسمه ګڼه
د ۱۳۵۰ دلیندۍ ۱۵ مه
د ۱۹۷۱ د دسمبر ۲۰ مه
دا لیکنه د (محرر) په مستعار نوم خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښاغلی ډاکټر عبدالظاهر
## د اولسي جرګې د رئیس په حیث

په دولسمه تقنینیه دوره کښې چه پخوانۍ شوری په نوې بڼه د ولسي جرګې په نامه جوړه شوه نو ښاغلی داکتر عبدالظاهر ئې د ریاست دپاره دمخه جوړ شوی و. جوړ په دې معنی چه په تیره دوره کښې هم دی د شوری رئیس و او پارلماني تجربه ئې حاصله کړې وه.

سربیره په دې ده د اساسي قانون د مسودې په مشورتي کمیټه کښې د رئیس په حیث او بیا په لویه جرګه کښې د نایب رئیس په حیث په بحث او مطالعه کښې ګډون درلود او په دغه وسیله د نوي اساسي قانون په کم او کیف او اصلي منظور ډیر ښه پوهیدلی. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه جریان کښېږي واقع کیدل او دغه مطالعه حاصلول ډیر ښه چانس و. چه دی ئې د دې کار د پاره نور هم مجهز کړ.

د ده صبر و حوصله او نه تودیدونکي طبیعت هم د دې کار دپاره ډیر مناسب و. سړی ویلی شي که دلته کله کوم کار خپل اهل ته سپارل شوی وي نود ښاغلي داکتر عبدالظاهر دغه ریاست به ئې ډیر ښه مثال وي.

ښاغلي داکتر د اولسي جرگې په ریاست کښېږي په معنوي لحاظ هغه څه وګټل چه پخوا ئې نه درلوده او په همدغه وجه د ده په شخصیت کښېږي ډیره ښه اضافه راغله.

زما په یاد دي څوك چه په ابتداء کښېږي د ده دریاست ډیر مخالف اوله ده سره ډیر چپ و هغه هم څه موده وروسته د ده رویه ستایله او ده ته ئې خپل نظر ډیر ښه ښکاره کاوه.

ښاغلي خادم د کاروان په ورځپانه کې (دریم کال ۲۱۵ گڼه) یوه مقاله خپره کړه چه عنوان ئې و (موظف صدراعظم داکتر عبدالظاهر) د دې مقالې ځینې ټکي دا دي:

(د ډاکتر عبدالظاهر د اولسي جرگې ریاست د دیموکراسۍ کامیاب امتحان و. ده وکولی شول چه د اولسي جرگې ارتباط د حکومت او دولت سره وساتي او په همدغه حال کښېږي په شورى کښېږي دیموکراتیك نوامیس په محترمانه ډول عملي کړي.... او زمونږ منورین وایي چه داکتر عبدالظاهر یو حقیقي دیموکرات دی او په دیموکراسۍ ایمان لري. ده ډلو فراکسیونونو او ایدیالوژیو ته د قانون سره سم موقع ورکړه او د شورى د مصئونیت اساس ئې وباله... اوس دغه شخص چه تراوسه ئې نوم بد نه دی او خلك ورته امیدونه لري د یوه لوی امتحان په مقابل کښېږي ولاړ دي. دا امتحان یا به ده څخه یو تاریخي شخص جوړ کړي او یا به دا وي چه د ده پخوانۍ خدمتونه به هم او به یوسي څکه د یوه ملت اعتماد په عمرونو گټل کیدی شي او په لږ شي له مینځه ځي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا و دیوه مشهور سابقه دار لیکوال نظر چه د دغه ښاغلي په باب څرګند شو. اوس به راشو او دغه محترم شخص به د اولسي جرګې د جلسو په جریان کښې وګورو.

سره له هغې محتاطانه پوهې چه ښاغلی داکتر عبدالظاهر ئې لري بیا هم په اولسي جرګه کښې په ده باندې د وکیلانو له خوا ځینې انتقادونه کیدل او قانوني اعتراضونه ورته متوجه و چه دلته ځینې نمونې یې وړاندې کوو، یعنې یوازې د ده هنر او مهارت نه ستایو نیمګړتیاوې ته ئې هم ګوته نیسو.

## پخوا له وخته اعتماد:

کله چه ښاغلی داکتر محمد یوسف د شورۍ له افتتاح سره سم قانونا مستعفي شو او د کابینې په جوړولو بیا موظف کړی شو نو په ولسي جرګه کښې د ده په تیر حکومت اعتراضونه کیدل. ځکه ښاغلی داکتر محمد یوسف پخوا تر دې چه خپله خط مشي او د حکومت اعضاء مجلس ته معرفي کړي د ۱۳۴۴ د میزان په ۲۹ مه عمومي مجلس ته راغی او پخپله مفصله وینا کښې ئې ځان دیته اماده وښوده چه که څوک په ده باندې څه انتقاد لري دی به له ځانه دفاع وکړي او عمومي قضاوت ته ځان وسپاري ضمنا ئې له وکیلانو نه دا پوښتنه هم وکړه چه که تاسې ما غواړئ زه خپله کابینه جوړوم او تاسې کولی شئ چه په خط مشي او د حکومت په اعضاو په ډیر جرئت خبرې وکړئ. زه یې ستاسو له خوښې څوك په کابینه کښې نه نیسم هماغه و چه ډیرو وکیلانو شخصا ده ته خپله خوشبیني ښکاره کړه او اطمینان ئې ورکړ.

په دغه وخت کښې د مجلس رئیس ده ته داسې وویل:

(*بشما اعتماد است شما کابینه خود رابیاورید حالا رخصت هستید*) وروسته د ښاغلي داکتر محمد یوسف له رخصتیدو نه یو شمیر وکیلانو په موظف صدراعظم او په ښاغلي رئیس شدید

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقادونه وکړه او دغه راز راتګ او پخوا له وخته اعتماد غوښتل او اعتماد ورکول له قانون او پارلماني روش نه مخالف کار وګانه.

## د اعتماد غونډه:

ښاغلی محمد هاشم میوندوال موظف صدراعظم چه له خپلې کابینې سره د اعتماد اخیستلو د پاره د ۱۳۴۴ د عقرب په ۱۱ مه عمومي مجلس ته راغی او خپله خط مشي ئې د حکومت له اعضاو سره معرفي کړه. نو ښاغلي رئیس وروسته تر دې چه ۲۰ تنو وکیلانو خپل نظر څرګند کړ نورو ته ئې د څه ویلو موقع ورنکړه او د اعتماد په باب رایګیري شروع کړه چه په بل مجلس کښې د رئیس په دغه رویه ډیر اعتراضونه وشوه او دی مجبور شو چه د تاسف اظهار وکړي. په دغه شلو تنو کښې د اولسي جرګې ناطق ښاغلی صداقت و چه د کابینې په یوه غړي ئې انتقاد وکړ او څو تنه وکیلانو غوښتل چه دی خپلې خبرې وکړي. ښاغلي رئیس هم د هغه خبرې قطع کړې او په دغه ډول د یوه وکیل د خبرو ازادي سلب شوه.

## د لومړئ استیضاح غونډه:

د ښاغلي میوندوال صاحب په صدارت کښې چه وروسته د اعتماد له اخیستلو څلور تنه نوي وزیران مقرر شوه او یو وزیر له یوه وزارته بل ته بدل شو د حکومت دغه کار د دې باعث نه شو چه حکومت د استیضاح مجلس ته راوغوښتل شي.

په دې مجلس کښې ۷ تنو وکیلانو له ښاغلي صدراعظم څخه استیضاح وکړه او صدراعظم مجلس ته توضیحات ورکړه. په توضیحاتو باندې مباحثه شروع شوه او ډیرو وکیلانو د خبرو د پاره خپل نومونه ثبت کړه له دغې جملې نه چه ۱۲ خبرې وکړې.

ښاغلي رئیس وویل: (*آیا بحث کافی شده بالای این یا نه*)

ښاغلي صداقت د قانوني اعتراض په ډول وویل: (*ره د ښاغلي رئیس صاحب توجه د اصول وظایف داخلي دې مادې ته جلبوم چه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر وکیل حق لري د بحث لاندې موضوع کښې خپل نظر ښکاره کړي. تراوسه پورې چه ځینو وکیل صاحبانو خپل نظریات نه دي ښکاره کړي. بل ځوک د هغو حق نشي تلفولی. باید دا رایګیري ونشي چه بحث بس دی که نه دی بس؟) وروسته تر دې ۵ تنو خبرې وکړې او ښاغلي رئیس بیا وویل:

(تاسې نه پوښتنه کوم چه ایا بحث کافي شویدی په دې موضوع کښې؟) دلته د وکیلانو له خوا بیا هلهله پورته شوه او پس له هغه ۳۴ تنو ته د خبرو موقع ورکړه شوه.

بالاخره ښاغلي رئیس د حکومت توضیحاتو باندې داسې رایګیري وکړه چه اقلیت پکښې اکثریت وښودل شو چه تفصیل ئې دا دی:

د استیضاح او توضیحاتو په جریان کښې څلور پیشنهاده مجلس ته وړاندې شوه چه د هر یوه خلاصه دا ده:

۱ـ استدلال حکومت و اعضای ولسي جرګه شنیده شد برای اتخاذ تصمیم ولسي جرګه موضوع را در جلسه اینده خود طرح کند. (د دې پیشنهاد طرفداران ۵۱ تنه و).

۲ـ از طرف شوری و حکومت هئیت مختلط قانون دانان تعیین ګردد که قناعت طرفین را حاصل دارد. (د دې پیشنهاد طرف داران ۴۶ تنه.)

۳ـ حکومت باید د اولسي جرګه د اعضاوو دلایلو او اعتراضاتو په مقابل کښې خپل قانوني دلایل تحریري راولیږي چه په مجلس کښې پرې رایګیري وشي. (طرفدار ۲۵ تنه).

۴ـ توضیحات ښاغلی صدراعظم در موضوع رای اعتماد پنج نفر وزیر شنیده شد رایګیری شود که طرف قناعت مجلس واقع میشود یا نه؟ (طرف دار ۶۵ نفر) د دې رایګیري په نتیجه کښې رئیس وویل د مجلس اکثریت د صدراعظم په توضیحاتو قناعت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـه سرې پوهيـدې شـي چـه درې لومړنـي پيشـنهادونه پـه دې تکـي کښې کـاملا اتفـاق لـري چـه پـه دې جلسـه کـښې دې د صدراعظـم پـه توضيحـاتو بانـدې د قنـاعت او عـدم قنـاعت پـه بـاب رايګيـري نـه کيـږي او د دې معنـی دا ده چـه دوی پـه دغـه توضيحـاتو قـانع نـه دي يـوازې څلـورم پيشـنهاد دا غـواړي چـه د قنـاعت او عـدم قنـاعت پـه بـاب دې سمدسـتي رايګيـري وشـي، چـه ۶۵ تنـه دغـه پيشـنهاد تـائيدوي او ۱۲۲ تنـه نـور ئـې مخـالف دي مـګر ښاغلـي رئيـس سـهوا يـا عمـدا د نجيبي د اروزګان د وکيـل پـه دغـه پيشـنهاد يعنـې پـه څلـورم پيشـنهاد داسـې رايګيـري کـوي: (کسـانيکه بـه توضيحـاتی کـه از طـرف صدراعظـم درينموضـوع داده شـد قنـاعت دارنـد انـها لطفـا دسـت خـود را بـالا کننـد) او بيـا وايـي: (د اقـای نجيبي پيشـنهاد قبـول شـو تصويـب شـو.)

د دې رايګيـري اصلـي او اساسـي عيـب دا دی چـه د اروزګان وکيـل پيشـنهاد وکـړ چـه د قنـاعت پـه دغـه مجلـس کـښې چـه د رايګيـري لـه مخـې ۱۸۷ تنـه حـاضري دي ۶۵ تنـه اکـثريت هـم وي چـه څلـورم پيشـنهاد ئـې تـائيد کـړی دی. بيـا هـم د دغـه پيشـنهاد تـائيد دا ايجابولـه چـه دقنـاعت او عـدم قنـاعت پـه بـاب رايګيـري شـوې واي، چه څو تنه قانع دي او څو تنه نـه دي قـانع. نـه دا چـه د دغـه پيشـنهاد پـه تـائيد د ۶۵ تنـو لاسـونه جـګول د قنـاعت او نـه قنـاعت رايګيـري وګڼل شـي.

نـه پوهيـږم چـه ولـې ښاغلـي رئيـس د دې پـه ځای چـه ووايـي *(څوک چـه د اروزګان د وکيـل صـاحب پيشـنهاد تـائيدوي لاسـونه دې جـګ کـړي)* داسـې وويـل: (کسـانيکه بـه توضيحاتيکـه از طـرف صدراعظـم درينموضـوع داده شـد قنـاعت دارنـد انـها لطفـا دست خـو را بـالا کننـد) کـه فرضـا ښاغلـي رئيـس صـاحب د اروزګان د وکيـل صـاحب پيشـنهاد بـې رايګيـري د اکـثريت لـه خـوا تـائيد شـوی ګڼلـي وی او پـه هماغـه اسـاس لـه مجلـس نـه پوښتنـه کـوي چـه پـه توضيحـاتو بـاندې قـانع اشـخاص بـايد خپـل لاسـونه جـګ کـړي، نـو ۶۵ تنـو خپـل قنـاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګند کړي وبايد فورا ئې دا ويلي وای څوك چه قناعت نلري هغه دي لاسونه جګ کړي او وروسته تر دې ئې ويلي وای چه اکثريت په کومه خوا دی؟ هرڅه چه و بناغلي رئيس په هغه ان کښې په دغسې رايګيري له حکومت سره ډيره لويه مرسته وکړه. يعنې اصل رايګيري ئې په فرعي رايګيري کښې ورکه کړه او ولسي جرګه ئې ورته راوپرځوله مګر کله چه په بله جلسه کښې د دغه جريان تصويب ليکل کيده هلته دغه مشکل تبارز وکړ چه که تصويب وليکل شي چه اکثريت د حکومت توضيحات د قناعت وړ وګڼل نو د (۶۵) تنو په مقابل کښې (۱۲۲) تنه په مخالفت امضاء کوي او يوه قانوني معضله مينځ ته راځي څکه د تصويب له ليکلو صرف نظر وشو او په عوض کښې ئې داسې تصويب مينځ ته راغی:

( در ماده (۶۶) قانون اساسي راجع به استيضاح نوشته شده است اعضای ولسي جرګه ميتوانند از حکومت استيضاح نمايند مباحثه در مورد توضيحيکه از طرف حکومت داده ميشود به تصميم جرګه منوط ميباشد. از اين ماده معلوم ميشود که مباحثه به تصميم جرګه منوط است و در باب تصويب و فيصله تذکري نرفته و ان نيز به تصميم جرګه منوط است اما به سببيکه بعضي مشکلات قانوني در باب نوشتن تصويب موجود است که از طرز رايګيری بعمل امده لذا بهتر است از نوشتن تصويب صرف نظر شود) د مجلس دغه تصويب چه د جلال اباد د وکيل د پيشنهاد په اثر مينځ ته راغی دا حقيقت ځرګند کړ چه په رايګيري کښې د مغالطې او مسامحې نه کار اخيستل شوی او د اولسي جرګې موقف دلاحقو وزيرانو د اعتماد په باب پخپل حال باقي دی.

## د ۱۳۴۶ کال بودجه:

د چهارشنبې په ورځ د ۱۳۴۶ د اسد په ۳۱ مه چه عمومي مجلس د بودجې د تصويبولو دپاره منعقد شو په بناغلي رئيس باندې داسې اعتراض وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل وکیل:

اعتراض قانونی من شخصا به اقای رئیس است که بدون اینکه نصاب مجلس تکمیل گردد مجلس را دایر نموده اند طبق اصول وظایف داخلی نصاب از ۱۴۴ نفر است بالفصل در مجلس در حدود (۱۱۰) نفر موجود است...

ښاغلی رئیس:

با اعتراض قانونی رایگیری میکنیم که ایا وارد است یا وارد نیست و کلای محترمیکه اعتراض قانونی را وارد نمیدانند دست بالا کنند این اکثریت است و اعتراض قانونی را با اکثریت فیصله کردیم که وارد نیست.

ښاغلی فرزان د زنده جان وکیل:

من هم به این عقیده هستم که مجلس نصاب ندارد با انهم که مجلس دایر است.

ښاغلی رئیس:

این خارج موضوع است به رایگیري فیصله شد در مورد موضوع گپ بزنید.

میرمن معصومه د معروف وکیله:

من از ښاغلی رئیس سوال دارم که ایا تنها بودجه عادي میتواند بمجلس ایکه نصاب ندارد تیر شود یا نه؟

ښاغلی رئیس:

خارج موضوع است.

سره له دغو اعتراضونو بالاخره ښاغلي رئیس په بودجه باندي داسي رایگیري وکړه:

(وکلای محترمیکه طرفدار پیشنهاد وکیل صاحب بدخشان هستند لطفا دست خود را بالا کنند. تشکر اکثریت است و کلای محترمیکه مخالف هستند لطفا دست خود را بالا کنند. این اقلیت است. رای ممتنع یک تعداد رای ممتنع است، به اکثریت ارا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهاد وکیل صاحب مرکز بدخشان راجع بمعاش منطقوي و راجع بموازنه بودجه عادي سنه ۱۳۴۶ باکثریت تصویب شد). په دې رایګیري کښې ښاغلي رئیس د موافقو او مخالفو تعداد ونه ښود او ممتنع رایې هم په ابهام کښې پاتې شوي. دغه اجمال او ابهام پخپله دا ښیي چه ښاغلی رئیس د مجلس نصاب نه بې پردې کوي او په لږو خلکو د ډیرو خلکو کار کولی شي.

دلته علاوه په دې چه د بودجې په تصویب کښې د اراو شمېرنه ښیي رایګیري هم یوازې د بدخشان وکیل صاحب په پیشنهاد په مثبت او منفي ډول کوي یعنې د حکومت په پیشنهاد شوې بودجه او د انجمن مالي په پیشنهاد او نظریه هیڅ رایګیري نه کیږي چه په قانوني لحاظ دغه رایګیري ډیره ضروري وه.

هغه قانوني اعتراض چه د مجلس په نصاب باندې وشو رئیس صاحب د دې په ځای چه حاضر کسان وشمیري په هماغه مجلس کښې رایګري کوي چه معترض ئې قانوني نه ګڼي.

په دې رایګري کښې هم د موافقو او مخالفو شمیر نه ښیې او د عدم نصاب اعتراضونه چه نور وکیلان کوي دی همدومره وایې: (خارج موضوع است. دا په رایګیري فیصله شوي ده) ډیره عجیبه لا دا ده چه د ۱۳۴۷ د عقرب په ۱۳ مه خوك په مجلس کښې د نصاب په نشتوالي اعتراض کوي او همدغه رئیس صاحب هلته داسې وایې:

ښاغلی رئیس:

قضیه اینطور است که وقتیکه راجع به نصاب کس اعتراض میکند درینجا رایګیری نمیشود بلکه شمار میشود. انجا وارد بودن نا وارد بودن موضوع نیست تعداد موضوع است.

له ښاغلي اعتمادي نه استیضاح:

دا استیضاح د ۱۳۴۷ د ثور په ۲۴ مه شروع شوه او د جوزا په ۲۱ مه ئې خاتمه ومونده. په دې استیضاح کښې ښاغلي اعتمادي ځو ورځې پته خوله ناست و او د ډیرو وکیلانو استیضاحیه وینا وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ني واوريدې چه په دغو ويناو کښې يوه مهمه موضوع د انحصاراتو ناوړه استفادې او غلط اجراات وو چه د استيضاح د غونډې په جوړيدو کښې ئې اصلي نقش نه درلود.

په دې موضوع کښې د بدخشان د وکيل صاحب ښاغلي عبدالقيوم خان او د مرغاب د وکيل ښاغلي حاجي غلام رباني خان ترمينځ يو څه مناقشه او مشاجره پيدا شوه او وروسته تر دې چه ښاغلي اعتمادي صدراعظم وکيلانو ته توضيحات ورکول، ښاغلي رئيس داسې وويل:

ښاغلی رئيس:

وکلای محترم قبل از انکه جلالتماب صدراعظم صاحب راجع بجواب استيضاحات وکلای محترم حرف بزنند محض ميخواهم چند کلمه بصورت عمومی بفرمايند. وروسته تر دې ښاغلي اعتمادي داسې وويل:

ښاغلی اعتمادي:

جناب رئيس وکلای محترم! از اينکه جناب رئيس و وکلای محترم فرصت دادند باينکه قبل از اينکه من بجواب استيضاحاتيکه در جلسات قبلی روی موضوع انحصارات سوالات متعددی وارد شده بود و اين موضوع فعلا مورد بحث بين دو نفر از وکلای محترم شوری است اگر بمن اجازه بفرمايند که در توضيحات امروز خود من از توضيحات روی موضوع انحصارات خود داری بکنم و البته بعدا وزير ماليه حاضر خواهد بود که در کميسيون مربوط روی اين مطلب توضيحات ارايه بکنند و اين پيشنهاد من محض و محض منظور جز حسن روابط بين شوری و حکومت چيز ديگری ندارد.

د ښاغلي صدراعظم له دغو خبرو نه وروسته ښاغلي رئيس له صدراعظم نه خواهش وکړ چه خپل توضيحات واوروي يعنې بې له دينه چه د مجلس اکثريت دا ومني چه صدراعظم دې د انحصاراتو په باب څه نه وايي او دا موضوع دې له عمومي مجلس نه کميسيون

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه انتقــال وومـي، ښاغلـي رئيــس بـې درنــګه صدراعظـم تــه د وینـا اجـازه ورکـړه او پـه دغسـې مـهارت یـوه مهمـه موضـوع چـه د دولـت پـه اقتصـاد کښې ئـې ډیـر اهمیـت درلـود او د مطلـب ټکـی و لـه مینـځه لاړه یعنـې پـه حقیقت کښې استیضاح پوچـه شـوه او څه پکښې پـاتې نشـوه.

د ملاحظـې وړ خبـره لادا ده چـه بې لـه دینـه چـه صدراعظم خواهـش وکـړي چه زه غواړم لـه توضیحـاتو پـه عمومـي صـورت یـو څو خـبرې کـوم پخپلـه رئیس لـه ده نـه خواهـش کـوي چـه لـه توضیحـاتو نـه د مخـه څه ووایـي. تـر دې هـم ډیـره مهمـه خـبره دا ده کلـه چـه ښاغلـي صدراعظـم خپـل توضیحـات مجلـس تـه عـرض کـړل نـو سمدلاسـه ښاغلـي رئیـس وفرمـایل:

وکـلای محـترم! باسـتیضاحات وکـلای محـترم جنـاب صدراعظـم توضیحـات کـافي دادنـد اکنـون اگر رفقـاء موافقـه داشـته باشـند خاتمـه میدهیـم بـا این مجلس، ایـن مجلس خاتمـه یـافت.

د مجلـس ختمولـو پـه بـاب کـه څه هـم د رفیقـانو موافقـه وغوښتـل شـوه مـګر چـا لاڅه نـه وویلـي چـه مجلـس ختـم شـو او د صدراعظـم توضیحـات د رئیـس لـه خـوا کـافي وګڼل شـوه.

د اساسـي قـانون د ۶۶ مـادې پـه حکـم چـه وایـي: (مباحثـه در مـورد توضیحاتیکه از طـرف حکومـت داده میشـود بـه تصمیـم جـرګه منـوط میباشـد) رئیس قانونـا مکلف و چـه د مجلس اکـثریت ئـې د رایګیـري پـه وسـیله معلـوم کـړي وای چـه د حکومـت پـه توضیحـاتو مباحثـه کـوي او کـه نـه؟ دا هـم د مجلـس کـار و چـه توضیحـات کـافي ګڼي او کـه نـه؟ د انحصـاراتو موضـوع چـه پـه استیضاح کـښې داخلـه وه، صدراعظم پـه دغـه مـورد کـښې د توضیحـاتو پـه ورکولـو د اساسـي قـانون پـه حکـم مکلفیـت درلـود چـه بـاید ښاغلـي رئیـس او ښـاغلـي صدراعظـم دواړه دغـو ټکـو تـه متوجـه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مجلس خو سمدلاسه بې له دینه چه چاته د څه ویلو موقع په لاس ورشي ختم شو او په بله جلسه کښې د رئیس په دغه روش باندې داسې اعتراض وشو:

ښاغلی نیک محمد د کوهدامن وکیل:

ښاغلی رئیس محترمو وکیلانو! د وزیر صاحب مالیه راتګ صدراعظم وویلې لیکن رایګیري پې نه ده شوې. فیصله نه ده شوې، خالي صدراعظم وویل چه دی راشي لیکن زه ګومان کوم د اصل مطلب د قانون اساسي په سویه باندې توله استیضاح او د تولو جوابونه چه صدراعظم ویلې دي صحیح جوابونه نه دي ویلې. مونږ قانع نه یو مباحثه کوو، په تول هغه باندې چه رئیس صاحب وویل کافي توضیحات ئې ورکړه زه دا کافي نه بولم، دا توضیحات کافي نه دي. هر سړی د قانون اساسي سویه باندې حق لري چه مباحثه وکړي.

ښاغلی رئیس:

وکیل صاحب نادعلي وائي چه نصاب نشته، جلسه ختم شوه.

د اولسي جرګې په جریده کښې د نادعلي وکیل صاحب اعتراض په نصاب باندې ثبت شوی نه دی. که فرضا دغه اعتراض هغه کړی هم وای، رئیس صاحب باید د خپل تعامل په اساس یا رایګیري کړې وای چه اعتراض وارد دی که نه. یا ئې باید وکیلان شمېرلی وای چه نصاب شته او که نه؟ مګر دا خل ئې نه هغه وکړه او نه دا څکه چه بې د مجلس له ختمولو نه په بل ډول د مباحثې مخه نه نیول کېده.

د ۱۳۴۸ کال بودجه:

د دولت په بودجه چه هر څه بحثونه وشوه بالاخره ښاغلي رئیس د دغه کال د اسد په ۱۹ مه رایګیري وکړه. په دې جلسه کښې د بودجې په باب یو فوري توصیه شوې پیشنهاد هم مجلس ته وړاندې شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی رئیس:

کسانیکه بودجه عواید و مصارف ۱۳۴۸ دولت را با نظریه مشورتي مشرانو جرگه و تصویب انجمن مالي و بودجه تائید میکند لطفا دست های خود را بالا کنند. اقلیت است.

کسانیکه پیشنهاد فوري توصیه شده را که توسط منشی صاحب قرائت شده تائید میکنند لطفا دست های خود را بالا کنند. اکثریت است

پیشنهاد فوری راجع به بودجهء سال ۱۳۴۸ دولت باکثریت اراء تائید و تصویب شد و مجلس خاتمه است.

په دې رایگیري کښې چه له رایگري سره سم مجلس ختم شو او د څه ویلو موقع چاته په لاس ورنغله بیا هم ونه ویل شوه چه اکثریت څو تنه دی او اقلیت څو تنه؟ همدارنګه د حکومت په پیشنهاد شوې بودجه هم خانګړې رایګیري ونشوه.

بله جلسه د ۱۳۴۸ کال د اسد ۲۱ مه وروسته له افتتاح څخه.

ښاغلی داکتر فرزان د زنده جان وکیل:

بودجه عادي و انکشافی حکومت در جلسه بدون نصاب تصویب شد.... امروز هم قراریکه دیده میشود مجلس نصاب ندارد.

ښاغلی رئیس:

داکتر صاحب فکر مینکم این وظیفه منشی است که بگوید مجلس نصاب دارد یا ندارد...

د ښاغلي رئیس صاحب دغه جواب که په فرض محال قانونا صحیح وګڼو او تیر تعامل هم هیر کړو چه په دغسې اعتراض به د رئیس له خوا یا رایګیري کیده او یا به حاضر وکیلان شمیرل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیده. د ښاغلي رئیس هغه خبره نشو هیرولی چه په یوه جلسه کښې ني وویل
"وکیل صاحب ناد علي وايي چه نصاب نشته جلسه ختم شوه".
اوس چه دا خبره نیغه مخې ته ودریده نو باید وویل شي:"این وظیفه منشی است که بگوید مجلس نصاب دارد یا ندارد و یا وظیفه وکیل صاحب نادعلي".
ښاغلي رئیس صاحب به د جلسې په شروع کولو کښې کله ویل: نصاب تکمیل دی د لوی خدای په نامه غونډه شروع کوو.
کله به ئې ویل: منشی صاحب وایي نصاب تکمیل دی، د لوی خدای په نامه غونډه شروع کوو.
کله به ني د نصاب په باب هیڅ نه ویل تش همدومره به ئې ویلې: د لوی خدای په نامه غونډه شروع کوو دا وو د اولسي جرگې د رویداد ځینې د ملاحظې وړ تکې چه د پارلماني اداري ځرنگوالی راښیي او دا ځرگندوي، چه د اولسي جرگې ارتباط له حکومت او دولت سره څنگه او څومره ساتل کیده.[1]

---

[1] افغان جریده لومړی کال، اتلسمه گڼه
د ۱۳۵۰ د مرغومي ۶ مه
د ۱۹۷۱ د دسمبر ۲۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرسش و پاسخ

س : چرا معاونیکه با صدراعظم مخالف بود بعد از وی خلف الصدق او گردید و معاون صدراعظم دگر که اطاعت کامل داشت محروم ماند؟

ج : بین خلف و خلاف تجنیس و مناسبت لفظی موجود است.

س : چیست که قانون بقای اصلح را می شکند و بقای افسد را می پسندد؟

ج : اقتدار شخصی.

س : چرا سیاست ما خاموش و از نظر عوام پنهانست؟

ج : چون محجوب و اریستوکرات تربیه شده.

س : چرا جلسه استیضاح تصویب شد و دایر نشد؟

ج : انچه عیان است چه حاجت به بیان است

س : چرا صدراعظمان سابق دو معاون داشتند و حالا علی الرغم عنعنات تاریخی یک صدراعظم و یک معاون عرض وجود نمود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج : برای انکه ثلث در میان نه باشد و یک وجودگی یا به عبارت دیگر یگانگی و یکرنگی حفظ شود و برای انکه وجود و عدم وجود معاون دوم مساوی است.

س در سال جاری که با فقر و فاقه روبرو هستیم صرفه جویی در کدام موارد عملی گردید؟

ج در جلسات شوری و در تعلیمات پوهنتون.

س : وزیر و معین چگونه میتواند در صلح و سلم بسر برند؟

ج : که یکی فعال و دیگری غیر فعال باشد و اصول پنجگانه زیست باهمی باندونگ را رعایت کنند.

س : فرق بین رشوت گرفتن و رشوت خوردن چیست؟

ج : اگر خام گرفت گرفتن است و اگر پخته میخورد خوردنست.

س : کدام رشوت است که نه خورده میشود و نه گرفته میشود؟

ج : وجه نیکو و حسن معاشرت که تماس دوستانه گفته میشود.

س : اشتراکیت در کدام موارد معمول است؟

ج : در عیاشی و فحاشی.

س : چرا ولسی جرگه برای جلسات رای اعتماد ۱۷ روز را وقف کردند و برای تصویب بودجه دولت یک روز را کافی شمردند؟

ج : چون برای تعطیل قانونی همین یک روز مانده و بس.[1]

---

[1] افغان جرید. سال اول شماره. ۱۸

۶ جدی ۱۳۵۰

۲۷ دسمبر ۱۹۷۱

*این اثر به نام مستعار ننوشته نشر شده است.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوسني حکومت ښه او بد

د ښاغلي داکتر عبدالظاهر حکومت په داسې وخت کښې مېنځ ته راغئ چه شرايط او حالات له پخوا نه ډېر خراب وو او نور هم مخ په خرابئ و.

نه پوهېږم چه د داکتر صاحب محتاطانه پوهې د ډېر اجبار په حکم او که د خدمت په شوق و ذوق دغه د مشکلاتو نه ډک مسئوليت ومانه او بسم الله مجريها ني شروع کړه.

د ده خط مشي او د ده ملګرو ته له ده سره په يوه بيړئ کښې ناستو خلکو ته چه په ولسي جرګه کښې ۱۷ ورځې هر څه وول شوه هغه ټولو واوريده چه قند اميخته با ګل نه و مګر د دوی د زړه دوا پکښې وه ځکه ئې په اخره کښې د شکريې په ضمن کښې وويل مونږ خوشحاله يو چه په دغسې ديموکراتيکه فضا کښې مو د اعتماد رايه واخيسته.

دې حکومت وروسته تر دې که څه هم تراوسه داسې کوم کار نه دی کړی چه بريتونه پرې تاو کړي لکه چه د ايران حکومت په خليج فارس کښې وکړ يا د هند حکومت په بنګله ديش کښې سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورساوه، مګر له خپلې غريبي او بې وسۍ سره ئې مناسب يو څه وکړه چه يادونه ئې پکار ده

زه غواړم دلته ښه او بد دواړه په نظر کښې ونيسم او له هغه ازاد قضاوت نه استفاده وکړم چه د افغانستان هر حکومت ئې پخپله خط مشي کښې ادعا کوي مګر هيڅکله ترينه په جهاني واقعياتو کښې کار نه اخلي.

د حکومت هغه ښه ښه کارونه چه مونږ ته معلوم دي، دا دي:

۱ـ د مطبوعاتو قبلي سانسور چه په تير حکومت کښې د اساسي قانون په ضد معمول و او چا ترينه انکار هم نه کاوه. په دې حکومت کښې له مينځه لاړ او د فکر و بيان ازادۍ ته په احترام وکتل شوه.

دا کار بايد د حکومت د حسناتو په تله کښې بې وزنه او بې ارزښته ونه ګڼل شي او په درانه نظر ورته وګورو.

۲ـ د غلې د کموالي په وجه له نورو هيوادو نه امداد غوښتل که څه هم کوم ابتکاري کار نه دی بلکه اجباري مسئله ده مګر بيا هم د خلکو په ژوندانه کښې فعلاً ډير تاثير لري او حياتي اهميت ئې ثابت دی.

۳ـ د خپلواکۍ د جشن مراسم او مصارف څه نه څه کمول هم ددې حکومت يو مناسب کار وو چه يو څه جرئت ئې غوښته او تاثير ئې په خلکو باندې عموما ډير ښه و.

۴ـ د اسلامي ممالکو د وزيرانو جرګه چه په کابل کښې د تير حکومت په مننه په يوه نا مناسب وخت کښې د نامناسبو حالاتو او شرايطو په تحت کښې جوړيدونکې وه د هغې ځنډول هم د دې حکومت ډير پرځای اقدام و.

۵ـ د حکومت هغه اعلان چه د اقتصادي تنګسې په وجه ئې د سفرونو او دعوتونو په مصارفو کښې د تقليل وعده خلکو ته ورکړه او په نوو تعميراتو ئې هم يو څه بنديز ولګاوه که عملي جنبه ئې پيدا کړي وي ډير ښه کار ورته ويلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ـ د سرکاري موټرو تحدید او تقلیل که په وزارتونو کښې منل شوی وی او محض تبلیغاتي خبر نه وی د قدر وړ کار دی.

۷ـ ځینو محلي ژبو ته په راډیو کښې برخه ورکول او د پښتو ژبې تشه یادونه چه د فراموشۍ مخه نیسي د یادولو وړ ده چه د اولسي جرګې غوښتنو ته د اعتناء دلیل کېدی شي.

۸ـ بې زمکې خلکو او کوچیانو ته د زمکې ورکولو اعلان هم د امیدوارۍ وړ زیری دی خدای دې وکړي چه په عمل کښې واقعیت پیدا کړي.

۹ـ په لندن کښې د اعلیحضرت همایوني د سفر له برکته د انګلستان د خارجه چارو د وزیر هغه اعتراف چه د افغانستان په باب د یوه تاریخي حقیقت او واقعیت یادونه ده په ملي لحاظ سیاسي ارزښت لري چه د افغانستان خارجه وزیر به هم پکښې بې تاثیره نه وي.

د حکومت دغه کریدتونه به د ترازو په یوه پله کښې واچوو او وبه ګورو چه په دا بله پله کښې څه اچولی شو یعني د کریدت په مقابل دبت څومره او څنګه دی؟

۱ـ د شورې څو تصویب شوي قوانین (د احزابو قانون ـ ولایت جرګو قانون ـ ښاروالیو قانون...) چه د یوې تقنیني دورې محصول او د حیات ثمره ده او واقعي دیموکراسي ورته شدید حیاتي ضرورت لري څنګه چه د تیرو حکومتونوله خوا مختنق شوه او د انفاذ مخه ئې ونیوله شوه، اوسنی حکومت هم دغه قانوني اختناق چه معنا ورته پارلمان وژل ویلی شو. هماغسې تینګ وساته او د اساسي قانون د شنډولو غیر دیموکراتیک سیاست ئې تعقیب کړ. اوس دا معلومه شوه چه د دیموکراسۍ او اساسي قانون په مخالفت کښې زید او عمر متفق او متحد دی، که څه هم پخپل مینځ کښې (ضرب زید عمرا) ضرب المثل ګرزیدلی دی. دلته باید دا هم ووایو هغه داکتر صاحب چه د اولسي جرګې د رئیس په حیث ئې د تقنیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوري پـه خاتمـه کـښېي د احزابــو وجــود ډيــر ضــرور او لازم وګڼلـه اوس
سې دغه ضرورت هېـر کـړی دی

۲ـ د اولســي جــرګي د اسـتيضاح پـه بــاب هــم دا حکومــت لــه
پخواني حکومـت نـه څه فـرق نلـري او مجلـس لـه نصابـه غـورځول يـو
عنعنوي سياست دی چه هـر حکومـت ئـې صادقانـه پـيروي کـوي.

۳ـ د بنګلـه ديــش پــه جريــان کـښي هغــه طلايــي موقــع چــه
د پښتونســتان د مطــالبې د پــاره ئــې د اب حيــات مثــال درلــود او
د سياسي پوهې خـاوندانو ترينـه ډيـره لويـه ملـي او تـاريخي اسـتفاده
کولی شوه د دې حکومت لـه لاسـه وريـا لاړه او هيـڅ تـرې بـود نشـوه.

۴ـ د متواترو اوريدلـو لــه مخـې هغـه تجـاوز چـه د ايـران لـه خـوا
د افغانســتان پــه حيثيــت او ملکيــت بــاندې شــوی او کيـــږي د دې
حکومت خاموش سياسـت چـه د رضـا او تسـليم معنـی لـري حکومـت
شديدا محکومـوي او مسـئوليت ئـې د يـوې تـاريخي لکـې پـه حيـث
د تاريخ لمنې تـه سپاري.

۵ـ د پوهنتـون پـه مقـابل کـښې د حکومـت عـاطل او بـې نتيجـې
دريغ هم د بناغلـي اعتمـادي لـه لومړنـي حکومـت نـه ډيـر فـرق نلـري او
لـه عرفـاني رکـود سره ډيره مرسـته کـوي.

۶ـ د مـامورينو عـزل و نصـب تغـير او تبديـل هـم د قنـاعت وړ نـه
دی يعنـې لـه اهليـت او ليـاقت نـه پکـښې شـخصي روابـط او امرانـه
سفارشـونه ډيـر دخـل لـري. کـه سـړی مقرريـو تـه ښه ځير شـي او کـوم
داسې مثال پيدا کړي چه يـوه چوکـۍ لايـق او مسـتحق شـخص تـه ورکـړ
شـوې وي هلتـه هـم دا وينـي چـه دغـه ورکـړه د اهليـت او ليـاقت پـه
اسـاس نـه ده بلکـه د شـخصي مـهربانۍ او احسـاس لـه مخـې ده يعنـې
حق د حق د پاره نـه دی ورکـړ شـوی بلکـه د شـخصي پيرزوينې پـه بنـاء
د بخشـش پـه ډول ورکـول کيـږي چـه بـايد پـه مرهونيـت او ممنويـت
معاوضـه شـي او د عبوديـت رنـګ واخلـي

۷ـ پـه جـهاني سياسـي فعـاليتونو کـښې هـم دا حکومـت د پخـوا پـه
شان بې برخې او بې علاقـې پـاتې دی پـه دنيـا کـښې هـر څه پيښ شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکـه چـه دوی پکـښې د ازاد قضـاوت حـق نلـري او پـه حـق الـسکوت قـانع شـوی دی.

۸ـ پـه دغـه مغتـنم فرصـت کـښې چـه د پاکسـتان حکومـت تـه د پښتونسـتان پـه بـاب د څه منلـو اجبـار متوجـه و چـه بـايد د افغانسـتان حکومـت پـرې څه سياسـي فشـار وارد کـړای وای بـالعکس ئې د ترانزيتي سهولت په باب عرض شکران وکړ چـه هـر چاتـه لـه توقـع نـه خـلاف او عجيـب و غريـب ښکـاره شـو او د ډيـر منحـط سياسـت نمايندګي ئـي کولـه.

۹ـ د دې لاامله چـه د اساسـي قـانون تطبيـق او تعميـل د حکومـت وظيفـه ده د قـانوني ايجابـاتو لـه مخـې د دوو نـورو قـواو تکميـل او قـانوني موجوديـت ډيـر عـاجل او فـوري اقـدام تـه ضـرورت لـري مـګر حکومـت د اساسـي قـانون دغـه مهمـه غوښتنـه بيخـي هـيره کـړې او داسـې معلوميـږي چـه څوک قـانوني احکـامو تـه هغومـره توجـه او التفات هم نلري لکه چه خپلې نکتهائي ته لري. دا و د حکومت ځينې هغه فروګذاشتونه چه د مسـئوليت پيتـی ئـې ډيـر درنـوي او د خلکـو پـه اذهـانو کـښې محکومـوي. اوس د ښاغلي لوسـتونکي کـار دی چـه د دې حکومـت حسـنات او سـيئات پرتلـه کـړي، وګوري چـه کومـه خـوا سپکه او کومه خـوا ډيـره درنـه ده.[1]

---

[1] افغان جريده . لومړی کال . نولسمه ګڼه
د ۱۳۵ د مرغومې ۱۲ مه
د ۱۹۷۱ د جنورې ۳ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اولسي جرګې د ځلوېښتو وکیلانو مطالبه

هغـه څه چـه د شـورۍ پـه تـالار کـښې ۱۷ ورځې پـه قبـل الظـهر او بعـد الظـهر کـښې د اعتمـاد د څرګندولـو پـه مناسـبت ښاغلـو وکیلانـو حکومت تـه مخـامخ وویـل، باور لـرم چـه د راډیـو لـه څپـو نـه بـه د وطـن ډیـرو ګـټو خلکـو هـم اوریدلـي وي، مـګر ډیـر پـوه او مسـتعد دماغونـه بـه هـم پـه دې نـه وي موفـق شـوي چـه پـه محـض اوریـدو ئـې پـه مقایسـوي ډول د وکیلانـو د غوښتنـو درجـه بنـدي کـړې وي او پـه دې پـوه شـوي وي چـه غـیر لـه محلـي مطالبـاتو پـه عمومـي مسـایلو کـښې څـه شـی ځومـره وکیلانـو لـه حکومـت څخـه پـه شـدت او جدیـت غوښتـي او د فشـار مهـم نقـاط کـوم کـوم دي؟.

د وکیلانـو دغـه بیـانیې چـه اوس د اولســي جـرګې پـه ۶ جلدونـو کـښې پـه ډېرو طویلـو او عریضـو پـاڼو کـښې ځای لـري د هغـو مطالعـه او مقایسـه هـم ډیره زیاتـه حوصلـه او ډیـر وخـت غـواړي.

هغـه مـهم او د مطلـب اساسـي ټکـی چـه پـه دغـو پـاڼو کـښې مدفـون دي تشـخیص او اسـتخراج ئـې د هـر چـا کـار نـه دی او هـر څوک ورسـره علاقـه هـم نلـري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنايـي چـه حکومــت تــه هــم پــه صحيــح ډول دا نــه وي معلومــه چــه د احزابــو د قــانون. د ښاروالیــو قــانون او د ولایــت د جــرګو د قــانون د انفــاذ او اعــلام مطالبــه کومــو کومــو وکیلانــو پــه څه راز الفــاظو او کلمــاتو کــړي ده او د دې غوښتنــې وزن هــم د اشـخاصو پــه لحــاظ او هــم د وینــا د قوت پــه لحــاظ پــه څه انــدازه دی.؟

د صــدارت عظمــی د دفـتر کــاتب ګمــان نــه کــوم چــه د حکومــت د صحيــح فــهم د پــاره دغــه زحمت پــه ځان منلــی وي او پــه لازم دقـت نــې دغــه ارزيــابي کــړې وي.

د دې د پــاره چــه دا خدمــت څه نــه څه مــا ســرته رسـولی وي او د چــا سترګې یــا غوږونــه مــې خــلاص کــړي وي غــواړم د خپلــې تتبــع محصــول نشــر تــه وسـپارم او دغــه راز همکــاري ونــه سـپموم، کــه چـيرې حکومــت د (۴۰) تنـو وکیلانـو غوښتنــې تــه پــه اعتنــاء ګوري او بــې ارزښتــه نــې ونــه ګڼي، د حکومــت د خــط مشــی دا برخــه بــه صــدق پيــدا کــړي چــه وايــي:

(حکومـت ارزو دارد در ســاحه روابــط ذات البینــی قــوای دولــت و در مرحلــه اول در ســاحه روابــط بــا شــوری اساســات متيــن همکــاری و اعتمــاد متقابلــه ایجــاد شــود تــا ایــن حکومــت و حکومــات آینــده از ناحیــه نارسائیها و عــدم ثبــات موسســات سیاســی و فقــدان همکــاری و مفاهمــه بــه نتــایج اسـف انګیزیکــه بسـر نوشـت آینـده دیموکراسـی تــاثير منفــی دارد مواجــه نشــود.) کــه حکومــت پــه ربنتیــا دغــه ارزو لــري او غواړي چه لــه شوری سره ښه رابطــه قايمــه کــړي او پــه دغــه مــورد کــښې د اساســي قــانون د احکــامو پــه مقــابل کــښې منفــي حساسـيت ونلــري. د وکیلانــو دغــه جــدي تقاضــا بــه نــه ردوي او د هغــه څه مخــه بــه ونيســي چــه د دیموکراسۍ پــه آینــده سرنوشــت منفــي تــاثير لــري. راشــئ چــه اوس د محترمو وکیلانــو دغــه غوښتنــه د دوی پــه وینــاو کــښې ولــټوو.

ـ محمــد اسحق علومــي د ارغســتان وکیــل: بــرای حــل معضلــه هــای کنونــی تشـکیل احــزاب ســالم و متـ قی را یګانــه وســیله میدانیــم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ سید ظاهر شاه د شکر دري وکیل ما انتظار داشتیم که جناب شما راجع به عملی شدن قانون احزاب سیاسی، انتخابات نمایندگان ولایتی جرگه ها و خط مشی خویش به ملت امیدواری میدادید و شاروالیها را که در دوران قبل از دیموکراسی انتخابی بودند از حالت تاثر اور سرپرستی و انتصابی بما نوید رهایی یافتن می بخشید ولی با کمال تاسف مشاهده نمودیم که حکومت شما با این مسایل کلیه که موفقیت دیموکراسی بدون تامین آنها بشکلی که قانون اساسی پیشبینی کرده است ممکن نیست کوچکترین اهمیتی قایل نگردیده اید.

ـ حاجي محمد آصف د کندهار وکیل: د احزابو قانون، د ولایت جرگو قانون، د ښاروالیو قانون باید ژر تر ژره د اساسي قانون له هدایت سره سم مینځ ته راشي.

د پغمان وکیل: طبقات حاکمه بیدادگر و حکومتهای متکی بر آن خود مانع تکامل دیموکراسی درکشور اند چنانچه در مورد قوانین احزاب، ښاروالیها و ولایتی جرگه و سایر قوانین دیموکراتیك مشی ارتجاعی دارند.

ـ نور محمد اکبري د کندهار وکیل. شایسته نمیدانم که در نظام دیموکراسی ما خلای عدم قانون احزاب موجود باشد.

ـ محمد عوض خواجه عمري د غزني وکیل: یك دوره قبلتر شخص جلالتماب شما بحیث وکیل و رئیس ولسی جرگه از همین خانه ملت یك سلسله قوانین را از تصویب نمایندگان ملت گذشتاندید که از عدم توجه حکومت سلف تا امروز بطی مراتب آن اقدام نشده در صورت اخذ رای اعتماد یکی از فعالیت اولیه و روش های دیموکراتیك شما طی مراتب نهایی همان قوانین وضع شده به اسرع ترین وقت خواهد بود.

ـ امیر محمد بهسودوال دسره رود وکیل: د احزابو قانون چه د دیموکراسۍ محور دی باید ژر تر ژره د عمل ډگر ته راواوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهـم د ښاروالیـو قـانون ځکـه چـه سر پرستان د اساسـي قـانون (۷۷) مـادې پـه ضـد ټاکـل شـوي دي. د ولایتـي جـرګو قـانون چـه دمشرانو جرګه د دې قـانون د نشـتوالي لـه کبلـه د يـو ثلـث غـړو څخـه نيمـګړې پـاتې ده.

ـ سراج الديـن منـګل د څمکنيـو وکيـل: د احزابـو قـانون څو کلونـه تير شـوي او نـور بـه هـم څو تـير شـي او تراوسـه پـورې ئـې عملـي څنـډه هيڅ نه ده ښکـاره شـوې.

د ښاروالیـو د قـانون پـاڼه نـه اړول کيـږي او خپلـو پخوانيـو ټيکـه دارانـو او اجـاره دارانـو تـه سـپارل کيـږي. د ولایتـي جـرګو قـانون هـم کومـه پتـه نلـري.

ـ محمـد اسحق عثمـان د کـابل وکيـل: موضـوع ديګريکـه نـزد مـن لاينحـل و قـابل تشـويش عميـق ديـده ميشـود و روحيـه ديموکراسـي نويـن افغانسـتان را صدمـه مـيزند عـدم تطبيـق بعضـي قوانيـن مـهم است کـه ممـدو متمم و حتـی جـزء لاينفـك ديموکراسـي شـمرده ميشـود، مخصوصـاً قـانون احـزاب، بـدون بوجـود آمـدن قـانون احـزاب هيچـګاه و در هيـچ مملکـت ديموکراسـي تکـامل نيافتـه.

ـ عبدالکريـم عمرخيـل د لغمـان د مرکـز وکيـل: د ولایتـي جـرګو او ښاروالیـو د قـانون او ورسـره د انتخابـاتو ځنـډول، د ګوندونـو قـانون او ورسـره د ګوندونـو رسـميت ټالـول او داسـې نـور اسـتبدادي اعمـال کـه اختنـاق او د اساسي قـانون پـه حريـت بـاندې بيشـرمانه تجـاوز نـه دی نـو څه شـی دی؟

ـ محمـد هاشـم مشـواڼی د اسـمار وکيـل: د اساسـي قـانون (۱۰۹) مـادې د حکـم مطـابق د ولایتـي جـرګو جـوړول او د (۱۱۱) مـادې د حکـم پـه بنـاء د ښاروالیـو د انتخابـات او د (۴۵۱) مـادې د دوهمـې فقـرې د حکـم مطـابق د ولایتـي جـرګې نـه مشـرانو جـرګې تـه د يـو تـن غړي انتخاب آيا د عمـل جامـه اغوسـتې ده او کـه نـه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ محمد سرور اکبري د بلخ د مرکز وکیل: ښاغلی صدراعظم موظف نکته دیگری که قبل از ختم بحث میخواهم توجه شما و رفقای کابینه تانرا بدان جلب کنم. موضوع طی شدن مراحل وبمیان آمدن قانون احزاب سیاسی قانون ولایت جرگه و قانون شاروالیهاست، زیرا که اساس دیموکراسی در هر کشوری بر پایه تشکیلات حزبی استقرار دارد تا موقعیکه احزاب بوجود نیاید در تکامل فکری ملت و بوجود آمدن رهبران سیاسی که مسایل ملی را خوبتر درك و احساس کنند بطائت موجود خواهد بود. آرزوی من و اکثر نمایندگان ملت بر اینست که مطابق به حکم قانون اساسی و در چوکات ارزشهای مندرج آن قانون احزاب هر چه زوتر بمیان آید. هکذا شاروالیها در حال اسفناکی بسر میبرند. وجود مامورین عالیرتبه حکومت بحیث شاروالیهای سرپرست درد دیگری بدردهای ملت افزوده است.

ـ عبداالغفار فراهي د بالابلوك وکیل: څرنگه چه دیموکراسي بې له احزابو او بې د احزابو د قانون څخه کوم مفهوم نلري، نو ښايي چه د دیموکراسۍ سره د وفادارۍ او د موفقیت د پاره د احزابو د ولایتي جرگو او داسې نور قوانین ژر وایستل شي.

ـ عبدالروف بېنوا د موسی قلعه وکیل: قانون اساسی افغانستان در موارد (۱۰۹) (۱۱۰) (۱۱۱) تشکیل ولایت جرگه های کوچك محلی تا درجه قریه ها و ښاروالیها را بحیث سازمانهای دیموکراتیك بوسیله خود ساکنان محل از طریق انتخابات آزاد سری مستقیم پیشبینی کرده است ولی در خط مشی شما نه تنها از تاسیس جرگه های ولایت و جرگه های محلی ذکر بمیان نیامده بلکه در راه از بین بردن ښاروالی های انتصابی فعلی که مغایر ماده (۱۱۱) قانون اساسی بشکل غیر دیموکراتیك جریان دارد مژده هم داده نشده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اگر جناب شما توانستید که قانون احزاب، قانون ولایت جرگه و قانون شاروالی را بمرحله تنفیذ قانون برسانید کار بزرگی را انجام داده خواهید بود.

بناغلی صدراعظم موظف! بیانیه، وداعیه شما که در ختم دوره (۱۲) ولسي جرگه در این تالار ایراد گردید پیش روی من است و جناب شما در آنوقت چنین گفته بودید: (مشکل اساسی دیگر دوره دوازدهم ولسی جرگه عدم موجودیت احزاب سیاسی بود. این مسئله علاوه بر اینکه در تطبیق اساسات دیموکراسی از ضروریات است در سیر نظام پارلمانی نیز نقش مهم و بارز دارد) حالا در خط مشی شما در مورد احزاب کوچکترین ذکری نیست.

ـ لعل محمد اکبري د دایکندي وکیل: من به عقیده خود وجود احزاب سیاسی را در افغانستان بمنزله روح در پیکر دیموکراسی میدانم بنا بر این از حکومت شما خواهشمندم زمینه ظهور احزاب سیاسی را هر چه زوتر فراهم سازید.

تا وقتیکه ولایت جرگه ها در مرکز ولایات بوجود نیاید نمی توان از خود سریهای مامورین محلی، قضات و حکام جلوگیری گردد.

وقتیکه ما دیموکراسی نداشتیم ظاهراً شاروالیهای انتخابی وجود داشت ولی اکنون که دیموکراسی تا اندازه، رشد کرده چه دلیلی دردست است که کار شاروالیها را شاروال های باصطلاح سرپرست انجام بدهد.

ـ بسم الله د شینکۍ وکیل: تاسو د خط مشي په دریم بند کښي ویلي دي چه د مملکت د ژوندانه په څینو اړخو کښي د موضوعي قوانینو نشتوالی.

ځرګنده خبره ده چه د مخکنـي حکومتو په ‌شپږ کالو کښي بعضي ترتیب شوي قوانین چه له دواړو جرګو څخه ئي خپل مراحل طی کړي حکومتو د شخصي غرض په بنا په طاق د نسیان کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

واجول او بعضي قوانین چه یو شخصي گټو بنسټ وو په طور د قاچاق په تقنیني فرمان منظور کړل

ـ عبدالحسین مقصودي د ننګرهار وکیل. جناب صدراعظم موظف شما از عدم قوانین حرف میزنید ولی توجه نکرده اید که قوانین پاس شده از شوری مانند قانون احزاب. قانون شاروالیها قانون ولایتی جرگه وغیره قوانین که از مدت ها قبل باید نافذ میشد چرا از طرف حکومت ها در طاق نسیان گذاشته شده است.

جي سنگ د کابل وکیل: پنځم د پارلماني دیموکراسۍ له ایجاباتو سره سم د احزابو قانون مینځته راوستل.

ـ عبدالرحمن زهري د بلوڅي ریګستان د کوچیانو وکیل. آقای دکتور صدراعظم موظف! همانطوریکه شما در خط مشی خود اشاره فرموده اید ولسی جرگه هم وجود قوانین فرعی را که مکمل و متمم قانون اساسی بشمار میرود باشد ضروری میداند ولی چنانچه شما هم اطلاع دارید برخی از این قوانین ضروری امثال قانون احزاب سیاسی، قانون ولایت جرگه ها، قانون شاروالیها قبلاً از شوری گذشته که بعد از توشیح برای انفاذ آماده می باشند ولسی جرگه بانفاذ این قوانین شدیداً احتیاج حس میکند اگر قانون احزاب سیاسی نافذ نمیگردد و احزاب سیاسی تشکیل نمیشود حکومت قانون نافذ شده نمی تواند.

قانون شاروالیها سالها شد از شوری گذشته لیکن هنوز هم شهرهای ما در دست همان شاروال های سرپرست و فعال مایریدو دست شانده حکومت شهر داری میشود.

قانون ولایت جرگه ها در سال دوم دوره دوازده از شوری گذشته ولی تا حال هم نافذ نگردیده و جرگه های ولایت که اصلا نظام دیموکراسی ذریعه آنها در ولایات رونق میگرفت و مجلس ستا ذریعهء آنها اکمال میشد تا حال تشکیل نگردیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید رسول فکور د هرات وکیل تا آن زمان که طبقات حاکمه افغانستان زیر نفوذ امپریالیزم بر ما حکومت می کنند ناگزیر از انحراف ارزشهای دیموکراتیک قانون اساسی در ساحه قانون احزاب، ښاروالیها و ولایتی جرگه وغیره که با منافع شان تضاد دارد می باشند.

ـ میرزا محمد دقیق د گلستان وکیل: همچنان بمیان آمدن قانون احزاب، قانون ولایتی جرگه ها و قانون شاروالیها برای تامین دیموکراسی توجه جدی شما را میخواهم.

ـ خیرالله منور د خوګیانو وکیل: کوم وخت چه مې ستاسو خط مشي مطالعه کوله د سترګو کوښښ مې دا وو چه د اساسي قانون د (۱۲۶) مادې له حکم سره سم او د شورى د مخکينيو تصويبو په اساس د ګوندونو د قانون په هکله څه ووينم متاسفانه چه کوم تذکر نه وو راغلى وروسته مې بيا دا کوښښ کولو چه د ښاري چارو او ښاروالیو قانون د اساسي قانون د (۱۱۱) مادې په استناد څه پيدا کړم چه خداى مو له دې سر پرستانو څخه خلاص کړي اما هيڅ مې ونه ليدل. بيا مې په حتمي توګه دا ضرور ګڼلو چه د اساسي قانون د (۴۵) مادې سره سم د ولايت د جرګې د قانون په باب څه په لاس راشي اما څه په لاس رانغلل.

د ګوندونو قانون چه د ديموکراسۍ ريا هم ورته ويلى شوو د ضرورت له لحاظ څه رنګه چه زړه د وجود يو فعال ماشين ګڼلى شوو همداسي د ګوندونو موجوديت په ديموکراسۍ حتمي دى. د ښاروالیو قانون د اوسيدونکي د آرامۍ د پاره د يوې عادلې تلې حيثيت لري.

د ولايت جرګې قانون چه د مشرانو جرګې يو ثلث اعضاء تشکيلوى ستاسو په خط مشي کښې نشته.

ـ اسدالله صافي د تګاب وکيل: برخى قوانين بدسترس حکومت هاى سلف شما موجود بود و هست و در صورت حصول

(c) ketabton.com: The Digital Library

رای اعتماد بدسترس شما می باشد در تطبیق آن بذل مساعی نموده آنگاه از فقدان دیگر قوانین می توان تذکر داد.

ـ وزیر محمد د شرنی وکیل: باید تاسو پخپله تنګ لاره کښې په ډرګند ډول د ښاروالیو او ایالتي جرګو د انتخاباتو د مینځ ته راتللو ته اشاره کړې وای خو متاسفانه تاسو په تنګ لاره کښې دا شی نه ولیدل شو. د افغان ټول نجیب ملت ارزو لري ژر تر ژره ښاروالیو او ایالتي جرګو ته توجه وشي. تاسو د اساسي قانون د روحیې سره سم د سیاسي احزابو مینځ ته راتللو کومه یادونه نه ده کړې او په دیموکراسۍ کښې د سیاسي احزابو راتلل یو ضروري او حتمي کار ګڼل کیږي.

ـ جنت خان د جاني خیلو وکیل: س ـ رسمي حزبونه به کله اعلان شي؟

ج ـ کوم وخت چه ګلوګیر حزب له موره وزیږي

غلام سرور نبي یار د قره باغ وکیل: عدم موجودیت احزاب قانوني باعث بسا نابسامانیها گردیده است. احزاب در یك رژیم دیموکراسی حیثیت روح را در یك بدن دارد آرزو دارم که این روح در کالبد مردم ما نیز بدمد.

ـ محمد آصف پوپل د کوز کونړ وکیل: تشویش من از این است که جلالتماب شما از قانون احزاب، قانون اتحادیه محصلین، جرگه های ولایتی و ښاروالیها که همه آنها هسته کاملیت قانون اساسی و دیموکراسی کشور را تشکیل میدهد تذکری نداده اند. من به نمایندگی از مردم افغانستان و جوانان با درد و وطن پرست و صدیق توجه حکومت شما را در بنمورد آرزومندم چه در غیر آن سهل انگاری حکومت شما درینمورد روزی سلسله همکاری بین ما را از هم خواهد شکست.

ـ حاجي فقیر محمد د جلال آباد وکیل: یکی از وظیفه مهم اینست که مسئله احزاب سیاسی را حل و فصل کنید. اگر حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دموکراسی میخواهیم باید احزاب سیاسی نیز داشته باشیم قانون ولایتی جرگه عامل مهم دیگریست که نظر ما را جلب نموده. توجه جدی حکومت آینده را بیان معطوف میگردانیم زیرا در اصل خود جرگه ولایتی تقسیمات فرعی ولسی جرگه بوده گفته میتوانیم که متمم آن می باشد اگر مقصد شما از فقدان قانون ښاروالی آزاد و ولایتی جرگه باشد با شما همنوا... می باشیم.

محمد حکیم صدیقی د ینگی قلعه وکیل: طوریکه به صورت مجمل در خط مشی به قوانین متمم اشاره کرده اید کافی نیست باید واضح در مورد تطبیق قوانین ښاروالی، ولایتی جرگه و قانون احزاب وعده میدادید.

حاجي محمد احسان د ده سبز وکیل: ما انکاری نداریم که با داشتن قانون اساسی و تطبیق صحیح آن یك سلسله خواسته های ملت تامین میشود ولی چون متمم و مکمل قانون اساسی مملکت قوانین دیگریست که بایست برای تکمیل این قانون بوجود می آمد

نور علم مظلوم یار د میدان وکیل: در حصه قانون ښاروالیها و قانون احزاب بالخاصه در قانون انتخابات ولایتی جرگه چنین اظهار نظر مینمایم ماده (۴۰) قانون اساسی در عضویت مشرانو جرگه دو ثلث انتخابی و یك ثلث انتصابی واضح و تصریح داشته اما یك ثلث انتخابی که از راه ولایتی جرگه در عضویت مشرانو جرگه استحقاق قانونی داشته وجود ندارد پس فیصله های مشرانو جرگه به این اساس قانونی نخواهد بود. من نمیدانم که عدم موجودیت تطبیق آن چه خواهد بوده.

حاجي عبدالعلي تیموري د اوبی وکیل: برای تطبیق دیموکراسی واقعی در شرایط فعلی ملت نجیب افغان نیازمند نافذ شدن قانون ولایت جرگه و قانون ښاروالیها بوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد عوث اسحق زی د لاس وجوین وکیل. واقعیت اینست که یك نظام پارلمانی وقتی ماهیت قانونی داشته می تواند که در مملکت احزاب سیاسی بحکم ماده (۳۲) قانون اساسی وجود داشته باشد و حزب بر سر اقتدار یا حزبیکه حکومت را تشکیل می دهد در ولسی جرگه اکثریت داشته باشد ولی متاسفانه دیموکراسی ما که دیموکراسی افغانیست و با هیچ اصل نظام دیموکراسی توافق ندارد فاقد این کیفیت حزبیست جای تاسف است که حکومتهای افغانستان به این نکته اساسی یعنی قانون احزاب توجه نکرده همچنان حکومتها در مورد قوانین ښاروالیها و ولایتی جرگه توجه ندارند چنانچه در خط مشی شما نیز در باره این قوانین ذکری بعمل نیامده است.

- سید امیر د خان آباد وکیل: ښاغلی موظف صدراعظم صاحب! هر کله چه تاسو په دولسمه دوره کښې د اولسي جرگې د ریاست افتخار درلود څو قوانین د اولسي جرگې نه پاس شوه چه په هغو کښې دغه درې قوانین ډیر ضرور وو: د احزابو قانون. د ولایت جرگې قانون، د ښاروالۍ قانون هیله ده چه ستا د حکومت د راتلو په اساس دا قوانین د عمل میدان ته را واوزي.

- حاجي عبدالستار د ملاخیل د اجرستان وکیل: د ولایتي جرگې د قانون معطلي او ځنډ د اساسي قانون ارزښتونو سره مخالف دي ځکه چه د مشرانو جرگې یو ثلث ئې کم کړی دی، باید د اساسي قانون په حکم د مشرانو جرگې یو ثلث پوره شي ترڅو چه د دوی تعاویب او فیصلې قانوني بڼه غوره کړي.

- حاجي فدا محمد د زنده جان وکیل: بیمورد نیست یاد آور شوم تا شما و آن عده وزرای تان سعی نمائید که قانون اساسی مملکت و این وثیقه ملی افغان را طوریکه در طرح آن کوشش نموده اید در راه تطبیق مواد مندرجه آن نیز از هیچگونه فداکاری دریغ نفرمائید. بوجود آوردن قانون ولایتی جرگه. قانون ښاروالیها امری است حتمی و قابل تذکر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ محمد کریم صحرائي د دهراود وکیل: ستاسې د حکومت څخه زموږ جدي هیله دا ده چه د اساسي قانون پاته ارزښتونه لکه د احزابو قانون، دښاروالیو قانون، د ولایتي جرگه گیو قانون او د ښخو د ملي کالو قانون ژر د عمل صحنې ته راوباسئ.

ـ میر احمد میوند دمیوند وکیل: ښاغلی موظف صدراعظم! تاسې پخپله خط مشي کښې دیو شمیر قوانینو نشتوالی اول ذکر کوئ دلته دا سوال پیدا کیږي هغه مهم او ډیر ضروري قوانین چه شورې ډیر پخوا تصویب کړیدي لکه د احزابو قانون، د ښاروالۍ قانون، د ولایتي جرگې قانون او داسې نور څه شوه او ستاسو حکومت له هغو سره څه کوي؟ او د تقنیني انسداد چاره به څه وي؟ هغه غیر مطبوع قوانین چه د شورې په ارشیف کښې پراته دي تدفین او تجهیز به ئې د چا په غاړه وي؟.

ـ عبدالقیوم د اندراب وکیل: ښاغلی صدراعظم موظف! برای مشکلات اقتصادي و اجتماعي عمده ترین علت آنرا فقدان قوانین بیان نموده اید. در این جا سوال پیدا میشود که قوانینیکه از طریق شوری در دوره دوازده و سیزده به تصویب رسیده است تا حال در معرض تطبیق گذاشته نشده است و قوانینیکه موجود است پنج فیصد هم مورد تطبیق قرار نمیگیرد.

ـ سید مبین شاه امیر د هلمند د مرکز وکیل: د احزابو قانون د دیموکراسۍ د اساسي تشکیل او تکامل اصلي بنسټ او تهداب گڼم ترڅو چه دا واقعي ضرورت رفع نشي او قانون ئې مینځ ته رانشي. د دیموکراسۍ د صحیح او سالمې ودې امکان نشي موجودیدلای[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال، تسلسه گڼه
د ۱۳۵۰ د مرغومي ۲ مه
د ۱۹۷۱ د جنوري ۱۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تجرید

یو سړی چې خپلو ناوړو اعمالو په وجه د اولس له خوا په تجرید محکوم شي، نو بیا ورسره خلك راشه درشه پریږدي، په مړي او ژوندي ئې نه خبروي. سلام ئې ناخلي او سلام نه ور اچوي. د یوه نا ملموس یا جذامي مریض په شان ګوښی اوسي او د هر چا علاقه ورسره قطع وي.

بندي خو بیا وي خلك ئې خبر اخلي او پوښتنه ئې کوي، مګر تجرید شوی سړی د هر چا له زړه وتلی او له نظره لویدلی وي.

څنګه چه یو فرد په فردي حیات کښې تجرید سره مخامخ کیږي حکومت هم کله کله د خپلو خلکو له خوا په تجرید محکوم کیږي یا د نورو حکومتونو د علاقې په قطع کیدو تجریدي حالت اختیاروي او منزوي کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکومت تجرید په داخل کښې وي او که په خارج کښې د سیاسي انتحار حکم لري او بالاخره لکه د پاکستان حکومت له نه تلافي کیدونکي خسران او خزلان سره مواجه کیږي.

که یو حکومت په داخل کښې د خپلو خلکو له قطع علاقې سره مخامخ شي او د حکومت و ملت تر مینځ ډیره فاصله پیدا شي نو بیا دغه حال په داخل کښې محصور نه پاتې کیږي خارج ته هم سرایت کوي او په خارجي سیاست کښې هم ګوښی کیږي او یوازې کیږي.

هغه حکومت چه خلك ورته په کرکه ګوري د جهان په نظر کښې هم خوار او بیمقداره وي.

زمونږ حکومتونه هم له ځو مودې راهیسې په بیره د تجرید خوا ته درومي او په داخل او خارج کښې له ملي او بین المللي انزوا او ګوښي توب سره غاړه غړې دي یو حکومت چه د ملت له حمایت څخه برخوردار نه وي او د اولس علاقه ئې نه وي جلب کړې هغه په حقیقت کښې په تجرید محکوم دی.

څوك چه د وطن په حال کښې یو څه مطالعه لري هغه پوهیږي چه منورین او ترقي غوښتونکي ځینې له حکومت سره د مجادلې په حال کښې دي، ځینو ورسره مقاطعه کړې او ځینې نور ورسره بې علاقې پاتې شویدي (و ذالك اضعف الایمان) د شورى وضع هم له حکومت سره له چانه پټه نه ده او هر څوك په دې پوهیږي چه یوازې د اعلیحضرت معظم همایوني حمایت او عنایت دی چه حکومتونه ئې په بست کښې ساتلی دی او که دا نه وی نو د حکومت او شورى تیره د وخته ماته ده او خوسي ئې سره نه خري.

ملایان او روحانیون هم د دیني او مذهبي امورو په وجه له حکومت سره د تصادم او مخالفت په حال کښې دی او د پل خشتي زړه دردوونکې خاطره هیڅکله نه هیروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکومت مامورین هم چه یو لږ شمیر ترې مستثنی کړو عموماً له حکومتونو څخه نه کې او ناراضه دي

هغه بې قانوني اجراآت او په ماموریتونو کښې مالکانه تصرفات چه لوی کار داران یې وخت په وخت د شخصي ملاحظاتو په وجه په دوائرو کښې کوي مأموریت ئې د عبودیت او شخصي مالکیت درجې ته راټیټ کړی چه تحمل ئې د شخصیت خاوندانو ته ډیر مشکل دی.

همدغه وجه ده چه د مامورینو عمومي نظر ورته ښه نه دی او دلته هم یوه مجبوره خاموشه کرکه موجوده ده.

سرمایه داران. ملاکان او اعیان و اشراف هم چه د اوسنیو حکومتونو اداري فتور نظامي ضعف او سیاسي انحطاط وینې خپل هر څه په خطر کښې وینې ځکه معنا او مادتا له دې ځایه تللي او ظاهرا دلته د پښو په سر ناست دي یعنې له دې ناحیې نه هم حکومت له تجرید سره مخامخ دی.

دغه له هرې خوا تجرید چه حکومت ته متوجه دی د کابینې په داخل کښې ئې هم حلول او نفوذ کړی او خبره دې حد ته رسیدلې ده چه کله صدراعظم. کله معاون. کله یو وزیر او کله بل د تجرید په حال کښې لیدل کیږي او د ځان ځانۍ په وجه د تجرید او مقاطعې چاره هډوکي ته رسیدلې ده

که حکومت غواړي چه له دغه هراړخیز تجرید څخه نجات ومومي او د خلکو اعتماد حاصل کړي خلکو ته دې هغه څه وړاندې کړي چه خلك ئې غواړي او د خلکو په ګټه وي.

دغسې یو حکومت چه خط مشي ئې په اولسي جرګه کښې په سلو کښې لس هم سه خوښوي او اکثریت ئې د قناعت وړ نه ګڼي هغه څنګه ویلی شي چه مونږ د خلکو غوښتنو ته سم او صحیح جواب ورکړی دی.

حکومت باید په دې بنه پوه شي چه د يوه رسم په حيث د اولسي جرگې په تش لاس جکولو غير حقيقي اعتماد په طفيلي ډول حاصلول د استناد وړ نه دی.

ترڅو چه يو حکومت عملا په صادقانه ډول يو مترقي حرکت شروع نکړي او له استثماري او ارتجاعي سياست نه لاس وانخلي ملي قدرت او منورين له خان سره نشي ملگري کولی او له تجريد نه نشي راوتلی

حکومت باید کاملا او حقيقتا ملي او غير انتصابي شي.

د يوه حکومت د ملي کيدو د پاره يوازې ملي څېره پيدا کول کافي نشو گڼلی

ملي حکومت باید ملي طبيعت، ملي خاصيت او ملي روحيه ولري او قلب و دماغ ئې ملي وي.

کوم حکومت چه په باطن کښې شخصي او په ظاهره کښې ملي وي يعني لکه خامسوزه ډوډۍ مغز ئې خام او مخ ئې سوی وي څوک ئې نه خوښوي او په صحيح معنی پخه ډوډۍ ورته نشو ويلی.[1]

[1] معرفي جريده، لومړى كال، ۲۱ گڼه
د ۱۳۵۰ د مرغومي ۲۷ مه
د ۱۹۷۲ د جنورۍ ۱۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکرونو مخه کومې خوا ته

## د ګرزیدو په حال کښې ده؟

دلته خو ملي تشکیلات نشته او د حزبونو حساب نه دی معلوم چه سړی د حزبي اکثریت له مخې د خلکو تمایلات او عامه افکار ځانته معلوم کړي.

یوازینی مرجع چه د اساسي قانون په حکم ئې د افغانستان د خلکو د فکر او نظر منعکس کوونکی ګڼلی شو ملي شوری او خصوصاً ولسي جرګه ده.

سږ کال چه د ښاغلي ډاکتر عبدالظاهر کابینه ولسي جرګې ته معرفي شوه او د سرطان په ۱۶ مه د افغانستان په راډیو کښې د ښاغلو وکیلانو وینا وې شروع شوې ما دغه فکري جریان له ځو خواو په ځو لحاظه تعقیباوه.

لومړی نوبت د ښاغلي محمد یوسف بینش د کابل وکیل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده په خبرو کښې مې چه دا ټکي واورېده " باوجود امدن قانون اساسی اعمال بدتر از دوره های دکتاتوری این مرز و بوم بیادګار دارند" دفعتاً راته دا فکر پیدا شو چه زمونږ دیموکراتیک حکومتونه د دیموکراسۍ په ناکامولو او بدنامولو کښې څومره موفق دي چه چا د مجبوریت له مخې چا قصداً او چا د بې کفایتۍ په وجه له دغه تحول یا نهضت څخه خلك زړه تورن کړیدي.

دغه وکیل صاحب دا هم ویل " قانون صامت ما اګر ناطق میبود از طبقه بندیها و قانون شکنی های انانیکه خود را نزدیکتر بقانون یا مطیع قانون یا اورنده این قانون میدانستند بزبان فصیح و بچشم ګریان یاد میکرد" دغو خبرو زه نور هم متحسس کړم او دا راته ضروري ښکاره شوه چه د وکیل صاحبانو دغه راز خبرې تعقیب کړم او وګورم چه څومره وکیلان له دغې دیموکراسۍ نه چه مونږ ئې لرو سرټکوي او ناراضه دي

دلته راته دا اندیښنه هم پیدا شوه هسې نه چه مایوسي هغه حد ته رسیدلي وي چه له اساسي قانون نه وروسته حکومتونه د خلکو په نظر کښې د مملکت د تباهۍ او بربادۍ عوامل ګڼل شوي وي او دغه راز دیموکراسي نوره د تحمل وړ نه وي.

په دغه فکر مې د افکارو څارنه شروع کړه او د ښاغلو وکیلانو په ویناو کښې مې دا مطلب په ډیرو صریحو الفاظو کښې وموند چه دغه دیموکراسي اوس هر چا پیژندلې ده او له دکتاتورۍ نه هم ورته بده ښکاري.

دا دیموکراسي چه نه پکښې د دیموکراسۍ رنګ شته نه خوند نه بوی یعنې دریواړه صفتونه ئې بایللي دي او بې حزبه. بې قانونه. بې قدرته او بې عدالته دیموکراسي ورته ویلی شو د هیچا نه خونېږي او هیڅوك پرې نه غولېږي. څوك ورته قلابي او سالوسانه وايي. څوك سر او دم بریده بولي او نیم بنده دیموکراسي خو یوه اصطلاح ګرزیدلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـه څه چـه دا خل پـه ولسـي جـرګه کـښې د ديموکراسـۍ او بـې قانونۍ په باب وويل شوه ځنې مثالونـه ئـې دا دي.

ـ ديموکراسـي کـه در مملکـت مـا بعـد از انفـاذ قـانون اساسـي مـورد تطبيـق قـرار ګرفتـه روی عوامـل متعـد دی چـه از نـګاه تعبيـر هـای اشـتباه اميـز و چـه از روی تخلـف از ايجابـات ان شـکل عجيبـي بخـود ګرفتـه اسـت.

(ابلاغ د بګرام وکيل)

ـ دا څنـګه ديموکراسـي ده چه مـخ ئـې د قـدرت خـاوندانو تـه دی او شا ئې مظلومې طبقې تـه

(صفر محمد خروټی)

ـ نه دا ښان ديموکراسي چـه تش تشـريفاتي او ظـاهري شـو ولـري.

(حاجي محمد اصف د کندهار)

ـ ديموکراسي د يـو څو کسـو او يـو څو کورنيـو د پـاره ده نـه د عـام ملت د پـاره.

(سراج الدين منګل)

ـ ديموکراسـي هغـه ږيـره ده چـه ولاړه د يـو چـا پـه مـخ او واك ئـې د بـل چـا وي.

دا تشـه پـه نامـه ديموکراسـي نـه ستاسـې پـه درد خـوري نـه د مملکت او نه زمونږ د خلکـو، دا د ديموکراسۍ ګناه نـه ده دا د هغـو ارتجاعي قوتونو ګناه ده چه ديموکراسـي ئـې خلکـو تـه بدنامـه کـړه.

(بينوا د موسی قلعه وکيل).

ـ وقتـی کـه مـا ديموکراسی نداشـتيم ظـاهرا ښاروالیـهای انتخـابی وجـود داشـت ولـی اکنـون کـار ښـاروالیها را ښـاروالهای سـرپرسـت انجام ميدهـد.

(لعل محمد اکبري).

ـ مونـږ وينـو او ګورو چـه د ممتـازو اشـخاصو لپـاره يـو قسـم ديموکراسي او په ملـي مسـايلو کـښې ديموکراسـي بيـل شـکل لـري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(علي محمد د اچين وکيل)
ـ لـه هغـې ورخې چـه اساسـي قـانون پـه هيـواد کـښې نـافذ شـوى د خلکـو هيلې ئـې د تطبيـق لـه املـه ورځ پـه ورځ پـه نـا اميـدئ بدلـې کړې او نژدې ده چـه د هغـو اعتمـاد پـه بـې اعتمـادئ سره بـدل شي.

(عبدالله احمدزی)
ـ اساسـي قـانون پـه مملکـت کـښې نـدى تطبيـق شـوى د خلکـو مشـکلات لا هـم پسـې زيـات شـوي دي.

(حاجي محمد د گرمسير وکيل)
ـ اساسي قانون چـه د هـر ظـالم تـر پښو لانـدې چيغـې او نـارې وهـې د مسـتبدانو او ليوانـو لـه منگولـو راخـلاص کـړئ.

(بهاوالحق د وازې خوا وکيل)
ـ بـا وصفيکـه قـانون از طـرف مـامورين جـگر خونسـت زيـر پـاى متحد المال هاى ضـد و نقيـض هم قـرار دارد.

(سيد محمد رفيق نادم)
ـ زموږ ملي وثيقه د ظالمو او خود غرضـو حکومتـو لـه پلوه تراوسه پوري يوازې د خولې د ويلو څخه پورته د عمل په صحنه کښې تطبيق شوې نه ده.

(مولوى سيد اکبر د پل علم وکيل)
ـ يکـى از خواسـته هـاى مردم افغانسـتان انسـت کـه بقـانون عمـل شـود متاسفانه قـانون بکلى جنبه عملى نداشته بـايد شـکل عملى ان عـام باشـد.

(عبدالحفيظ د نهرين وکيل)
ـ يکـى از عوامـل بسـيارى از مشـکلات مـا تطبيـق نشـدن قـانون اساسى ميباشـد.

(کمال الدين د سرپل وکيل)
ـ نظـام ادارى مملکـت نسـبت بـه زمـان قبل از قـانون اساسـى بيـش از بيـش بسـوى فسـاد کشـانيده شـده اسـت. قـانون نـه تنـها تطبيـق نميشـود بلکـه بـالاى ان تمسـخر ميشـود.

(عبدالقيوم د اندراب وکيل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د ديموكراسۍ دوري حكومتونو ډېرې وعدې وكړې خو له بده مرغه يوه يې هم عملي نكړه

(عبدالله د سيداباد وكيل)

ـ ديموكراسي طبقاتي موجود شما اصلا وسيله مظالم و تاخت و تاز براى مستبدين، مرتجعين، متنفذين محلي است. ديموكراسي طبقاتي موجود ديموكراسي سرودم بريده جعلي و سالوسانه ايست كه براى توانگران در حكم سعادت و براى رنجبران و زحمتكشان در حكم دام فريب است بيقين كه نور چشمي هاى فاسد طبقات حاكم از هر گونه ازادى تا دستبرد بجان و ناموس مردم برخور دارند.

(د كابل وكيل)

ـ طبقات حاكمه بيداد گر و حكومت هاى متكى بر ان خود مانع تكامل ديموكراسي در كشور اند چنانچه در مورد قوانين احزاب، شاروالیها و ولايتي جرگه و ساير قوانين ديموكراتيك مشي ارتجاعي دارند و با اعمال ضد ديموكراتيك و ضد قانوني خود زمينه را براى حاد تر شدن ارتجاع بيشتر مساعد ميسازد.

(د پغمان وكيل)

د ډېرو ښاغلو وكيلانو له دغسې خبرو نه دا معلومېده چه له اساسي قانون نه وروسته حكومتونه د ديموكراسۍ په تمثيل كښې ډېر نامطلوب نقش لري او د خلكو په ذهن كښې په بې كفايتۍ، قانون شكنۍ، اسلام دښمنيو او د اداري او سياسي فهم و قابليت په فقدان سخت محكوم شوي دي چه د مملكت د شئونو ساتنه له دوى نه پوره نه بولي. بلكه يو ډېر عظيم خطر ملك او وطن ته د راتلو په حال كښې ويني چه له دغسې زمامدارانو نه ئې د مخنيوي هيله نشي كولى او په دوى ئې سترګې نه ډكېږي.

څينو ښاغلو وكيلانو د دغې سابقې په تحث كښې د اساسي قانون له حد فاصل نه هغه خوا نظر وځغلاوه او په داسې حال كښې چه په نوي رنګ كښې راوتونكو حكومتونو ته بد ويل كېده د ښاغلي سردار محمد داود نوم په ښه ډول داسې يادېده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ښاغلی سراج الدین منګل د خمکنیو وکیل: د ځمکو د اصلاح قانون د منځني ختیځ په اکثرو هېوادو کښې عملي شو مګر په افغانستان کښې چه د دې نهضت اوازې د ښاغلي سردار محمد داود د صدارت په وخت کښې وې نه تنها دا چه دا نهضت قوي نکړی شو بلکه لا پسې خپه کړی شو.

۲. ښاغلی میرزا محمد دقیق د ګلستان وکیل: د پښتونستان موضوع څرنګه چه نورو د ملت نمایندګانو هم یاده کړه زه د ښاغلي سردار محمد داود د مخنې صدراعظم د اعلان او ادعا سره سم ستاسو د حکومت فرضي وظیفه ګڼم.

۳ ښاغلی حاجي محمد اقبال د خاځیو وکیل: ښاغلی سردار محمد داود د افغانستان د پاره د دیموکراسۍ بنسټ کېښود. همدارنګه پوازې سردار محمد داود و چه د افغانستان په اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او نورو اړخونو کښې ئې څرګند تحول راوست او هغه څه شی چه په افغانستان کښې لیدل کیږي د ښاغلي سردار محمد داود د عالي مفکورې خیر غوښتونکي سنجش، ایمانداری، غیرت، پاك احساس، زحمت کښنۍ او د سیاسي شعور محصول دی نو زه هیله کوم چه د پښتونستان حیاتي او ملي مسئلې ته د سردار محمد داود په شان په اخلاص او پاکه عقیده خاصه پاملرنه وشي.

۴ ښاغلی علي محمد د شینوارو د اچین وکیل: کوم وخت چه ښاغلی سردار محمد داود صدراعظم و د وخت د ایجاباتو سره سم نې د افغانستان په ټولو چارو کښې سمون یعني فرهنګي، زراعتي، اقتصادي او اجتماعي د قانون سره سم مینځ ته راوړ او په هغه وخت کښې نه قاچاق بر او نه رشوتخور معلومیده او نه احتکار او اختلاس کارو.

۵. ښاغلی حاجي فقیر محمد د جلال اباد وکیل: من یقین دارم که پروژه انکشاف وادی ننګرهار برای پیشرفت و تحول سویه حیاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

واجب خی مردم در وقت حکومت سردار محمد داود رویدست گرفته شده است اگر زمین ها بمردم غریب که زمین ندارند بقیمت مناسب و قسط های معینه داده شود در بهبود حیات مردم نقش بسزایی خواهد داشت

۶ ښاغلی عزیز الله واصفي: د پښتونستان او بلوچستان د ازادۍ موضوع د افغانستان په سرنوشت مستقیم تاثیر لري.

د دې موضوع تاریخي سیر د والاحضرت سردار محمد داود د حکومت په دوره کښې په ملي توګه د افغانستان د ملي سیاست جزء و چه ورو ورو د حکومتونو سیاسي ملعبه وګرزیده.

۷ ښاغلی ولي محمد رحیمي د چاربولك وکیل: اولین بار در زمان صدارت والاحضرت سردار محمد داود توجه جدی بطرف انکشاف اقتصادی و اجتماعی کشور از طریق رعایت سیستم اقتصادی مختلط رهبری شده وطرح پلان های پنجساله اقتصادی بعمل امد.

۸ ښاغلی ننګ یوسفزی د دشت ارچي وکیل: د پښتونستان موضوع چه د والاحضرت سردار محمد داود په وخت کښې چه یو باشهامته او شریف افغان و دحکومت د پالیسۍ روحي او بنیادي جزء و

دغه راز یادونې په دې لحاظ د اعتناء وړ معلومیدې چه په یوه لوی ملي مجلس کښې چه څو حکومتونه په عمومي ډول تقبیح کیدل او د لعن و طعن بازار تودویو شخص چه تقریبا لس کاله ښوا صدراعظم و او د بحث موضوع سره چه ډیر بعید تعلق درلودپه ښه نامه یادیده او ستاینه ئې کیدله.

په دغو یادونو پسې څه موده وروسته د مشرانو جرګې یوه پوه غړي چه په نوي جریان کښې ئې مهمه برخه درلوده او په قصه ښه خبر ویعنې ښاغلی سید شمس الدین مجروح د ښاغلي سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد داود په باب پخپله يوه مقاله کښي خپل فکر او نظر داسې څرګند کړ:

قربانيان و تلفات تحول.

د مجروح د مقالې يوه برخه:

عراده نظام اداري ما در مسير تاريخ به دو راهي رسيد ه بايست يک طرفي را اختيار کند. عراده بيک سوي معيني براه افتاد و ما اين حرکت را تحول ناميديم.

حکومت والاحضرت سردار محمد داود مقدمات اين تحول را چيده بود( که ان موضوع جداګانه است و چون من خود شاهد اين حوادث بودم در فرصت ديګري از ان بحث خواهم کرد) سردار موصوف راه را براي تحول باز کرد بنفع تحول و بنفع يک تجربه نوي در راه ديموکراسي و تفکيک قوا کنار شد و استعفي داد.

اما از ان وقتي که اين حکومت مستعفي شد تمام جريانات از خاطرها فراموش ګشت و ګويا تاريخ تحول و تاريخ سياسي ما از نقطه صفر شروع کرد و از ان روز به بعد اغاز شد.

جريان طوري براه افتاد که از پشتيباني و حمايت سردار موصوف محروم و بي نصيب شد او مي توانست براي پيشرفت اين جريان مددګار خوبي باشد و کمکهاي اخلاقي و غير رسمي بکند.

بهر حال خواه جريان او را از خود بيګانه ساخت ويا او بيګانګي اختيار کرد اما امداد او ميسر نشد اين خساره نخستين بود که مملکت با ان مواجه شد.

ان کسي که در سالهاي اخير تاريخ سياسي و اداري ما نقش بس بزرګ و مهمي بازي کرده بود بګوشه انزوا رفت و نامي ګاهي از و ګرفته نشد. نقش مهمي که به ان اشاره کردم عبارت ازينست:

که او توانست افغانستان را در جريان سياست بين المللي وارد کند و مملکت را از سياست انزوا و سربسته ګي بدر ارد. و ثانيا او بود که حقوق زنها را که سالها در افغانستان اهمال شده بود بدهد... و ثالثا هم او بود که راه را براي جريان دموکراسي و اين

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجربه نو باز کړد (د افغان ۸مه گڼه). په دې مقالې پسې اوس يوه بله مقاله د ښاغلي صداقت په قلم خپره شوه چه عنوان ئې و (د غنمو د پاره) په دې مقاله کښې سردار محمد داود داسې بيان شوی دی:

... په دغه وخت کښې بې د عسکري سوقياتو او جنګ څخه تش په صادقانه سياسي هڅو د پښتنو او بلوڅو ورونو د پاره مونږ ډېر زيات سياسي امتيازات حاصلولی شول.

... خو د دې طلايي چانس نه هم مونږ د غنمو د دانې په وجه محروم شوو ځکه چه د پاکستان حکومت زمونږ د بمباريو نه پاتې غنم د کرايې په مقابل کښې د اورګاډي په ډېرو کښې پېښور ته راورسول او د افغانستان حکومت د دې لوی احسان له کبله دا مناسب ونه ګڼله چه په دې طلايي وخت کښې د پښتونستان په نفع اواز پورته کړي.

ما اوريدلي دي چه د سردار محمد داود د صدارت په وخت کښې د پاکستان حکومت د امريکې په وساطت افغانستان ته ډېر داسې پيشکشونه کړي وو چه د پښتونستان د غوښتنې نه دې تېر شي، پاکستان به د تورخم په لار تر جلال اباده او د سپين بولدك په لار تر کندهاره د ګاډي خط راوغځوي او د افغانستان د مالونو د حمل و نقل د پاره به اسانتياوې برابرې کړي حتی ويل کيږي چه د بحيره عرب د کوم بندر پورې ئې ورته د يو کريډور پيشکش هم کړی و خو د هغه وخت حکومت نه و منلي او ويلي ئې و چه مونږ د پښتونستان په مسئله خپل ځانته امتيازات نه غواړو.

(افغان، ۲۰ مه ګڼه)

ښاغلي صداقت د پښتونستان ټينګ او وفادار غوښتونکی چه له اوسني حکومت او غنم غوښتونکي کندم نما سياست څخه بېخي نا اميده کيږي نو ښاغلي سردار محمد داود ئې سترګو ته دريږي او د تير وخت په ياد و لږ غوندې خپل زړه ښه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت هر چا ته هم د پښتونستان د مطلبي په لحاظ او هم د سوړه جهاني او ملي مسايلو په لحاظ ډېر با اهميت ښکاري او د حسو احساساتو په مقابل کښې دغه راز حکومتونه چه مونږ ني لرو بيوسه او بې کسه معلوميږي چه د هيچا د اميد سترګي نه وراوړي سرى چه په مجلسو او محفلو کښې خصوصاً د پښتونستان نه نظره څه اوري داسې معلوميږي چه هر څوك دلته يوه ډېره لويه خلا ويني او حيران دى چه دا به څنګه او په چا ډکيږي؟.

حکومت د غلي د فقر احساس کوي او د ملت پوهه طبقه د شخصيتونو فقر ډېر وارخطا کړي دي. زمونږ مختنقي ړندي کښې ديموکراسي خو د احزابو د فقدان په وجه نوي ملي شخصيتونه پيدا نکړي شوه او خلمي استعدادونه چا سر جګولو ته پرې نښوده.

خلك فکر کوي چه دغسې مغتنم طلايي فرصت کښې که کوم د عزم او ارادې خاوند او د سياسي او اداري قابليت لرونکي شخصيت د حکومت په راس کښې واقع واى يو ملي او تاريخي افتخار به لاس ته راغلى واى. په دغسې وختونو کښې که يو ملت ملي او سياسي فداکار او صادق شخصيتونه ولري او په حکومت کښې د زعامت او امامت اهليت موجود وي چه د فکر او عمل ابتکار پکښې وي په خلکو کښې نوې روحيه او روحي قوه پيدا کولى او خيني لوى لوى کارونه سرته رسولى شي.

همدغه راز حالات او د وخت ضرورتونه د قهرمانانو په پيدا کولو او جوړولو کښې ډېر دخل لري په دې شرط چه هوا او فضا مسمومه نه وي.

خلك غواړي چه يو څوك پيدا کړي يا څوك پيدا شي د اميد سترګي ور واوړي خکه يو پلو بل پلو ګوري او په نباغلي سردار محمد داود ني سترګي نښلي.

که څوك په خان کښې څه ويني او د خلکو تمايلات جلبولى شي که له دغه وخت نه استفاده نه کوي ګناه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مخلصي سردار محمد داود د پښتونستان د ملي او تاريخي افتخار کملو د پاره څه کولی شي او بيا له دې سره څوك دغه کار ته چمتو نه دي نو د اساسي قانون په چوکاټ کښې هم دغه خدمت سرته رسولی او يو څه کولی شي پدې شرط چه د معظم اعليحضرت مستعدي ورسره ملګري وي.

د دې لامله چه همايوني اعليحضرت له هر جانبه زيات د وخت په ايجاب او ضرورت ډير ښه پوهيږي بعيده نه ده چه د دوی په لارښودنه دا تاريخي افتخار په هره وسيله او په هر قيمت چه وي د افغانستان د پاره حاصل شي او ډير امکان لري چه له سياسي او ديپلوماسي لارې د افتخار ور څه حاصل شوي هم وي چه مونږ ته نه وي معلوم او زمونږ له فهم او توقع څخه پورته وي.

په دې مقاله کښې زما اصلي او اساسي منظور دا دی چه لوړ مقامات د نوي جريان او تحول په مقابل کښې د خلکو مايوسي او نا اميدي بې اهميته ونه ګڼي او دغه مخالف نظر چه د دغسې حکومتونو په نسبت د نشو و نما په حال کښې دي له نظره ونه غورځوي او عواقبو ته ئې په جدي توګه متوجه شي يا متوجه وي.[1]

---

[1] افغان جريده لومړی کال ۲۲ مه ګڼه

د ۱۳۵ د سلواغې ۴ مه

د ۱۹۷۲ د جنورۍ ۲۴ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تبعیض او امتیاز یعني څه؟

دوه ماموران دي چه یوه تر نهم صنفه لوستی دی او بل په لوړو تحصیلاتو داکتري ترلاسه کړې ده.

کله چه لومړي مامور په مکتب کښې معلم و دا بل متعلم و مگر اوس ده ته تقاعد ورکړ شو او هغه مامور چه د داکتر د پلار په ځای دی د خدمت په تمدید د لوړې څوکۍ خاوند دی.

اوس پوه شوئ چه تبعیض او امتیاز څه ته وایي او څنگه عملي کیږي؟!

زه د دې دواړو نومونه ځکه ناخلم چه شخصي رنگ پیدا نکړي او د دوی په نوم اخیستلو زه پخپله د تبعیض مرتکب نشم ځکه چه د دغسې فوق العاده اجرااتو نور مثالونه هم شته چه هغه نه یادول او دوی یادول پخپله یو ډول تبعیض او امتیاز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سري دلته او هلته ځيني مشيخ ويني چه په دفترونو کښي ناست دي او بالعکس ځيني نور تر هغو کشران د ماموريت د عمر په لحاظ ځوانيمرګان يعني متقاعد شوه.

زمونږ په اول رتبه او فوق رتبه کاردارانو کښي همدغه اوس ځيني داسي بيسواده محترم شخصيتونه شته چه يو کوچني ليك هم بي له ډيرو املايي، انشايي. لغوي او ګرامري غلطيو نشي ليکلی مګر په مقابل کښي ئې د لوړو تحصيلاتو خاوندان يا وزګار ګرزي او يا په ټيټ کار موظف دي چه د تبعيض او امتياز ډير برجسته مثالونه ورته ويلی شو (که څوك ئې نه مني د بېسوادئ قوي اسناد ئې ښودلی شوو) مګر غلط فهمي بايد پيښه نشي او هر څوك په دي پوه شي چه دا هغه تبعيض او امتياز نه دی چه اساسي قانون تحريم کړيدی بلکه قانون پخپله دغه تبعيض منلی دی.

د اساسي قانون په (۳۷) ماده کښي د ماموريت اساس اهليت ګڼل شوی دی نه سواد او تعليم.

که اوس په افغانستان کښي ځيني خلك د تذکرو نلرلو په وجه له عسکري مقدس خدمت څخه محروم وي او نور خلك چه تذکري لري د وطن د دفاع په خدمت کښي برخه اخلي دا هم هغه تبعيض او امتياز نه دی چه اساسي قانون منع کړی او ويلي ئې دي (تمام مردم افغانستان بدون تبعيض و امتياز در برابر قانون حقوق و وظايف مساوی دارند) کيدی شي چه حکومتونو داسي فکر کړی وي چه بي تذکري خلك د افغانستان تبعه نه دي ځکه چه د تابعيت سند نلري نو هغه تبعيض او امتياز چه د افغانستان په خلکو کښي مردود ګڼل شوی دلته ضدق نه پيدا کوي.

زمونږ ځينو وکيل صاحبانو دا هم تبعيض او امتياز ګڼلی چه د افغانستان ځيني طبقات په وزارت خارجه کښي ماموريت نلري او له دوی څخه څوك کوم سفارت ته نه دي استول شوي.

•

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري دومره دقت او تعمق ونکړ چه تبعیض او امتیاز په داخل یعني افغانستان کښي منع دي نه په روډیشیا او امریکا کښي.

موږ باید په دې ښه پوه شو چه اساسي قانون تبعیض او امتیاز ړنګ او له هیواد څخه ئې په تبعید محکوم کړی دی.

تبعیض او امتیاز هیڅکله له دیموکراسی سره نشي یوځای کیدی او د اور او اوبو مثال لري. چیرته چه اجتماعي عدالت او مساوات تسلط لري هلته د تبعیض او امتیاز پل په ایرو کښي هم نه معلومیږي.

په دې وطن کښي دیموکراسی غځونې وکړي او د تاجپوشی مراسم ئې به ځای شوه. زمونږ تاجداره دیموکراسي د افغانستان له رادیو څخه ټولې دنیا ته اعلام شوه.

زه نه پوهیږم چه د دیموکراسی له لرلو سره د اولسي جرګې محترمو غړو ولې له تبعیض او امتیاز، بې عدالتۍ او قانون شکنۍ څخه دومره شکایتونه او حکایتونه کول او د اعتماد په جلسو کښي داسې ویل.

ښاغلی حاجي سلیمان وکیل حصه اول بهسود: ـ در وزارت خارجه باوجود امدن قانون اساسی و مبارزه دنیای امروز با تبعیضات نژادی و رژیم طبقاتی باز هم مسئله تبعیض و طبقات وجود دارد و حتماً باید اشخاص معین با شرایط خاص در وزارت مذکور کار کند.

این جریان فوق العاده در مردمیکه از شمول و ایفای وظیفه در وزارت خارجه محرومند عقده روحی تولید کرده و میکند.

ښاغلی ابلاغ وکیل بګرام: تبعیض های نژادی و تفرقه های عنصری از بد ترین عوامل عقب مانی حساب میرود.

علت نارسایی حکومت انست که کار به اهلش سپرده نمیشود این اشتباه حکومت ها در انتخاب کارکنان بحیث مبداتمام بدبختیها بشمار میرود

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت باید وضعی اتخاذ کند که دانشمندان یکباره دانش و دانشمندی وطن فراموش نشوند و اتش انزجار را روز بروز شعله ور نسازند

ښاغلی محمد اسحق علومي وکیل ارغستان: مراجع ذیصلاح حکومتی اکثرا متشکل از کسانی اند که بدون در نظر گرفتن لیاقت به اساس خویشخوری یا پارتی بازی بدون در نظر داشت کفایت و لیاقت در راس ادارات قرار گرفته اند

ښاغلی نور محمد اکبري وکیل مرکز کندهار: در سیستم اداری کار به اهل ان سپرده نشده و مراعات عدالت اجتماعی دیده نمیشود هنوز هم واسطه و وسیله حقوق مردان و جوانان سالم را از بین برده است

کار کردن و مامور بودن در وزارت خارجه برای عده مردمان وطن دوست، صادق و صمیمی نسبت بعضی ملحوظات لایعنی میسر نیست.

اکثر جوانان ما که اهلیت و لیاقت کار دارند نسبت عدم واسطه و وسیله ها در دهلیز های وزارت خانه ها انتظار دارند

ښاغلی محمد عمر خواجه عمری وکیل مرکز غزنی: قانون اساسی که وثیقه ملت همه افراد مملکت را دارای حقوق مساوی میداند اما متاسفانه در عمل تا جائیکه دیده میشود در وزارت خارجه از طبقه مردم افغانستان مانند هزاره، ازبک و ترکمن لااقل پیاده و کاتب ۱۳ وجود ندارد.

ښاغلی سراج الدین منګل د ځمکنیو وکیل: حکومت په حقیقت کښې تر پردې لاندې د یوې خاصې طبقې د پاللو او روزلو دپاره ستې رانغړلې دي او د عام ولس د ښېګڼو او منافعو هیڅ پملرنه نه شوې ده او نه ئې کوي.

د مامورینو په تقرر کښې خاص د خپلوۍ او خپل پاللو اصول مراعات کیږي لکه چه په وزارت خانو کښې ئې برجسته مثالونه موجود دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی عبدالحمید سالنګیار وکیل جبل السراج ـ به زانو افتیدن اداره در برابر قدرت های امتیازی و فامیلی و هزارها فجایع دیگر مشاهده رسید

مردم افغانستان از سالهای مدیدی است که زیر فشار طبقاتی و قومی زنده گی میکنند و در تحت استثمار داخلی قرار گرفته و قصدا به طرف فنا و تباهی سوق داده میشوند.

ښاغلی عبدالقیوم وکیل اشکمش:ـ ما می بینیم که خرابیها و بی انتظامی های امروزه از شخص پرستی و قوم پرستی بیجاست باید یك حکومت ملی از چنین پرستش ها جدا احتراز نماید.

ښاغلی محمد اسلم شریفی وکیل جغتو:ـ انتصاب مامورین دولت بخدمات عامه به اساس قانون حق و عدالت، اهلیت و لیاقت رعایت نشده و عوامل پیوندی، خواهشات نفسانی، واسطه بازی مشهود است چنانچه موجودیت بعضی اشخاص در کرسی های حساس و فعال اکثریه وزارت خانه ها و دوایر چشم ګیر است که متاسفانه از تحصیلات عالي و مسلکی بی بهره و بعضا هم بیسوادند.

ښاغلی عبدالمجید وکیل مرکز بادغیس:ـ اګر وظیفه و کار بروی اهلیت و ارزش حقیقی مامور نباشد و ملاحظات شخصی در ان دخیل بوده و کار به اهلش سپرده نشود هیچنوع اصلاحات اداری امکان پذیر نیست.

ښاغلی عبدالکریم عمرخیل د لغمان د مرکز وکیل:ـ اهل د کار ته کار نه سپارل اختلاس او رشوت ډیر طبیعي عادي او حتی لازم کار ګڼل د اوسني خوسا اداري له مشخصاتو شمیرل کیږي.

ښاغلی غلام نقشبند د زابل د ارغنداب وکیل:ـ نن ورځ ملت د تباهۍ خوا ته روان دی په هر اندازه چه رشوت غندل کیږي په هغه اندازه علانیه میدان ته ځان راباسي تعجب خو هم دی باید له زور سره اشنا وي باید د هغو د کور له ځنګه نې کور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بناغلی محمد احمد وکیل قرقین:ـ کار به اهلش سپرده نشده بلکه ملحوظاتیکه دخیل گردیده اشخاص پر کار و با درد دست شان از کار کشیده شده در گوشه، عزلت گزیده اند.

در مقرریها از ملاحظات شخصي و تبعیضی کار گرفته میشود.

بناغلی لعل محمد اکبري وکیل دایکندي:ـ مردم ما از همه اولتر به عدالت اجتماعی و اینکه کار به اهلش سپرده شود احتیاج مبرم دارند. تمام بی عدالتی ها و خرابی اوضاع اداری مملکت از ان نشئت میکند که بعضی اشخاص مطابق به لیاقت و اهلیت مقرر نشده اند.

بناغلی حاجي عبدالوهاب وکیل پرچمن:ـ اشخاص نالایق و رشوت خور و شرابی از طرف حکومتهای وقت تا امروز حمایه و نوازش شده و میشوند. به رتبه کم چوکی های بلند را صاحب شدند. اشخاص صادق و پاك و با ناموس مملکت اول چوکی برایش داده نشده و اگر چوکی داده شده صاحبان قدرت بچشم حقارت برایش پیش امد نمودند.

بناغلی عبدالحسین مقصودي وکیل ناور:ـ یکعده، محدود که از ارتباط و خویشاوندی با افراد موثر حکومتی برخور دارند در ناز و تعمت بسر میبرند و سویه زندگی شان با سویه زندگی اروپائیها برابری میکنند ولی در مقابل گروه کثیری از مردم در نهایت پریشاني و احتیاج روز و شب خود را میگذرانند. در وزارت خارجه بروی بعضی از اقوام بکلی بسته است.

بناغلی سید رسول فکور وکیل مرکز هرات:ـ امروز نه تنها گریبانگیر ظلم هاي ناشی از اعمال طبقه حاکمه و متکی برقدرت میباشیم بلکه بوسیله، این اعمال نمکهای دیگری نیز بر زخم باستخوان رسیده، ما علاوه می گردد که ان عبارت است از کلمه، منفور تبعیض. تبعیض به نژاد، به قوم، به منطقه و حتی به زبان که هر گاه این اصل عمده نباشد خالي از اهمیت نیست. امروز مردم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیشماری از مملکت ما در زیر پنجه ستم ملی به عناوین مختلف تحت استثمار قرار دارند

ښاغلی محمد اکبر وکیل پنجاب . ستم ملی به بدترین وجهی بر مناطق عقب مانده کشور مانند بامیان، غورات، ارزگان، بدخشان، چخانسور و پکتیا تحمیل شده.

ښاغلی محمد اسمعیل نورستانی وکیل نورستان :_ ارزوی من اینست که هیچگونه تبعیض و نژاد پرستی در کارهای حکومتی وجود نداشته باشد باید کار به اهل ان سپرده شود.

ښاغلی سید امیر خان وکیل خان اباد :_ تمام نارسائیهائیکه در اداره و اجراات بمیان می اید تنها علت اصلی اش اینست که کار به اهل کار سپرده نمی شود.

ښاغلی بهاوالحق د وازی خوا وکیل :_ باید کار اهل کار ته وسپاري نه په واسطه بازي او رشوت.

ښاغلی غلام حسین یوسفي وکیل شهرستان :_ توجه جدی بعمل اید که تا دراینده کار به اهل ان سپرده شود و سر قلفی ها از بین رفته مامورین در مقابل خیانت مجازات گردد.

ښاغلی عزیز الله واصفي د ملي ستم او جنایاتو فشار د اولس حوصله اشباع کړې ده او دا اشباع ملت ته تکان ورکوي.

ښاغلی شیر محمد خوستی د خوست وکیل :_ په یوه داسې ټولنه کښې چه د دنیا نعمتونه د یو ممتاز اقلیت په برخه دي او په سلو کښې پنځه نوي له فقر، جهل او مرض سره لاس په ګریوان دي ستاسې لیبرال دموکراتیک خط مشي افراط او تفریط له مینځه نشي وړی. د مرتجعینو په نظر د یوې جامعې د فاسدولو بهترینه لاره دا ده چه کار اهل کار ته ونه سپاري. زما په عقیده خوك چه پخوانی حکومتونه بې کفایته بولي، اشتباه کوي

حقیقت دا دی چه پخوانی حکومتونه بې کفایته نه وو بلکه بدنیته و. خینې امران د استعداد په وژلو کښې خاص مهارت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا و هغه صحب نظره وکیلان چه د تبعیض او امتیاز نیلي او رسنبي ئي په سیاست او اداره کښي ونیولي او اداري دستگاه ئي په قانون شکني، تفرقه افگني، بې عدالتي، قبیله پرستي او شخص پرستي محکومه کړه.

دا چه له شلو تنو نه زیاتو وکیلانو د تبعیض او امتیاز په ضد غږ پورته کړ او ملي ستم، طبقاتي امتیاز، داخلي استثمار ئي وراته د ملاحظې او اعتناء وړ خبره ده چه باید جدي توجه ورته وشي او هغسي نشي لکه چه یوه ښاغلي وکیل شیر احمد خوستي وویل:

"جلالتماب موظف صدراعظم اوه لس ورځې کیږي چه د ملت نمایندگان ستاسي د تنگ لاري په باره کښي خبري کوئ، خدای دي وکړي چه تاسي د دردونو او انتقادونو په مقابل کښي معافیت نه وي پیدا کړی ځکه چه هر څه چه له حده زیات شي حساسیت له مینځه وړي."[1]

[1] افغان جریده. لومړی کال. ۲۳ گڼه
د ۱۳۵۰ د سلواغې ۱۸ مه
د ۱۹۷۲ د فبروري ۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې قانوني ښه ده که قانون شکني؟

... ه وایم چه له قانون شکنې نه بې قانوني ښه ده ځکه چه دواړه ... ني او د یوې معنی دوه تعبیره دي. قانون که هر څومره ښه او ... سرمي وي چه معمول نه وي او مهجور وي په عملي لحاظ وجود ... مري او بې قانوني ورته ویلی شو.

قانون که جوړېږي او چلیږي نه، یعنې ناچله جعلي نوټ غوندې وي جوړول ئې ګناه ده. ناچله نوټونه که څومره ډیر وي بیا هم خوار او نادار ورته ویلی شو ځکه چه په حقیقت کښې هیڅ نلري.

هغه ځول چه بې قانوني بوازې د کاغذي قانون فقدان او نلرلو نه وایې بنایي چه قانون ماتول له قانون نه لرلو څخه بد وګنې.

یو بې قانونه هیواد که د کاغذ په مخ په قانون لرلو خان قانوني مملکت ښیي نو علاوه په مطلقیت دروغ او تګی هم هلته حاکمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري يعنې بې قانونه حکومت قانوني بنودل کيږئ او استبداد ته پارلماني رنګ ورکول کيږي.

د اسلامي احکامو له مخې هغه چه اسلام ئې اصلاً منلی نه وي له هغه چه نه بنه دي چه د اسلام له منلو وروسته مرتد شوی وي.

که قانون د حاکمه طبقې په خوښه کله معمول او کله متروك وي. ځينې مواد ئې تطبيقيږي او ځينې نه. بيا هغه خطرناك مار ته ورته دي چه يوازې زهر لري او زهر موره نلري. دغه راز تبعيض که په ديني احکامو کښې هم وي نو د پاك خدای دا خطاب ورته متوجه دی: " اتومنون ببعض الکتاب و تکفرون ببعض" که په يوه هيواد کښې قانون اصلاً موجود نه وي خلك بايد د قانون د موجوديت دپاره مجادله او مبارزه وکړي مګر که قانون موجود وي او معمول نه وي دلته د مجادلې او مبارزې ضرورت لا ډير زيات دی.

که قانون پيدا کول ضروري کار وي د پيدا شوي او جوړ شوي قانون حمايت به تر هغه لا زيات ضرور وي.

د اساسي قانون له وجود نه پخوا که چا د دغه قانون د راوستلو او جوړولو د پاره جدوجهد نه وي کړی دومره مسئوليت به نلري لکه چه اوس د قانون د نه تطبيقيدو په وجه د عدم مبارزې مسئوليت هر چاته متوجه کيږي.

زه نه پوهيږم ځينې اشخاص چه په اساسي قانون خان ډير معتقد ښيي او ملي مقدسه وثيقه ئې ګڼي د اساسي قانون دغه نيمژواندی نامراده حالت څنګه زغمي او په بې علاقګي ورته ګوري.

هغه ډير محترم شخصيتونه چه د اساسي قانون په تورولو (تسويد) کښې ئې د قهرمانانو او تخنيکرانو په حيث بريتونه تاوول او دغه لوی افتخار ئې د خپل عالي دماغ مرهون باله اوس داسې فکر کوي چه د دوی مقدسه وظيفه په هماغه ځای ختمه شوه چه ددغه مبارك مولود د پيدا کيدو ګلونه د يود او بل په سر کينودل شوه يا دوی ته مبارکي ورکړه شوه او خوږه وويشل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که حوی پیدا کول ضرور وي لوبول به یې هم ضرور وي. که حوی کړی حوی مري "خدای دي نه کي" دا غم د هغه چې نه غمه ډیر حد او سوزوونکی دی چه د خوی پلار شوی نه دی

که قانون چلوونکی له اساسي قانون سره په عملي لحاظ بیخي بې علاقې وي او په نظري لحاظ ورته په تقدس قایل وي دغه راز دروند نظر له بنکې نه هم سپك دی.

هغه د نظر خاوند چه اساسي قانون سرماتی او لاس ماتی وینې او اقلاً یوه اوبنکه ئې هم له سترګو څخه نه توییږي له راندہ هم بدتر دی.

مونږ هر یو دا وینو چه مونږ اساسي قانون د سرپرست ښاروال په اندازه وزن نلري او څوك ئې په خوله پیاز هم نه خوري.

که قوانین لکه د بامیانو بتان د خارجي سیاحانو د جلب نظر دپاره جوړیږي هغه بیله خبره دہ.

که قانون جوړوونکي. قانون چلوونکي شي او قانون ورته لکه مات کندول په مخکښې پروت وي تعبیر به ئې همدغه وي چه کلال د بل د پاره روغ کندولی جوړوي او پخپله په مات کندول کښې اوبه څکي.

که له دینه ښه تعبیر غواړئ نو وبه وایو." پښې د بل پښو ته زولنې جوړوي نه خپلو پښو ته".[1]

[1] افغان جریده لومړی کال ۲۴ گڼه
د ۱۳۵۰ د کب ۲ مه
د ۱۹۷۲ د فبروري ۲۱ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قانون د حاکمیت وعده

د اساسي قانون په نافذ کېدو دا فکر پیدا شو چه شخصي حاکمیت خپل ځای د قانون حاکمیت ته پرېښود چه ملي حاکمیت هم ورته وائي.

کله چه د شخصي امر و نهي ځای پارلماني قوانین ونیسي نو حکومت له شخص نه ملت ته انتقال کوي او قانوني یا ملي حکومت ورته ویل کیږي.

دا ځکه چه قوانین د ملت د نمایندګانو په تصویب یعني د ملت په اراده مینځ ته راځي او په دغه وسیله د خلکو حکومت په خلکو باندې تحقق پیدا کوي. دا و د اساسي قانون تلقین چه زمونږ ذهني حالت ئې بدل کړ او د فعتاً په یوه بل فکر کښې ولویدو. دا ډېر ښه خوب او خیال و چه مونږ ئې ځو کاله خوشحاله وساتلو او له اجتماعي مسایلو سره ئې زمونږ علاقه پیدا کړه.

مونږ ساده ګان په دې نه پوهیدو چه د قانون حاکمیت دومره اسانه کار نه دی او په ګوړه ویلو خوله نه خوږیږي.

خدای دې دا وطن بې هوښیارانو نکړي. پوهان او عالمان خو په یوه جامعه کښې د سترګو په شان وي چه نور د دوی له برکته یو څه ویني او بالاخره په یو څه پوهیږي.

د ښاغلي داکتر صاحب کابینه چه د پوهانو او هوښیارانو کابینه ده ولسي جرګې ته ئې پخپله خط مشي کښې یو ډېر مهم راز افشاء کړ او له ډېرې لوئې اشتباه څخه ئې مونږ ته نجات راکړ.

دا مهم راز د قوانینو په فقدان کښې د علت غائی په حیث پټ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونـږ دې ټکـي تـه ښه ملتفـت نـه وو چـه د قـانون حـاکميت د قوانينو وجود ته ضرورت لري او ترڅو چه يو شی موجود نشي حاکم کيدی نشي. بلکه حاکم لاځه چه محکوم کيدی هم نشي. د قوانينو فقدان اود قوانينو حاکميت دوه داسې خبرې دي چه که يوه صحيح وي بله به ارومرو غلطه وي.

هغه قوانين چه د عدم په نطفه کښې محصور او مسدود دی او هيڅ وجود نلري څنګه به حاکميت پيدا کړي؟ ښايي ځوک داسې فکر وکړي چه اساسي قانون خو نژدې اته کاله کيږي چه په مملکت کښې نافذ دی او ځوک ئې له مبارك وجود څخه انکار نشي کولی.

که نور فرعي قوانين د نشتوالي په وجه ولسوالان، لوی ولسوالان او واليان نشوه اساسي قانون خو صدراعظم کيدی شي که څه هم ټول وزيران ورسره مخالف وي او ځوك ئې په خوښه څه نه کوي.

ما پخپله هم همدغه راز فکر کاوه او د اساسي قانون حاکميت مې په ټينګه غوښته. دې غوښتنې ته اوسني حکومت پخپله خط مشي کښې داسې ځواب ورکړ.

"احکام مندرج قانون اساسی حاوي اصول کلی بوده تنظيم شئون مختلفه را به قوانين فرعی مربوط ميسازد و تا زمانيکه اين قوانين وضع نشود رسيدن به همه اهداف قانون اساسی ناممکن خواهد بود. پس از وضع قوانين ضروريه حکومت خواهد توانست حاکميت قانون را بمعنای اصلی آن متکی به متن و روحيه قانون اساسی تامين نمايد."

اوس پوه شوئ چه د قانون حاکميت تر ډيره وخته امکان نلري يعني د نوح (ع) عمر او د ايوب (ع) صبر غواړي.

دا هم د حکومت د ډير دقت دليل دی چه (پس از وضع قوانين) وائي يعني (پس از تصويب قوانين) نه وائي.

د قوانينو د انسداد، تعقيم، خناق او اختناق مراحل خو هر چاته معلوم دي او د شوری د تقريباً دوه دورو تجربې دا وښودله چه د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون راویستل او ټول مراحل ئې طی کول اوبیا د ستنې لـه سپم څخه تیرول دي یعنې د قانون وضع د وضع حمل په شان اسانه کار نه دی.

که تاسې په دغه رمز پوه شوي یاست باید په دې هم پوه شئ چه د قوانینو د وضع مخه ولې نیول کیږي او هغه څه شی دی چه د قوانینو سر خوري او د اساسي قانون بچی وژني.

له اساسي قانون نه پخوا چه قوانین مطیع او خاضع وو یعنې د حاکمیت خوبونه ئې نه لیدل تولیدات او صادرات ئې ډیر اوضایعات ئې لږ و.

اوس چه قانون حاکمیت غواړي حال به ئې د احزابو د قانون، د ولایت د جرگو د قانون او د ښاروالې د قانون په شان وي چه هر حکومت ئې لکه ښاغلی عبدالملك عبدالرحیم زي، بې محاکمې په زندان کښېنوي ساتي او د قانون پلار ئې هم نشي خلاصولی.

د دغو قوانینو له تصویب نه وروسته څو حکومته چه یو له بله مخالف او مختلف وو د دغو قوانینو په مخنیوي کښې ئې اتفاق نظر درلود او لري ئې.

د قانون حاکمیت همدومره وکړه چه قوانین ئې په فقدان محکوم کړه او د افسانوي مارانو په شان ئې د قوانینو سر وخوړ.

مونږ باید د حکومت د خط مشي په ژبه پوه شوو او خپل زوږ حاکم ترډیره وخته په خان حاکم وگڼو که څه هم د تقاعد قانون ورسره شدیداً مخالف وي او تقاعد ته ئې سوق کړی وي. زما په فکر د حکومت خط مشي هغسې ساده او سطحي نه وه لکه چه ځینو وکیل صاحبانو له عادي مقالې نه هم ښکته وگڼله او د سیاسي سواد په فقدان ورته قایل شوه.

دغه راز غامض مطلب تیرول او ضمناً ئې په شوری باندې منل ډیر مهارت غواړي او د پخو ماهرانو کار دی.[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال. ۲۵ گڼه
د ۱۳۵۰ د کب ۹ مه
د ۱۹۷۲ د فبروري ۲۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتونستان په باب نوی نظر په کار دی

اوسنی پاکستان هغه پخوانی پاکستان نه دی چه پښتونستان به ئې پخپل لاس کښې لکه خچه ګوته ګڼله.

هغه پخوانی کبیر مملکت اوس صغیر شوی او مخ په طفولیت روان دی مګر پښتونستان بالعکس مخ په لوئیدو او غټیدو دی.

د یوه کوچني کیدل او د بل غټیدل دوه داسې حرکتونه دي چه د تحول او بدلون سیر ډیر ګړندی کوي او په انقلابي حرکت ئې بدلوي.

مونږ ته ښایي چه د پاکستان او پښتونستان مطالعه په نوي نظر وکړو او نوې عینکې په سترګو کړو.

هغه وخت بالاخره راتلونکی دی چه د غیرې ماشوم لویه غیرې پیدا کړي او بل په غیږ کښې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زمونږ سیاستمداران د سیاسي حالاتو سمه پیشبیني نشي کولی او له جریان سره موافق حرکت نه کوي د تاریخ په مخکښې به ئې سرونه ټیټ وي

تاریخي پېښې دفعتاً په آني او فوري ډول له عدم نه وجود ته نه راځي او نښې نښانې ئې دمخه د نظر خاوندانو ته معلومېږي.

که څوك د آثارو او علایمو له مطالعې سره اشنا وي او ډیر ظاهربین نه وي د علت او معلول سلسله او رابطه پټه نه ده او د باد و باران حتی د سیلابونو پیشبیني په صحیح ډول کیدی شي. مګر سیاسي جبن که په چا مسلط شي نو بیا عقل او شعور ړوند او کوڼ شي او له پښو لاندې هم څه نه ویني. څنګه چه د شمال له خوا سړې او تودې څپې، د ایران جوی اوضاع او د هند برساتونه زمونږ په هوا او فضا بې تاثیره نه دي، د شاوخوا لرې او نږدې هیوادونو سیاسي جریانونه هم افغانستان ته وړاندې او وروسته یو څه له ځانه سره راوړي چه پوهیدل ئې یو حیاتي ضرورت دی او غفلت تباهي ده.

که زمونږ سیاسي رجال هغه وي چه د بنګله دیش له جوړیدو نه څو ورځې دمخه په هیڅ خبر نه وو او د هند و پاکستان په فضا کښې ئې هیڅ نه لیدل بلکه د خیر و خیریت راپورونه ئې واکمن مقام ته وړاندې کول (نو خدای دې نه کا) کامه به وړانه وی او مونږ به نه یو خبر، یا به پښتونستان جوړ وي او مونږ به ئې په رسمیت نه پیژنو.

اوس مونږ یوازې د پښتونستان په باب سیاسي بصیرت او بصارت ته اړ نه یوو. د افغانستان حال او مستقبل په لومړۍ درجه او جدي ډول له مونږ نه سیاسي بیداري او هوښیاري غواړي او زمامدارانو ته ډیرې لویې اندیښنې په مخکښې ږدي.

د دنیا سیاسي وضع او پټ او ښکاره فعالیتونه په افغانستان باندې مستقیم او غیر مستقیم تاثیرات لري.

هغه څه چه راتلونکي دي مونږ ورسره مخامخ کیدونکي یو. دا به ډیره بده وي چه څوك لاس تر زنې لاندې کښیني او وایي " ته مه کا چه دی څه کا". په دې وخت کښې بې ثمره بې اثره غیر فعال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست اختیاروِل او سر په بوټو ننویستل په حقیقت کښې له مرګ نه پخوا پښې غځول او ځان طوفان ته سپارل دي.

همدغه راز وختونه دي چه باید حکومت د شورى فوق العاده اجلاس غوښتی وای او د وخت له ایجاباتو سره سم د دولت په سویه ملي تصمیمونه د ملت د نمایندګانو په اراده نیسول شوي وای. مګر دا حکومتونه چه مونږ پیژندلي دي ګمان نه کیږي چه عادي اجلاس هم پخپل وخت شروع شي او که بالغرض بناغلي وکیلان د وخت د اهمیت په درك کولو پخپل ټاکلي وخت حاضر هم شي نو مجلس له نصابه غورځول خو زمونږ زوړ عادت دی.

نه پوهیږو چه زمونږ سیاست به کله ملي کیږي او څه وخت به په ملت پورې تعلق پیدا کوي؟

د یوه هیواد سیاسي دستګاه چه د ملت د نمایندګانو په قول ملي نه وي اشرافي وي، سیاسي پوهه به هم یوازې په تشریفاتو پوهیدل وي او بس.

په سیاست کښې ابتکاري پوهه او له ابتکار څخه کار اخیستل د هغو کسانو کار نه دی چه د ممثلینو په حیث د نورو دیپلوماتانو پیښې کوي. له جهاني سیاست نه انتباه اخیستل، د تاریخ د تولیداتو پیشبیني کول، د حوادثو له مقدماتو څخه نتیجه معلومول سیاسي ابتکاري پوهه غواړي.

ځوك چه د دقیق تحلیل د پاره وخت نلري او له لویو اندیښنو نه تښتي هغه جهان ته متوجه نه وي ځان ته متوجه وي او سیاسي نظر ئې ډیر محدود وي.

په دې وخت کښې چه نظامي حرکتونه تر ډیره حده خپل ځای سیاسي فعالیتونو ته پرېښی دی د وطن په دفاع او د ملي حیثیت په ساتلو کښې له عسکري قوت نه سیاسي قدرت زیاته برخه او د اولیت حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم مملکت چه د سیاسي فهم او مهارت فاقد وي نظامي قوت به ئې لکه د پاکستان عسکر له نه تلافي کیدونکي شکست سره مخامخ وي...

بنایي چه اوس د جهان سیاسي نمایندګان د یوه مملکت وزن او توان له اقتصاد نه وروسته په سیاست کښې ولتوي او له جنرالانو نه دمخه د خارجه چارو په وزارت کښې سیاسي پرسونل او کار کوونکو ته متوجه شي او وګوري چه په سرونو کښې ئې څه شته او که نه.؟

مونږ اوس له هر وخت نه زیات د سیاسي لیاقت او کفایت پیدا کولو او ښودلو ته ضرورت لرو مګر متاسفانه چه لیاقت، کفایت او اهلیت له بل هر ځای نه دلته ډیر خوار و زار دی او شخصي پیرزوینو دغه دستګاه فلج کړیده.

خدای دې خیر کړي چه څه به کیږي؟ ځکه چه د څه کولو امید خو نشته.

یعنې د څه کوئ؟ ځای، څه کیږي؟ نیولی دی او مونږ علاوه په دې چه څه نشو کولی څه چه کیږي په هغه هم نشو پوهیدلی.[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال، ۲۶ مه ګڼه
د ۱۳۵۰ د کب ۱۶ مه
د ۱۹۷۲ د مارچ ۶ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سیاست سراب

سیاست اصلاً لکه سراب نظر غولوونکی پیدا شوی او په ختته کښې ئې عوا مفریبي پرته ده.

خلك په هغه دغه غولول او په هیڅ خوشحالول یا مشغولول سیاسي مهارت دی.

وایي چه سیاسي ماهران سړی سیند ته تږی بیایي او تږی بیرته راولي.

د خلکو فکر او نظر ته فریب او دوکه ورکول، یو شی بل راز یا څو رازه ښودل یا له نه څه هر څه جوړول یوازې د مداریانو کار نه دی سیاستمداران هم بلاتشبیه لکه مداریان پړی مار او هګۍ چرګه کاندي. فرق همدغومره دی چه مداري د لږ وخت د پاره په یوه محدوده صحنه کښې نظر ته دوکه ورکوي او سیاستمدار د مملکت په لویه منطقه بلکه د جهان په ساحه کښې د تل د پاره همدغه کار کوي او خپل فریب ته د خضر عمر بخښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـو وخـت و چـه سياسـت پـه ډيـرې بـې رحمـۍ بينـا سـترګې ړندولـې چـه ظلـم او وحشـت ئـې ونـه وينـي مـګر اوسـني مـترقي حکومتونـه سـترګې نـه ړنـدوي بلکـه غولـوي ئـې او حقـايق ورتـه بـل راز ښيـي او د ظلـم ځاى غـدارئ او نظـر غولولـو نيولـى او د سـترګو ړندولـو طـرز بدل شويدى.

زمونـږ ظـاهربيني سـترګې يـوازې دا نـه چـه ظلـم نـه وينـي بلكـه ظلـم ورتـه رحـم ښکـاري او د سياسـت سـراب لـه هـر واقعيـت نـه زيـات واقعـي ګڼي. نظـر غولوونکـى سـرابي سياسـت سـترګې نـه ړنـدوي ځکـه چـه د نظـر اختطـاف او اسـتخدام تـه ضـرورت لـري او داسـې فرمـانبرداري سترګې ئـې پـه‌کـار دي چـه غـرول او پـټول ئـې د سياسـت د سـترګو پـه اشـاره وي.

داسـې سترګې چـه کله پـه تـوره تيـاره کـښې تـور ميـږې پـه تـوره تيـره وينـي او کله پـه رڼا ورځ اوښ لـه بـاره سـره نشـي ليدلـى يعنـې نـه څه وينـي او ډير څه نـه وينـي. داسـې سـترګې چـه د ورځـې پـه شـنه اسـمان کـښې پيـروني او سـپينه سـپوږمۍ هغـه وخـت وينـي چـه څوك ورځـې تـه شپه وايـي.

همدغــه راز تـــاظران او د نظـــر خـــاوندان د ســـرابي سياســـت منظورالنظر واقـع كيـږي او هغـه واقـع بينـې سـترګې چـه سياسـتمداران ئې بدبينه بولـي دغـه حـرم تـه لكـه نـامحرم لاره نشـي پيـدا كولـى، دلتـه يوه قصـه را پـه يـاده شـوه چـه لـه موضـوع سـره ارتبـاط لـري او هغـه دا ده:

وايـې چـه يـو وخـت چـا وويـل: زه د عـافيت ډيـر ښکلـي فـاخر لبـاس جوړوم چـه اغوسـتونکی لـه هـر راز آفـاتو او بليـاتو نـه سـاتي او سـعادت ئې پـه برخـه کـوي مـګر دا لبـاس هغـه څوك وينـي چـه شـريف او اصيـل وي او عفيفـې ممـور راوړى وي.

د وخت حـاكم لـه دې خبرې خبر شـو او لـه هغـه سـړي څخـه ئـې څانتـه همدغه لبـاس وغـوښت.

لبـاس جوړونکـــې د قـد او انـدام انـدازه واخيســـته او څه مـوده وروسته راغـى چـه هيـڅ ورسـره نـه و مـګر حـاکم تـه ئـې ويـل سـتا لبـاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې دغه دی راوړی ته خپلې زړې جامې وباسه چه زه نوی لباس در واغوندم.

حاکم که څه هم هیڅ نه لیدل مګر د دې د پاره چه شرافت ئې لکه دار نشي د نوي لباس په ستاینو ئې شروع وکړه او پخوانی کالي ئې له ځانه لرې کړه.

حاکم په مجلس کښې لوڅ لغړ ناست و او هر چا ځان مجبور ګاڼه چه د غیر مرئی لباس صفتونه وکړي او ځان شریف وښیي.

حاکم پخپله مجبور و چه خپل لوڅ ځان ملبس وګڼي او د نالیدو جامو مبارکي واخلي. په ځینو هیوادو کښې سرابي او بې حقیقته دیموکراسي چه حکومتونه ئې سیاستاً خپل فاخر لباس ګڼي د هماغه خیالي جامو مثال لري چه هیڅوک ئې ویني نه مګر ستاینه ئې کوي.

هماغسې چه یو تږی په سراب غولیږي او په وچه د اوبو ګمان کوي په معنوي چارو کښې هم د خلکو نظر په ظواهرو تیر اوزي او د سیاست سراب ته د اوبو په طمع ورځي، پوهیږئ! دا سراب څنګه جوړیږي او په څه نامه یادیږي؟

هغه کاغذي قوانین چه په ژوندانه کښې واقعي جنبه نلري او لکه د عافیت لباس د نظر د فریب دپاره جوړیږي، خلکو ته عدالت، مساوات او دیموکراسي لکه سراب له ورا ځلوي او د اساسي حقوقو د تامین زیری ورکوي.

د دغسې سرابي قوانینو په رڼا کښې د ژوند واقعیتونه بل راز جلوه کوي او دا فکر پیدا کیږي چه ټول خلک بې له تبعیض او امتیاز څخه، میلونر وي که لنډغر، غریب وي که معتبر، نر وي که ښځه او که نر ښځی د قانون په نظر کښې یو شان د آزادئ او بشري کرامت خاوندان دي.

که یو سړی له خوارئ او ناچارئ د چا د سپي خدمتګار وي ځان ورته د خپل بادار له خاوند سره د قانون په نظر کښې برابر ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ذهنا خوشحاله وي چه شخصيت او حيثيت ئي قانونا محفوظ او مصئون دی.

قوانين چه د سياست سراب ورته ويلی شو اکثره په اکثرو هيوادونو کښې غولوونکي جوړيږي چه خلکو ته له لرې ښيې او ورکوي ئي نه.

د قانون حکم که مطلق هم وي نورو احکامو مقيد کړی وي يا ئي په نورو داسې قوانينو حواله ورکړی وي چه لکه د انځرگل هيڅ وجود نلري او د فاخر لباس په شان وي.

سړی چه د دغسې قوانينو عمق ته پريوزي پوهيږي چه دغه بې اوبو وچې څاگانې د چا واقعي تنده نشي ماتولی.

که فرضا يو څه اوبه هم پکښې وي نو ساقي ئي هر چا ته نه ورکوي او (مگر خود بخورد) همدغلته صدق پيدا کوي.

قوانين که ډير ښه وي چه چلوونکی ئي ښه نه وي اصلي منظور له پښتو لاندې کيږي او څه گټه ترينه نه اخيستل کيږي.

زمونږ اساسي قانون چه د سياست سراب نه دی او واقعيت دی اته کاله پخوا ئي خلکو ته د حزب جوړولو حق ورکړ مگر تراوسه دغه حق حقدار ته ونه رسيده. همدارنگه انتخابي ښاروالئ د اساسي قانون نوی ارمغان نه و بلکه د زړې وثيقې او ذواليدئ تائيد او تثبيت و مگر سرپرستانو د چا د سر له برکته د قانون په ضد د حق پرستانو ځای ونيو او زړه ديموکراسئ په نوي ارتجاع بدله شوه.

دغه شان ولايتي جرگې، دهاتي جرگې او د مشرانو د جرگې يو ثلث غړي د اساسي قانون جديد او لذيذ سوغات و، چه چا ئي څکه ونکړه او ترانزيتي لاره ئي ترلې ده.

د دغسې اهمال او قانون شنډولو په استناد ويلی شو چه زمامداران او سياستمداران په ربښتيا سړی تږي سيند ته بيايي او تږی ئي راولي. هغه قبيلوي تبعيض او امتياز چه د ملت نمايندگان ئي د ملي ستم مورينه گڼي يوازې په دې نه ورکيږي چه د کاغذ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـخ ولیکـو: د افغانسـتان ټول خلك بـې لـه تبعیـض او امتیـاز څخـه د قـانون پـه مخکـښې مسـاوي حقـوق او وظـایف لـري.

دلتـه طبعـا دا سـوال پیـدا کیـږي چـه د کـوم قـانون پـه مخکـښې؟ او جواب بـه ئې دا وي: هغـه قـانون چـه نطفه ئـې لا د غنـم پـه دانـه کـښې هـم نـه ده پیـدا شـوې او تـر (بیـن الصلـب والترائب) پـورې ډیـره اوږده لاره پـه مخکښې لـري.

دأنو شدارو کـه پـه اینـده کـښې وجـود هـم پیـدا کـړي ښایـي چـه پـس لـه مرګه سوراب تـه ورسـیږي او وجـود و عـدم وجـود یـې مسـاوي وي.

د حقوقـو مسـاوات او د تبعیـض و امتیـاز لـه مینـځه وړل پـه ټول افغانسـتان کـښې یقینـا ډیـر مشـکل کـار دی او د قیـامت د ورځې پـه شـان اوږده ورځ غـواړي.

مونـږ بـه فعـلا د افغانسـتان ټول خلـك پریـږدو یـوازې د کـابل ښار بـه پـه نظر کـښې ونیسـو. خـیر دی د کـابل ښار بـه هـم پریـږدو شـهرنو تـه بـه راشـو. لـه شهرنو نـه بـه هـم صـرف نظر وکـو د وزیرانـو مجلـس تـه بـه سـر دننـه کـړو. هلتـه پـه څوارلس یـا پنځلـس وزیرانـو کـښې هـم تبعیـض او امتیـاز لـه ورا نـارې وهـي او هـر څوك پوهیـږي چـه مـن پکـښې څوك دی او چـارك څوك دی.

د چـا رایـه د عدالـت پـه تلـه کـښې درنـه او د چـا سـپکه ده؟ فـاعتبرا یـا اولـی الابصـار.[1]

---

[1] افغان جریده، لومړی کال، ۲۹ مه گڼه
د ۱۳۵۱ د وري ۷ مه
د ۱۹۷۲ د مارچ ۲۷ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګونګه روژه

څوك چه د چا سره خبرې نه كوي او د نورو خبرې بې جوابه پرېږدي خلك وايي چه ګونګه روژه ئې نيولې ده.

ګونګه روژه مختلف علتونه او سببونه لري چه ځينې ښه او ځينې بد دي، فلاسفه او متصوفين ځكه ډېرې خبرې نه كوي چه زيات وخت په فكر كولو او مراقبه كښې تېروي مګر اشراف او اعيان كه لږې خبرې كوي او د چا خبرو ته اعتنا نه كوي علت ئې كبر او غرور دی.

دوی د هر لوګه بوګه سره خبرې كول د خپل حيثيت او وقار منافي ګڼي او عوام ورته كالانعام معلومېږي ځكه د هغوی خبرې بې جوابه پرېږدي او ګونګه روژه نيسي. وائي چه خبرې له خبرې پيدا كېږي نو كه څوك د چا خبرو ته جواب نه وركوي په حقيقت كښې د خبرو نسل قطع كوي او له خبرو سره دښمني كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ردول له خبرو سره دښمني نه ده د خبرو په مقابل کښې غوږونه کڼول او خبره نه اورېدل وينا وژل دي.

که د غوږونو لاره بنده وي او غږ غوږ ته نه رسېږي د وينا ازادي څه معنی لري؟ څه غوږ بند څه ژبه بنده نتيجه يوه ده.

د هر چا هره خبره منل او غلطه خبره صحيح ګڼل ښه کار نه دی.

سړي بايد غلط فکرونه او غلطې خبرې رد کړي او د سمو خبرو تصديق او تائيد وکړي.

مګر هغه څوک چه د جانب مقابل خبرو ته هيڅ اعتنا نه کوي او په سکوت جواب ورکوي د انسانيت توهين کوي او بشري کرامت ته زيان رسوي.

کومه خبره چه چاته متوجه وي او د هغه د توجه وړ نه ګرځي تعبير به ئې همدغه وي چه مخاطب خپل مقام له دينه لوړ ګڼي چه له ځانه کم سړي ته په سرپتوب قايل شي او جواب ئې ووايي.

د صحيح انتقاد منښه او په حقيقت باندې اعتراف اخلاقي فضيلت دی. په دغسې مواردو کښې چوپ پاتې کېدل له حق او حقانيت نه غاړه غړول دي.

ځينې ازاد جرايد چه په اجتماعي چارو کښې ځينې سوالونه او اعتراضونه حکومت ته متوجه کوي د حکومت له خوا د هيچا هيڅ اعتراض ته هيڅوک هيڅ جواب نه وايي.

د دې حکومت ډېر بارز فرق له نورو حکومتو څخه همدغه دی چه له کانې غږ خيژي او له دوی نه نه. غږ له دومره لوېوالي سره بيا هم د يو چا اواز بېرته منعکس کوي او سړی د خپل غږ ازانګه بېرته اوري مګر انتقاد کوونکی به دا ارمان ګور ته له ځانه سره يوسي چه حکومت د جواب په صورت د چا ترديد او تائيد وکړي.

داسې معلومېږي چه د حکومت اصلي خط مشي به دا وي چه: (شيخ فريده پته خوله بهتري ده) دغه دايمي سکوت چه د حکومت پاليسي ګڼلی شوو ځينې جرايد بې حوصلې کړي دي او د دې بې اعتنا سياست تحمل ورته ډېر ګران شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کــاروان پــه ۱۱۴ گڼه ۲۳-۱۱-۵۰ کــښنې هغـــه ســـرمقاله چــه عنـوان ئـې دی (ایـن خاموشـی تـا بـه کـی؟) د دې چپوالـي درنـښت او فشـارډېر ښه منعکـس کـوي.

د گهیـخ جریـدې د تـیر کـال د دلـوی پـه لســمه لـه دې عنـوان لانـدې (گوش دارنـد ولـې بـدان نمیشـنوند) د حکومـت پـته خولــه پــه ســوك ووهلـه مگر د خولې قلف ئـې ورمـات نکـړی شـو. د پیکـار پـه لسـمه گڼه کښنې هم یو کاریکاتور چاپ شـو چـه یـوه سـړې تبنـگ پر سـر ایـښی او بـل ترینـه پوښتنـه کـوي:

ـ پـه تبنـگ کـښنې څه دي؟

ـ سـترگي، غوږونـه او مـاغزه.

ـ چیرتـه ئـې وړې؟

ـ ور وړم ئـې چـه پـه دې سـترگو وويـنـې، پـه دې غوږونـو واوري، پـه دې مغزو فکر وکـړي او بیـا جـواب ووائـې.

د تبنـگ والاهـم څه درك معلـوم نشـو چـه هلتـه ورسیده کـه نـه؟ کـه فرضـا رسیدلی هـم وي متاسـفانه چـه پـه تبنگ کـښنې ژبــه نــه وه مــگر هلتـه خو د ډوډئ پـه خونـه کـښنې ژبـه او مـاغزه وي خـو يـو ئـې بـل تـه وړاندې کـوي او پخپلـه ئـې نـه خـوري.

پـه ښتیـا چـه د درنـو خلکـو غوږونـه هـم درانـه وي او کومـه خبره چـه دوی تـه سـپکه ښکـاري هغـه هیڅکلـه نـه اوري.

چاچـه د اخلاقـو پـه کتـابو کـښنې د خاموشـئ فوایـد لوسـتي وي او د غوږونو کڼولو پـه حکمت پـوه وي هغـه هیڅکلـه خپلـه گونـگه روژه نـه مـاتوي او د حـال پـه ژبـه وایـي: رهیـن منـت گوش گران خویشـتنم.

هغـه پوهیږي چـه صـامت جـواب لـه نـاطق جـواب نـه ډیـر قـوي دی او هیـڅوك پکـښنې ضعیـف ټکـی نشـي موندلـی. لـه حکومـت سـره هـره ملاحظـه وي مـگر ازاد جرایـد دغـه مطلـق سـکوت د ځان سـپکاوی او لـه مفاهمې نـه تیښتـه گڼي.

ښائـي چـه دا غلـط فـهمي وي او حکومـت د ډیـر احـترام پـه وجـه چاتـه جـواب نـه گرزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو وخت يوې ولسوالۍ ته تفتيش ورغی او هلته يو سوال يوه مامور ته چه مشك عالم نوماند متوجه شو چه بايد جواب ئې وليکي مگر مامور صاحب قطعي انکار وکړ او د تفتيش هئيت ته ئې وويل: استغفرالله! زه تاسو ته دومره بې ادبه ښکاره شوم چه تاسو ته به جواب درکړزوم زه او ستاسو جواب ويل؟.

دا خو د هغه مامور طرز تفکر و ښائي چه حکومت سره بل راز فکر وي چه مونږ بايد ښه تعبير ورته پيدا کړو او د غرور او تکبر نخښه ئې ونه گڼو بلکه د تسليم او رضا او د حيا علامه ئې وبولو. کيدی شي جواب نه ورکول د جواب نلرلو په وجه وي.

مونږ بايد صبر او حوصله، دروغ نه ويل او حق ته تسليميدل اخلاقي فضيلت وبولو.

ښايي د حکومت او خلکو ترمينځ ډيره مکاني يا زماني فاصله موجوده وي او همدغه لېريوالی د دې باعث دی چه د چا غږ د دوی غوږ ته نه رسيږي.[1]

---

[1] افغان جريده. لومړی کال. ۳۳ گڼه
د ۱۳۵۱ د غويي ۴مه
د ۱۹۷۲ د اپريل ۲۴ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متهی

دا لغت په پښتو قاموس کښې نشته ښائسي چه تراوسه ئې د جرایدو مخ هم نه وي لیدلی مګر په محاوره کښې شته.

دې لغت ته عامیانه هم نشو ویلی ځکه چه خواص ئې د نورو د پاره استعمالوي.

که غواړئ! د دې لغت په معنی او مفهوم پوه شئ دې قصې ته غوږ کیږدئ.

یو سړی نا اشنا ځای ته تلونکی و چه هلته خلکو ته ځان صاحب معرفي کړي ځکه نې یوه داسې خدمتګار ته ضرورت درلود چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاوه په جسماني خدمت په نفسياتي ډول هم د ده حيثيت او اعتبار د خان په تذليل خوندي وساتي يعنې پخپل تحقير د هغه توقير وپالي.

نو يوه سړي ته ئې وويل: راشه! زما متهتی شه! زه به دې په نس موړ او په تن پټ ساتم او بنه تنخواه به هم درکوم.

هغه وويل: متهتی يعنې څه؟

صاحب وويل: زه چه له خلکو سره خبرې کوم ته به هم يو څه وايې، زه به تاته په قهر وايم ډير مه ټټيږه يعنې بيهوده او بيمعنی خبرې مه کوه!

په دغه ډول به زما معتبري خلکو ته ثابته وي او ته به زما متهتی ئې.

معتبر سړی هر څوك چه وي، خان وي که حاکم، ميا وي که پير و پيشوا متهتی خلکو ته ضرورت لري.

د سرکار له کوره نيولې د خان او ملك تر حجرې پورې په هر ځای کښې يو يا څو تنه متهتي موجود وي چه په دغه ډول د صاحبانو صاحبي ساتي او ځانته ډوډۍ پيدا کوي.[1]

---

[1] افغان جريده، لومړی کال، ۳۴ مه گڼه

د ۱۳۵۱ د غويي ۱۱ مه

د ۱۹۷۲ د مې لومړئ.

دا ليکنه د (محرر) په مستعار نوم خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

#ديني تبليغ

مونږ هر وخت او مخصوصا په دې وخت کښې ديني او مذهبي تبليغاتو ته ډير شديد ضرورت لرو. ديني علماء چه په تفسير او حديث کښې د فقاهت او بصيرت خاوندان دي او د ديني تبليغ صلاحيت لري خپلې دغې مقدسې وظيفې ته له هر چانه ښه ملتفت دي او په دې رمز (ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة) ډير ښه پوهيدلي دي. (تو براى وصل كردن امدى - نى براى فصل كردن امدى).

دا راز اشخاص هيچا ته خصمانه نظر نلري او محضا لله د خير خواهئ په منظور د يوې لوړې اخلاقي غايي او پايې په بنا خلکو ته د سمې لارې رهنمايي کوي او د پاك خداى له کتابه ئې د قول لين درس اخيستى دى ځکه په جارحانه ډول د عناد ا وخصومت له مخې ځوك په شخصي توگه خپل هدف نه گرزوي بلکه عمومي اصلاحات او عام و تام تلقين ئې په نظر کښې وي او بې له خدايه له بل چانه خپل اجر هم نه غواړي.

دين نصيحت دى او موعظه لاربنودنه ده چه ځانته خاص سبك او اسلوب لري او رحم و شفقت ورسره ملگرى وي ځکه د ديني علماو بې شايبې امر معروف او نهي عن المنکر د سياسي اغراضو له تاثيره مبرا گڼو او په ښه نظر ورته گورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګهيځ جريده او دغه راز نوري نشريې چه د ديني او مذهبي تبليغاتو وظيفه ئې په غاړه اخيستې ده مونږ ورته له لوى خدايه توفيق غواړو چه دغه مقدسه وظيفه په ښه شان سرته ورسوي او د وظيفې تقدس په ډير ښه شان وساتي.

که زه دغه صلاحيت په ځان کښې نه وينم چه په ديني او مذهبي مسايلو کښې ثقه ليکنې وکولی شم دا علاقه خو حتما لرم چه د علمي صلاحيت خاوندان دغه روښانه مشعل بل وساتي.

هغه څه چه د ګهيځ د محترمې جريدې په پنځمه ګڼه کښې د ثور په لسمه نيټه د (کاروان) په حواله زما په باب نشر شوه که څه هم د سبك و اسلوب په لحاظ د تامل وړ و بيا هم زه ورته په مخاصمانه نظر نه ګورم او نه غواړم چه په معارضه او مجادله کښې ورسره واقع شم يا په سوال او جواب خپل او يا د بل وخت ضايع کړم.

زه د يو ليکوال په حيث له هغه سياست او اقتدار سره په مجادله کښې واقع يم چه په ديني لحاظ او هم د ديموکراسي او بشري حقوقو په لحاظ ورسره مجادله په کار ده.

دا به د تفرقه اچوونکي سياست د پاره ډير لوى موفقيت وي چه دغه هدف رانه پاتې شي او له هغه چا سره مقابل واقع شم چه زه ورته په ديني خدمت کښې توفيق غواړم او اصلاحاتو ته د حکومت په مجبورولو کښې ورسره په يوه محاذ کښې دريدلی شم، په دې مرحله کښې ليکوالو ته ښايي چه د حاکمه طبقې اصلاح او سمون مشترك هدف وګڼي او پخپل مينځ کښې په مجادله اخته نشي حتی چه له ځانه دفاع هم د دې باعث نشي چه اصلي مرام ترينه پاتې شي او په غير شعوري ډول استعمال شي[1]

---

[1] افغان جريده. لومړی کال. ۳۵ ګڼه
د ۱۳۵۱ د غويي ۱۸ مه.
د ۱۹۷۲ د مې ۸ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقوقي مساوات

د افغانستان ټول خلك د قانون په نظر كښې مساوي دي او هيڅوك په هيڅا باندې حقوقي امتياز يا تفوق نلري.

هغه تبعيض او امتياز چه د عدالت او مساوات ملا ماتوي په افغانستان كښې لادغه بد بوټي نه دی زرغون شوی او لغر و بېر، سره او خشره ساهو او سپېره برابره برخه لري.

كه يو مليونر وي او بل د پولۍ ټك ته ناست وي، د يوه لستوني غوړوي او بل بېخي لستوني بلكه لاس نلري. يوه ته خلك لاس په نامه ولاړوي او بل په خروار ليتي كښې څوك نه حسابوي. بيا هم قانون دواړو ته په يوه سترگه گوري او د عدالت په تله كښې لكه سنډا غټ ملك او لكه ورغومي ناخانه انسان په تول كښې برابر خيژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد دا خبرې د اساسي قانون په ډاډګيرنه په مزه مزه کولې او په دغسي حقوقي مساوات ئې ځان د هر ځا سيال ګاڼه.

محمود ووېل: ستا مطالعه په اساسي قانون کښي ډېره سطحي ده.

زه نه وايم چه قانون غولوونکي دي مګر دا وايم چه ته غوليدونکي ئې او اشتباه دې کړېده، ستا مثال داسي دی لکه چه سړی "کلو او اشربوا" واوري او "ولاتسرفوا" ته ئې پام نه وي يا ئې "ولاتقربوا الصلوٰة" لوستې وي او "و انتم سکارئ" نه خبر نه وي.

د دې دوو ملګرو بحث ډېر تود شو او دغه ډيالوګ ترينه جوړ شو.

احمد: اساسي قانون په ۲۵ ماده کښي په ډېر صراحت وايي: "تمام مردم افغانستان بدون تبعيض و امتياز در برابر قانون حقوق و وظايف مساوي دارند."

وګوره! په دې ماده کښي د افغانستان ټول خلك مساوي ګڼل شويدي چه هيڅ راز تخصيص پکښي نشته. تبعيض او امتياز هم په مطلق ډول نفي شوي او د استثنی نخښه نښانه پکښي نه وينو.

محمود: د اساسي قانون دغه ماده په ريښتيا همدغسي ده چه هيڅ راز قيد و شرط او استثنی نلرۍ او نه پکښي نورو موادو او احکامو ته څه اشاره شويده.

په کوم بل فرعي قانون هم څه حواله نه ده ورکړ شوې او د افغانستان ټول خلك صغير او کبير، نر او ښځه،عالم او جاهل په حقوقو او وظايفو کښي بې له تبعيض او امتيازه په مطلق ډول برابر ګڼل شوي دي. مګر د اساسي قانون نور مواد او احکام ځيني قيد او شرايط وضع کوي او په دغه ماده کښي استثنی ګاني قبلوي چه تخصيص بعدالتعميم ورته وايي.

احمد: که مقنن په دغه ماده کښي استثناګانو ته قايل واى او په نورو موادو کښي ئې څه شرايط او قيود وضع کول دلته به ئې حتما ورته اشاره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استثنی باید په همدغه ماده کښې موجوده وای چه د تناقض مخه نیول شوې وای اوس چه دغه ماده په کلي او مطلق ډول بې له هیڅ راز استثنی تثبیت شوې ده که د اساسي قانون نورې مادې دغه ماده مقیده کوي او محدودوي ئې نو استثنی ورته نشو ویلی تناقض یا تضاد ورته ویلی شو.

محمود: بنایي چه د فقاهت او علمي أصولو په لحاظ ستا خبره صحیح وي او قانوني سبك همدغه تقاضا ولري مګر واقعیت همدغه دی چه دا ماده پخپل حال نه ده پاتې او نورو موادو ځینې حقونه ځینو ته ورکړي او ځینې ئې محروم کړي دي. "بنایي چه دغه استثناآت معقول او منطقي هم وي."

احمد: د اساسي قانون هغه مواد او احکام چه حقوق د ځینو دپاره محدود وي او د دغې مادې عمومیت او مطلقیت له مینځه وړي کوم دي او څنګه دي؟

محمود: د اساسي قانون ۴۶ ماده چه د شورى د عضویت حق د افغانستان خلکو ته ورکوي ټولو ته ئې نه ورکوي.

صغیران او بلوغ ته نارسیدلي خلك خو شرعا هم له ځینو حقوقو محروم دي او باید د شورى له عضویته هم محروم وي.

له دینه چه تیر شو لیکل او لوستل هم د دغه حق قانوني شرط دی او د دې شرط په وضع کولو د افغانستان خلك په سلو کښې له نوي زیات له دغه حق څخه محروم شوي دي.

په باسواده بالغانو کښې هم له ۲۰ کلو نه د کم عمر خاوند د اولسي جرګې غړي کیدی نشي. او چه عمر ئې پوره "۳۰" کاله نه وي په مشرانو جرګه کښې نشي شاملیدی.

یعنې اساسي قانون علاوه په شرعي اهلیت او علمي لیاقت د سن او عمر په لحاظ هم مشر او کشر پیژني او ځلیریشت کلن ته هغه حق نه ورکوي چه پنځه ویشت کلن ته ئې ورکوي. همدا رنګه پنځه ویشت کلن هغه حق نلري چه دیرش کلن ئې لري. د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تبعه چه د تـ بعيت نـې لـس کالـه نـه وي پـوره شـوي د شـورئ لـه غړيتـوب څخـه محـروم دي.

د حکومـت رئيـس يعنـې صدراعظـم بـايد د (۸۶) مـادې مطـابق افغـان متولـد شـوی وي او محـض افغـان نـه بلکـه افغـان ابـن الافغـان وي

د ستري محکمـې اعضـاء د "۱۵۰" مـادې پـه ايجـاب بـايد لـه ۳۵ کالو نه کـم عمـر ولـري او قـاضي القضـات بـايد لـه څلويښتـو کـالو نـه کم او لـه شپيتو نـه زيـات نـه وي.

دا دې ځينـې هغـه تبعيضونـه او امتيازونـه چـه اساسـي قـانون پـه سـر او سترګو منلي دي او ۲۵ مـاده ئـې حکمـا او معنـا داسـې تفسـير کـړې يـا تعديـل کړيـده.

"مـردم افغانسـتان باسستثناى تبعيضـات و امتيازاتيکـه در ايـن قـانون اساسـي تصريـح گرديـده در برابـر قـانون حقـوق و وظـايف مسـاوي دارنـد."

مګر سره لـه دغـه تفسيره بيـا هـم دې ټکـي تـه توجـه پـه کـار ده چـه حقـوق او وظـايف د قـانون پـه مخکـښې مسـاوي دي نـه د قـانون چلوونکو پـه مخکښې.

اساسـي قـانون پـه (۴۳۷) مـاده کښې وايـي: "کـار حـق و فريضـه هـر افغانيسـت کـه قـدرت اجراى انـرا داشـته باشـد.... اتبـاع افغانسـتان بـه اسـاس اهليـت و بموجـب احکـام قـانون بخدمـت دولـت پذيرفتـه ميشـوند." مـګر سړي چـه عمـلا پـه رسمي دوايـرو کـښې ځينـې پـه کـار کښې شـامل کسـان وينـې چـه لـه خپلـې اصلـې رتبـې نـه څو درجـې پورتـه د کفـالت پـه نامـه د لـوړو څوکيـو خـاوندان دي او ځينـې نـور چـه علمـې سويه ئې لـه هغـو نـه ډيره لـوړه ده پـه ډيره ټيټـه رتبـه کـار کـوي يـا بيخـي وزګار ګرزي پوهيـږي چـه:

*"بـه نادانـان چنـان روزي رسـاند ـ کـه صـد دانـا دران حـيران بمـاند."*

همدغـه اوس پـه اولـه رتبـه يـا فـوق رتبـه داسـې بيسـواده سـړي وينـو چـه سـواد اعظم ئـې لـه حکـم لانـدې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خون سترګي پټي نکړي داسې کسان لیدی شي چه پخپله هیڅ اهلیت نلري او د اهل بیت او کورنۍ په اهلیت چلیږي.

ښاغلي احمد چه دغه ټولي خبري واوریدې بالاخره پخپله اشتباه پوه شو او ښاغلي محمود ته ئې وویل:

ایا داسې حق نشته چه ټول خلك یکښې بې تبعیض او امتیازه برابره برخه ولري او ټول پکښې مساوي وي.

محمود: ولې نه د وطن هوا.

احمد: لکه چه زما سادګي تاته درغله او ستا هوښیاري ماته راغله.

محمود: څنګه؟

احمد: هغه صافه معطره هوا چه د بډایانو او صاحبانو په بڼ ماڼیو کښې وي په دغو نمجنو غوجلو کښې نشته چه دهقانان او غریبانان پکښې اوسي.

تاته دا نه ده معلومه چه هغوی په بله هوا کښې دي او مونږ په بله کښې.

محمود: نو راځه! چه د ازاد تنفس د پاره ازادۍ هوا ته والوزو او په همدې ځای ئې ختمه کړو[1]

---

[1] افغان جریده. لومړی کال. ۳۶ ګڼه
د ۱۳۵۱ د غویی ۲۵ مه.
د ۱۹۷۲ د مې ۱۵ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سیاست بوالعجبي

سیاسیت ډیر عجیب و غریب رنګونه لري او کولی شي چه د سیاسي مصلحت په غوښتنه تور، سپین وښیئ او سپین د خلکو په نظر کښې تور یا برګ کاندي.

په سیاسي صحنو کښې کله تضادونه او تناقضونه د ګډ ژوند په اصولو غاړه غړئ کیږي او احسان و عصیان د وحدة الوجود یا وحدة الشهود په ګمان یو وجود او یا یو نمود پیدا کوي.

کله بیا د یوې عقیدې او یوې ایدیالوژئ پیروان په خپل مینځ کښې غوښه او چاړه شي چه یو له بله په دښمنئ نه مړیږي.

یو وخت د مبارزې میدان ته رستم او سوراب راباسئ او بل وخت د مخ په ښودلو د ښو، په غشو او د وروځو په لیندو د زړونو ملکونه تسخیروي.

کله د صلح د پاره جنګ کوي او کله د جنګ د پاره صلح غواړي، په دوستئ کښې دښمني کوي او په دښمنئ کښې دلبري او دلربائي. شیعه او سني د مذهب په نامه یو له بله جنګول او کفر و اسلام پخلا کول یا د کاپیټالیستئ او سوسیالیستئ تر مینځ ریباران ګرزول د سیاست شهکاري ده. تناسخ یا مسخ او فسخ په سیاست کښې عادي او معمولي کار دی چه کله له ایاز څخه جلالتماب جوړوي کله بیا له عالیقدر جلالتماب څخه احقرالعباد سازوي. کله د معشوقو زلفې لنډوي او کله ئې اوږدوي.

یو وخت د دیموکراسئ عقد له دکتاتورئ سره په ډنګ و ډول تړي او بیا ئې د بدنامولو او شرمولو د پاره د انارشي ارموني پیدا کوي. د دین په توره له دین سره دښمني او د ارتجاع ونو بوټو ته د ارتقا او نهضت کیمیا وي کود ورکول د سیاسي ماهرانو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زمکه کښې د نفاق او شقاق تخمونه کرل او د اتفاق او اتحاد حاصل ترینه غوښتل د سیاست زرنګي ده. د سیاست مذهب (که فرضا وئې لري) له نورو مذاهبونو جدا دی لکه دسیاست نظر او عمل چه له نورو نه ډیر فرق لري.

د سیاست د سر خیرات هم د نورو خیراتونو په شان نه وي یعنې اجر ئې یو په لسه یا یو په سله سمدلاسه په همدغه دنیا کښې وي بلکه له خیرات نه دمخه وي.

اوس چه د خیرات خبره د مضمون خولې ته راغله یوه پخوانۍ قصه راپه یاده شوه.

وائي چه محمود غزنوي یو وخت ډیرې پیسې د خیرات دپاره خپل وزیر ته ورکړې چه په اصلي مستحیقینو ئې د عدالت له مخې وویشي.

وزیرلاړ او دغه کار ئې وکړ کله چه بیرته راغی سلطان پوښتنه وکړه چه ویش په څه ترتیب و او څنګه و؟.

وزیر وویل له هر چا نه به مې پوښتنه کوله چه څه لري او څومره لري که چا به ډیر څه لرل ډیرڅه مې ورکول که لږ به ئې درلوده لږ مې ورکول که هیڅ به ئې نه لرل هیڅ مې نه ورکول. سلطان په قهر غوندې شو او ویې ویل ما امر کړی چه د خیرات ویشل باید عادلانه وي او د استحقاق له مخې حق حق دارته ورسیږي.

وزیر عرض وکړ چه ماد پاك خدای ورکړه دعدالت اساس وګاڼه څه چه هغه چاته ورکړي و ما هم هغومره ورکول چا ته چه هغه څه نه و ورکړي ما هم نه ورکول. دا پخوانۍ زړه قصه اوس بیا نوې شوه او زمونږ حکومت د امدادي غلې په ویشلو کښې هماغسې وکړه.

پروسږ کال چه وچکالۍ او بې ابۍ خپله مهیبه څیره ډیره بې رحمه اوخطرناکه ونبودله نو سیاست د ګدایۍ کچکول غاړې ته واچاوه او د افغانستان د وږو تږو د(یاالله خیر) غږ ئې د ټولې دنیا غوږته وروساوه. هماغه وچه په سلهاو زرو ټنه ډالر او نورنقد و جنس د غیبي بابا (حکومت) په کچکول واچول شوه چه څینې وړیا و.

د حکومت وظیفه دلته همدغومره وه چه دغه جهاني خیریه امدادونه هر ځای ته د امانتدارۍ له مخې ورسوي او دقوت لایموت په حیث ئې په ډیر احتیاط حقیقي مستحقینو ته بې له غدر او خیانته وسپاري. مګر د اداري دستګاه د فساد په وجه ډیرې ناوړه استفادې مینځ ته راغلې او په نتیجه کښې ډیر بډایان پرې قارونان شوه او ډیر وږي له لوږې مړه شوه

دغه غنم او کنجاړې چه د حاکمه طبقې له سهمیونه باقي پاتې شوه نو بیا حکومت په لاریو لاریو غنم او په سلهاو ټنه کنجاړې دسیاسي رشوت په حیث ځینو وکیلانو ته ورکول چه له یوې خوا د ملت نمایندګان د خلکو خولو کې ولویږي او د سرکار غدر وخیانت د وکیلانو په بدنامۍ کې پټ شي.

له بلې خوا همدغه وکیلان د دغه احسان په مقابل کښې مجلسونه له نصابه وغورځوي او د استیضاح ګانو مخه ونیسي. د همدغو غنمو او کنجاړو برکت دی چه اوس وروسته له مسلسلې دایمې بې نصابۍ د قرضې اخیستلو دپاره فورا نصاب پوره کیږي او په یو دوه مجلسو کښې ئې قرارداد تصویبیږي. مګر ځنګه چه د حکومت دغه عاجل ضرورت رفع کیږي نو بیا هماغه اش او هماغه کاسه وي او د بې نصابۍ مرض بابیرۍ کوي. د دې دپاره چه د دغه سیاسي تجارت انعکاس په افغانستان کښې دننه او له افغانستان نه دباندې څه نه څه ځانته معلوم کړو له داخلي او خارجي نشراتو ځخه به یو څه اقتباس کړو.

۱ـ ښاغلی رحمتیان د هرات د ښار وکیل د اولسي جرګې په عمومي مجلس کښې د غلې ویشلو او ورکولو په باب داسې وویل: (ګندم کمکی و قرض داستان غم انګیزی دارد. یک حصه در همان خارجها فروخته شد و ضرورت پس انداز دالری بزرګان را تکافو کرد. باقی یک حصه در کابل مرکز دولت استعمارګر برای اقایان و بیروکراتهای غیر مولد نوکران و محافظان سرزیادی شان از روی احتیاج ذخیره شد با قیمانده که بعد از حقداریها، دزدیها و راه

(c) ketabton.com: The Digital Library

گیریـهای والـی هـای چپـه شـاخ بولایـات رسـید اول مـامورین فاسـد . متنفذیـن شـریر بیـن خـود و خویشـان خـود تقسـیم کـرده باقیمـانده بـه کـل مـردم و زحمت کشـان و دهـاقین بـرگی بـه بـزی نرسـید ... روزگار، شـماره ۸.

۲ـ د افغانسـتان د غلـې پـه توزیـع بـاندې د بـي بـي سـي تبصـره چـه د اتحـاد ملـي پـه (۹۸) گڼه کـښې اقتبـاس شـویده پـه دې ډول ده: (بـی بـی سـی در سـرویس اردوی شـام پنجشـنبه (۴ مـی) راجـع بـه توزیـع غلـه در افغانسـتان تبصـره کـرد کـه مفـاد ان ذیـلا تقدیـم میـگردد: در اغـاز زمسـتان سـالیکه گذشـت حکومـت افغانسـتان نظـر بـه خشـک سـالی دو سـال متواتـر حـالت اضطـرار را اعـلام و از دول دوسـت و موسسـات بیـن المللـی خواهـش کمـک و مسـاعدت نمـود کـه بـالاثر کمـک هـای نقـدی و مسـاعدتهای مختلـف از قبیـل ارسـال غلـه وغـیره صـورت گرفـت مـع الاسـف تـا جائیکـه فعـلا دیـده میشـود ایـن کمـک بـه مـردم محتـاج در نقـاط دور دسـت مملکـت طوریکـه توقـع بـرده میشـد توزیـع نگردیـد و قسـمت اعظـم غلـه بـاثر سواسـتفاده هـای مـامورین حیـف و میـل گردیـد. قحطـی چنـان بیـداد کـرد کـه اطفـال، زن و مـرد اعـم از پیـر و جـوان تلـف و هـلاک گردیدنـد. برعـلاوه تعـداد زیـاد مواشـی بـاثر عـدم توجـه متناسـب در نقـاط مختلـف مملکـت از بیـن رفـت کـه خـود مشـکل بـزرگ اقتصـادی را بـزرگتـر سـاخت.

۳ـ د کـاروان ورځپـاڼه پـه (۱۹۹) گڼه کـښې پـه لومـړي مـخ اول سـتون کـښې د غلـې د توزیـع پـه بـاب داسـې لیکـي: (راپورهـای دلخـراش از ولایـات کشـور ناشـی از عـدم توجـه مقامـات مسـئول بـه توزیـع غلـه و اختلاسـهای بـزرگ درینمـورد شـایع شـد.

محـاقل خبـیر کـابل خـاطر نشـان میکننـد بـهمان انـدازه ایکـه مقامـات مسـئول حکومـت در عـدم توزیـع عادلانـه غلـه در ولایـات و نرسـانیدن غلـه در وقـت مناسـب مسـول هسـتند اکـثریت اعضـای ولسـی جرگـه نیـز درایـن هـرج و مـرج دسـت دارنـد زیـرا انهـا بـر حکومـت فشـار وارد کردنـد تـا مقـادیر معتنابـه غلـه را بخـود شـان بـه نـرخ ارزان بفروشـد و بعـد انـرا در بـازار سـیاه بمفـاد فروختنـد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یک منبع خبیر ضمن تبصره گفت افغانستان در باره خشکسالی که کار طبیعت است چیزی نمیتوانست ولی اینکه غله عادلانه توزیع نشد ناقابل عفو است...

از چند سال بـه اینطرف از طرف حکومتهای افغانستان دادن رشوت های سیاسی اغاز گردیده حکومتها سعی کرده اند صرف برای خاموش نگهداشتن اعضای مجلس بهر ترتیبی که هست انها را تطمیع کند).

دا څه پټه خبره نه ده چه حکومت د کابینې په سویه هغه کنجارې چه در مو او زیاتو څارویو لرلو په وجه د ځینو ولایاتو د پاره تخصیص شوي وې ځینو هغو وکیلانو ته هم ورکړې چه د نورو لرې ولایاتو اوسیدونکي و او په کنجاره کښې ئې هیڅ سهمیه نه درلوده. هغوی له دغه مدرکه د امرونو په خرڅولو په لکونو روپۍ د سیاسي رشوت په حیث ترلاسه کړې چه حکومت ته به هم خپل ضمیر او وجدان د انکار اجازه نه ورکوله څکه ئې د دغسې نشراتو په باب غوږونه کاڼه کړیدي.

د حکومت دغه رسمي او سیاسي ګدایي چه د خپلو خلکو د غمخورۍ په بنا د ډیر اجبار له مخې وه بیا هم په دغسې حال کښې چه خلك له لوږې مري او خپل اولادونه خرڅوي د عیش و عشرت خاوندان پرې خپلې سرمایې او ذخیرې زیاتوي او د سیاسي تجارت په دوران کښې لوېږي.

وایي چه یو له لوږې مړ کیده او بل ئې له سر لاندې پراتې لتولې د ملت او حکومت اوسنی حال دغه مثل ته واقعیت بخښي.

د سیاست خیز او احسان چه دغې وې نورې معاملې به ئې څنګه وې؟ دا ئې لاغور دی چاغور ئې بل دی.[1]

---

[1] افغان جریده. لومړی کال. ۳۸ مه ګڼه
د ۱۳۵۱ د غبرګولي ۸ مه.
د ۱۹۷۲ د مي ۲۹ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استیضاح او توضیح

مـرا معنئ تازه ای مدعاست
اگر گفته را باز گویم رواست

اساسي قـانون پـه (۶۶) مـاده کـښي وايـي: (اعضـاى ولسى جـرگه میتواننـد از حکومـت استیضاح نمـایند مباحثـه در مـورد توضیحـی که از طرف حکومـت داده میشود بـه تصمیـم جرگه منوط میباشد).
د دې مـادې تعبیر او تفسیـر یـا توجیـه او تـا ویـل د حکومـت او ولسي جرګې ترمينځ لـوی درز پیـدا کړ او معارضـه مجادلـه شـوه.
د دواړو قـواوو ترمینـځ دغـه اختـلاف يـو ځل د ښاغلي اعتمـادي پـه حکومت کښي لـه همدغـه جرګې سره پـه همدغـه دوره کـښي پيـښ شـو او دا ځل بيـا د ښاغلـي داکـتر عبدالظـاهر د حکومـت او د اولسـي جرګې ترمينځ دغـه دشکانه غشي خپـل اثر ځرګنـد کړ.
څنګه چه هغه حکومت دیتـه حـاضر نـه و چـه د هـر وکیـل استیضاح تـه سمدلاسـه پـه هماغـه مجلس کـښي توضیـح ورکـړي دا حکومـت هـم دغـه کـار تـه غـاړه نـږدي او غـواړي چـه د استیضاح او توضیـح ترمینـځ د وصـل پـه ځای فصـل موجـود وي.
د دواړو حکومتونـو مدعـا يـوه ده مـګر پـه اسـتدلال کـښي څه فـرق او تفاوت شـتـه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دوه حکومتونه په ډیرو شیانو کښې د نظر او عمل اختلاف لري مګر په توضیح ورکولو کښې د یوه فکر او موقف خاوندان دي او د اولسي جرګې په مقابل کښې ئې خط مشي څه فرق نلري یعنې الان کما کان ورته ویلی شو.

ښاغلی ډاکټر عبدالظاهر وایي استیضاح د وکیلانو کار دی او توضیح ورکول د حکومت متبوعه وظیفه ده.

حکومت د اساسي قانون د (۸۵) مادې له مخې متشکل دی له صدراعظم او وزیرانو څخه او په همدغه وجه صدراعظم په انفرادي ډول نشي کولی چه بې د وزیرانو له شورئ او مفاهمې څخه وکیلانو ته توضیحات ورکړي.

د وزیرانو مشوره او موافقه دا ایجابوي چه دوی خپله جلسه دایره کړي او د استیضاح په مطرح کولو په ګډه خپله توضیح په تحریري ډول تهیه او جرګې ته ئې وړاندې کړي.

د حکومت دا استدلال چه صدراعظم یوازې یا یو وزیر حکومت نه دی بلکه صدراعظم او وزیران په مجموعي ډول حکومت بلل کیږي تر یو حده سمه خبره ده.

موږ دا منو چه حکومت د یوه کل په حیث رئیس او اعضاء لري چه هر وزیر د دغه کل جزء دی مګر بحث په دې کښې دی چه د یوه صدراعظم فرمانونه او د یوه وزیر امرونه د حکومت اجراات ګڼلی شو او که نه؟

دلته دا سوال هم پیدا کیږي چه هر څه چه حکومت ته منسوب وي حتما به ټوله کابینه پکښې ګډون لري او یوازې صدراعظم به هغه کار نشي کولی.

مثلا د اساسي قانون په (۵۶-۷۵-۱۰۷) مادو کښې وایي (حکومت میتواند در جلسات هر یک از دو جرگه اشتراک ورزد، حکومت مکلف است اقلا یک ماه قبل از تقدیم طرح بودجه حساب قطعي بودجه یک سال قبل را به ولسی جرگه تقدیم کند. بودجهء قوهء قضائیه از طرف قاضی القضات به مشوره حکومت ترتیب

گردد بعد از موافقه ستره محکمه به حیث یک جزء بودجه دولت توسط حکومت به شوری تقدیم میشود.) په دغو دري مادو کښې چه د حکومت کلمه راغلې ده آیا معنی ئې دا ده چه یوازې صدراعظم ـ یو وزیر نشي کولی چه د دواړو جرګو په جلسو کښې اشتراک وکړي ځکه چه حکومت په مجموعي ډول کابینې ته ویل کېږي نه یو وزیر یا صدراعظم ته.

آیا قطعیه حساب به ټوله کابینه ولسي جرګې ته وړاندې کوي او یوازې د مالیې وزیر به دغه کار نشي کولی؟ آیا قاضي القضات به د ټولې کابینې یعنې د مجلس وزراء په مشوره خپله بودجه ترتیبوي که یوازې د صدراعظم او وزیر مالیه مشوره به کافي وي.

ښائي ددې ټولو پوښتنو ځواب همدغه وي چه د کل اطلاق په جزء باندې یا په بل عبارت د جزء تسمیه د کل په نامه معموله ده او په عامه محاوره کښې ډیر مثالونه لري.

مثلاً د یوه سړي د کمیس لستونی شکیدلی وي او وائي کمیس مې شکیدلی دی بلکه کالي مې شکیدلي هم وایي. یا د چا یوه ګوته ژوبله وي او وایي لاس مې ژوبل دی.

په همدغه فهم صدراعظم دواړه جرګو ته له یوه یا دوو وزیرانو سره ځي او دا نه وائي چه ترڅو ټوله کابینه راسره ملګرې نه وي جرګې ته نشم تللی ځکه چه په جرګې کښې اشتراك د حکومت حق دی.

کله چه همدغه صدراعظم د اولسي جرګې رئیس و یوه ورځ صدراعظم له یوه وزیر سره ناڅاپه مجلس ته راغی او ښاغلي رئیس ورته ونه ویل چه جرګې ته حکومت راتلی شي او صدراعظم له یوه وزیر سره نشي راتلی.

راځی: چه د اساسي قانون د مطالعې په رڼا کښې دا خبره له بلې خوا هم وڅیړو اساسي قانون په (۳۳-۳۵-۳۶) مادو کښې وایي: (دولت مکلف است برای تعمیم متوازن معارف در تمام افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروگرام موثری وضع و تطبیق نماید ، رهنمونی و نظارت تعلیم و تربیه وظیفه دولت است.

تاسیس و اداره، موسسات تعلیم عالي و عمومی تنها حق و وظیفه دولت است . دولت موظف است در حدود توان خود وسایل وقایه از امراض و علاج آنرا به صورت متوازن برای همه افغان ها تهیه کند.)

په دې موادو کښې هر ځای د دولت کلمه راغلې ده او دولت د یوه کل په حیث په دریواړو قواوو (اجرائیه، تقنینیه او قضاییه) حاوي دی چه هره یوه قوه ئې یو رکن دی.

که د حکومت هغه دلیل صحیح وي چه صدراعظم یا یو وزیر هغه کار په منفرد ډول نشي کولی چه په حکومت پورې تعلق لري او حکومت ته منسوب وي نو بیا حکومت هم باید هغه څه منفرداً ونکړي چه د دولت وظیفه ګڼل شوې وي او دولت ته محول وي.

په دې اساس باید صدراعظم ووائي چه د معارف متوازن تعمیم د تعلیم او تربیې نظارت او لارښودنه، د عالي او عمومي تعلیم د موسساتو تاسیس او اداره د دولت وظیفه ده او حکومت یوازې ددغو کارونو د اجراء حق نلري.

حال دا چه دغه کار عملاً د پوهنې وزارت ته محول دی او اولسي جرګه په استیضاح کښې حکومت بلکه د پوهنې وزیر د دغو چارو مسئول ګڼي. د پښتو د انکشاف او تقویې د پاره د پروګرام وضع کول او تطبیقول هم چه د اساسي قانون له مخې د دولت وظیفه ده عملاً د اطلاعاتو او د معارف د وزارتونو په غاړه ده.

لکه چه په متوازن ډول د امراضو د وقایې او علاج وسایل برابرول د دولت وظیفه ده او د حکومت یو جزء یعنې صحیه وزارت ئې سرته رسوي.

هر کله چه د دولت وظایف او مکلفیتونه حکومت په خپله ذمه اخلي او هغه صلاحیت چه لفظاً د دولت ګڼل شوېدی د حکومت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه غرې پورې تعلق نيسي نو بيا صدراعظم څنګه د حکومت له خوا وکيلانو ته توضيحات نشي ورکولی؟.
آيا د تعجب وړ نه ده چه يو وزير د دولت نماينده کېدی شي او يو صدراعظم د خپل حکومت د رئيس په حيث د حکومت له خوا وکيلانو ته توضيحات نشي ورکولی؟.
که د حکومت دليل د استيضاح په مورد کښې د منلو وړ وي او صدراعظم په همدغه دليل د هر وکيل استيضاح ته توضيح ورکول بې د وزيرانو له مشورې نه له خپل صلاحيت نه پورته ګڼي نو بيا کولی شي چه د دولت وظايف او مکلفيتونه دولت ته حواله کړي او حکومت په انفرادي ډول له دغو مسئوليتونو نه خلاص کړي.
يعنې له همدغه منطق څخه کار واخلي چه دغه کارونه د دولت په صلاحيت کښې دي حکومت يوازې په دغه باب کښې څه نشي کولی او په تنهايۍ دا مسئوليت په غاړه نشي اخيستی.
په دغسي تاويل او تفسير د اساسي قانون اساس نړيږي او حکومت له ټولو قانوني مسئوليتونو او مکلفيتونو نه ابراء ذمه کولی شي.
په دغه منطق خلك هم ويلی شي چه د اساسي قانون په (۳۸) ماده کښې واتي:
(هر افغان مکلف است بدولت ماليه و محصول تاديه کند...) نو ماليه او محصول اخيستل هم د دولت حق دی نه يوازې د حکومت او بالاخص د ماليې وزارت.
راشئ! چه له دغسي عندي توجيهاتو او تاويلاتو څخه تير شو او نتايج او عواقب ئې په نظر کښې ونيسو. د يوه ډير جز ئې مطلب د پاره اساس او بنياد نړول د سر وينيته ساتل او له سره تيريدل دي.
د اساسي قانون په (۶۶) ماده کښې د توضيح په باب ويل شوي: (توضيح که از طرف دولت داده ميشود) او دا نه دي ويل شوي: (توضيحی که حکومت ميدهد) بالفرض که همدغسي هم ويل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

واي بيا هم صدراعظم حق درلود چه د حکومت د رئيس په حيث توضيح ورکول خپله وظيفه وګڼي.

د اساسي قانون په (۹۵) ماده کښې د وزيرانو د مجلس او د هغو د غړو د صدراعظم وظايف او صلاحيتونه په دې ډول بيان شوي دي: (مجلس وزراء خطوط اساسي سياست حکومت را تعين ميکندو مقرراتي را که وضع آن از صلاحيت حکومت ميباشد تصويب مينمايد.

صدراعظم از مجلس وزراء رياست مينمايد.

فعاليت حکومت را اداره و رهنموني ميکند و در اجراآت آن هم اهنگي را تامين مينمايد.

حفظ رابطه حکومت با پادشاه و شوری نيز وظيفه صدراعظم ميباشد. وزراء وظايف خود را به حيث آمرين واحدهای اداری و بحيث اعضای حکومت تحت امر و رهنمائی صدراعظم در داخل حدوديکه اين قانون اساسی تعيين ميکند اجراء مينمايد).

د دې مادې په حکم د وزيرانو مجلس په مجموعي ډول د صدراعظم له رياست لاندې د حکومت د سياست اساسي خطوط تعينوي او هغه مقررات تصويبوي چه وضع ئې د حکومت په صلاحيت کښې وي.

د سياست د اساسي خطوطو په تعيين او د مقرراتو په وضع کولو کښې که صدراعظم د طرح کوونکي او موجد په حيث فعاله ابتکاري برخه ونلري کامله اطلاع خو بايد حتماً ولري.

علاوه په دې د حکومت د فعاليت اداره او لاربنودنه، د حکومت په اجراآتو کښې هم آهنګي ساتل شخصاً د صدراعظم وظيفه ده

وزيران قانوناً موظف دي چه د صدراعظم له امر لاندې د ده په هدايت خپل وظايف اجراء کړي.

که صدراعظم خپل دغه وظايف په ښه ډول سرته رسولي وي او وزيران ئې خپل سرته نه وي پريښي حتما به د حکومت د فعاليتونو او اجراآتو په باب پوره معلومات او کامله اطلاع لري چه د توضيح

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولو په وحت کښې به د انجام شوو کړونو په باب په کلیاتو او عمومیاتو کښې د وزیرانو مشورې ته نه وي محتاج او په جزئیاتو کښې هر وزیر او د دفتر کارکوونکی فی المجلس یاداشتونه ورکولی شي

د اساسي قانون په همدغه ماده کښې د حکومت رابطه له شورى سره ساتل شخصاً د صدراعظم وظیفه ده او وکیلانو ته توضیح ورکول د دغې رابطې په ساتلو کښې اساسي نقش لري.

صدراعظم به یقیناً په دې پوه وي چه د اساسي قانون په حکم وزیران د صدراعظم او امرو او لارښودنو ته اړ دي او دی د حکومت د تیرو اجراآتو او فعالیتونو په باب چه د ده په امر او هدایت عملي شوي وي د وزیرانو شورى ته قانوني ضرورت نلري. که له واقعیت نه سترګې پټې نکړو هر څوك پوهیږي چه حکومت په پلمو او بهانو له توضیحاتو ورکولو څخه تښتي او نه غواړي چه په حقایقو اعتراف وکړي.

که دغسې نه وي د استیضاح په لومړۍ جلسه کښې ښاغلي سید ظاهر د شکر درې وکیل له حکومت نه د احزابو د قانون او د ښاروالیو او د ولایتي جرګو د قوانینو د عدم انفاذ توضیح وغوښتله حکومت وویل مونږ ته باید مهلت راکړ شي چه د وزیرانو په مشوره د هر وکیل استیضاح ته توضیحات تهیه کړو او په بل مجلس کښې ئې قرائت کړو.

د استیضاح په دوهمه جلسه کښې چه صدراعظم همدغه دلیل ته توضیحات ورکول د دغو قوانینو د نه نافذ کیدو په باب ئې وویل: (در مورد انفاذ قوانین حکومت ملحوظاتي دارد که بعد از روشن شدن نظر دیگر وکلاء آنرا توضیح مینماید). دلته دا سوال پیدا کیږي چه که حکومت هر وکیل ته په توضیح ورکولو ځان مکلف ګڼي نو بیا ولې د خپلې وعدې په خلاف یوه هفته وروسته چه د وزیرانو مشوره هم حاصلیږي له توضیح ورکولو ډډه کوي او د نورو وکیلانو اظهار نظر ته ئې ځنډوي. که فرضاً نور وکیلان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه باب توضیح ونه غواړي یا د حکومت په اشاره دغه توضیح لازمه ونه ګڼي آیا حکومت قانوناً کولی شي چه بناغلي سید ظاهر ته له توضیح ورکولو نه استنکاف یا انکار وکړي له دغسي خبرو څخه معلومیږي چه حکومت په بیل کښي شودي تومنه کوي او خپل دغه راز عذر معقول ګڼي سیاسي زعامت دا نه دی چه صدراعظم له مسئولیت نه وتښتي او د وزیرانو مشورې د ځان د حمایت د پاره د پناه ګاه په حیث وګڼي.

د قیادت او رهبرئ تقاضا دا ده چه وزیران باید د صدراعظم د سیوري لاندې وي نه دا چه صدراعظم د وزیرانو په سیوري کښي ځان وساتي یعنې هغوی باید د ځان د پاره د وقایې په حیث استعمال نکړي بلکه دی د هغوی وقایه شي او خپل شهامت وښیي.

له سیاسي زعامت سره دا نه ښایي چه سړی محض کاغذ لوستونکی وي او د نورو خبرې قرائت کړي یعنې ګوینده نه وي خوانند وي.

که د مملکت چارې په دغه ډول جریان ولري چه د هر وکیل استیضاح ته د توضیح برابرولو د پاره د وزیرانو مجلس دایر شي نو د سرعت په دغه عصر کښي به د حکومت دغه راز اجراآت د میږي تګ وي او د سکون او توقف معنی به ولري.

که یو صدراعظم د (ایـن المفـر) په فکر کښي وي له هغه نه د مسئولیت قبلولو توقع نه ده په کار او نه دی په کار دی.[۱]

---

افغان جریده. لومړی کال. ۴۱ مه ګڼه.
د ۱۳۵۱ د غبرګولي ۲۹ مه
د ۱۹۷۲ د جون ۱۹ مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حکومت او ولسي جرګه

د تیرې سه شنبې په ورځ چه حکومت د استیضاح د پاره ولسي جرګې ته غوښتل شوی و د دوارو قواوو ترمنځ د اساسي قانون د (۶۶) مادې په تعبیر او تفسیر کښې معارضه او مجادله شروع شوه او د استیضاح په طرز او طریقه باندې جر و بحث د تفاهم فضا بیخي مغشوشه کړه.

ښاغلي ډاکټر عبدالظاهر هم لکه ښاغلي اعتمادي نه غوارې چه د هر وکیل استیضاح ته سمدلاسه په همدغه مجلس کښې توضیحات ورکړي بلکه وایي چه وکیلان دې یو بل پسې خپل صرف میر ګردانوي او کله چه د ټولو خبرې خلاصې شي حکومت به ورته خپله مقاله په شد و مد ولولي چه سل ټکه د زرګر او یو ټك د اهنګر شي یا لکه فرهاد (یکی ګوید و شیرین ګوید). ښاغلي وکیلان وایي: د هر وکیل استیضاحیه وینا چه ختمه شي حکومت دې سمدلاسه توضیح ورکوي او د هیچا سلام دې بې علیکه نه پرېږدي.

د ښاغلي اعتمادي د حکومت له سقوط نه دمخه عینا همدغه جنجال د دوارو قواوو ترمنځ پېښ شو بلکه د سقوط اصلي علت همدغه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني حکومت هم د خپل محترم سلف په لاره په هغه پسې ځکه سيوري روان دی او هماغه پېښې کوي.

له دغو دوو صدراعظمانو نه دمخه کله چه ښاغلی ميوندوال صدراعظم و او ښاغلی داکتر عبدالظاهر د اولسي جرګې د رياست افتخار درلود د استيضاح په متعددو غونډو کښې دا تعامل مېنځ ته راغی چه ښاغلي ميوندوال به هر وکيل ته سمدلاسه توضيحات ورکول او کله به چه د وکيل وينا فقط ته ورسيده د مجلس رئيس به صدراعظم په توضيح ورکولو موظف کاوه.

اوس هماغه رئيس د صدراعظم په حيث هغه څه د ځان دپاره نه خوښوي چه د بل صدراعظم دپاره خوښول.

دا چه ښاغلي ميوندوال ولې سمدلاسه جواب وايه او دغه جناب يا هغه جناب هغسې ونکړه ښايي چه يو علت به ئې دا وي چه ميوندوال له خبرو څخه نه ويريده. په ځان ئې باور درلود، د خپل فکر او حافظې په مرسته ئې بې کاغذه مسلسلې خبرې بې ريږديدو او خولې کېدو کولی شوې او بعيده نه ده چه د خپل دغه استعداد له تبارز څخه به ئې خوند هم اخيست.

په چا باندې چه په عام مجلس کښې د خبرو کولو په وخت کښې رڼا ورځ توره شپه شي او هر څه له حافظې نه وتښتي يا ئې خوله کلې شي او سره لرې پرې راشي هغه مجبور دی چه د کاغذ له مخې څه ولولي نه دا چه له خانه څه ووائي. د قاري او ناطق فرق همدغه دی.

بلـه دا چه اشرافي او اريستوکراسي طبيعت او تربيت يوه جلالتمات ته اجازه نه ورکوي چه له يوه وکيل سره طرف واقع شي او د ديالوګ په صورت خان له بل سره مقابل وګڼي.

اصلي علت هر څه چه وي، وي به مګر حکومت ظاهراً خپل عجب يا عجز پټوي او وائي چه په اساسي قانون کښې توضيح ورکول د حکومت کار دی او حکومت يوازې صدراعظم نه دی بلکه وزيران او صدراعظم په ګډه حکومت ګڼل کيږي حکومت ته بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقع ورکړه شي چه نه کړه د استیضاح د پیره توضیحات برابر کړي او بیا ئې جرګې ته په تحریري دول وړاندې کړي.

له دې خبرې څخه دا راوزي چه توضیح باید حتما تحریري وي نه تقریري

راشي؟ چه موښ او ناسي هم په معقولاتو کښې مداخله وکړو او وګورو چه د اساسي قانون (۶۶) مادده څه وایي؟ چه متن ئې دا دی. (اعضای ولسی جرګه میتوانند از حکومت استیضاح نمایند مباحثه در مورد توضیحی که از طرف حکومت داده میشود به تصمیم جرګه منوط میباشد) په دې ماده کښې چه فکر او عقل هر څومره وجنګوو دا ترینه هیڅکله نه معلومیږي چه حکومت دې د یوه وکیل استیضاح ته توضیح نه ورکوي او حتماً دې د (یك تیر و صد فاخته) مصداق پیدا کړي.

کیدی شي چه د استیضاح غونډه اصلاً د یوه وکیل د توضیح غوښتلو(١) کوونکی حکومت په دې مکلف کړي چه توضیح ورکاندې مګر په توضیح باندې مباحثه البته د یوه وکیل یا څو وکیلانو کار نه دی بلکه د اکثریت په تصمیم پورې اړه لري.

اساسي قانون په مطلق دول ولسي جرګې ته د استیضاح حق ورکړی او حکومت ئې په توضیح ورکولو مکلف کړی دی چه تحریري او تقریري دواړه پکښې راځي د استیضاح تنظیم او تفصیل د اصول وظایف داخلي کار دی او په همدغه وجه د ولسي جرګې د اصول وظایف داخلي په (۳۴) ماده کښې د استیضاح موضوع داسې تشریح کړې ده: (هر عضو ولسی جرګه میتواند در جلسه استیضاح از حکومت به طور کتبی یا شفاهی استیضاح کند. صدراعظم و اعضای حکومت مکلفند که در برابر آن توضیح کتبی و یا شفاهی بدهند) د ولسي جرګې د مجلس د اداري پروسیجر په باب اصول وظایف داخلي د اساسي قانون د (۶۲) مادې او د نورو موادو په حکم عیناً د قانون حکم لري چه که حکومت ئې نه مني قانون شکن ورته ویلی شوو. اصول وظایف داخلي په دغه ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې واضحاً صدراعظم او وزیران د هر وکیل د استیضاح په مقابل کښې په توضیح ورکولو په کښې یا شفاهي ډول مکلف کوي او حکومت قانوناً دا نشي کولی چه یوه وکیل ته له توضیح ورکولو نه انکار وکړي.

د حکومت دا خبره چه توضیح ورکول د حکومت کار دی او حکومت په اساس وي (۲) یا څو وکیلان د استیضاح غوښتونکي وي او هر استیضاح له صدراعظم او وزیرانو څخه عبارت دی دا مطلب نه ثابتوي چه باید د هر وکیل د توضیح د پاره د وزیرانو عالي مجلس دایر شي او توضیح د تصویب په صورت ولسي جرگې ته ارائه شي.

کله چه صدراعظم له وزیرانو سره استیضاح ته حاضر شي طبعاً حکومت په دغه مجلس کښې حضور لري او صدراعظم کولی شي چه د کابینې د رئیس په حیث مجلس ته توضیحات ورکړي یا هغه وزیر چه موضوعورپوري ارتباط لري یا په مطرح شوي موضوع کښې د معلوماتو او تخصص خاوند وي په توضیح ورکولو مامور کړي.

کیدی شي چه حکومت خپل مشاورین او متخصصین له ځان سره د استیضاح جلسې ته راولي او هغوی صدراعظم ته په همدغه مجلس کښې د توضیح د پاره تحریري یاداشتونه وړاندې کړي او صدراعظم په هغه اساس مجلس ته توضیحات ورکړي لکه چه دا کار په تیره دوره کښې معمول و او هر چا لیدلي چه وزیران او د دفترکارکوونکي له صدراعظم سره دغه مرسته کوي او یادداشتونه ورته تهیه کوي. دا هم کیدای شي چه د استیضاح د خینو برخو توضیح چه ارقامو او اعدادو ته ضرورت لري او ډیر دقت ایجابوي بل مجلس ته پریږدي او له مجلس نه مهلت وغواړي.

که حکومت په دې عقیده وي چه صدراعظم یا وزیر د حکومت له خوا د حکومت په نمایندگۍ څه نشي ویلی او حکومت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

منسوبې چارې بلا استثنی حتما د کابینې تصویب ایجابوي ډیره لویه اشتباه کوي.

که دا اصل ومنل شي نو صدراعظم یا وزیر به په رسمي سفرونو یا په کنفرانسونو او رسمي محافلو کښې پټه خوله ناست وي او د حکومت له خوا به داسې څه نشي ویلی چه د وزیرانو په مجلس کښې نه وي مطرح شوی.

په دغه اساس باید صدراعظم د شوری په انجمنونو کښې هم د وکیلانو د پوښتنو جوابونه د وزیرانو مجلس ته محول کړي او د انجمن وخت په شخصي صحبت تیر کړي.

که د استیضاح په غونډه کښې چه ټول وزیران ناست وي یو وکیل له صدراعظم نه توضیح وغواړي چه د احزابو، د ښاروالیو او ولایتي جرګو قوانین ولې د شوری له تصویب نه وروسته دا څو کاله په ارشیف کښې پاتې شوه او د انفاذ مخه ئې ونیول شوه؟.

یا ولې پوهنتون شپږ میاشتې وتړل شو ښاغلي صدراعظم ته د دیموکراسۍ او د بیان د ازادۍ له برکته قانونا دا حق حاصل دی چه د جکومت مجبوریت څرګند کړي او د عیان له بیان نه ونه ویریږي. که دې په دې فکر وي چه پوهنتون خو په وزیر معارف ارتباط لري او هغه اوس مستعفي دی نو دا توضیح باید تر هغه وخته وځنډیږي چه مستعفي وزیر بیرته کابینې ته راشي یا ئې په ځای بل څوك مقرر شي دا فکر صحیح نه دی او قانون ذغه راز معقول عذر هم نه مني.

که چیرې ښاغلي صدراعظم هغه زړه خاطره په حافظه کښې ساتلې وي چه په دولسمه دوره کښې ښاغلي اعتمادي د پارلماني تعامل په خلاف د ټولو استیضاح کوونکو ویناوې په سکوت واوریدې او په اخره ورځ ئې یوه توضیح ټولو ته ورکړه مګر بې له دینه چه له مجلس څخه پوښتنه وشي چه په توضیح څوك مباحثه کوي او که نه؟. د مجلس ښاغلي رئیس وویل توضیحات کافي و مجلس د لوی خدای په نامه ختمو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دغه ډول بناغلي اعتمادي د مباحثې له جنجاله خلاص شو او استیضاح شنډه او بې اثره شوه مګر اوس نه د مجلس رئیس له هغه هنر او مهارته کار اخلي او نه صدراعظم هغه صدراعظم دی کیدی شي چه دا ځل مجلس "که فرضاً له صدراعظم سره دا ومني چه وکیلانو له ټولو ویناوو نه وروسته لیکلي توضیحات ولولي" په توضیحاتو باندې د مباحثې تصمیم ونیسي او تحریر خپل ځای تقریر ته پریږدي یعنې دغه قند مکرر د مکالمې په صورت نقل مجلس شي او له خبرو نه خبرې پیدا شي.

که دغسې وشي نو له بارانه تښتیدونکی به له ناوې لاندې کښیني او دا متل به صدق پیدا کړي چه هوښیاره مرغۍ په دوه لومو نښلي.

که کابینه له حاضر جوابۍ څخه بې بهرې نه وي او علاوه په څه لوستلو د څه ویلو توان ولري بهتره به وي چه د حکومت د استقرار او د سیاسي ثبات د پاره د اولسي جرګې غوښتنه ومني او د اصول وظایف داخلي او قانون اساسي په احترام هر وکیل ته په توضیح ورکولو شروع وکړي او د پارلمان له اعتماد سره اعتماد بنفس هم ملګري کړي. وعلینا الاالبلاغ[3]

---

کیدی شي چه دغلته. زما په ماخذ کښې. د طباعتي غلطۍ په وجه. څه عبارات پاته شوي وي (ټولوونکی)

[2] دلته هم د عبارت نارسایي مانه طباعتي غلطي ښکاري (ټولوونکی)

[3] افغان جریده. لومړی کال. ۴۰ ګڼه

د ۱۳۵۱ د غبرګولي ۲۷ مه

د ۱۹۷۲ د جون ۱۲ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه اعتماد او څنګه خط مشي؟

کوم حق چـه اساسـي قـانون د نـوي سـوغات پـه حيث ولسي جـرګي تـه ورکړی او شـيخ مـير هـم منلـی دی يـوازې د رای اعتمـاد رسـم دی. پخـوا حکومتونـه د رسـم پـه حيث هـم دشوری اعتمـاد تـه محتـاج نـه و مګر اوس د اساسـي قـانون لـه برکتـه دا رسـم د حکومـت پـه جوړيـدو کښې د يـوه شـرط پـه حيـث قبـول شـوی او پـه همدغـه وجـه ملـي د حکومت اصطـلاح مينـځ تـه راغلـې ده.

راشـئ! چـه د رای اعتمـاد مـاهيت او کيفيـت ځانتـه معلـوم کـړو او وګورو چـه د ملت وکيـلان حقيقتـا پـه حکومـت بـاندې د زړه لـه کومـې اعتماد لـري او کـه تش د ژبـې اقرار دی بلکـه د ژبـې اقرار هـم نـه تش د لاس جګول دي او بس. آيـا دغـه اعتمـاد پخپلـه خـوښه ځرګنـدوي او کـه ځان مجبـور او مکلـف ګڼي چـه د مـافي الضمـير پـه خـلاف بـې مصداقـه اعتمـاد حکومـت تـه پـه لاس جګولـو ځرګنـد کـړي. د دې پوښتنې ځواب پـه دې مقالـه کـښې مطالعـه کړئ.

پـه هغـه ورځ چـه د اعتمـاد پـه بـاب رايګيـري کيدلـه پـه مجلـس کـښې ۱۹۵ وکيـلان حـاضر وو چـه د رايګيـرئ نتيجـه د لاسـونو جګولـو لـه مخې داسې اعـلان شـوه موافـق (۱۸۱) مخـالف (۱۱) ممتنـع (۱).

وروسـته تـر دې بناغلـي داکـتر عبدالظـاهر صدراعظـم پخپلـه امتنانيـه وينـا کـښې داسـې وويـل: ( مباحثـات چنديـن روزه در تـالار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي جرګه در فضاى ازادى، كامل بيان و اراده كه ناشي از نظام ديموكراتيک كشور است صورت ګرفت در چنين فضاى ازاد و ديموكراتيک خط مشي ما تائيد وحكومت موظف مورد اعتماد ولسي جرګه قرار ګرفت.)

د ښاغلي داكتر بيانيه او د ده خط مشي د ۱۳۵۰ د سرطان په ۱۴ مه ولسي جرګې ته معرفي شوه او د اسد په ۴مه د اعتماد په حصول د اعتماد جلسو خاتمه وموندله يعني د دغه كار اغاز او انجام ۲۲ ورځې ونيولې ځكه چه د سرطان مياشت ۳۱ ورځې وه.

په اوله ورځ چه خط مشي ولوستل شوه مجلس ختم شو او سبا ته هم مجلس ونشو چه وكيلان په دغه موده كښې خط مشي مطالعه كړي.

دا دوه ورځې چه د دري جمعو له ورځو سره مستثنى كړو نو پوره (۱۷) ورځې د حكومتونو په اجرااتو، د ديموكراسۍ په كم و كيف، د قوانينو په نه تطبيقولو په محلي او عمومي غوښتنو، د كابينې په غړو، د خط مشي په نوعيت او ماهيت څو كتابه خبرې وشوې.

دا كابينه هم د صدراعظم په لحاظ او هم د ځينو سره اعضاو په لحاظ داسې ګڼل كيده چه په اولسي جرګه كښې به ډير ښه چانس ولري مګر سره له دغه خوشبينۍ د دې كابينې اعتماد له تيرو كابينو څخه زيات وخت ونيوه.

په داسې حال كښې چه د هندوستان او پاكستان جګړه له شروع نه تر ختمه پورې (۱۱) ورځې نيسي او د بنګله ديش په نامه (۷۷) مليوني مملكت نوې جوړيږي، زمونږ د كابينې تبديل چه د موظف كدو زيات و كم دوه مياشتې نورې هم ورسره حساب كړو څو مياشتې غواړي، د اولسي جرګې دغه اعتماد چه (۱۸) ورځې عمومي مجلس پرې وشو كه د اولسي جرګې په عادي حساب ورته وګورو چه په هره هفته كښې درې ورځې عمومي مجلس وي د پنځه خلويښتو ورځو كار ئې ګڼلى شوو. كه د وكيلانو عادت په نظر كښې ونيسو او ديته وګورو چه دوى كله په دوه مياشتو كښې هم يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلس ننسي دايرونى نو د خو مياشتو يا د يوه كال كار ورته ويلى شوو خبر دلته اصلي مقصد د دولت د قواو په ركود او عطالت بحث نه دى بلكه د خط مشي او اعتماد ځرنګوالى او په دغه مورد كښې د محترمو وكيلانو نظر. اصلي منظور دى چه د پارلماني مطالعې او تبتع په لړ كښې ښاغلو لوستونكو ته په تحقيقي ډول وړاندې كيږي.

ښاغلي ډاكټر صاحب خو وويل چه په ازاده ديموكراتيكه فضا كښې زمونږ خط مشي تائيد شوه او حكومت د اعتماد وړ وګرزيده.

د كميت په لحاظ خو د موافقو او مخالفو وكيلانو شمير په رښتيا دا ښيي چه د حكومت غړو او د حكومت خط مشي په ولسي جرګه كښې ډير لوى اكثريت وګاټه. د هغه په اساس چه وايي (حب القلب يظهر باليد) دا ثابته شوه چه دا حكومت هم د نورو تيرو حكومتو په شان يو محبوب او مطلوب حكومت دى.

مګر كه ديته وګورو چه څه په زړه كښې وي هغه په خوله راځي او (اقرار باللسان) هم يو مهم شرط دى نو بيا د كيفيت په لحاظ دغه اعتماد د ازادې ديموكراتيكې فضا مونږود نه دى بلكه د مجبوريت محصول هم دى او په ځينو مواردو كښې داسې مثال لري لكه چه يو بډاى له ناكامه چا ته څه وركوي مګر دا وركړه د زړه وركړه نه وي د لاس وركړه وي لكه چه ځينې وكيلان دغه مجبوريت ته پخپلو ويناو كښې څه نه څه اشارې هم كوي او ځينې نور صراحتا وايي چه د اعليحضرت په خاطر د اعتماد رايه دركوو.

دلته مونږ ښاغلي وكيلان په درې صنفو ويشلاى شوو:

۱ ـ هغه چه واضحا ئې وويل مونږ اعتماد نلرو ځكه د اعتماد رايه نه دركوو.

۲ هغه چه اعتماد ئې نه درلود مګر د اعتماد رايه ئې وركړه.

۳ ـ هغه چه هم اعتماد درلود او هم ئې اعتماد وركړ.

راشئ! چه اوس د ځينو محترمو وكيلانو د بيانيو ځينې ټكي وړاندې كړو او وګورو چه دوى د حكومت خط مشي او وزيرانو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه حضر کوري" افغـاني ديموکراسـي څنـګه کړي؟ د قوانينـو د تطبيـق په باب څه وائـي؟ او بالاخره خيال اعتمـاد څنګه تمثيلـوي. او د اداري نظام په باب څه قضاوت کوي؟

ښکاره دي چه د ښاغلو وکيلانو اقـوال په دغو مـواردو کښي رانقل کړو دا بايد ووايو چه په خط مشـي کښي ځينـي داسـي نقـاط موجود وو چه د حکومت د ژوبلو ګونو په حيث هرچا فشار ورکـوه

پدغه جمله کښي يوه د کوچيانو مسئله وه چه حکومت په خط مشـي کښي بيخـي هيره کړې وه او دغـه خلا د دې باعث شوه چه حکومت په کوتاه نظرئ او فـرو ګذاشـت محکـوم کړي او ډيـر زيـات انتقادونه له دغـې ناحيې وارد شي

بله مهمه مسئله د دين خبره وه چه حکومت د خپلې خط مشـي په شروع کښې ويلـي و: (اجـراات حکومت مـن متکـی بـه اساسـات ديـن مقدم اسلام... خواهد بـود" دا خبره د څه هم ډيره ښه خبره وه چه د خلکـو لـه عقيـدې سـره ئـې اساسـي تعلـق درلـود او د حکومـت مسلماني، ديـنداري او ديـن پرستي ئـې ښودلـه مـګر د دې د پـاره چـه وکيلانو خپل هغه مشـاهدات نشـوه هيرولی چه د ديـن په خـلاف دي او حکومتونه له دين سره په بې علاقګۍ په مخالفت محکوموي نـو هـر چا دغـه ټکـي غولوونکـي وګڼه او د دولـت يـا د حکومـت هغـه کارونه او اجراات ئې راپه ياد کړه چه هر چا ته په ديني لحـاظ بـد ښکاري لکـه د پـل خشـتي د مسـجد صحنـه، د شـرابو فابريکـه، د بربنډ مدنيت بې باکي او ځينې بې شرمه کلپونه او داسې نور

دريمـه خبره چه پارلمـاني انتقادونـه ئـې راوتـو رول د قوانينـو نشتوالي ته اشاره وه چه ښاغلي صدراعظم پخپله خط مشـي کښي د اقتصـادي او اجتمـاعي مشـکلاتو د عواملـو پـه ښودنـه کښي د لومړني مهم عامل په حيث تر هر څه دمخـه قـانوني فقدان په دې ډول ښودلـی و:

"مشـکلات اقتصـادی و اجتمـاعی کـه در حـال حـاضر دامـن ګيـر مـ شده ناشـی از عوامـل مختلـف اسـت کـه مـهمترين ان عبـارتند از

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ فقدان یک عده قوانین در بعضی شئون مهمه حیاتی کشور." د واقعیت په لحاظ دا خبره سل په سلو کښي صحیح ده چه مونږ له ډیرو حیاتي او ضروري قوانینو څخه محروم یو او هغه قوانین چه د اساسي قانون تعمیل او د دیموکراسۍ تطبیق ورته ډیر شدید او فوري احتیاج لري مونږ ئي نلرو مګر خبره دلته ده چه د اقتصادي او اجتماعي مشکلاتو یو مهم عامل خو د قوانینو فقدان دی، عامل ئي څوك دی.؟

د حکومت همدغه یادونه په حقیقت کښي ( کمفروشي به یاد بقال ) ته ورته وه چه حکومتونه ئي د دي کار مسئول معرفي کړه او دا موضوع ئي مطرح کړه چه د شوری تصویب شوي قوانین ولي مختنق شوه او حکومتونو ئي د انفاذ مخه ونیوله.

له دغي ناحیي نه هم حکومت او مخصوصاً ښاغلي داکتر عبدالظاهر ته ډیر سوالونه او شدید انتقادونه متوجه شوه چه خط مشي ئي ډیره بي وزنه کړه.

څلورم عیب یا په بل عبارت ژوبله ګوته دا وه چه د تیر لویدلي حکومت څیني غړي چه ولسي جرګي ئي په مقابل کښي ډیر حساسیت درلود بیا راغله او د پروني سلب اعتماد سهمداران د نوي حکومت سهمداران شوه هو! د کابینې د څینو اعضاو انتخاب هم د دي باعث شو چه د صدراعظم ممیزه قوه یا اراده ډیره ضعیفه وښیي او امید په یاس بدل کړي.

دا دی اوس د خبرو رشته ښاغلو وکیلانو ته په لاس ورکوو او د دوی په نظر حکومت او د حکومت خط مشي ته ګورو او ضمناً د اولسي جرګي اعتماد د کیفیت په لحاظ د دوی په ویناو کښي مطالعه کوو.

_ ښاغلي محمد یوسف بینش د کابل وکیل:" نمیتوانم که امانت عظیم رای اعتماد مردم خود را همچنانکه بحکومتهای دیروز ندادم امروز هم این بار سنگین را نمیتوانم ارایه کنم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ بناغلی محمد اسحق علومي د ارغستان وکیل: "متاسفانه با تحلیل اوضاع اقتصادي کشور که در صفحه (۹) خط مشي شما توضیح شده کاملا موافق نیستم."

ـ بناغلی محمد غوث د قادس وکیل: "خط مشی شما با خط مشي حکومت سابق فرقی ندارد و نکاتی که بتواند فصل ممیز باشد در ان دیده نمیشود، طوریکه مکرر دیده شده این خط مشی ها برای یک دفعه و ان هم از تالار شوری شنیدنی دارد که میپرس و همینکه از تالار شوری قدرم بیرون گذاشت، دچار فراموشی گردیده و وجود را پدرود میگوید."

ـ بناغلی سید ظاهر شاه د شکردرې وکیل: "ایا در ذواتیکه مسئولیت بزرگ وزارت را که در حکومت شما متقبل گردیده اند بملاحظه سوابق ایشان چنان ایمان به دیموکراسی و اهلیت و کفایت در کار را میتوان سراغ کرد که از عهده این وظیفه مهم بخوبی بدر شده بتواند و مواد قوانین را بصورت عندي تفسیر و توجیه نکرده و سبب سلب حقوق و اختناق حریت های قانونی افراد و اجتماعات نگردیده.

بناغلی وکیل شهرکابل: این خط مشی پادر هوا که بیشتر بیک مقاله عادي جراید حکومتی شباهت دارد تا بخط مشی حکومت. شما حکومتی ها در تبلیغات دروغین تان، در پروگرامها و خط مشي پر از نیرنگ و عوامفریبانه تان از ازادي، عدالت، دیموکراسی و حاکمیت قانون دم میزیند در حالیکه عملا قانون جنگل در کشور حکمفرماست."

ـ بناغلی مولوی عنایت الله ابلاغ، د بگرام وکیل: "خط مشی طویل و عریض حکومتها پیوسته طوری تنظیم شده که ما را بیک زنده گی و همین نوید میدهد اما در میدان عمل دیده شده که قانون شکنی ها قدرت ارایها، کبر یا غرور، دروغ و عوامفریبی حکومتها طوری بسرنوشت ملت بازی کرده که انرا تاریخ فراموش نخواهد کرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نگاه باریک بین ملت در قدم اول کار شما اعتراض دارند که در انتخاب بعضی اعضای کابینه دقت نشده یک قسمت کارهای مهم ملت به کسی سپرده شده که نخواهد توانست که این بار سنگین را بر دارد."

ـ ښاغلی مولوی عبدالمهیمن روحانی د کاپیسا وکیل:" طوریکه در باره بعضی از اعضای کابینه شما مطالعه دارم واقعا در دوره خدمت شان مصدر کدام خیر قابل نوازش برای ملت افغانستان نشده اند پس نمی دانم که از کدام نگاه تقدیر میشوند.

چون اهلیت واقعی برای سپردن امانات و امور حیاتی مردم داد خواه افغانستان وجود ندارد پس مجبورا از اهلیت نسبی کار گرفته نظر به اعتماد پادشاه محبوب بحکومت شما موافقه دارم."

ـ ښاغلی عبدالقیوم صافی د اشکمش وکیل:" میدانیم که اعلیضرت معظم همایونی تا زمانیکه تمام اطراف و جوانب شخص را معلوم نکنند او رارئیس حکومت معرفی نمیکنند.

روی نظریات اعلیحضرت معظم همایونی پادشاه ترقیخواه ما این بارگران و پر مسئولیت را بدوش شما میگذاریم."

ـ ښاغلی محمد انور د رستاق وکیل:" از اینکه حضور اعلیحضرت معظم همایونی بشما فرمان داده اند تا از اولسي جرگه رای اعتماد حاصل کنید من به حکومت شما رای اعتماد میدهم."

ـ ښاغلی محمد انور د قلات د کوچیانو وکیل:" نظر و خط مشي د تاته، رایه د اعتماد دما و تا ته، مناسب نه ده او نظر ارادی پاکي د اعلیحضرت معظم همایوني ته چه ته ئي په وظیفې د صدارت ټاکلی ئي... رایه د اعتماد درکوم."

ـ ښاغلی حاجي محمد عثمان د شیرین تګاب وکیل:" بنده به تشخیص و انتخاب صحیح پادشاه خویش اعتماد دارم."

ـ ښاغلی شمس الحق پیرزاده د قرغیوه وکیل:" هر څوک چه د کابینې په جوړولو موظف شي نو هغه د اساسي قانون د (۸۹) مادې په حکم مجبور دی چه له ولسي جرګې د اعتماد رایه وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اولسي جرگه هم د ډيرو عللو او عواملو په وجه مجبوره ده چه د اعتماد رايه ورکړي که څه هم د ژبي په سر وي، مونږ په دې څو وختونو کښي چه څو حکومتونه وليدل نو د ترکيب او تاليف په لحاظ راته داسي ښکاري چه د کابينو په تشکيل کښي شخصي ملاحظات، محيطي ملاحظات او نور مخفي ملاحظات زيات دخل لري او د کار ملاحظه د نورو ملاحظاتو تابع ده."

ـ ښاغلي حاجي عبدالوهاب د حصارك وكيل:" قاچاق په لوره پيمانه روان دى په هوا او په زمكه جلوگيري ئي ډير زور په كار لري او په چا به ئي وكړي كه چيرته ماموريـن ورسره شريك نه و نو د ايران او پاكستان نه تر كابله پورې د قاچاق مال راوړل امكان نلري.

چه غل د خزانې پاسبان شي گمان نه كوم چه خير تري وگوري.

د كوچيانو اسكان كول د تعليم او دوا سرشته كول په نظر كښي ونيسئ نه ورته په وزارت دفاع كښي جنرالي غواړو او نه په وزارت خارجه كښي ماموريت نه په كابينه كښي وزارت."

ـ ښاغلي محمد زمان د بكوا وكيل:" در خاتمه مشكلات موكلين خود را به داخل چار مواد فوق ابراز نموده در حال رفع مشكلات متذكره فوق من راى اعتماد خود را به جناب صدراعظم موظف نيز تقديم ميدارم."

ـ ښاغلي مولوى سيد اكبر د پل علم وكيل:" دا حكومت او پخوانى حكومت كوم فرق نلري يو څو څيرې ئي بدلي شوي عيب ئي نه دى بدل شوى."

ـ ښاغلي يارمحمد د ليلي د اندړو وكيل:" ستا د كابينې ځينو غړيو په پخوانيو وظيفو كښي ډير بد شهرت گټلى او څو كسه ئي د خلكو په نظر ډير ضعيف النفس او سست عنصره ښكاري ويل كيږي چه د پچي او قالبين په توگه انتخاب شويدي."

ـ ښاغلي سيد شاه موسى رضوى د مالستان وكيل:" ښاغلي صدراعظم موظف! وعده و نويد كار كردن در حكومات گذشته و حكومت شما به بهترين شكل خود داده شده و ميشود اما كار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بستن و عمل یکی از محالات تجربوی است که مردم این مملکت نموده اند."

ـ ښاغلی میر محمد عثمان د پروان وکیل: در خط مشی تان راجع بچاره های علمی و موثر بطوریکه اقناع ملت فراهم گردد، در باره هیچیک از الام ملی ما مشخصا تذکر و تعهد نگردیده است."

ـ ښاغلی عبدالحفیظ د نهرین وکیل:" یکی از خواسته های مردم افغانستان انست که بقانون عمل شود متاسفانه قانون که حامی حفظ حقوق، ابرو و امنیت است بکلی جنبه عمل نداشته باید شکل عملی ان عام باشد.

در جمله اعضای کابینه کسانی هم وجود دارد که نمیتوان بموقعیت ان اطمینان داشت."

ـ ښاغلی اقا محمد د نوزاد وکیل:" دغه ځینې معرفي شوي غړي چه د ښاغلي اعتمادي د حکومت په غړیتوب کښې ئې ګډون درلود د ملت د هیلو د سرته رسولو وعده ئې نه وه کړې. که دوی د خپلو وعدو په کړنه بریالي وای هیڅکله به د یو شمیر محترمو وکیلانو د خوا د حکومت د بیرته باور اخیستلو پیشنهاد عمومي مجلس ته نه وای وړاندې شوی."

ـ ښاغلی محمد اسحق عثمان د کابل وکیل:" بنا بر تجربهء تلخ قناعت مراجعلات و کلمات خط مشی و نه چهره های اعضای کابینه شما فراهم ساخته میتواند."

ـ ښاغلی عبدالکریم عمرخیل د لغمان وکیل:" متاسفانه د هغې ناکامه کابینې اکثر غړي ستاسو د کابینې اکثریت هم تشکیلوي(از موده را ازمودن خطاست)."

ـ ښاغلی غلام نقشبند د زابل د ارغنداب وکیل:" دا عاجز ملت څه وکړي تراوسه خو په دې طبقه کښې دې ملت ته کوم محبوب شخص نه دی پیدا شوی چه مونږ د محبوبیت له لاري اعتماد ورکړو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښاغلی محمد جنید د کوهستان وکیل: " در زندگی اجتماعی امنیت و حیثیت فامیل و کرامت فردی به خطر است و در خط مشی حکومت اساساتی که میتواند چنین تضمین را بکند وجود ندارد."

ـ ښاغلی روح الله حبیب د روداتو وکیل: " ښاغلی موظف صدراعظم! کسانیکه خود را اعمار می کنند مملکت را نمیتوانند اعمار کنند چون هر تعمیری به تخریب نیز احتیاج دارد و اعمار او شان باعث تخریب ما و کشور ما شده است.

علماء و دانشمندان و صاحبان افکار مترقی و اهل تتبع و مطالعه بیش از جنایتکاران و قاچاقبران و استفاده جویان مجرم و گنهگار شمرده میشوند از همین حالا در انتخاب شما انهم در امور صنعتی ساختن کشور که ارزوی همه بوده و منبع اصلی و اساسی تولید و پیشرفت جامعه می باشد که در راس ان میبایست بزرگترین و با تجربه ترین مغز علمی و اقتصادی و پلان گذاری کشور قرار میداشت ولی فعلا از نگاه علمی و مسلکی عکس ان مشهود است.

واضح است که وزارت دادن و وزارت گرفتن منظور است نه کار کردن و تخصص داشتن پیشتر بدون استحقاق قسم طفیلی بعضی کاتب ها بواسطه و وسیله مقرر شدند فعلا کاربجایی رسیده که بعضی وزیر ها بواسطه و وسیله مقرر شوند.

انهائیکه افتخار کودکستان را به حکومت اقای اعتمادی بخشیدند و یگانه باعث ناکامی و سقوط حکومت او شدند، فعلا باز هم به مداخله ها و اعمال نفوذها، تهدیدات و تحریکات محلی و منطقوی چنین مقامات بزرگ را اشغال میکنند... منطقه ها به وزیر داشتن ها اباد نمیشود و اگر میشد فعلا مردم ولایت فقیر، گرسنه و برهنه بدخشان با داشتن وزرای دایمی و همیشگی و پر قدرت خود و بعد از ان ولایت لغمان یکی از ولایات پیشرفته کشور میبود."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي شيرين خان د پنجوائي وکيل: "ستاسو حکومتونو د ژوندانه په ټولو خواوو کښې د ملت د اميد څراغ وژلي دی او هغه مو چه ويلي دي په سلو کښي مو شل نه دي کړي. دا ترخه تجربه د افغانستان د ملت هر فرد سره شته."

ـ ښاغلي سيد انبياء د قلعه کا وکيل: "ايا از روی انصاف بهمچه حکومات رای دادن لازمست و يا نه؟ اما راجع به حکومت موجوده نسبت به ارزوی شاه ما که واجب الاحترام است نظر به ايه شريفه که خدای پاک فروده (اطيعوالله والرسول و اولوا الامر منکم) بحکومت محترم حاضر رای اعتماد ميدهم."

ـ ښاغلي محمد نبي محمدي د لوګر وکيل: "بايد په صراحت سره ووايو چه اصل سبب او علت العلل د دي دربدرئ د افغانستان د حکومتونو خيانتونه دي. ای د افغانستان د اسلام د ادعا حکومته! ای د افغانستان ډك مدعا سياسته!... ای د افغانستان د غيور ملت زمامداره! له خدايه وويريږه له وجدانه وشرميږه د غفلت له خوبه ويښ شه او شاوخوا لږ سترګې وغړوه. په دين او مذهب دي څه حال دی؟ په رعيت او ملت څه حال؟ په خاوره او وطن او ملك او مملکت څه حال دی؟... دا حقايق او واقعيت نه اظهاروم چه د افغانستان حکومتونو څه نه و چه وي نکړه. رشوت په دوی کښي، قاچاق په دوی کښي، ظلم په دوی کښي، کبر په دوی کښي، خيانت په دوی کښي خداعت په دوی کښي، شراب په دوی کښي، قمار په دوی کښي، سود او ربا په دوی کښي، غلا په دوی کښي، غدر په دوی کښي... عياشي او فحاشي په دوی کښي."

ـ ښاغلي عبدالغفار فراهي د بالابلوك وکيل: "ايا د دي د پاره کوم دليل او حتی ډير ضعيف سند شته چه دا حکومت به هم پر خپلو وعدو او خط مشي اجرا کولو په حقله وفادار وي او د دي خوار ملت د پاره به څه وکړی شي په داسي حال کښي هغه څه چه ئي د وسه پوره و او اسانه کارونه دي په خط مشي کښي ئي د هغو د اجرا کولو څخه ماهرانه ځان تير کړی. دا به عجيبه وي چه د دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکارۍ او ناعاقبت اندیشۍ سره زما څخه د اعتماد د رایې ورکولو توقع ولري او زه دغه ملي مسئولیت او قومي امانت د دې د خوښۍ او یوه خوله خندا راته کولو د پاره قربان کړم. نو ځکه په زغرده وایم چه ته د اعتماد وړ نه ئې خپله رایه نه درکوم."

ـ ښاغلی عبدالروف بینوا د موسی قلعه وکیل: "بخط مشی شما در ائینه اصول علمی خود توجه کردیم و انرا بررسی نمودیم با تاسف باید یاد اور شوم که شما به این خطمشی قادر نخواهید بود نقشی را در تحول حیٰات اجتماعی و اقتصادی ما بازی کنید.

در هیچ جای از خط مشی شما در مورد ازادی های دیموکراتیک قانون اساسی یعنی انچه در فصل سوم و خاصتا در مواد (۳۱-۳۲) تصریح شده ذکری به عمل نیامده."

ـ ښاغلی محمداعظم د شینوارو د مرکز وکیل: "تر کومه حده پورې چه مونږ لیدلي دي حکومت په خپلو تګ لارو کښې ویلي یو شي دي او کړي ئې بل څه دي، مثلا هر حکومت چه منځ ته راغلی دی د اساسي قانون د حکمه سره سم د اسلام د مقدس دین ساتنه او حمایه، متوازن معارف، اجتماعي عدالت، سیاسي او اقتصادي دیموکراسي برقرارول د ظلم، رشوت، قاچاق بړۍ او احتکار د مخنیوي وعدې ورکړي او په پای کښې د پښتونستان غږ هم پورته کړي خو د عمل میدان کښې د دې ټولو خبرو خلاف نتیجې راوتلې دي."

ـ ښاغلی شاه محمد د نهر شاهي وکیل: "حکومت ها معمولا در روز اول ورود خود به ولسی جرگه خط مشی قرائت میکنند چنانچه خط مشی چند حکومت گذشته فعلا هم درینجا موجود است ولی تجربه ثابت کرد که اغلبا کردار با گفتار مطابق نیست."

ـ ښاغلی عبدالعزیز کوشانی د بدخشان د مرکز وکیل: "خط مشی شما را مطالعه نمودیم اما بهتر بود که قوهٔ اجرائیه بجای اینکه بنام خط مشی طومار نا منظمی از وعده های غیر قابل اجراء را پیش کند و قوهٔ مقننه بالای چنان خط مشی تشریفاتی بحث و

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشجره کند در بارهء امکانات و عدم امکانات قانون اساسی جدید مانند یک سیمینار مباحثه میکردند و تعهدات در این باره بدوش میگرفتند."

ـ ښاغلی محمد علي قاضي زاده د پښتون زرغون وکیل: "اقای دکتور عبدالظاهر صدراعظم موظف با پیروی از روش معمولی در خط مشی خویش بیماریها راجسته جسته تشخیص داده ولی نامبرده هیچ نسخه و حتی کمترین قرار خود را هم برای رفع و از الهء ان در خط مشی مرتبه پیشبینی نتوانستند."

ـ ښاغلی عبدالحسین مقصودي د ناور وکیل: "این خط مشی ها اگرچه با حفظ پالیسی خود حکومت ها و با در نظر داشت سیاست پنهان کاری و ظاهر سازی تهیه میشود با ان هم پنج الی ده فیصد ان در ساحه تطبیق و عمل وارد نمیشود."

ـ ښاغلی غلام دستگیر وطنیار د بغلان د مرکز وکیل: عبارت ارائی و تذکرات بدون وانمود ساختن راه اصلاحي بزعم من خط مشی نیست بلکه تذکراتیست فورمالیته که تطبیق ان عمر نوح و صبر ایوب میخواهد."

ـ ښاغلی امان الله شیرزاد د اصل چغانسور وکیل:" من فکر نمی کنم که این همه مشکلات بدون داشتن دانش اختصاصی صرف باظهار کلمات هر نوع امکانات سهم گیري فعال و یا همکاری متقابله حل شده بتواند. و کلا بسیار مسرور میشدند اگر در هرقسمت یا تشخیص مسایل و مشکلات راه حل و طرق چاره جویی ان توضیح میگردید.

با انکه فهمیده شد که جناب شما نود فیصد رای اعتماد را حاصل میکنید ولی من به هیچ امید به شما رای اعتماد نمیدهم."

ـ ښاغلی سید رسول فکور د هرات د مرکز وکیل:" اقای دکتور عبدالظاهر! نمیدانم که با در نظر گرفتن سوابق و ماهیت تاریخی شما و اعضای کابینهء معرفی شده تان که شما و امثال شما راسبب اصلی بدبختی ها و عامل اساسی پسماندگی های مدنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان میشمارم و هم ناتوانی شما را چه در مشی ارتجاعی ارائه شده، شما چه در خصلت طبقاتی شما از پیشبرد مرام مردم مانع ترقی و تعالی کشور در مسیر تمدن مسلم میدانم چطور به خود جرئت دهم که لفظ اعتماد را در باره، این کابینه متشکله بزبان ارم. باتکاء بروحیه بشر دوستی خویش و با اتکاء به محبت وطن و از همه عمده تر از نگاه مسئولیت ایمانی و وجدانی اعلام میدارم که من به شما اعتماد ندارم." ۱

ـ ښاغلی امان الله شینډنډی د شینډنډ وکیل: "به نظر بنده شما نیز از جمله همان اشخاصی هستید که وجه مردمی نداشته از مردم برنخاسته اید و بدردهای مردم اگاه نیستید. شما اصلا مانند انسان های بیخود حرکت کرده اید، اصلا یک دقیقه هم فکر نکرده اید که سلف شما چرا از بین رفت؟ وجود کابینه شما میرساند که شما کوچکترین دلچسپی با افغانستان و مردم افغانستان ندارید. کابینه شما یک کابینه سمتی و قومی می باشد، اگر وزرای کابینه اقای اعتمادی کفایت داشتند چرا از بین رفتند و اگر کفایت نداشتند چرا در کابینه شما کرسی نشین وزارت خانه ها شدند.

خط مشی شما که عبارت از چند پارچه کاغذ بی نظم و خارج از درک نوشته های سیاسی بوده انقدر میان خالی و غیر قابل فهم است که همین حالا در حلقه های سیاسی مورد تمسخر قرار گرفته است.

ایا وجدان شما، شما را تکلیف نمیدهد که چطور یک صدراعظم بیک بارگی از ربع نفوس یک مملکت صرف نظر کند و ان موضوع کوچی هاست که اقلا ارزش یاد اوری این اوراق ننگین شما را هم نداشت. کوچی هائیکه امروز واقعا برابلم بزرگ مملکت میباشند."

ـ ښاغلی میرزا محمد دقیق د ګلستان وکیل: "... این همه سیاه کاریها و قانون شکنی های حکومات سابق که شما نیز عضویت انرا داشتید خود شما نیز نزد مردم افغانستان مسئولیت قانونی دارید باز چگونه و به کدام جرئت به پیشگاه نمایندگان همان مردم

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد از صداقت میزنید باید بدانید که مردم شریف افغانستان عملا شما را با چهره های فریبنده شما شناخته اند و از شما هیچ توقع کار ندارند. به گفته دانشمندان ازموده را ازمودن خطاست."

ـ ښاغلی عبدالوهاب د چمتال وکیل:" در این خط مشی هر چیز است و هیچ چیز نیست زیرا در ترتیب ان مهارتی به کار رفته که از تعقیب یک شیوهء علمی احتراز شده تا به نتیجه منطقی نرسد."

ـ ښاغلی وزیر محمد د شرنۍ وکیل:" ما چه ستاسو تګ لاره مطالعه کړه د افغان د نجیب ملت د داډ ور نه دی ځکه چه ستاسو په تګ لاره کښې په لاندینۍ دول نیمګړتیاوې دي..."

ـ ښاغلي حاجي نادر علي الله داد د سرخ پارسا وکیل:" خط مشي پیشنهادی شما سرشار از عمومیت و ابهام است."

ـ ښاغلی سعدالله کمالي د مهمندرې وکیل:" ما در تطبیق مواد مندرج خط مشی تان بدبین نیستیم ولی به تناسب بیداری و اگاهی و ضرورت مردم خود انرا ناکافی می پندارم توقع ما اینست که کلیات مندرج خط مشی شما در جهت نهضت سیر نماید تا به همکاری و سهمګیری مردمان ما در سیاست و اقتصاد از راه قوانین احزاب، شاروالی ها، جرګه های ولایتی و سایر قوانین... در راه سعادت با گامهای موافق و مقتضی بزمان پا بگذارد."

ـ ښاغلی محمد اصف پوپل د کوز کونړ وکیل:" خط مشی حکومت شما در اکثر موارد حساس اقتصادی و اجتماعی تماس گرفته ولی طرق رسیدن به اهداف ورفع موانع انرا به صورت مشخص و روشن توضیح نکرده است."

ـ ښاغلی محمد حکیم صدیقي د ینګي قلعه وکیل:" نظر به انتظاری که می رفت از کابینه روشن فکرانه شما که اکثر استادان پوهنتون و کارگردانان قانون اساسی بوده اند خط مشی شما سطحی ترتیب شده و به گفتهء اهل نظر علمی و همه جانبه نیست.

ستاسې خط مشي د پښتونستان د ازادۍ په حقله د افغانستان د خلکو د غوښتنې په اساس کافي نه بولم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښاغلی محمد اکبر د پنجاب وکیل:" از مطالعه خط مشی شما اصلا مفهوم شده نمیتواند که چه پالیسی عملی در قبال اینهمه نابسامانیها و ناگواریهای کنونی کشور اتخاذ نموده اید.
جناب شما هیچگونه طرق و چاره جویی موثر و صریح را دربرابر شوری متعهد نشده اید."

ـ ښاغلی فخرالدین د تیوري وکیل:" بشخصیت شما و بعضی همکاران تان احترام دارم.... متاسفانه ازین قبیل خط مشی و بعضی همکاران شما انچه ارزو بود براورده نمیشود.
از همچو شخصیتی مانند شما انتخاب اینگونه همکاران و طرح چنین خط مشی مایوس کننده است."

ـ ښاغلی عبدالبصیر د ادرسکن وکیل:" باید متوجه باشید که مملکت به یک رکود مطلق دچار است و شما نمیتوانید بدون یک خط مشی مترقی این همه ارزو ها و نابسامانی های مردم ما را بر اورده سازید."

ـ ښاغلی بهاوالحق مریانی دوازي خوا وکیل:" تاسو پخپله تنگ لاره کښې د افغانستان د اقتصاد په نامه څو ټکي کړیدي او یا دا چه واقعاً ستاسو د کابینې درك او فهم به د افغانستان د اقتصادي مسایلو په باره کښې همدا وي. زه تعجب کوم چه پارلماني محترم نمایندگان به څنگه وکولای شي وزیرانو ته د اعتماد رایه ورکاندي."

ـ ښاغلی غلام حسین یوسفي د شهرستان وکیل:" گرچه شما در خط مشی یک سلسله حقایق را اعتراف نموده اید. ولی عوامل اصلی را انطوریکه لازم است تذکر نداده اید و همچنان راه حل انها را به صورت قناعت بخش توضیح نفرموده اید."

ـ ښاغلی عزیزالله واصفي د ارغنداب وکیل:" تاسو غونډي هوښیار سړي دا درونډ او غیر قابل تحمل بار ته څرنگه تن ورکوي او په کومو شرایطو د دې خدمتگذارئ د پاره اماده سواست او کوم د حکومت اعضاء مو په خپل مصلحت په خپله خوښه او د ملگرو په مصلحت انتخاب کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امید ما از شما و اعضای برجسته حکومت شما این بود تا شما بصفت یک داکتر واقعی اجتماع همه علل و پسمانیها ، رکود اقتصادي، رشد معنوی جامعه افغانی را با دستیاری رفقای مشهور بفضیلت تا انچنان تحلیل نمائید که معترضی بران راه اعتراض پیدا نکند و بعد از تشخیص بچاره جویی ان اقدام و در خط مشی تان به پیشگاه ملت تقدیم نمایند ولی باوجود اینهمه ارزوهای ما شما نه ماهیت سطحی اجتماع افغانی متوجه شدید و نه بعمق این اجتماع واژگون التفاتی فرمودید تا بالاخره نسخه کهنه و تجربه شده چندین ساله رابشکل خط مشی خود تقدیم فرمودید ایا این خط مشی میتواند یک هزارم نواقص این جمعیت را اصلاح کند. مایان شیوه ترکیب حکومت های موتلفهء قومی را بشدت محکوم نموده و انرا شکل جدید استعماراتی تشئید نفرت ملی میدانیم."

ـ ښاغلی دستګیر د شاه جوی وکیل:" تاسو دا فکر مه کوئ چه دغه خبري یوازي زمونږ خبري دي او یا خو د بل چا له خوا را ښودل شویدي دا خبري زمونږ په باندو، مسجدو او ټولنو کښي هره ورځ ګرزي راګرزي. منم چه د خبرو ترتیب به نی دا ډول نه وي مګر په لنډه لنډه او حکمي توګه زمونږ خلك داسي وائي:

( زمونږ حکومتونه د خدای بلا او زمونږ د ټولو شتمنیو چپاولګران دي زمونږ حکومتونه په ښکاره ډول په مونږ کښي نفاق او شقاق، تفرقي او بدبیني اچوي څو زمونږ زور ختلی او حتی د خپل حق غوښتلو د اواز اوچتولو وخت ونه مومو. زمونږ حکومتونه په دي منفي سیاست زمونږ د سر او مال دښمنان دي.) هر اعتماد غوښتونکی دوی غولولي دي. دوی حق لري چه ووایي: مونږ نور نه غولیږو، پر چا باور نلرو، پر هیچا اعتماد نشو کولای. د دي غیر قابل انکار واقعیتونو په درك کولو سره سره که چیري زه تاسو او ستاسو ملګرو ته د اعتماد رایه ورنکړم نو به څه وکړم؟"

ـ ښاغلی محمد شاه رحمتیان د هرات د ښار وکیل:" اقای داکتر عبدالظاهر! انجام اینگونه کارهای مهم از شما ساخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیست. خط مشی شما غیر عملی غیر علمي خالی از محتویات ملی و مترقی میباشد. مطالعه و بررسی انتقادی این خط مشی شما میرساند که حکومت شما مطابق روز از هر سو که باد بوزد بال میکشاید و چند صباحی بحیات خویش ادامه میدهد."

ـ ښاغلی سید محمد رفیق نادم د تولك وكيل: "خط مشی شما به طور مرموز ترتیب گردیده و موفقیت خود را موکول بهمکاری ارگان ثلاثه دولت، موکول به رفع عوامل مختلف یازده گانه، موکول باصلاح طرز اداره موکول به... و بالاخره موکول باستخراج معادن دانسته اید ما هم این نقیصه ها را کاملا دانسته انتظار داشتیم این نقیصه ها کدام وقت توسط کدام حکومت اصلاح میشود پس از این خط مشی شما چه ارزو داشته باشیم فقط ان ارزو را که بر امدن گل است و امدن بهار."

ـ ښاغلی وزیر محمد خدران د ارگون وکیل: "که ستاسو تگ لاري ته ښه ځير شوو او له بلې خوا د مملكت عمومي اوضاع ته كتنه وكړو ډير فرق موجود دی ځکه چه د مملکت عمومي اوضاع او ستاسو د خط مشي ترمينځ تضاد واقع دی.

ـ ښاغلی کمال الدین اسحق زی د سرپل وکیل: "خط مشی شما بیشتر به عمومیات متکی بوده در حالیکه بر نقص و نارسایی ها انگشت میگذاشتید، راه علاج را بطور خاص نشان نداده اید هر مشکلی که امروز افغانستان به ان مواجه است باید بطور صریح و طرح یک پروگرام خاص حل گردد و صرف بعمومیات توصل نشود گرچه این تاکید حکومت شما که قوانین متمم قانون اساسی هر چه زود تر بوجود اید مورد تائید من است زیرا یکی از عوامل بسیاری از مشکلات ما تطبیق نشدن قانون اساسی میباشد."

ـ ښاغلی شهنواز خروتی د غزنې د کوچیانو وکیل: "څرنګه چه تاته د صدراعظم خطاب کيږي بيا هم د قانون په سویه د یوې لويې طبقې حق دې د پښتو لاندې کو (مقصد ئې کوچيان دي)."

ـ ښاغلی الله نظر د ننگرهار د کوچیانو وکیل: "په خط مشي کښې د کوچيانو په باب هيڅ نه دي ويل شوي او د يوه وزير صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پام هم ورته نه دی شوی زه دا نه وایم چه ولې په کابینه کښې یو کوچي وزیر نشته چه د کوچیانو له حاله خبر وي مګر دا وایم چه وزیران که د هر ځای وي او هر څوك وي باید ټول افغانستان په نظر کښې ونیسي. وزیر باید د مملکت وزیر وي نه د خپل ښار یا د خپل ولایت وزیر. زه له اوسني حکومت نه په ټینګه غواړم چه دغه محرومه طبقه همدغسې بې برخې پرې نږدي او په همدغه شرط د اعتماد رایه ورکوم چه کوچیانو ته په انساني حقوقو قایل شي."

ـ ښاغلي شیر احمد خوستی د خوست وکیل: "موظف صدراعظم! کوم وخت چه تاسې د حکومت په جوړولو موظف شوئ د افغانستان باشعوره ولس ته د پخوانۍ تجربې په اساس معلومه شوه چه حکومت هماغه پخوانی حکومت دی مګر لباس ئې بدل شویدی. دوی پوهیدل چه نوی حکومت هم په حقیقت کښې د زړو حکومتونو دوام دی یعنې هغه حکومتونه چه د عام ذهنیت له خوا په بې کفایتۍ او محافظه کارۍ محکوم شویدي. د خلکو پیشګوئي په هماغه لومړۍ مرحله کښې درسته ثابته شوه څکه له یوې خوا ستاسې په کابینه کښې هماغه څیرې بیا لیدل کیږي چه په دفکتو دول له هغو نه سلب اعتماد شوی و او له بلې خوا ستاسې تګ لاره د پخواني حکومت له تګ لارې څخه یوازې لفظي او شکلي فرق لري."

دا و د حکومت د خط مشي او اعضاو په باب د وکیلانو اظهار نظر چه شمیر ئې شپیتو تنو ته رسیږي او دا ښیي چه د اعتماد اصلي ماهیت له مینځه تللی او په زړه کښې ځای نلري. بلکه له نظره هم لویدلی او د ژبې نه دی. تش د تش لاس ورکړه ده او بس.

که دلته سړی ووائي: هغه څه شی دی چه وجود نلري او بل ته ورکول کیږي؟ نو جواب به ئې دا وي:

اعتماد[1]

[1] افغان جریده، لومړی کال، ۴۲ مه ګڼه
د ۱۳۵۱ د چنګاښ ۵ مه
د ۱۹۷۲ د جون ۲۶ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبــو فیصله

د اساسي قانون په دریمه ماده کښې پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې ګڼل شوي او د دې مادې تطبیق دا ایجابوي چه پښتو هم لکه دري د دفتر او دیوان ژبه شي او په رسمیاتو کښې دواړه ژبې بې له تبعیض او امتیازه مساوي حق ولري.

د اولسي جرګې د پنځه اتیا وکیلانو پیشنهاد چه د مامورینو د قانون په (۷) ماده کښې د دواړو ژبو زده کړې او سواد د ماموریت د شرط په حیث شاملوي او یوازې یوه رسمي ژبه کافي نه ګڼي په حقیقت کښې د اساسي قانون دغه حکم ته د عمل ساحه پیدا کوي.

مګر دا پیشنهاد د یو شمیر وکیلانو له شدید عکس العمل سره مخامخ شو او دې احتجاج په داسې وخت کښې د شورى له تالار نه د عمومي جلسو جنازه په اوږو کړه چه د استیضاح جلسې شروع شوې وې او اولسي جرګه له حکومت سره د معارضې او مبارزې په حال کښې وه.

استیضاح که له خورو لاندې شوه دومره مهمه نه ده مګر د دولت بودجه او د مملکت مالي او اقتصادي وضع په دغسې بحراني حال کښې د وکیلانو فوري او جدي توجه نه شدید ضرورت او د عمومي جلسو انعقاد ته مبرم احتیاج لري

د محترمو وکیلانو دغه سوړ او تود جنګ او پارلماني رکود په ولسي جرګه کښې دننه محصور پاتې نشو او هنګامه ئې دباندې په ځینو ازادو جرایدو کښې په ډیر شور و زور منعکسه شوه او په لومړي سر کښې ځینو د افکارو منحرف کولو په غرض نامطلوب رنګونه ورکړه.

دوی دا پیشنهاد خونیین او له تعصبه ډك د نفاق او شقاق اور بلوونکی وګاڼه مګر دا فکر ئې ونکړ چه وینې په وینو نه مینځل کیږي او تعصب په تعصب نه ورکیږي.

که څوك دا طفائیې په حث د اور د وژلو اراده لري باید اوبه پرې وشیندي. د پترولو په شیندلو یا په لاړو توکولو باندې اور نه مړ کیږي. زمونږ ځینې ناشرین د دې په ځای چه په سړه سینه د منصف او حکم په حیث د حل لاره ولټوي یا اقلا د جنګ سړولو د پاره د ناصح دریځ اختیار کړي په ډیر عصبانیت میدان ته راووتل او خلاصوونکی له تښتونکی څخه ډیر تاوده دي.

د همدغه عصبانیت په تقاضا ځینې داسې یو اړخیز پاروونکې مقالې خپرې شوې چه د منطق او استدلال ډېره نیمګړتیا بلکه مغالطه پکښې له ورا ځلیږي. یوه مقاله د روزګار په (۸۶) مسلسله ګڼه کښې خپره شوه چه عنوان ئې و: (مسئله زبان یکی از مسایل مهم اجتماعی است که میتوان انرا با حسن نیت و تفاهم حل کرد) دې مقالې د تحریك جنبه نه درلوده او لیکوال په حسن نیت د تفکر له مخې د یوه منصف په حیث په موضوع کښې وارد شوی و.

مګر ځینو نورو جرایدو خلك جبهه ګیرۍ او مقابلې ته راوبلل او د دغه مقدس جهاد دپاره ئې سنګر نیول د دې وخت فرض عین وګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی په نظر د ژبو مسئله مطرح کول د ملي اتحاد او د مملکت د عالي مصالحو په ضد یو ناوړه حرکت دی چه د طبقاتو ترمینځ عداوت او خصومت پیدا کوي او د افغانستان تمامیت ته خطر پېښوي.

دوی دا نشي منلی چه په افغانستان کښې د ژبو مسئله د اختلافاتو منشاء ده چه حتما حل و فصل غواړي او الی الابد په دغه حال نشي پاتې کیدی.

غیر له پښتو او دري ژبو چه اساسي قانون رسمي ګڼلي نورې ژبې هم په افغانستان کښې ویونکي لري چه هغوی هم د خپلو محلي ژبو حق غواړي لکه چه د شوری په همدغه دوره کښې د اعتماد په غونډو کښې ډیرو وکیلانو د ازبکي او ترکمني ژبو مطالبه کوله او دا مطالبه چا د تعصباتو او تفرقې په بنا د ملي وحدت په ضد نه ګڼله بلکه د اتحاد او ورورۍ ساتلو وسیله ئې ګڼله خکه ئې هر چا تائید کاوه او بالاخره د اکثریت په غوښتنه د افغانستان په راډیو کښې نشراتي برخه ورکړه شوه چه موقتا د قناعت وړ ده او نهایي چه په اینده کښې کافي ونه ګڼل شي او تدریجا ابتدایي تعلیمات په ځینو محلي ژبو ومنل شي.

پښتو او دري چه ملت په رسمیت منلي دي او اساسي قانون دواړو ته مساوي حق ورکړی په عمل کښې تراوسه دغه قانوني حکم نه دی تطبیق شوی او ضرورت دا ایجابوي چه په فرعي قوانینو کښې د پښتو رسمیت واقعیت پیدا کړي او شکل و صورت طرز او طریقه ئې تثبیت شي. دلته ځینې مهم سوالونه پیدا کیږي چه قانع کوونکي جوابونه غواړي

یو له دغو سوالونو څخه دا دی چه د دوو ژبو رسمیت یعنې څه؟

که یو دري زبان چه په پښتو نه پوهیږي یوه رسمي مقام یا شخص ته په رسمي چارو کښې مراجعه کوي او هغه ورسره په پښتو غږیږي مطلب به څنګه حل شي؟ ایا هغه ویلی شي چه پښتو رسمي ژبه ده ما د مملکت په رسمي ژبه ځواب درکړ، زه دا مکلفیت نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه نا په دري ژبه پوه کړم یا زه په دري نه پوهیږم نه باید په پښتو راسره خبرې وکړي

همدارنګه که یو پښتون په دري نه پوهیږي او یو رسمي دفتر ته د رسمي کار د اجراء د پاره ورشي هغه دفتر به مکلف وي چه د ده په مطلب ځان پوه کړي او د ده په ژبه د ده قناعت حاصل کړي که نه؟

هغه اشخاص چه رسمي مامور د دواړورسمي ژبو په زده کړه مکلف نه ګڼي او د یوې رسمي ژبې پوهیدل د ماموریت د پاره کافي بولي دغه سوال ته څه ځواب لري او دا مشکل څنګه حل کوي؟ په یوه مملکت کښې چه اداره د اساسي قانون د (۱۰۸) مادې په حکم د مرکزیت په اصل اتکا لري او مامورین له مرکز څخه ولایاتو ته مقرریږي او له یوه ولایت څخه بل ته بدلیږي که د دولت مامور په دواړو رسمي ژبو په زده کړه مکلف نه وي نو بیا باید د افغانستان ټول خلك د دواړو رسمي ژبو په زده کړه مجبور شي یا دا اصل ومنو چه حاکمه طبقه باید په داسې خلکو حکومت او امریت ولري چه د هغو په ژبه نه پوهیږي او هیڅ مفاهمه ورسره نلري.

که څوك دا وایي چه په پښتو مناطقو کښې دې حاکمان او ماموران پښتانه وي او په دري مناطقو کښې دې دري ژبان مقرریږي دا تجویز که څه هم ټول مشکلات نه حل کوي بیا هم قانوني فیصلې ته ضرورت لري او دا فیصله هغه وخت مینځ ته راځي چه د وکیلانو دغه راز پیشنهاد مطرح شي او اکثریت ئې په همدغه ډول تصویب کړي

په یوه هیواد کښې چه قانونا دوه ژبې رسمي وي او عملا یوه ژبه عام و تام رسمیت ولري او بله د تطبیق په ساحه کښې بې برخې وي یا نې برخه ډیره ناچیزه وي مثال به ئې داسې وي لکه یو چرګ چه په یوه پښه ولاړ وي او سړی وایي چه (مرغ من یك لنګ دارد)

که ښه عمیق او دقیق فکر وکړو دلته اصلي سوال د اساسي قانون د (۳) مادې تطبیق او تعمیل دی، چه باید دواړه رسمي ژبې په رسمیاتو کښې برابره برخه ولري او تبعیض و امتیاز له مینځه لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي د پښتو ویونکي او دري ویونکي وروري او ملي اتحاد دمساوي حق په ورکولو تحقق پیدا کړي او د اجتماعي عدالت په قبولو د ملیت اساسي قوت وموصي که څوك بل راز فکر کوي او د سوه مشکل حل کول د بل مشکل خلق کول ګڼي یا د قانوني حق غوښتنه په تعصب او تفرقه افګنۍ تعبیروي ښه نه کوي.

د پښتو او دري ترمینځ رسمي تعادل او موازنه قایمول چه یوه په بلې هیڅ ترجیح ونلري او سکه او ناسکه پکښې نه وي د افغاني جامعې د بقا دپاره حتمي او ضروري کار دی چه د اساسي قانون په سویه له واجباتو څخه ګڼل شوی دی.

مګر دا هم باید ووایو چه د دغسې مهم کار توقع له دغسې شورى نه له زانو څخه کټوري غوښتل دي.

د څو کالو تجربې دا ثابته کړه چه هره قانوني مسوده چه یوې جرګې ته وړاندې شوې (د خارجي قرضو قراردادونه او د بانك صنعتي قانون مستثنی ده) په مربوط انجمن او عمومي مجلس کښې پرې میاشتې او کلونه تیر شوي او په هر ټکي باندې د مکررو بحثونو په مدوجزر کښې ډیر جنجالونه مینځ ته راغلي او کله چه له ډیرو شخړو او ډیر ځنډ نه وروسته بلې جرګې ته حواله شوي هلته هم په انجمن او عمومي مجلس کښې له ډیرو تغیرونو او تعدیلونو سره ډیره موده وروسته د مخالف تصویب په اثر مختلف انجمن ته سپارل شوي او هلته ئې د تقاعد مرحله رانژدې شوې ده.

: همدغه ځنډونو، بندونو او ځنډونو په وجه ډیر قوانین چه د تیرې دورې په سر کښې ئې کار شروع شوی و دې دورې ته په میراث پاتې شوه چه اوس دغه دوره په وروستیو سلګیو کښې ده مګر د هغو قوانینو د انفاذ پته په دوربین کښې هم نه معلومیږي.

په دغه حساب د دولت د مامورینو قانون چه د دې دورې په خاتمه کښې د اولسي جرګې عمومي مجلس ته وړاندې شو چه رسمي تعطیل ته ډیرې لږې ورځې پاتې دي او د بودجې دروند کار لا شروع شوی نه دی، د اینده کال شپږ میاشتې هم د بلې دورې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخبونو نیریږي دا امکان هیڅ نه لیدل کیږي چه ولسي جرګه په دې دوره کښې د مامورینو قانون پای ته ورسوي او د کل په حیث ئې تصویب کړي بلکه په یقیني ډول ویلی‌شو چه دا نیمګړی کار په څوارلسمه دوره کښې بله ولسي جرګه له سره رانیسي او بالاخره بیا له دغسې جرګې نه بلې جرګې او له هغې جرګې نه مختلط انجمن ته د څنځې په تګ انتقال کوي مګر د نافذ کیدو انتظار ئې د حضرت ایوب صبر او د حضرت نوح عمر غواړي.

د احزابو قانون، د ولایتي جرګو قانون، د ښاروالیو قانون او ځینې نور قوانین د دې مدعا ډیر ښه شواهد او اسناد دي چه هیڅوك ترینه انکار نشي کولی.

د دغو واقعیتونو په نظر کښې نیولو سره سړی حیرانیږي چه د ژبو د مسئلې مطرح کول ولې دومره عصبانیت راپاروي.

یو اغاز چه انجام نلري او بې نتیجې وي ولې به څوك پرې خپه کیږي یا خوشحالیږي.

د شورۍ په تیره دوره کښې به په ځینو مواردو کښې وکیلانو فکر کاوه چه زمونږ تصویبونه او فیصلې د مملکت په مقدراتو کښې ډیره مهمه برخه لري ځکه به د موافقې او مخالفې ډلې ترمینځ جر و بحث، ساړه او تاوده جنګونه شروع شوه او په ډیرو چیغو او عصبانیتونو به غاړې تېپې شوې او د غاړو رګونه به وپړسیدل، مګر اوس هغه کسان چه تیر نه هیروي په دې ښه وپوهیدل چه هغه عصبانیتونه څومره بیځایه و او هغه بې نتیجې مجادلې څومره بیهوده او طفلانه وې. په همدغسې مواردو کښې سړی ویلی شي وروستیه عقله که ړومبی وای

ترڅو چه سیاسي احزاب تشکل ونه مومي او هغه حزب چه په ملت کښې اکثریت لري د شورۍ په دواړو جرګو کښې د فیصلې قدرت او د خپلو تصویبونو د عملي کولو جرئت ونلري د دغسې مهمو مسایلو مطرح کول به بې دانو بوس بادول وي هغه هم هغې خوا ته چه د باد مخه او د سیاسي جریان تقاضا وي.

خوك چه د سیاست له مزاج او طبیعت سره لږ غوندې اشنا وي او د اداري اجرااتو پسې ئې تعقیب کړی وی پوهیږي چه زمونږ د سیاست په اصول اساسي کښې ستاتسکو ساتل ډیر مهم اصل دی او د دغه اصل له مخې د اختلافاتو مبداء او منشاء له مینځه وړل مصلحت نه دی[1]

مصلحت نیست که از پرده برون رفتد راز
ورنه در مجلس رندان خبری نیست که نیست

# پای

افغان جریده. لومړی کال. ۴۴ مه گڼه
د ۱۳۵۱ د چنګاښ ۱۹ مه.
د ۱۹۷۲ د جولای ۱۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**